# د کرکې او کينې ديانت

ديني توندلاريتوب ته د تمايل د ريښو موندنه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد محق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پیل خبرې

موږ د رواني جګړې، د هغې وینې په خاطر چې زموږ په هېواد کې تویېږي، او د هغه ګواښ په خاطر چې زموږ راتلونکی ګواښوي، ځوربېږو او کړېږو. خو، یوازې زموږ دا حال نه دی، سوریه، عراق، یمن، لیبیا، صومالي او مالي هم له ورته او ان تر دې لا سختو او دردوونکو شرایطو سره مخ دي او ځینې نور ملکونه په بالقوه توګه دې وضعیت ته د لوېدو له خطر سره مخ دي.

ولې باید داسې وي؟ د دې پراخې او وېروونکې بدمرغۍ عامل یا عاملونه څه دي؟

کېدای شي تر ټولو اسانه ځواب یې دا وي چې لوی قدرتونه نه غواړي دا هېوادونه د سولې او پرمختګ شاهدان اوسي. سره له دې چې دا ځواب اشنا دی خو زما په نظر بې ګټې دی، ځکه داسې څه راته نه وایي چې دا غوټه ورسره خلاصه شي. څنګه به د داسې تحلیل په مټ د ستونزې سم تشخیص وکړو او حل لارې ورته ومومو؟ د دې تحلیل مطابق، موږ د هغه څه پر وړاندې چې پېښېږي، هېڅ مسوولیت نه لرو او موږ یوازې د بهرنیو په لاسونو کې هغه نانځکې یو چې څه رقم غواړي، هماغسې مو لوبوي. چې داسې وي، نو باید انتظار وکړو چې زموږ وضعیت بهرنۍ اراده راته ښه کړي.

موږ یوه پېړۍ کله لوېدلي او کله پاڅېدلي یو، وېرېدلي یو چې له خپل تراخه واقعیت سره مخامخ شو، یو څوک مو لټولی دی چې ټوله پړه د هغه غاړې ته واچوو. خو اوس یې وخت رارسېدلی دی چې سم ودرېږو. دا باید ومنو چې له دې ډول فکرونو سره مو تر اوسه پورې هېڅ نه دي ترلاسه کړي او تر دې وروسته به هم هېڅ ونه کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهتره دا ده چې د ځان په اړه فکر وکړو او وګورو چې زموږ تفکر او زموږ اخلاق کوم عیبونه لري او دغه لاره چې موږ په مخ کې نیولې ده، کومې تېروتنې لري. موږ ته بویه چې هم خپل زاړه فرهنګي میراثونه په ځیر راوسپړو او هم خپل نوي فکري تولیدات چې وګورو زموږ د اوسني وضعیت په پیدا کېدو کې یې څه نقش لرلی دی. که له افراطیته ځورېږو، که د تاوتریخوالي قربانیان یو او که د ناامنۍ تیغ مو پر سر ولاړ دی، باید دا خبره معلومه کړو چې په موږ کې داسې څه دی چې داسې ډلې راکې پیدا کېږي چې وینه څښښي او د انسان ککرۍ وهي. دا سمه ده چې پراخ تاوتریخوالی له یوه عامله نه زېږي او ګڼ عاملونه لري، خو باید وګورو چې زموږ کومې فکري زمینې او دروني قناعت د دې شي له بابېدو سره مرسته کوي.

د مقالو دغه ټولګه د دې پر ځای چې پېښې په برسېرنه توګه راوسپړي، هڅه کوي چې د روانو پېښو تل ته د ورکښته کېدو لاره ومومي. دا ټولګه پنځه برخې لري. په لومړۍ برخه کې، په اسلامي نړۍ کې د دیني اصلاح نمونې څېړل کېږي. دا برخه هغه هڅې رانغاړي چې د اسلامي نړۍ د رنسانس په بهیر کې ترسره شوې دي لکه د سنتي سلفیت بهیر، جهادي سلفیت، اخوان المسلمین، او دیني نواندي. دویمه برخه د کرکې او کینې دیانت، چې د کتاب عنوان هم دی، د هغو فکري بهیرونو بیان کوي چې د نورو مسلمانانو تکفیرولو ته تمایل لري او دا چې غیر له ځانه نورو ټولو ته بدبیني لري او د کرکې او کینې پیغام لېږدوي. دوی انفجار او انتحار خپلو موخو ته د رسېدو وسیلې ګڼي. په درېیمه برخه کې د اخوان المسلمین تجربوي کمزورۍ څېړل شوې دي. اخوان المسلمین د نورو اسلامي خوځښتونو مور ګڼل کېږي او ګڼو نورو ډلو، له هغې جملې څخه د افغانستان ځینو ډلو له اخوانه الهام اخیستی. څلورم څپرکی هڅه کوي د دیني مفکورو ځانګړنې وڅېړي او له دین څخه د هغوی پر توپیر بحث وکړي او له هغو زاویو یې توضیح کړي چې د مسلمانو بنسټپالو په دین پوهنه کې پټې پاتې دي. پنځم فصل هغه بحثونه رانغاړي چې له دیني نصوصو سره د چلند دوه متفاوت روښونه راښیي. یو روش دا دی چې د دین د پوهېدو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نص ظاهر، اصل ګڼي او بل روش يې د دين پر مقصدونو تمرکز کوي او هڅه کوي چې د دين د پوهېدو لپاره عقلاني چلند ته لاره هواره کړي.

د دې ټولګې ځينې مقالې تر دې مخکې په ځينو خپرونو کې خپرې شوې دي او ځينې نورې يې په لومړي ځل د لوستونکو لاس ته رسېږي. په حقيقت کې د دې ټولګې مقالې زما د مخکينيو يادښتونو دوام دی. دا يادښتونه هغه فکري بنه راسپړي چې د دين په نامه د تاوتريخوالي بېرغ يې پورته کړی او د ابادۍ او ازادۍ پر مخ يې ميدان تنګ کړی دی. ښکاره ده چې له دې وضعيت سره مقابله او د سولې او سوکالۍ راستنول، دومره اسان کار نه دی چې د څو مقالو يا کتابونو په ليکلو سره ترسره شي ... دا کار لويه او ګڼ اړخيزه هڅه غواړي. خو، دا خبره د نظري کارونو اهميت نه کموي، بلکې د دې وضعيت پر ريښو فکر کول، د تيوريکي هڅو اهميت يو په دوه کوي.

د دې مقالو په ترڅ کې مې د پېښو، بهيرونو، ډلو او مفکورو په اړه ځينې قضاوتونه کړي دي او دا دعوا نه لرم چې دا قضاوتونه به له تېروتنو پاک وي. که د فکر او درايت د خاوندانو نقادانه نظر، په دې کتاب کې هر ډول کمی تشخيص کړي او هر نقد چې د کړندود له مخې وشي، د دې قلم څښتن ته به د منلو وړ او د ستايلو وي ځکه چې کولای شي د مسايلو له لا ښه پوهېدو سره مرسته وکړي.

محمد محق

1393 تله

ونکوور- کانادا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**-1-**

# د نوي کېدو په لټه کې

## په اسلامي نړۍ کې

## د ديني ريفورم لوړ او ځوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مسلمانانو په منځ کې

## د ديني اصلاح نمونې

په تاريخي لحاظ د «ديني اصلاح» اصطلاح هغه بدلون راپه گوته کوي چې د مسيحيت په عالم کې د مارتين لوتر (1483-1546م) او جان کالوين (1509-1564م) په رهبرۍ رامنځته شو. دې بدلون د ديالکتيکي پروسې له لارې په غربي نړۍ کې له رنسانس سره مرسته وکړه او همدارنگه په عين وخت کې يې له هغو پېښو گټه واخيسته چې د رنسانس په نتيجه کې پېښې شوې. له هغې وروسته هرکله چې دا اصطلاح په نورو فرهنگي زمينو کې کارول کېږي، تر يوه حده هماغه پېښه په ذهن کې تداعي کوي. مانا دا چې گواکې هماغسې بدلون به په بل دين او مذهب کې رامنځته کېږي او دا دين به هم د مسيحيت دين ته ورته برخليک ولري. نو، کله چې د مسلمانانو په منځ کې هم د ديني اصلاح خبره راميدان ته کېږي، کله کله داسې گنګل کېږي چې گواکې اسلام به د مسيحيت له برخليک سره مخ شي.

زموږ درېځ د هغه بدلون او د برخليک په اړه يې که هر څه وي خو کله چې د مسيحيت خبره ميدان ته شي، په ډېرو مسلمانانو ښه نه لگېږي او د ديني اصلاح بحث له اصلي لارې کږوي. په دې خاطر، غواړم په دې ليکنه کې ټينگار وکړم چې په اسلام کې د ديني اصلاح منظور د بل هېڅ دين د تاريخ تکرار او کاپي کول نه دي ځکه چې هر دين سره له دې چې له نورو دينونو سره به ځينې ورته والي او گډ ټکي لري، خو د خپلو تعليماتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي قبض و بسطونو او نورو عاملونو په وجه خپل خاص ماهیت لري او دا تمه نه شو کولای چې عیناً د بل دین سناریو دې ورته تکرار شي.

د لیکوال په نظر، په اسلام کې د دیني اصلاح خوځښت د غرب له هغې تجربې الهام نه دی اخیستی؛، بلکې دا خوځښت دوه – درې پیړۍ وړاندې د دین له منځه راټوکېدلی دی خو یوې خاصې نمونې ته لا نه دی رسېدلی. له هماغه وخته تر دې دمه څو مختلفې او احیاناً متضادې نمونې د یوې بلې په غبرگون کې رامنځته شوې او د دې خوځښت هېنداره بلل شوې دي. د دې لپاره چې دغې نمونې چې له یوې بلې سره یې شدید رقابت کړی دی، بهتره وارزوو او پر وړاندې یې سم دریځ خپل کړو، باید له باندې نه ورته وگورو او په رقابتونو کې یې ورگډ نه شو.

دا چې اصطلاح پوهنه د مفاهیمو په توضیح کې اهمیت لري، ښه به وي چې تر اصلي بحث له مخه دا ووایم چې د اصلاح کلمه د انگلیسي له ریفورم (reform) سره معادله ده او مانا یې یوه شي ته نوی شکل ورکول یا د هغه د له لاسه تللي شکل بیا راژوندی کول دي. دلته شکل د هماغه صورت معادل گڼل کېږي چې په پخوانۍ فلسفه کې د هیولا پر وړاندې کارول شوی دی.

د پخوانو په باور ټوله دنیا له صورت او هیولا څخه رغېدلې ده. هیولا نگه او مجرده ماده ده او صورت ټولې هغه ځانگړنې دي چې ماده یې لري لکه رنگ، شکل، وزن، حجم او هر صفت چې ورته منسوبېدای شي یا هغه عارضه چې ورپېښېږي. له دې لیدلوري ټول ښه او بد بدلونونه او صلاح او فساد د صورت په سطح کې مانا لري او هیولا د مادې په هر حالت کې ثابته وي حال دا چې پخپله ماده له بدلونونو او تغییراتو سره مخ کېږي. په دې لحاظ، صورت اصل دی ځکه دا صورت دی چې یو شی له بل شي بېلوي که نه هیولا خو په ټولو کې یو دی. په بله وینا، د شیانو ماهیت د هغوی په صورت پورې اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. کله چې یو شی خپل لومړنی شکل بایلي په حقیقت کې خپل ماهیت له لاسه ورکوي او په دې لحاظ له فساد او تباهۍ سره مخ کېږي. اصلاح یا ریفورم د هغه د بایللي شکل او صورت ورستنول او اعاده ده.

اوس به وګورو چې مسلمانانو له دیني اصلاح څخه کومه مانا اخیستې ده. ایا د دې مانا دا ده چې دین د وخت په تېرېدو سره او د داخلي او بهرني عاملونو په وجه خپل لومړنی شکل له لاسه ورکړی او خپل حقیقي ماهیت یې بایللی دی او دیني اصلاح د دین د هماغه بایللي شکل د بیا راستنولو مانا لري؟ که دا چې د دین په شکل کې کوم مهم بدلون نه دی راغلی خو په محتوا کې یې راغلی دی، یانې د دین له محتوا څخه د مسلمانانو په فهم کې داسې تغییرات راغلي دي چې د هغه له لومړني ماهیت سره اړخ نه لګوي او اوس باید هماغه محتوا یې ورورګرځول شي؟ یا دا چې اصلاً د شکل او محتوا خبره نه ده او کله چې د دین خبره کېږي، د یوه کل په توګه د دین شکل او محتوا او د مسلمانانو عملي تجربه تېول مطرح وي؟

د ځینو مسلمانو پوهانو په نظر لومړنی اصلاحي غورځنګ د سلفیت غورځنګ دی چې عربي څانګه یې په وهابیت مشهوره ده (1) او هندي څانګه یې هغه هڅې رانغاړي چې شاه ولي الله دهلوي (1753 ـ 1815 م) له عربي څانګې سره هم مهاله ترسره کړې. سره له دې چې دا هندي څانګه یې ورته غورځنګ رامنځته نه کړای شو خو څو نتیجې یې درلودې چې په مختلفو زماني فاصلو کې څرګندې شوې او په ځانګړې توګه کولای شو د سید احمد بن عرفان (1781- 1831م) جهادي بهیر، د صدیق حسن خان(1832-1890م) سلفي بهیر او د دېوبند (1866م) د علمي- دودیز دارالعلوم تاسیس ته اشاره وکړو(2).

کېدای شي د شاه ولي الله دهلوي فکري بهیر ته د سلفي نوم ورکول، بحث او مناقشه راوپاروي، په تېره بیا په دې چې د هغه په تفکر کې صوفیانه رنګ لیدل کېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د حنفي مذهب په میراث پورې اړه لري، کېدای شي سلفیت ورسره ونه لګېږي ځکه چې سلفیت له تصوف سره په خاصه توګه او له حنفي – ماتریدي له تمایل سره په عامه توګه نه جوړېږي. خو که سلفیت په ځانګړي فورم کې راایسار نه کړو او د هغه اصلي جوهر تېر ته ورستنېدل وګڼو، او ګانده پالی نظر د تېرپالي تمایل پر وړاندې کمزوری ومومو، په دې صورت کې بیا د هند په براعظمګي کې ترسره شوې هڅې سلفیت بللای شو. دې نازکې چارې ته پاملرنه به له موږ سره د وروستنیو بدلونونو، په خاصه توګه د هغه څه په پوهېدا کې چې په وروستیو لسیزو کې زموږ په سیمه کې راپېښ شوي دي، ښه مرسته وکړي.

د بحران - حرکت دیالکتیک

**د دې خوځښت د تاریخي شرایطو او ټولنیز بستر مطالعه راښیي چې د رامنځته کېدو اصلي عامل یې د بحران د موجودیت احساس و. هاغه مهال بحران دا و چې ټولنیزه اوضاع ګډه وډه، سیاسي دستګاه فاسده او تمدني فعالیتونه په ټپه ولاړ وو. په حقیقت کې د ژوند په مختلفو برخو کې رکود و.**

د نورو ژورو عاملونو په څنګ کې، هاغه مهال د عثماني او صفوي پاچاهیو تر منځ پرلپسې جنګونو ډېرې اسلامي سیمې له رکود سره مخ کړې وې. د عربستان ټاپووزمه په دې وخت کې په سخته ګډوډۍ کې ډوبه وه او داسې وضعیت په کې جوړ شوی و لکه تر اسلام د مخه چې و او هېڅ مرکزي حکومت یې د اداري لپاره نه و. د مختلفو قبیلو او امارتګوټو تر منځ بې حاصله شخړو ټول قهرولي وو او د شرایطو د ښه کېدو هیله یې ختمه کړې وه. (ښايي په همدې وجه د محمد بن عبدالوهاب (1703-1791م) په لیکنو کې د جاهلیت د عصر او هغه ته د ورستنېدلو خبره په تکرار سره لیدل کېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هند د براعظمګي وضعيت هم تر دې ښه نه و. هلته اسلامي امپراتوري پرځېدلې وه او پر ځای يې کمزوري سيمه ييز حکومتونه رامنځته شوي وو چې غالباً د هندوانو له خوا اداره کېدل او له مسلمانانو سره به يې بد چلند کاوه. د مسلمانو ايالتونو تر منځ دروني اختلافات تر دې حده وو چې له دې وضعيته د راوتلو هيله يې وژلې وه، ان تر دې چې شاه ولي الله د ناهيلی په وجه، احمدشاه ابدالي (1723-1773م) ته ليک واستاوه او د هند د مسلمانانو د خراب وضعيت په تشريح کولو سره يې ځنې وغوښتل چې د هغوی مرستې ته دې ورودانګي(3). خو د احمدشاه لښکرکښی چې د هېواد له پراخولو او د غنيمتونو له راټولو پرته بله صبغه نه درلوده، د مسلمانانو حالت ته کومه ګټه ونه کړه او د مسلمانانو د وضعيت له خرابېدو او د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د دښمنيو له زياتولو پرته يې بله نتيجه نه درلوده. دا لښکرکښی سبب شوې چې هندوان د مسلمانانو د بريدونو پر وړاندې د ځان د دفاع لپاره د شرقي هند کمپنی ته پناه يوسي او سيمې ته د استعمار د نفوذ لاره ورسره لا هواره شوه.

تر دې مهاله له نوې نړۍ سره د مخامخېدو پيل نه و شوی او لا د بهرني استعمار او د پردي فرهنګ او تمدن خبره په منځ کې نه وه. په همدې وجه د بحران په شننه کې نه خو بهرنيو لاسونو ته کومه اشاره کېدله او نه د بحران د تشخيص او علاج لپاره له بهرنيو سره د مبارزې او شخړې اشاره په کې کېدله. لا مسلمانانو ځانونه د نورو د توطيو قرباني نه ګڼله او د ستونزو علت يې په دننه کې لټاوه. خو دوی چې د څېړنې له مډرنو ميتودونو نا خبره وو او د تحليل نوي ابزار ورسره نه وو نو د مسايلو د ساده کولو او ساده انګېرلو ښکار شول.

د محمد بن عبدالوهاب او همدارنګه د شاه ولي الله په نظر له بحرانه د راوتلو لاره اوليه اسلام ته ورستنېدل وو. هماغه اسلام چې په مرسته يې عربو او مسلمانانو وشول کولای قبيلوي اختلافونه او شخړې ختمې کړي او د اسلام د تعاليمو په رڼا کې داسې واحد

(c) ketabton.com: The Digital Library

امت رامنځته کړي چې پراخ فتوحات او د ژوند په مختلفو ډګرونو کې پرمختګونه یې په برخه شي.

د سلفیت د مخکښانو په نظر، هغه څه چې مسلمانان یې له اولیه اسلامه لرې کړي وو او اولیه جهالت ته یې نږدې کړي وو، داسې خلاصه کېده: د مسلمانانو د عقایدو په ساحه کې د خرافاتو ننوتل چې تر ټولو مهمه نښه یې د زیارتونو مقدس ګڼل او د اولیاوو له ارواحو څخه د مرستې غوښتنه وه، د فقهي مذهبونو د پیروانو تر منځ شخړې او په دې وجه د مسلمانانو تر منځ د درز پیدا کېدل، د عامیانه او له اعتقادي او عبادي بدعتونو سره د ګډ تصوف بابېدل، او د دین له لومړۍ درجې منابعو (قران او سنت) سره د مسلمانانو د مستقیم ارتباط کمېدل او ضعیفو یا جعلي حدیثونو یا د دویمې او درېیمې درجې منابعو ته، چې په وروسته وختونو کې د مختلفو سلیقو عالمانو په لاس لیکل شوي وو، مخه کول.

د دې بهیر د تشخیص پر اساس، که چېرې مسلمانان په مستقیمه توګه د دین له لومړۍ درجې منابعو سره خپل ارتباط برقرار کړي او د دوی په منځ کې د قران او حدیث د زده کړې له لارې د لومړي لاس دیني معلومات رواج شي، معیوبه او نارسا منابع څنګ ته شي، د خرافاتو مظاهر په تېره بیا قبرپرستي له منځه لاړ شي، فقهي تقلید او مذهبي تعصب راکم شي، له بدعتونو سره ګډ تدین چې په تصوف کې ښکارېده، نقد شي او د توحید مفاهیم احیا او اعاده شي، د مسلمانانو ستونزه به حل او شته بحران به ختم شي. (ښایي همدا وجه به وه چې شاه ولي الله د مشهورو محدثانو په دود، په میتودولوژیک ډول د حدیث تدریس په جدي توګه پیل کړ او په دې بریالی شو چې له څو پېړیو وروسته د هند په براعظمګي کې د محدثانو سبک احیا او اعاده کړي. ده په دې برخه کې شاګردان وروزل او د هغوی په وسیله یې حدیث ته د تمایل یو ډول غورځنګ جوړ کړ. نو دا بې دلیله نه ده چې د دهلوي محدث لقب تر هر چا زیات شاه ولي الله ته ورکړل شوی دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې دغه تحلیل د خرافاتو په څېلو کې سم هدف په نښه کړی و خو ښکاره ده چې د بحران د علتونو او عاملونو دا تشخیص د سیاسي–اجتماعي پوهې پر اساس نه دی رامنځته شوی، له تاریخي – تمدني لیده بې برخې دی او په تحلیل کې یې یوازې فقهي- سنتي شناخت او ذهنیت کارولی و. دا ذهنیت چې له تاریخي پوهې محروم دی او له تاریخ سره یې اړیکه پرې شوې ده، نه شي کولای هغه مسافه او لوړې ځوړې چې اسلامي امت تر شا پرې اېښې دي، په اسانۍ سره درک کړي. په همدې خاطر نه شي کولای د فقهي او کلامي مذهبونو په رامنځته کېدو کې د تاریخي بدلونونو پر اغېز وپوهېږي او د هغه تمدن پراخوالی وپېژني چې سبب شوی دی چې د دې امت زیات تمدني ځواکونه په فعل بدل شي. همدارنګه نه شي کولای تېر ته د ورستنېدلو امکان په دقیقه توګه وارزوي.

دا لید، د ساده کولو په شدیده ستونزه اخته ده، هم د بحران په تشخیص کې او هم د هغه د حل په ښودلو کې. سره له دې چې د ابن عبدالوهاب په پرتله د شاه ولي الله په تحلیل کې د قضیې بُعدونو ته لا پراخې اشارې شوې دي (په همدې وجه، د مودودي په نظر باید د دولسمې پېړۍ مجدِّد وبلل شي) (4) او بې له شکه د امت د وضعیت په اړه د ده لید تر یوه بریده پراخ و خو بیا هم له هغو نیوکو نه شي بچ کېدای چې مخکې مو یادې کړې.

د دې نمونې د قوت تر ټولو مهم ټکی دا دی چې د بحران پر داخلي بُعد ټینګار کوي او که د امت د پېچلي تمدني وضعیت په تحلیل کې یې له لا زیاتو پوهو څخه کار اخیستی وای او له حده زیات سیمه ییز رنګ یې نه وای خپل کړی، او که چېرې د نورو امتونو او ملتونو د وضعیت په مطالعې سره یې قضیې ته له لا پراخ لیدلوري کتلي وای نو د بحران د حل لپاره یې لا کامیابه نسخه ورکولای شوای. مثلاً د هغه نوي لید دوام او پرمخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببول چې ابن خلدون (1332-1406م) د مسلمانو متفکرانو په منځ کې پیل کړی و او دا له هغه څه سره سمون درلود چې په طبیعت او اجتماع کې د الهي سنتونو د پېژندنې په اړه په قران کې ورباندې ټینگار شوی دی.

خو د اصلاح دا نمونه له داسې هرکلي سره مخ نه شوه شو چې د یوه لوی ټولنیز بدلون غوښتونکي غورځنگ بڼه خپله کړي. د دې شي اصلي دلیل دا و چې د خلکو د واقعي ستونزو په حل کې یې مرسته نه شوه کولای. د خلکو ستونزې تر هغه څه ډېرې ژورې وې چې د دې بهیر د مخکښانو سترگو به لیدلې.

**له سیمې خبر او له نړۍ ناخبره**

**په زماني لحاظ د نړۍ یوې برخې یو لوی حرکت پیل کړی و. د عصر غوښتنه دا وه چې هم د هرې پدیدې په تحلیل کې او هم د هغې د چارې او علاج لپاره د قضیې زماني – تاریخي بُعد ته پام وشي. ابوالاعلی مودودي چې د هغه دورې د هند شرایط تشریح کوي او له پرمخ تللې نړۍ سره یې پرتله کوي، وایي: «په هغو ورځو کې چې امام ولي الله دهلوي او زوی یې شیخ عبدالعزیز او شیخ اسماعیل اوسېدل، اروپا د منځنیو پېړیو له درانه خوبه راویښه شوې وه او په نوي راپاڅېدلي ځواک سمباله وه. هلته د علم، هنر، تحقیق، کشف او اختراع په ډگر کې داسې کسان راڅرگند شول چې تاریخ یې بدل کړ... دې څېړونکو یوازې طبیعي علوم بدل نه کړل، بلکې د انسان او د هغه نړۍ په اړه یې نوې تیوري گانې رامنځته کړې چې دوی په کې اوسېږي ... دوی ټول علوم لکه د اخلاقو، ادبیاتو، قانون، دین، سیاست او ټول عمراني علوم تر اغېزې لاندې راوستل او په کامل جرأت او صراحت سره یې پر زاړه تمدن نقد وکړ او د دې تیوري گانو او مفکورو پر اساس یې نوې دنیا جوړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کړه ... د دوی اغېزې یوازې د ګوتو په شمار وګړو پورې منحصرې پاتې نه شوې، بلکې ویې شول کولای سلامت ملتونه د تعقل، اخلاق، تعلیم او د معیشت د روش په برخو کې تر اغېزې لاندې راولي ... هاغه مهال چې په موږ کې یو نیم کس راویښ شوی و، په غرب کې درست ملتونه راویښ شوي وو او د ژوند په ډګرونو کې هېڅ داسې ډګر نه و پاتې چې دوی دې په کې پرمختګ نه وي کړی ... په موږ کې طبیعي علوم د پنځه پېړۍ مخکې حالت کې ولاړ پاتي وو حال دا چې هلته یې حیرانوونکې وده کړې وه ... ټولو نه عجیبه خبره خو به دا وي چې د امام شاه ولي الله په وخت کې ټول بنګال انګلیسانو نیولی و خو دی ترې هډو خبر هم نه و ...»** (5)

د وهابیت غورځنګ هم د خپل هندي سیال په شان د تاریخ له دایرې بهر پاتې و او ان د عربستان د ټاپووزمې د ساده او بدوي ژوند ته چې د نورو ټولنو له پېچلي ژونده یې جوته فاصله درلوده، هم د چارې په موندلو کې پاتې راغلی و، نورې اسلامي ټولنې خو لا پرېږده. دا وضعیت تر همدې نږدې وختونو پورې دوام درلود او وروسته چې په دې سیمه کې تېل وموندل شول او د نړۍ د ځواکمنو هېوادونو پام ورواوښت، د ژوند په ځینو ډګرونو کې یې پرمختګ وکړ. خو، تر هغه مخکې دې غورځنګ ونه شول کولای چې د خلکو د ستونزو د حل په برخه کې او د مختګ په برخه کې څه وکړي. ان ځینې پوهان دا غورځنګ د شا ته تلونکي حرکت په بڼه تعبیروي دا په دې چې تېر ته د ورستنېدلو افراطي بڼه یې درلوده او عامه ذهنیت یې د خپل عصر له واقعیتونو لرې کړي وو (6).

په سعودي کې د قدرت له دستګاه سره د سلفیت پیوندېدل، د یوه اصلاحي خوځښت په توګه د دې غورځنګ د لا زیاتې ناکامۍ سبب شول او د هغه پر وړاندې یې لا زیاتې دښمنۍ راوپارولې. دې کار د سعودي مخالفان وهڅول چې وګړي د دې غورځنګ پر وړاندې ولمسوي. په هند کې هم چې دا بهیر په ځانګړو وویشل شو، واحده ستراتیژي یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلوده او له درېو ځانګو څخه هره یوه یې ځان ته لاره او منزل غوره کړل. د دوی یوازینی مشترک ټکی دا و چې د خپل چاپېریال له واقعیتونو سره د خپل پیغام په پیوندولو کې پاتې راغلې وې او دا هغه څه و چې خلکو ورته اړتیا درلوده چې د ژوند د ستونزو په حل کې او له بحرانه په رواتلو کې ورسره مرسته وکړي.

په سعودي کې سلفیت د رژیم په سیاسي ایډیالوژي بدل شو چې د هغه په وسیله د رژیم مشروعیت ټینګ شي او دوام وکړي. خو له سعودي څخه بهر، له هغو سیاسي اندېښنو لرې چې په ایډیالوژیو پروې تړلې وي، سلفیت د دیني اصلاح د یوه ساده بهیر په توګه پرمخ لاړ. دا چې ځانګړی سیاسي – ټولنیز دکتورین یې نه و تدوین کړی نو د خلکو له ورځنیو اړتیاوو او واقعیتونو سره یې اړیکې ټینګې نه کړای شوې او ان په سعودي کې د ننه هم سره له دې چې د حاکم رژیم تړونوال و، خو د خاصو سیاسي ادبیاتو په پنځولو بریالی نه شو. په دې لحاظ په بحثونو کې یې محسوسه خلا پاتې شوه چې بیا د نورو بهیرونو ظهور ته یې لاره خلاصه کړه.

که هسې د تمثیل په توګه، د مسلمانانو عمومي کړنې د مسیحیت له کاتولیک بهیر سره معادلې وګڼو، سلفیت د دې پر ځای چې د پروټستانټ تجربو ته ورته لاره خپله کړي او اسلامي ټولنو سره مرسته وکړي چې له بحرانه راووځي او رنسانس ته ورسېږي، عملاً د مسیحیت د اورتودوکس تجربه یې د اسلامي ټولنې پر ځینو برخو تحمیل کړه.

طبیعي ده چې داسې اصلاحي نمونه چې شا ته تګ ته تمایل لري، نه شي کولای چې وګړي د ځان خوا ته ورمات کړي، د هغوی د سمونغوښتنې تنده ورماته کړي او تغییر او تحول ته د هغوی اړتیا ورپوره کړي ځکه چې د وخت او د خلکو له واقعي اړتیاوو لرې وي. سعودي دولت هم د مسلمانانو په منځ کې د دې فکربنې په رواجولو سره نه دی توانېدلی چې ځان ته ځای پیدا کړي او له خپلو هڅو یې عملاً کومه ګټه نه ده تر لاسه کړې. سر ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې چې سعودي په هند، پاکستان، شمالي افریقا او منځنۍ اسیا کې د دې مفکورې د ترویج لپاره ډېرې پیسې لګولې دي خو دغو پانګوونو د خلکو د ستونزو په حل کې هېڅ مرسته نه ده کړې او بحران یې لا سخت کړی دی ځکه چې په دې مفکوره کې د دې ټولنو واقعي اړتیاوو ته هېڅ پام نه دی شوی. په پاکستان، افغانستان، ازبکستان، تاجیکستان، قزاقستان، چیچن او ... کې د توندلارو بنسټپالو بهیرونو راڅرګندېدل، چې یو له عمده عاملونو یې همدا د سعودي پانګوونې دي (7) د هغو ناکامو هڅو او بحران جوړوونې بېلګه ده چې د سلفیت د ترویج لپاره شوې دي. سعودي له دې کار سره هم خپلې پیسې بربادې کړې دي او هم یې د نورو ټولنو هوساینه لوټلې ده. د ځینو صاحب نظرانو په باور ښایي یوازینۍ ګټه یې دا وي چې د افراطي شیعیه ګانو د هڅو پر وړاندې یې مقابله کړې ده چې هغوی لا هم په هماغه قوت خپله لاره په بله طریقه وهي او فعالیت کوي.

د شرقي ټولنو بحران د استعمار تر راتګه کلونه مخ کې پیل شوی و خو کله چې د دې سیمې وګړي د نوي تمدن د سرتېرو له زورور برید سره مخامخ شول، پر دې بحران سر خلاصول عام شول او دا خبره د نخبه ګانو له محدودې ووته. که تر دې مخکې د علم لږ شمېر خاوندان پوهېدل چې مسلمانان په خراب وضعیت کې دي، دې وخت کې د ډېرو سرونه خلاص شوي وو چې څه ډول کمزورۍ ورباندې غلبه کړې ده او دوی د تاریخ په کوم پېر کې بند پاتې دي.

سیدجمال الدین افغاني (1838-1897م) تر ټولو رسا غږ و چې د دې خبرتیا له تعبیره راپورته شوی و او ټول، البته حکومتونه یې تر ملتونو وړاندې، پاڅون ته وروبلل. سره له دې چې د ده پوهه تر محمد بن عبدالوهاب زیاته وه خو دا چې ده عمل ته ډېر تمایل درلود، ګواکې د دې وخت یې نه لاره چې مشخصه ستراتیژي طرح او تدوین کړي. د ده ټوله هڅه دا وه چې د استعمار خطر په ډاګه او له هغه سره پر مقابلې ټینګار وکړي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساساوه چې مشرق د پردیو تر ولکې لاندې راغلی او هر رنګه چې کېږي، باید ځان له دې اسارته وژغوري.

**نوي عصر ته ورننوتل**

**دا ځل د تېر بهیر پر خلاف، د سید جمال الدین په مفکوره کې بهرنی عامل خورا مهم دی او داخلي عامل څنډې ته پورې وهل شوی دی. تر ده مخکې د مسلمانانو په جمعي شعور کې د بحران داخلي عامل برلاسی و خو ده دا توازن د بهرني عامل په ګټه بدل کړ او له هغه وخته تر ننه پورې د مسلمانانو جمعي شعور دغه انډول نه دی موندلی. ګواکې د ده چیغه دومره رسا او زوروره وه چې خپلې انګازې یې د څو راوروسته نسلونو د شعور په ژورو کې ساتلې دي او تر ده وروسته چې هرڅوک راغلي دي، هماغه چیغه یې تکرار کړې ده.**

هغه د بهرني دښمن د مقابلې په خاطر دې ته حاضر و چې له داخلي مستبدانو سره جوړجاړی وکړي. عمل ته د هغه شدید تمایل ده ته اجازه ورکوله چې یوه ورځ دې له شیعه قاجار پاچا سره او بله ورځ له سني افغان واکمن سره همکاري وکړي. موخې ته د رسېدو لپاره د عربو له وهابي غورځنګ سره نزدیکت ورته هماغسې یوه وسیله ښکارېده لکه د ماسونري هېرتونونو ته لاره موندل. ده خپلو بېړنیو موخو ته د رسېدو لپاره یوه ورځ له عثماني خلیفه سره بحث کاوه او بله ورځ مصر ته روانېده.

سره له دې چې سید جمال الدین د قلم اهل و خو تیوري جوړولو ته یې چندانې ارزښت نه ورکاوه او له هغه قلمي کار یې هم چې د عروة الوثقي په خپرولو سره وکړ، د انګلیسي استعمار پر ضد د انقلاب او پاڅون لپاره د وسیلې په توګه استفاده کوله. نتیجه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه چې نه یې د دیني اصلاح په برخه کې خاصه طرحه جوړه کړه او نه د سیاسي – ټولنیز اصلاح په ډګر کې.

د ده شاګرد محمد عبده (1849-1905م) چې د خپل استاد تجربه یې لیدلې وه او د عرابي پاشا له ناکام پاڅونه یې درس اخیستی و، د بېړې کارونو ته یې زړه ښه نه کړ او د اصلاح او دیني اصلاح په لاره کې یې لا ژورو ته پام ورواړاوه. ده د نویو کلامي مباحثو مخې ته د دروازې د پرانیستلو او د قران د تفسیر په لاره کې لوی ګامونه واخیستل. د هغه فکري فعالیتونه داسې روان وو چې د اروپا د دیني اصلاح د غورځنګ په شان په یوه فکري غورځنګ بدلېدای شو ځکه چې اغېزې یې د مصر تر پولو اوښتې وې، له شامه تر مغربه یې لاندې کړې وو او په هره سیمه کې یې لېوال موندلي وو او په نورو هېوادونو کې ځینې علمي څېرې دې سبک ته لېوالې شوې وې. خو، دا بهیر لا په جامع نمونې نه و بدل شوی چې غښتلي نظامي – سیاسي بدلونونه په تېره بیا لومړۍ نړېواله جګړه راپېښ شول. په دې منځ کې عثماني خلافت (1924م) چې د مسلمانانو په جمعي شعور کې یې خاص اهمیت درلود، راوپرځېد او دې سره د داسې نوي اصلاحي بهیر اړتیا ښکاره شوله چې د مسلمانانو د ژوند له واقعیتونو سره اړخ ولګوي.

د اخوان المسلمین په تفکر کې له دې نړۍ خبرتیا

**په مصر** (1928م) او وروسته په نورو عربي او اسلامي هېوادونو کې د اخوان المسلمین ظهور، د اصلاح دویمه نمونه وښودله. البته تر سید جمال مخکې او وروسته ځینې نور خوځښتونه او بهیرونه هم د اسلامي نړۍ په ځینو برخو کې راڅرګند شول لکه په لیبیا کې سنوسیه غورځنګ (1837م)، په سودان کې مهدویه (1843-1885م)، په الجزایر کې د عبدالحمید بن بادیس غورځنګ (1889-1940م)، په هند کې د خلافت غورځنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(1918-1924م) او ... خو ټولو سیمه ییز رنګ درلود او مشخص تیوریکي چوکاټونه یې نه لرل، په همدې خاطر یې مستقله اصلاحي نمونه نه شو ګڼلی.

په نظري لحاظ اخوان المسلمین تر ځان مخکې او وروسته د ټولو نورو دیني بهیرونو په نسبت ډېر ځانګور و. د دې شي د علتونو او عاملونو د ریښې موندل جلا بحث غواړي. د اخوان دا ځانګړنه سبب شوې ده چې  د نورو سیمه ییزو غورځنګونو پیروان او مینه وال دې له دې بهیر سره منطبق او په کې حل شي.

حقیقت دا دی چې د نورو سیمه ییزو دیني خوځښتونو ګڼ شمېر غړي وروسته له دې چې د اخوان له ادبیاتو سره اشنا شول، ورو ورو ورمات شول. البته له دې خوا هم د اخوان زیات شمېر غړي ورنه جلا شوي او نورو غورځنګونو ته یې مخه کړې ده. ځینې نور چې ورنه تللي بیا له ډله ییزو کارونو لرې پاتې شوي او په فردي روښانفکري هڅو یې بسنه کړې ده. د دې وتلو ننوتلو علت باید د اخوان د نمونې په ماهیت او طرحو کې ولټول شي.

د لیکوال په باور، د اخوان د طرحې خاصیت هم د هغه د قوت عامل دی هم یې د ضعف. د ضعف یوه برخه یې ورځخه د زیاتو غړو په وتلو کې څرګنده شوې ده او بله برخه یې وروسته له هغې چې د لنډې مودې لپاره دا غورځنګ حکومت ته ورسېده. که چېرې په مصر کې د دوی د واکمنۍ موده غځېدلې وای، د ضعف نور بُعدونه به یې راښکاره شوي وو.

اخوان چې د سلفیت په پرتله په متفاوته زماني مقطع کې ډګر ته راوتلی، هڅه یې وکړه چې د تېرو تجربې – له محمد بن عبدالوهابه رانیولې تر رشید رضا (1865-1935م)پورې- په پام کې ونیسي او له ټولو د خپلې طرحې په تدوین کې استفاده وکړي. دا هغه خبره ده چې د دې غورځنګ تیوریسنانو په کراتو یاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان له یوې خوا د سفلیت په شان، د نګه اورتودوکسي دین اړخ مهم وګاڼه او له بدعتونو او خرافاتو سره مبارزه یې په خپله تګلاره کې ځای کړه او په یو ډول سره یې داخلي عامل په رسمیت وپېژانده، له بلې خوا یې هڅه وکړه چې د سید جمال الدین په پیغام کې نغښتي سیاسي – ټولنیز اړخونه په خپل دکتورین کې راونغاړي. په تېره بیا د غرب له استعمار سره نه پخلا کېدونکې مبارزه، یانې بهرنی اړخ یې هم هېر نه کړ.

د اخوان په طرح کې یوازې پر همدې شیانو اکتفا ونه شوه، بلکې هڅه وشوه چې د شلمې پېړۍ د لویو ایډیالوژیو په شان، مفصله او اوږده ایډیالوژي برابره شي چې د فردي او ټولنیز ژوند ټول اړخونه راونغاړي. په فردي بُعد کې یې د وګړي د عقیدتي، عبادي، فکري، روحي او جسمي تربیې خبره وکړه او په ټولنیز بُعد کې یې د سیاسي، اقتصادي، قضایي، فرهنګي، نظامي، اداري، تقنیني، صنعتي، علمي، هنري او ټولو ټولنیزو بنسټونو د اصلاح. البته د اخوان له ادعا سره سم.

په سر کې، د طرحې دغه هر اړخیزه او پراخه صبغه پر رقیبانو د اخوان د برترۍ او امتیاز سبب کېږي او ډېر مذهبي فعالان ورجذبوي ځکه چې هم مهاله د دنیوي او اخروي بهبود ژمنه کوي. د مومن انسان لپاره تر دې خوږ شی نشته چې هم یې دنیا ورسمه کړي او هم یې اخرت. په سلفي نمونه کې پر اخروي اړخ ټینګار کېږي خو د دنیوي چارو خبرې چندانې په کې نشته. البته د سلفیت په بحث کې په کُلي ډول ویل کېږي چې دین د دواړو دنیاوو د سعادت ضامن دی او په هره برخه کې سمه لاره ښیي خو تر دې ورهاخوا هېڅ کومه هڅه نه کوي چې په سیاسي، ټولنیز او ... ډګرونو کې مفصل بحث وکړي. د دې مسألې یو عامل دا دی چې سلفیت عمدتاً د سعودي واکمنانو په خدمت کې و او دغو واکمنانو دا په خپل خیر نه ګڼل چې داسې بحثونه دې په عمومي حوزه کې باب شي. د دوی په نظر غوره دا وه چې په توحید او شرک او سنت او بدعت پورې اړوندې مناقشې هر وخت تودې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسې. سلفيت د دنيوي چارو په برخه کې چوپه خوله دی او د ويلو لپاره څه نه لري. د اخوان په نظر د سلفيت نمونه دين په يوه شنډ او خنثی شي بدلوي چې د خلکو د دنيوي وضعيت پر ښېګڼې کومه اغېزه نه لري.

تر دې ځايه د اخوان طرح له اورتودوکسي وضعيته پروټستاني وضعيت ته په اوښتو ښکاري يانې په ديني بحثونو کې دنيا ته ارزښت ورکول او د دنيوي ژوند د ښه کولو لپاره د مسلمانانو هڅول. دا هغه څه دي چې د اخوان طرح جذابوي او زيات شمېر وګړي چې له بحراني وضعيته ځورېږي او د داسې اصلاحي هڅې اړتيا محسوسوي چې د دوی له فرهنګي – تمدني غوښتنو سره اړخ ولګوي، د دې پيغام په اورېدو سره غبرګه ورته پرانيزي. کله چې دوی وينې چې يو پراخ سمبال شوی جوړښت د داسې طرحې پلي کېدو ته ملا تړلې ده نو په شوق سره ورسره يو ځای کېږي.

دوی فکر کوي چې توره شپه پای ته نږدې شوې او د سعادت او کاميابی د سپين سهار راتلو ته څه نه دي پاتې. هغه ځواک چې د خيال په عالم کې ليدل کېده، اوس په واقعي عالم کې په کار پيل کړی (8) او اوس د هغه امت بيا زېږېدنې ته بايد منتظر وي چې په څو پېړيو کې يې په تاريخ کې رول نه و لوبولی، د ختيځ رنسانس پيل شوی دی!!

### د اخوان د طرحې جاذبه او دافعه

### خو، دا خوب تر ډېره نه پايېږي او ځينې زبون وهلي ځنې راووځي.

لومړی خبره چې د ځينو پام ځان ته وراړوي دا ده چې د اخوان موسس او نورو تيوريسنانو هغسې چې لازمه وه د تېرو تجربې نه وې کتلې او د دوی د ادعا بر خلاف، په دې برخه کې يې تاريخي معلومات محدود وو. دوی اصلاً هغه وسايل نه درلودل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانو د تجربو تحلیل ته په کارېږي. د تاریخي منابعو خامه مطالعه د تاریخ له علمي او میتودیک تحلیل سره چې د تاریخ پر فلسفې ولاړ وي، زیات توپیر لري. دا کافي نه ده چې څوک دې یوازې د تاریخي پېښو له کلیاتو خبر وي او بس.

د سلفیت په تجربه کې، دین ته ورستنېدل تر ټولو زیات پر دې تکیه کوي چې د دیني نصوصو تحت اللفظي مانا واخیستل شي او سلف (پخواني نسلونه) مرجع وګڼل شي او د هغوی پر پله پل کېښودل شي. اخوان په دې اړه خپل دریځ پوره نه مشخصوي. دی غواړي هم د سلفیت ځینې عناصر ورخپل کړي او هم په کاملاً سلفي صبغه کې ښکاره نه شي.

د یوه فکري بهیر لپاره د پخوانو پر وړاندې دریځ خپلول او د هغوی له فهمه بېل او مستقل اجتهادي توان، د سلفیت له نمونې څخه د جلاوالي مهمه نښه ده. دا په دې چې سلفیت پخپله د پخوانو د مرجع ګڼلو په مانا دی. البته دا چې تر کومه بریده د پخوانو نګه او رسا فهم ته رسېدل ممکن دي او دا چې څرنګه ثابته کړو د هغوی فهم دقیقاً همدا شی و، پخپله جدي بحث او پلټنه غواړي. دا خبره همغومره اسانه نه ده چې د سلفیت پیروان یې ګڼي. خو بیا هم فرضاً وتوانېدو چې د پخوانو فهم او اجتهاداتو پورې ورسېږو نو ایا باید د هغوی پر پله پل کېږدو؟ دا مطلب مې بل ځای کې بیان کړی دی او له تکراره یې تېرېږم. (9)

سلفي نمونه سره له دې چې د وړو فقهي چارو د تقلید په برخه کې حساسیت ښیي خو پخپله بیا په بل ډول تقلید اخته ده. ځکه سلفیان په عمل کې د پخوانو د فهم او د هغوی په شرایطو او زمان پورې د اړوندو لارو چارو له چوکاټه نه اوړي، بلکې هڅه کوي هماغه فهم له هماغو لارو چارو سره له سره تولید کړي. یانې د جزیي فتواګانو د تقلید پر ځای، د پخوانو د میتود تقلید کوي، بې له دې چې دا احتمال په پام کې ونیسي چې د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزيي فتوګانو د اعتبار د تاريخ تېرېدل، د هاغه پېر د اجتهادي چوکاټونو او د ديني فهم د ميکانيزمونو د وخت د تېرېدو نښه ده. د دې لپاره چې د پخوانو د اجتهاداتو پر وړاندې د نوي اجتهاد لاره پرانيزو، بايد په هغو اصولو او قواعدو کې هم اجتهاد وکړو چې هغوی خپل کړي وو، دا نه يوازې په فقهي حوزه کې، بلکې د کلام او تفسير په حوزه کې هم صدق کوي.

اخوان د سلفي نمونې دا تعبير نه لري څکه خو د هغې پر وړاندې انتقادي دريځ نه خپلوي،، بلکې په عمل کې هڅه کوي د هغې دوام واوسي. څرنګه چې د اخوان موسس په صراحت سره وايي چې موږ سلفي بهير يو او بيا د دې لپاره چې د سلفيت د مخالفانو حساسيت راکم کړي، بې درنګه وايي «او همدارنګه صوفي جماعت يو.» (10)

د سلفيت او تصوف تر منځ د تقابل برقرارول، د سلفيت په باره کې د عام دود شوي فهم نښه ده چې سلفيت يوازې د صوفيانه طريقتونو رقيب ګڼي. البته که تصوف له نظري عرفان سره يو ځای په پام کې ونيسو نو د سلفيت پر وړاندې به ځواکمن رقيب څنې جوړ شي او د دې رقيبانو تر منځ به پخلاينې او يو ځای کېدو امکان نه وي څکه چې دا دوه بهيرونه د نص د ظاهر يا د هغه د تاويل د امکان په لحاظ په دوو مقابلو قطبونو کې سره پراته دي او نه شو کولای د دوی تر منځ واټن په هغو تکتيکي لارو راکم کړو چې د اخوان په بحث کې راغلې دي.

خو په عاميانه فهم کې د سلفيت او صوفي طريقتونو تر منځ د پخلاينې امکان شته او داسې ښکاري چې د حسن البنا خبره به په همدې سطح کې وي. د دې باور پر اساس د سلفيت او صوفيزم تر منځ جوهري توپير نه پاتېږي څکه په دواړو کې اصل د پخوانو پيروي ده، بې له دې چې هغه تحولات په پام کې ونيسي چې د وخت په تېرېدو سره رامنځته شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او که د دوی تر منځ کوم توپیر هم وي، یوازې د عبادي مناسکو او ځینو دیني عملونو کې به وي.

اخوان له یوې خوا د دې لپاره چې سلفیان راخپل کړي، په خپل بحث کې اورتودوکسي لارې ته ورلوېږي او د تېر په لوري حرکت کوي خو په عین وخت کې هڅه کوي چې د سیاسي – ټولنیزو اصلاحاتو په برخه کې د سید جمال او محمد عبده ځینې پیغامونه راونغاړي چې دا چاره عقلاني او پراګماټیکه دنیاپالنه غواړي نو دې سره خپلې سلفي تګلارې ته پروټستاني بڼه ورکوي. د اخوان په اصلاحي طرحه کې اساسي تناقض همدا دی. سلفي – اورتودوکسي تګلاره له نړۍ او ژوند سره د تعامل په برخه کې افراطي نص پالنه او له عقله تېښته غواړي خو پروټستاني تګلاره بیا د دې نړۍ د ستونزو پېژندل او ورسره منطقي عقلاني چلند غواړي.

اخواني نمونه په دې خاطر چې له تېرپالنې نه تېرېږي، کله چې د دې نړۍ د ستونزو د حل خبره کېږي، د دې پر ځای چې د هرې حیاتي برخې لپاره مشخصې طرحې وړاندې کړي، یوازې کُلي خبرې کوي او غټ غټ شعارونه ورکوي او بس. اتیا کاله د اخوان د فعالیت له پیلېدو تېر شوي خو تر دې دمه یې نه د اسلامي اقتصاد په اړه کومه ځانګړې طرحه ښودلې ده نه د سیاست په اړه، غیر له دې چې دیموکراسي یې په رسمیت وپېژانده ( چې دا هم د اخوان د ټولو ځانګو لپاره د منلو وړ نه ده) او نه یې د ټولنیزو ستونزو د حل لپاره کومه متفاوته خبره کړې ده.

دا تناقض هله لا زیاتېږي چې اخواني نمونه سره له دې چې د اورتودوکسي او پروټستاني تګلارو په پخلا کولو کې ناکامېږي، هڅه کوي چې په فقهي – کلامي لحاظ ځان د سواد اعظم استازی او اصلي کرښې (main stream) وارث راوپېژني او له دې نظره کاتولیکي لاره خپلوي. په فقهي – کلامي برخو کې مدرسه یي (Scholastic) تعبیر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفاداری، له نوي اجتهادونو ډېره کول او مډرنو تعبیرونو ته له نژدې کېدو وېرې د اخوان پروټستاني بڼه سخته کمزورې کړې ده او کاتولیکي بڼه یې غښتلې کړې ده.

همدا ده چې د اخواني نمونې جاذبه د هغې په دافعه بدلېږي. لومړي سر کې اکثره وګړي چې له بحرانه وتل غواړي، په دې تصور وردومي چې اخوان به د تېر او اوس مهال مثبتې ټکي سره یو ځای کړي وي او د دنیا او اخرت نېکمرغي به تامینوي.

هغه کسان چې سلفي تمایل لري، په دې تصور ورته مخه کوي چې دا بهیر پرمخ تلونکی او پرمختللی سلفیت رانغاړي او دا به د رسمي سلفیت په پرتله چې په تېر پالنه کې افراط کوي او د مسلمانانو د ستونزو په حل کې ناکام ښکاري، هوښیارانه او کامیاب سلفیت وي.

همدارنګه هغه وګړي چې سیاسي – ټولنیز تمایلونه لري او په عین حال کې غواړي خپل مذهبي تعلقات هم وساتي، اول سر کې چې له اخوان سره اشنا کېږي، ګومان کوي چې خپله ورکه یې موندلې ده او پر دې لاره مزل به د رنسانس پیلامه وي. ان هغه کسان چې د پخوانو د میراثونو ساتنه غواړي، هم هیله منېږي چې له دې بهیر سره به خپلې موخې ته ورسېږي.

خو، څه موده وروسته ورته شک پیدا کېږي. د سلفي تمایلونو پلویان احساس کوي چې پر دې بهیر سیاسي تګلاره غالبه ده او د دین هغسې پاکول چې دوی یې غواړي، د دې بهیر په وسیله نه ترلاسه کېږي. دا خلک ورو ورو خپله لاره بېلوي او نورو بهیرونو ته مخه کوي. له بلې خوا، هغه کسان چې پرمخ تلونکی او پرمخ تللی سیاسي – ټولنیز تحول غواړي، ورو ورو وینې چې د دې بهیر سلفي عناصر اجازه نه ورکوي چې دقیقې، مشخصې او عملي طرحې جوړې شي او دې ته یې ورپام کېږي چې د دې بهیر کُلي او غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعارونه د دې ټولنو ستونزې نه شي حل کولای. دوی هم کرار کرار نورو لارو ته مخه کوي. هغه وګړي چې فکر کوي د اخوان له لارې به د اسلامي میراثونو ساتنه په تېره بیا په فقهي – کلامي برخه کې ممکنه وي، ورو ورو پوهېږي چې نور بنسټونه لکه الازهر، اسلامي پوهنتونونه او رسمي دار الافتا ګانې دا کار په لا بهتره توګه او په کامیابۍ سره ترسروي نو دوی هم ځنې بېلېږي.

دغه ټولې توندلارې ډلې لکه الجهاد الاسلامي، الجماعه الاسلامیه و جماعه المسلمین (التکفیر و الهجره) د داسې کسانو په لاس جوړې شوې دي چې پخوا د اخوان غړي وو. په حقیقت کې دوی سلفي – اورتودوکسي عناصر وو چې د دودیز سلفیت په نسبت د پرمختللي سلفیت په هیله اخوان ته ورغلي وو او چې ویې لیدل په دې لاره منزل ته نه رسېږي، ورنه بېل شول او دا ځل د دې پر ځای چې بېرته دودیز سلفیت ته ورستانه شي، جهادي سلفیت یې بنا کړ ځکه چې دودیز سلفیت چنداني سیاسي تومنه نه لري. د دې ډلو تر ټولو مهم تجسم القاعده سازمان دی چې د مسلمانانو مخې ته یې نوې نمونه کېښوده.

هغه کسان چې د رنسانس په تمه له اخوان سره یو ځای شوي وو، ورو ورو پوه شول چې تمدني تحول په مختلفو برخو لکه اخلاقي، اجتماعي، سیاسي، علمي، فرهنګي او نورو برخو کې پراخې تیوریکي هڅې غواړي. دا چاره د سیاسي فعالیتونو کمولو او د فرهنګي اساساتو بدلونونو ته اړتیا لري او دا چې اخوان په دې برخه کې بې ګټې و، دوی پخپله په نویو اجتهادونو لاس پورې کړ. «د معرفت د اسلامي کولو» پروژه، د «الاسلامیون التقدمیون» مجموعه، د «الامه» او «الاجتهاد» مجلې او د ځینو مسلمانو پوهانو فردي هڅې د دې چارې بېلګې دي. دغه هڅې سره له دې چې له یو بل څخه ځینې توپیرونه لري خو لږ یا ډېر د دیني نوفکرۍ پر لاره رواني دي چې د لیکوال په باور د دیني اصلاح لپاره بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمونه او دې مسما ته تر ټولو نږدې اسم دی. خو تر دې خبرې مخکې به لازمه وي چې د درېیمې فکري نمونې (جهادي سلفیت) فکري چوکاټ ته لنډه اشاره وکړم.

## جنګ، جنګ تر بري پورې

**هماغسې چې په پیل کې ورته اشاره وشوه، سلفیت دوه مخونه لرل: عربي او عجمي. عربي مخ یې په وهابیت مشهور دی او د عجمي مخ استازی یې د شاه ولي الله مدرسه وه چې پر ځانګو وویشل شوه. څرنګه چې د اخوان نمونه د دیني فعالیتونو د محوریت په خپلولو کې ناکامه شوه، جهادي سلفیت رامنځته شو. القاعده سازمان د دې بهیر عربي مخ دی او طالبان یې عجمي.**

جهادي سلفیت شدیده نص پالنه له دودیز سلفیته اخیستې وه او له تمدن سره تضاد او د هغه پر وړاندې منظمه مبارزه له اخوانه. د اخوان په فکري میراث کې په تېره بیا د حسن البنا او سید قطب په لیکنو کې نننی تمدن د خورا لوی انحراف مظهر دی او د محمد قطب په نظر د شلمې پېړۍ جاهلیت خو ځله تر هغه لومړني جاهلیته خطرناک دی چې اسلام یې د ختمولو لپاره راغلی و. په دې برخه کې مودودي او ابوالحسن ندوي هم ورسره همغږي دي. (11)

سازماندهي چې د اخوان له مهمو او بارزو ځانګړنو څخه ده، له چپي سازمانونو چې د تېرې پېړۍ په نیمایي کې غوړېدلي وو، اقتباس شوې وه. دا سازماندهي د اخوان له خوا په مذهبي ادبیاتو سینګار شوه. ځینې مفاهیم لکه: د رهبر بې قید و شرطه اطاعت، د معرفتي منابعو په حیث یوازې د ایډیالوژیکي تعلیماتو بس ګڼل، مبارزه او شخړه اصل ګڼل، پخلاینه او مصالحه استثنا ګرځول، جهاد یرغلیز جنګ ګڼل نه دفاعي جګړه، له تمدنونو سره د خبرو اترو پر ځای له هغوی سره ټکر ته تمایل، تر تدریجي اصلاحاتو او تعدیلاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلابي تغییراتو غوره ګڼل او دغسې نور مفاهیم چې په بل فرهنګي چاپېریال کې تولید شوي وو، اخوان ورته اسلامي رنګ ورکړ او دا بیا وروسته د جهادي سلفیت لاس ته ولوېدل. دې سره په دوديز سلفیت کې نوی خوځښت راغی او د دوی په باور په اسلامي نړۍ کې د دیني اصلاحاتو نوې لاره یې خپله کړه.

هغه نمونه چې جهادي سلفیت یې وړاندې کوي، یوه تکفیري او تکفیري وزمه نمونه ده. د دې بهیر په نظر نړۍ د جاهلیت تر ګونډو لاندې ده (دلته جاهلیت هغه شرعي اصطلاح ده چې تر اسلام د مخه پېر ته اشاره کوي). لوی جاهلیت په امریکا او د هغې په غربي تړونوالو کې څرګند شوی دی او فرعي څانګې یې هغه حکومتونه دي چې له غرب سره ښې اړیکې لري او یا لږ تر لږه د هغوی له سیاستونو سره مخالفت نه کوي. هغه ګوندونه او جماعتونه چې د غرب پر وړاندې چوپتیا غوره کوي او یا یوازې په ژبه ورسره مخالفت کوي او یا په انتخاباتي مبارزو کې چې حاصل یې د جاهلیت او په غرب پورې تړلیو رژیمونو دوام دی، برخه اخلي، د دې بهیر په نظر د جاهلیت څانګې بلل کېږي. دا حکم په ځینو شرایطو کې پر ملتونو هم کېږي.

د دوی په باور، څرنګه چې جاهلي رژیمونه له سیاسي چلونو سره ښه بلد دي او نوې ټکنالوژۍ ورته داسې امکانات او فرصتونه برابر کړي چې ملتونه غولولی شي او د هر ډول سیاسي مخالفت او د تعدیل لپاره له سوله ییزو هڅو سره مقاومت کوي نو بهترینه او لنډه لاره، د هغوی پر ضد د نړیوال جهاد اعلانول دي. دا جهاد لومړی باید د دې عصر د جاهلیت د سر وال یعنې متحده ایالتونو پر ضد وشي او وروسته د هر هغه حکومت، ګوند او وګړي پر ضد چې له امریکا سره پر یوه لاره روان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهاد باید د سیمې له پولو واوړي او د نړیوال کېدو په دې عصر کې باید نړیوال رنګ غوره کړي چې د نړیوال جاهلیت پر وړاندې نړیواله جبهه پرانیزي، له هغه څخه د مانور امکان واخلي او په چارو کې برلاسی شي.

د دې بهیر په نظر، اوس چې موږ د جهاد او اخ و ډب په پړاو کې یو، په بل هر کار لاس پورې کول به مو د دې اصلي هدف پر لاره خنډ واچوي او هدف ته رسېدل به له ځنډ سره مخ کړي. نو نورې چارې لکه د حکومتولۍ بڼه، نظري او انتزاعي بحثونه او ان د روزنیزو چارو جزیات باید پرېښودل شي. په دې لحاظ تیوریکي مبحثونه، فکري هڅې او عملي کارونه په دې وخت کې نه یوازې دا چې چنداني ارزښت نه لري، بلکې کولای شي ځوانان په داسې چارو بوخت کړي چې په دویمه درجه کې راځي او هغوی به له اصلي هدفه چې مبارزه او جهاد دی، لرې کوي. سربېره پر دې ممکن د دوی نظر بدل کړي او پر جهاد او اصلي رسالت چې د نوي عصر د جهالت راپرځول دي، د دوی باور لړزانده کړي.

نو، غوره دا ده چې د اصلي هدف تر پوره کېدو مخکې، دیني تعلیمات د ځینو لنډو سازماني رسالو او ځینو بې خطرو سنتي رسالو په لوستلو پورې محدود شي. دوی باید د نورو کتابونو او په تېره بیا د مډرنو انساني او اجتماعي علومو د کتابونو لوستلو ته ونه هڅول شي. له دې علومو سره باید پوره مخالفت وشي او د جاهلیت، غیر اسلامي او منحرفوونکو علومو په نامه تر برید لاندې ونیول او تحریم شي.

د دې بهیر له نظره، دې ته په کتو سره چې جهادګران په کوم پړاو کې دي، غوره دا ده چې د قران او سنت زده کړه هم په خاص هدف ترسره شي مانا دا چې مکي سورتونه او ایتونه لږ ورزده کړل شي او یوازې هغه ایتونه وروښودل شي چې د جنت او دوزخ په اړه دي او کولای شي د دوی پر ایماني عواطفو او حماسي روحیې مثبته اغېزه وکړي او دوی جهاد او شهادت ته چمتو کاندي. پر نورو مکي سورتونو او ایتونو باید په دې پړاو کې تمرکز او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټينګار ونه شي، په تېره بيا هغه ايتونه چې د استدلال او د حکمت، مدارا او منطقي بحث په وسيله د دعوت خبره کوي. د داسې ايتونو تفسير او تشريح کولای شي د جهاد ستراتيژۍ تر پوښتنې لاندې راولي او اهميت يې کم کړي. برعکس، غوره ګڼل کېږي چې مدني ايتونه او سورتونه چې د جهاد خبره کوي لکه د «توبه»، «انفال» سورتونه او د «بقره» او «آل عمران» د سورتونو ځينې برخې، د اصلي تعليماتو په جمله کې راشي چې د دې لارې د سرتېرو جهادي روحيه دم په دم سره غښتلې او اراده يې لا کلکه شي.

د نبوي حديثونو، سيرة النبي، د اسلام تاريخ او معاصر تاريخ په برخه کې هم بايد همدا لاره غوره شي، البته دا موضوعات بايد ډېر لنډ ګنډ وي چې د جهادګرانو وخت پر ضمني مسايلو ضايع نه شي. که دا مسايل ورته په تفصيل راشي، په دوی کې به علمي اختلاف نظرونه پيدا شي او له اصلي هدفه به يې لرې کړي. سره له دې چې دا بهير په تيوري کې ټول ايتونه او حديثونه په تېره بيا هغه حديثونه چې د سلفيت د لويانو له خوا تاييد شوي دي، مني خو، د «فقه المرحله» پر اساس غوره ګڼي چې په دې پړاو کې دې هغه ايتونو او حديثونو ته پام وکړي چې د دې غورځنګ له بري سره مرسته کوي او هدف ته يې ژر رسوي.

نتيجه دا چې د جهادي سلفيت په نمونه کې د ديني اصلاح توريکي بُعد چنداني نشته او عملي بُعد پرې برلاسی دی. دا عملي بُعد د لا زياتو جنګياليو جذبول رانغاړي چې د هغوی په وسيله شته حاکم نظامونه راوپرځوي او پر ځای يې اسلامي امارت رامنځته او د دوی له تعبير سره سم، اسلامي شريعت تطبيق کړي.

د اخواني او جهادي سلفيت د نمونو تر منځ داسې ډېر دقيق بريد نشته چې ټول پيروان يې په پام کې ونيولی شي. ځينې ډلې او مذهبي فعالان د دواړو تر منځ په نوسان کې دي او د خپل محيط د سياسي – ټولنيز شرايطو په متابعت يا د خپل سواد او تعليم په برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د خپلو رهبرانو د مزاج او روحیې پر اساس یوې نمونې ته نژدې کیږي. مثلاً په افغانستان، پاکستان او خلیج کې ځینې اخواني ډلې جهادي سلفیت ته نژدې دي خو په ترکیه، مالیزیا، تونس، سودان او مراکش کې بیا ځینې اخواني الاصله ډلې د خوانیت له نمونې اوښتي او د دیني نوفکرۍ بحثونو ته نژدې شوې دي. ځینې جماعتونه پر دې پوهیږي چې د دې بهیرونو تر منځ پوله خوځنده ده او د ضرورت پر اساس یې تحول ته غاړه ایښې ده خو ځینې نور بیا چې تیوریکي پوهه یې کمه ده، د خپل جماعت فکري شاخصونه نه پېژني او په عین وخت کې چې د دې جماعتونو د پیروۍ ادعا کوي، عملاً د بلې نمونې مقولې او مفاهیم دودوي او تبلیغوي یې.

## فکري بیارغاونه، د ستنېدو ټکی

**اوس نو څلورمې نمونې ته رسیږو چې د لیکوال په نظر د دیني نوفکرۍ نمونه ده. په دې لاره کې لومړی ګام د تفسیر المنار څښتن محمد عبده ایښی دی. ده په پاریس کې له سید جمال الدین سره د** عروة الوثقی مجله خپروله او هلته یې له فرانسوي فیلسوفانو او مفکرانو سره خبرې اترې کولې او د غرب له تمدن او پوهې سره له نژدې اشنا شو. لاهوري محمد اقبال بل شخص دی چې له نویو مفکورو او معاصرو فلسفو سره اشنا شو او هڅه یې وکړه چې د مسلمانانو دیني مفکورې داسې احیا کړي چې د نوي عصر مقولو او پوښتنو سره د تعامل او خبرو اترو جوګه شي. وروسته بیا په ایران، هند، مصر او ځینو نورو اسلامي ملکونو کې ځینو کسانو په دې لاره کې هلې ځلې وکړې. په دوی کې ځینې له نورو یادو نمونو رابېل او د دیني فکر د اصلاح خوا ته راستانه شول او ځینې بې له دې چې پخوانو نمونو سره اړیکي ولري، دې لارې ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې نمونې پر اساس، اسلامي ټولنې له اوږدې تمدني وقفې سره مخ شوي دي چې له هغې څخه د خلاصون لاره یوازې اساسي او هر اړخیز رنسانس دی. دیني نوفکران، چې په اسلامي ټولنو کې د دین نقش یې درک کړی دی، د رنسانس د راوستو په لاره کې د دیني مفکورو اصلاح اساسي ګام ګڼي.

د دې بهیر په نظر بې له دې چې نوی عصر او د دې عصر بریاوې په رسمیت وپېژنو، د دیني مفکورې اصلاح امکان نه لري. البته نوي عصر ته د افراطي لېوالتیا د مخنیوي لپاره به له انتقادي دریځه ورته کتل کېږي مانا دا چې عقلانیت ته به غاړه ایښودل کېږي او ان د تفسیر او متونو په پوهېدو کې به هم له نویو علومو استفاده کېږي.

دیني نواندان له یوې خوا د مسلمانانو له سنتي میراث سره کومه لانجه نه لري او د ایسته غورځولو یې نه ګڼي، بلکې د دې ټولنو د تمدني هویت مهمه برخه یې ګڼي او له بلې خوا دا هم مني چې دا میراث د انسان د یوه کار په توګه د نقد او بیا کتنې وړ دی. دې کار ته لازمه ده چې د دې میراث عصمت او تقدس نفي شي. د دې بهیر په نظر د مسلمانانو شته فکري او فرهنګي میراث نور نو یوازینی معرفتي مرجع نه ګڼل کېږي ځکه چې تاریخ یې تېر دی او نني نسلونه مجبور نه دي چې د نن د پرېکړو په خاطر د هاغه وخت قضاوتونو ته غاړه کېږدي. خو، دا بهیر د دې اړتیا هم نهویني چې د سنت ځپلو لاره ونیول شي او د مسلمانانو او د هغوی د فرهنګي – تمدني مخینې تر منځ اړیکه وشلېږي.

د دیني نواندۍ په نمونه کې د مډرنې نړۍ له علمي او صنعتي بریاوو څخه استفاده او د هغې د فرهنګي – تمدني تجربو په پام کې نیول ضروري اړتیاوې شمېرل کېږي. په دې لحاظ د نوې نړۍ د پېژندلو او پر مخ یې د انتقادي خبرو اترو د وره د پرانیستلو ټینګار کوي چې دا خبرې اترې رانه لازم معرفتي ابزار غواړي. د دې فکري بهیر ځینې صاحب نظران د دیني او فرهنګي پلورالیزم د نظریې په طرح کولو سره په دې باور دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د دې عصر د غوښتنو او د انسانانو تر منځ د سوله ییز ژوند د اړتیا په لحاظ، باید له افراطي انحصارګرۍ سره مقابله وشي او هم د شناختي معرفت په لحاظ د بشر پوهه په دې حد کې نه ګڼي چې د ټولو حقیقتونو د کشفولو جوګه او له هر ډول تېروتنې مبرا وي نو، په تواضع سره پوهېږي چې د هر دین او فرهنګ پیروان دې باید نورو دینونو او فرهنګونو ته احترام وکړي او دا په دې مانا نه ده چې مسلمانان دې له خپله دینه تېر شي.

د دیني نواندۍ د حدودو او ثغورو په اړه په دې وروستیو کلونو کې زیات مطلبونه لیکل شوي دي او د دې اړتیا نه وینم چې دلته یې فکري کرښې توضیح کړم البته د دې کتاب په یوه بل فصل کې به د دې طرز فکر ځینې اساسات تحلیل شي.

که له دې نمونو راتېر شو، د مسلمانانو په منځ کې نور جماعتونه هم شته چې د دیني روحیې د تقویې لپاره ځانته طریقه لري خو دا چې انتقادي دریځ او ځانګړی تیوریکي چوکاټ نه لري نو زما په ګومان د دیني اصلاح په موضوع کې نه ځایېږي. تبلیغي جماعت او د صوفیانو جماعتونه په دې ډله کې راځي. حزب التحریر هم چې د تشکیلاتو په لحاظ مستقل او نړیوال سازمان ګڼل کېږي، په نظري لحاظ د جهادي سلفیت او اخواني د نمونو تر منځ په نوسان کې دی او محدود تیوریکي منابع لري نو په دې فصل کې یې مستقلې څېړنې ته اړتیا نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع لنډیز

د اصلاحي نمونو دغې مجموعې ته چې وګورو، لومړی دې نتیجې ته رسېږو چې دا ټولې د بشري اجتهادونو محصولې دي او هېڅ یوه یې له کمی پاکه نه شو ګڼلای؛ دویم، هېڅ یوه یې د رنسانس په اړه جامع او کُلي طرحې ته نه ده رسېدلې؛ درېیم، تر دې دمه د دوی ترمنځ اړیکې د رقابت پر اساس پاتې شوې دي نه د تفاهم او همکارۍ پر اساس چې دا تفاهم خبرې اترې او د تجربو تبادله غواړي.

لیکوال په دې باور دی چې که چېرې د دې بهیرنو تر منځ د دښمنۍ او حاد تقابل فضا د خبرو اترو او تفاهم په فضا بدله شي، د اسلامي ټولنو د کړکیچ یوه برخه به راکمه شي، البته ټول یې نه ځکه زموږ اوسنی وضعیت یوازې د دیني مفکورو د نارسایۍ محصول نه دی، بلکې ګڼ سیاسي، اقتصادي او ټولنیز عاملونه په کې برخه لري.

د لیکوال په باور، د دیني فکر په برخه کې د کړکیچ راکمول کولای شي د نورو کړکېچونو په کمولو کې مرسته وکړي په تېره بیا که چېرې په دې برخه کې اساسي اصلاحات پیل شي، کولای شي د پراختیا او د لا پرمختللې سبا پر لوري د حرکت خنډونه لرې کړي او یا یې کم کاندي.

اوس نو دا د دې بهیرونو په صاحب نظرانو پورې اړه لري چې پرېکړه وکړي چې اوسنی وضعیت زموږ د ټولنو له ټولو ناخوالو سره پسې غځوي که خپل مزل ته بیا کتنه کوي او پر داسې نوې لارې تګ پیلوي چې اساس یې یو د بل منل، زغم، تساهل، مدارا او نور اخلاقي ارزښتونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مل ليكونه:**

1. وگورئ: عباس محمود عقاد، الاسلام فی القرن العشرين، القاهرة، الهيئة المصرية العامة للكتاب، 1993
2. وگورئ: ابوالحسن الندوي، تاريخچۀ دعوت اسلامی در هند، زاهدان، انتشارات صديقی، 1379
3. وگورئ: غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ
4. وگورئ: ابوالاعلی مودودی، موجز تاريخ تجديد الدين و إحيائه، لبنان، دار الفكر الحديث
5. هماغه اثر، ص 138
6. وگورئ: صلاح الدين سلجوقی، تقويم انسان
7. وگورئ: احمد رشيد، اسلام پيكارجو در آسيای ميانه، تهران، ناشر ابراهيم شريعتی، 1387
8. وگورئ: سيد قطب، العدالة الاجتماعية فی الاسلام، اهداء كتاب در مقدمه.
9. وگورئ: محمد محق، چشمها را بايد شست، ص 24
10. وگورئ: حسن البنا، مجموعة الرسائل، رسالة التعاليم.
11. وگورئ: ابو الاعلی المودودي، نحن و الحضارة الغربية، و ابو الحسن الندوي، تفسير سورة كهف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# -2-

# د کرکې او کینې دیانت

## د افراطیت پراخېدل او د افراطیت ریښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کرکې او کينې ديانت

دا که ومنو که يې ونه منو خو په خپله سيمه کې له مختلفو ديني تمايلونو سره مخ يو چې ځينې يې په ښکاره د دښمنۍ او خشونت سبب دي.

د ديني تمايل دغه طيف سره له دې چې په خپل منځ کې بيا پر نورو ورو ډلو ويشل کېږي خو د ټولو ګډه ځانګړنه دا ده چې د خوش بينۍ پر ځای د بدبينۍ، د منځلاريتوب پر ځای د توندلاريتوب، د سولې پر ځای د جګړې، د ابادۍ پر ځای د ورانيو او د ژوند پر ځای د مرګ تخم شيندي. لنډه دا چې د دې طيف ټولې ډلې د کينې او کرکې د ديانت تر عنوان لاندې ډلبندي کولای شو ځکه چې د نبوي حديث بر خلاف چې وايي : "يسروا و لا تعسروا و بشروا و لاتنفروا" (1) دوی له بشارت او اسانۍ سره جوړ نه دي او سختۍ او د چارو سختول يې د کار اساس دی. په همدې دليل هغه دين چې د خپل بنسټ ايښودونکي په ژبه "الحنيفية السهلة السمحة" (2) تعبير شوی و، اوس يې د خلکو په نظر ډارونکې څېره خپله کړې ده. نن سبا اکثره کورنۍ چې په خپلو اولادونو کې د ديني تمايل نښې وينې، د دې پر ځای چې ورته خوشحاله شي، انديښنه او وېره ورته پيدا کېږي چې هسې نه چې د زلمکيو سپېڅلې ساده اروا يې د تشددپالنې او تاوتريخوالي خوا ته لاړه شي.

افراطي ديانت په څو ځانګړنو مشهور دی، يوه يې دا چې په اسانۍ سره خلک تکفيروي او په مختلفو بهانو يې د دين له دايرې څخه شړي. سره له دې چې په اسلامي سنت کې تکفيرول ډېر قيدونه لري او ان د اسامة بن زيد (3) او خالد بن وليد په څېر جليل القدر صحابه وو په دې خاطر د اسلام د پيغمبر (ص) له خوا په قاطع او جدي توګه ملامت شوي دي چې په دې برخه کې به يې بې باکي کوله خو، دغو ډلو دا قيدونه ښنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پورې وهلي دي او د نورو کافر ګڼل ورته د ماشومانو لوبکی ګرځېدلې ده. دا ځکه چې په دې وسیله خپل سیاسي او فکري مخالفان له رقابته وباسي.

د اسلام په تاریخ کې د تکفیرولو مخینه او تاریخچه جلا لیکنه غواړي خو دلته به د افغانستان په معاصر تاریخ کې د دې بهیر پیدایښت او عاملونو ته اشاره وشي.

**په افغانستان کې د تکفیر ماجرا**

د اسلام په تاریخ کې تکفیر اوږده مخینه لري. په لومړي ځل دا وسله د ځینو صحابه وو او تابعینو پر وړاندې د خوراجو له خوا وکارول شوه او د اسلام څلورم راشد خلیفه او د اسلام د پیغمبر ځینې نور یاران په همدې وسله ووژل شول.

د دې بهیر وینلړې عواقب اکثره مسلمان عالمان دې ته اړ وایستل چې په نظري هڅو سره دا وسله د ډېرو فرقو له لاسه واخلي. د مسلمانانو په اولیه تاریخ کې تر ټولو مشهور او غوڅ دریځ د لوی فقیه امام ابوحنیفه و چې ویې ویل: "لا نکفر أحدا من أهل القبلة" هېڅ مسلمان چې د قبلې لوري ته لمونځ کوي، کافر نه شو ګڼلی. پر هغه سربېره ډېرو نورو عالمانو لکه غزالي، باقلاني، ابن حزم، شوکاني او نورو هم د تکفیر په مسأله کې بې باکي خطرناکه بللې او خلک یې په دې برخه کې له بې غورۍ منع کړي دي. (4)

سره له دې چې د اسلام د تاریخ په ځینو نورو پړاوونو کې هم د تکفیر توره د سیاسي – ټولنیزو تحولاتو د غوښتنو پر اساس د ځینو مسلمانو حاکمانو یا ځینو فرقو له خو د مخالفانو پر ضد استعمال شوې ده خو تکفیرول په داسې پراخ بهیر نه وو بدل شوي چې هم ورته لویه تیوریکي ملاتړ برابر شي او هم د ټولنې په فرهنګ کې نفوذ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي ځل د شلمې پېړۍ په اوایلو کلونو کې چې د ځوانو مسلمانو بنسټپالو په منځ کې دوه ایډیالوژیک کتابونه خپاره شول، د تکفیرولو نوې څپه راولاړه شوه. لومړی کتاب یې د ابوالاعلی مودودي د"المصطلحات الأربعة فی القرآن" رساله وه چې د حاکمیت مفکوره یې طرحه کړې وه. ورپسې د سید قطب مشهور کتاب "معالم فی الطریق" و چې له لومړي کتابه یې الهام اخیستی او د هغه مفکوره یې لا پراخه کړې وه.

ځینو هغو مسلمانو ځوانانو چې په هغو کلونو کې د جمال عبدالناصر په زندانونو کې تر سختې شکنجې لاندې وو، د دې دوو کتابونو د تیورۍ په مرسته داسې لاره پیدا کړه چې ورباندې د ظالم حکومت او هغو خلکو سره چې دې حکومت ته یې غاړه ایښې وه، خپل چلند روښانه کړي. دوی د هغو کسانو په تکفیرولو لاس پورې کړ چې د دوی په باور د الهي شریعت پروا یې نه کوله. دې سره په اسلامي نړۍ کې د تکفیرولو نوې څپه راوزېږېده.

دغه څپه په مختلفو عربي ملکونو کې خپره شوه. سره له دې چې په هر ځای کې دا څپه محدوده وه خو دا چې عواقب یې له تاوتریخوالي ډک وو، لویه وېره یې خپره کړه او نه یوازې حکومتونه، بلکې ډېرې منځ لارې مذهبي ډلې او ان په سیاسي اسلام باورمن سازمانونه یې پر وړاندې ودرېدل چې مهار یې کړي.

په دې منځ کې افغانستان له دې ایډیالوژۍ سره هیڅ اړیکه ونه مونده او ځوک یې ان له الفبې سره هم اشنا نه شول. دودیز اسلام په تېره بیا پر حنفي فقهې ولاړ اسلام چې بنسټ ایښودونکی یې د هیڅ اهل قبلې تکفیرول جایز نه ګڼي، د تکفیر له دې ایډیالوژۍ سره جوړ نه و. خو په افغانستان کې د تکفیرولو بهیر، له دې بهیره جلا له بل ځایه پیل شو چې دوه پړاوونه یې درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تکفیر لومړۍ څپه په افغانستان کې د چپي گوندونو د ایډیالوژۍ په غبرگون کې راولاړه شوه. دا هغه وخت و چې په څلویښتمو او پنځوسمو شمسي کلونو کې په هېواد کې د کمونیستي گوندونو پر وړاندې د اخوان المسلمین د ایډیالوژۍ پلویان ودرېدل. اوس داسې کافي مدون اسناد نشته چې معلومه کړي چپي گوندونو له دین سره دښمني په خپله اجنډا کې درلوده که دا یوازې یو تهمت و چې د مخالفانو له لوري پر دوی لگېده. خو دا چې دې گوندونو له روسیې او کمونیستي چین سره اړیکي لرل او لږ تر لږه ځینو غړو یې ماتریالیستي تمایل درلود، د مخالفانو له خوا د دین دښمنو گوندونو په حیث وپېژندل شول او کافر وگڼل شول.

تر دې وخته تکفیرول یوه محدوده محفلي چاره وه چې یوازې د ځوانو مسلمانانو ځینو فعالانو به په خپلو خاصو غونډو کې مطرح کوله او لا یې د ټولنې عمومي محیط ته داسې لاره نه وه کړې چې عمومي افکار تر اغېزې لاندې راولي. کله چې د ثور کودتا وشوه او حکومت د کمونیستي گوندونو لاس ته ورغی، د تکفیر توره له تېکه راوایستل شوه.

لومړي سر کې حکومت د دین دښمنه رژیم په توگه معرفي شو او پر ضد یې مبارزه په همدې نامه پیل شوه. دا هم پوره جوته نه ده چې د خلق او پرچم د ډلو د ځینو غړو له کمونیستي تمایلاتو ورها خوا، دې حکومت پخپله هم له دین سره د دښمنۍ کومه اجنډا لرله که نه ځکه چې له دین سره د دې حکومت د دښمنۍ د نښې تر ټوله جوته چاره هغه سوسیالیستي سیاست گڼل کېږي چې له مخې یې د لویو ځمکوالو ځمکې مصادره او پر بې وزلو وویشل شوې. حال دا چې دا چاره په یوازې سر له دین سره د دښمنۍ دلیل نه شي کېدای ځکه چې تر دې مخکې ځینو مسلمانو تیوري جوړونکو د اسلام په سوسیالیستي تعبیر لاس پورې کړی و او اشتراکیت یې د دین له هدفونو سره مطابق گڼلی و. دا خبره مشهوره ده چې د ایران پر ډاکتر علي شریعتي او ایت الله محمود طالقاني سربېره، د سوریې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان المسلمين مشر مصطفى سباعي په "اشتراكية الاسلام" او په مصر کې سيدقطب په دوو کتابونو "الاسلام و الرأسمالية" او "الاسلام و العدالة الاجتماعية" او همدارنګه محمد غزالي په "الاسلام و الاشتراکية" کتاب کې هڅه کړې وه چې سوسياليزم له اسلامي صبغې سره معرفي کړي. (5)

په هر حال، په کابل کې د «خلق او پرچم» د حکومت له کافر ګڼلو او پر ضد يې د جهاد له اعلانولو سره، د هېواد په ډېرو ولايتونو کې د تکفير توره د ټولو لاس ته ورغله. د جهاد د پيل په لومړيو کلونو کې اکثره هغه کسان چې وسله يې واخيسته، له سواده له پوهې محروم خلک وو او ان ځينې يې پخوا غله او داړه ماران وو خو له داسې حکومت سره د نښتې په سبب چې دين دښمنه معرفي شوی و، ورته د مجاهد نوم چې يو ډول مقدس نوم و، ورکړل شو. لا تر اوسه د داسې خېړنو تشه شته چې وښيي د جهاد د بېرغ د اوچتوونکو څومره کسان په فکري او ايډيالوژيک لحاظ له جهاد سره اشنا وو.

په هغو شرايطو کې د يو چا د کافر ګڼلو لپاره همدا بس و چې د کمونيستي حکومت په صف کې به ولاړ و. دا مهمه نه وه چې دوی به رسماً تکفيرېدل که نه خو مهدورالدم ګڼل کېدل او د هغوی د مال غصبول او د وينې تويول مباح وو. دا چې د تکفير لپاره داسې معيارونه او ضوابط چې فقهي او کلامي اساس ولري، نه وو نو تکفيرول په داسې اجتهادي چاره بدل شوي وو چې هر ټوپکوال کولای شول په دې برخه کې اجتهاد وکړي او همدا چې په يو چا کې د نامسلمانۍ وړه نښه ووينې، اعدام يې کړي. د نامسلمانۍ نښې کېدای شوې د ږيرې خرېيل، د دريشۍ اغوستل، په دولتي ښوونځيو او پوهنتونونو کې معلمي، د سواد د زده کړې د کورسونو معلمي او يا دې ځايونو ته د خپلو اولادونو لېږل وي. **(د غزني په يوه جهادي قوماندان پورې ويل کېږي چې سپرلی به يې له موټرو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کښته کړي، هر چا ته به يې پوزه ورنږدې کړه، ځينې به يې يوې خوا ته ودرول چې دا کافران دي. ده ادعا کوله چې کافر په بوی پېژني. ژباړن)**

د کمونيستي حکومت له خوا د مخالفانو بې رحمانه ځپل او په ډله ييزو قبرونو کې يې ښخول، داسې خونړۍ فضا رامنځته کړې وه چې د ډېرو غوسه يې راوپاروله. په هرات کې د کب د څلورويشتمې پاڅون د دې متراکمې غوسې يوه شغله وه چې لمبه يې ښکاره شوه او د دولت د اعتبار په کمزوري کولو سره يې د لا زياتو وسله والو ډلو د راډبره کېدو زمينه برابره کړه او دا ډلې بيا مختلفې صبغې او سليقې درلودې.

د واکمن دولت تکفيرول او د هر هغه چا مهدور الدم ګڼل چې له دې دولت سره يې همکاري کوله، ورو ورو په عامه کچه په منل شوې چاره بدل شول او پر همدې اساس ډېرې وينې وبهول شوې، د عادي سرتيري، چې په زوره به جنګ ته بېول کېدل، له وينې رانېولې د عادي ملکي کارمندانو تر وينې پورې. ان د دې رژيم د عمر په وروستيو کلونو کې چې ډاکتر نجيب الله سخته هڅه کوله چې دا تور له ځان او له خپل حکومته پاک کړي، بيا هم نظامي ډوله ځواکونه يې چې «مليشې» بلل کېدې، د ډېرو مجاهدينو له خوا کافر ګڼل کېدل. دلته وضعيت دومره کړکېچن او خراب و چې د دې موضوع د څېړلو لپاره د فقهي بحثونو مطرح کولو ته اړتيا نه ليدل کېده چې وښيي دقيقاً په کوم وضعيت کې کولای شو څوک کافر وګڼو او څوک د دې حکم د صادرولو حق لري او دا چې د حکم صادروونکي او تورن ته به يې پايلې څه وي.

ښايي يوازينی فقهي بحث چې په پېښور کې به د عربي ژبو جهادي څېرو تر منځ په کراتو مطرح کېده، دا و چې د صدر اسلام په څېر د کابل حکومت د اسيرانو ښځمنې وينزې کړي که متفاوت چلند ورسره وکړي. په هاغه وخت کې د عربي ژبو مشهورو څېرو په منځ کې ډاکتر عبدالله عزام تر ټولو معتدل وګڼل و چې د افغانانو د قبيلوي جوړښت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنا يې د ښځو مينزې کول، د جهاد په تاوان گڼل. ده پر هغو عالمانو چې له دې کار سره موافق وو، نيوکه کوله چې د افغانستان د قبيلوي دودونو له مخې که د يوې قبيلې يوه ښځه اسيره يا وينزه شي، ټوله قبيله به دا کار د ځان سپکاوی او پر ځان تېری وګڼي او بې پلوه او ان د مجاهدينو پلويان به د خپل حيثيت د دفاع په خاطر راوپاځي. يعنې د کمونيستانو او تکفير شويو د ښځو وينزې کول په اصل کې خو جايز دي خو د وخت د مصالحو په خاطر بايد منع شي.

سره له دې چې له ډېره وخته د مسلمانانو په فقهي – کلامي سنت کې د تکفير په اړه جدې خبرې اترې رواني وې او د تکفير د ضوابطو په رامنځته کولو کې د لويو عالمانو او متکلمانو له خوا مهمې هڅې شوې دي چې لږ تر لږه له د خپل سرو تکفيرولو مخه ونيول شي خو د جهاد په کلونو کې په دې اړه هېڅ نظري هڅه ونه شوه او ان يوه رساله هم د تکفير د ضوابطو په اړه ونه ليکل شوه. يوازې هغه مهال چې د مجاهدينو په منځ کې خپل منځي وژنو زور واخيست، عبدالله عزام يو وړوکی کتابګوټی وليکه چې نوم يې و «د مسلمان د قتل جريمه». په دې کتابګوټي کې د تکفير د ضوابطو په اړه مستقيم بحث نه و شوی خو د مسلمان په لاس د مسلمان پر وژلو يې په فقهي لحاظ نيوکه کړې وه.

په هماغه کلونوکې په پاکستان کې د افغان مهاجرو په کمپونو کې د ايډيالوژيک تکفير هماغسې تخم چې په عربي نړۍ کې ليدل شوي وو، مخ په زرغونېدو وو. دا کښت د ځينو توندلارو عربو لکه د ايمن ظواهري غوندې کسانو له خوا په خاصو کړيو کې پالل کېده. لومړنی نښه يې خپله د مجاهدينو په منځ کې ډلبندي وه چې د دوی په باور ځينې ډلې مردودې وې او تر ټولو مهم کس چې دوی ورباندې شک درلود احمدشاه مسعود و. مثلاً ډاکتر موسی قرني چې معتدل عرب رهبر او د عبدالله عزام نږدې ملګری و، له الحياة جريدې سره په مرکه کې ويلي وو چې د عرب جهادګرانو په منځ کې څو ځلې د احمدشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود د تکفیر په اړه بحث شوی و او یو ځل خو پوره یوه اونۍ په دې اړه اختصاصي جلسې شوې وې. سره له دې چې عبدالله عزام او موسی قرني هر یو جلا جلا پنجشیر ته لاړل چې له نږدې له مسعود او د هغه له کارونو سره اشنا شي او وروسته عزام د خپل سفر په اړه کتاب هم ولیکه چې د مسعود په باب مثبتې خبرې په کې وې خو دې کار عملاً د نورو پر تکفیري لید اغېز ونه کړ. (6)

د ډاکتر نجیب الله تر راپرځېدو او د مجاهدینو تر راتګ وروسته چې کورنۍ جګړې او اختلافونه ورسره مله وو، د تکفیر توره هماغسې استعمال شوه، په تېره بیا د دولت د مخالفانو له لوري چې ادعا یې کوله په دولت کې د پخواني رژیم ځینې عناصر شته نو دا اسلامي دولت نه شي کېدای. د همدې استدلال په وجه هم عرب جنګیالي او هم د پاکستان د جماعت اسلامي جنګیالي د حزب اسلامي تر څنګ او د دولت پر ضد وجنګېدل. که تر دې مخکې هڅه شوې وای چې د تکفیر لپاره علمي ضوابط او قواعد رامنځته شي، داسې ګډوډې به نه جوړېده. په واقعیت کې هغه مجاهدین چې له حکومت سره وو پخوا پخپله د نجیب الله د حکومت پر ضد د تکفیر وسله کارولې وه او اوس پخپله په همدې وسله وژل کېدل.

د طالبانو او مخالفو جهادي ګوندونو تر منځ په جګړو کې اول سر کې د «شر او فساد» پر ضد د مبارزې شعار راپورته شو او له تکفیره کار وانه خیستل شو. خو د عربي سازمانونو کسانو د احمدشاه مسعود او د هغه د نورو ملګرو د تکفیرولو باک نه درلود او په همدې دلیل یې انتحاریان ورته پیدا کړل چې ختم یې کړي. دا چې ولې لا هم له تکفیره په بربنده او تونده توګه استفاده ونه شوه، وجه یې دا وه چې په فقهي لحاظ ان عام پسنده دلیلونه هم ورته نه پیدا کېدل. ټول پوهېدل چې د دینداری د اندازې په لحاظ دغه دښمنې ډلې سره ورته دي او توپیر سره نه لري. ان د شریعت د نه تطبیقولو بهانه چې عربو به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکفیر لپاره کاروله هم د مسعود او ځینو نورو جهادي قوماندانانو په اړه سمه نه وه. په همدې دلیل د دې وسلې قوت یو څه کم شوی و.

د تکفیرولو دویمه څپه هله راولاړه شوه چې د طالبانو پر ضد د ناټو ځواکونو حملې پیل شوې او د دوی حکومت یې وررنګ کړ.

د اسلامي حکومت په راپرځولو کې له نامسلمانانو سره همکاري د تکفیر لپاره کافي بهانه وه. د طالبانو تر راپرځېدو وروسته، اسامه بن لادن له الجزیرې سره په خپلو لومړنیو مرکو کې برهان الدین رباني او همکاران یې مرتد او بې دینه وبلل. واقعیت دا و چې د ثور د انقلاب شرایط له لږ څه توپیر سره بېرته راژوندي شول. ظاهراً د دعوې په یوه خوا کې هغه کسان وو چې غوښتل یې سوچه اسلامي ټولنه او حکومت رامنځته کړي او په بله خوا کې هغه حکومت چې د کمونیستي حکومت په څېر پر نامسلمانانو د تکیې پر اساس رامنځته شوی و. وروسته د پاکستان د استخباراتي سازمان، په دوی پورې اړوند د دیني مدرسو او په افغانستان کې د دوی د همفکرانو تبلیغاتي ماشینونه، په ایران پورې د اړوندو ډلو تر څنګ میدان ته راودانګل چې دغې دعوې ته چې اصلاً هم د افغانستان د ډلو او قومونو تر منځ او هم د سیمه ییزو او نړیوالو ځواکونو تر منځ سیاسي دعوا وه، یو مخ مذهبي او دیني رنګ ورکړي او د کفر او ایمان تر منځ د کرښې په راځلولو سره د تکفیر وسله لا هم هماغسې په لاس کې ولري.

دا ځل خطرناکه خبره دا ده چې په دې تورې سره درې لیسزې وینې بهول شوې دي خو لا یې هم په تیکي کې د بېرته ایښودلو لپاره هېڅ تدبیر نه دی سنجول شوی، بلکې برعکس لیدل کېږي چې اوس د تکفیر ایډیالوژي هم د دېرش کلنې جګړې او وژنو پر دودونو زیاتیږي. دې سره به دا بهیر لا زیات مشروعیت خپل کړي. لا هم په هره بهانه او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کې هره مذهبي ډله چمتو ده چې په اسانۍ سره دا توره راوباسي او خپل مخالفان او رقیبان په وګواښي.

اوس نو د موسیقۍ په شان له عادي مسایلو رانېولې تر پوره سیاسي بحثونو پورې لکه له نورو سره د ستراتیژیکو تړونونو تر لاسلیکه پورې په یو ډول سره د تکفیر له قضیې سره تړاو ورکول کېږي. له بهرنیو سفارتونو او موسسو سره کار کول، د افغانستان په اردو او پولیسو کې دنده، د ملګرو ملتونو په موسساتو کې کار کول، د ملي ورځ په توګه د نوروز لمانځل او ان د هندي سریالونو ښه ایسول یا د ږیرې خریېل، د ځینو ډلو له خوا د تکفیر د حکم لپاره کافي ګڼل کېږي.

دې ته په کتو سره چې په افغاني ټولنه کې کلامي بحثونه ناروغ دي، په علمي مرکزونو کې د فلسفې فقر لیدل کېږي او په هېواد کې په عمومي کچه د عواطفو او احساساتو څپې غالبې دي نو ظاهراً دا هیله نه شو لرلای چې د تکفیر ور دې په دې نږدې وختونو کې بند شي. تر څو پورې چې دا توره په ټېکه کې وانه چول شي، دا تمه نه شو کولای چې د انسان ژوند دې درنښت ومومي او د ژوند حریم خوندي شي. دا خبره هم باید وکړو چې ځینې ډلې او جماعتونه خاصه تنده لري چې یوه پلمه په لاس ورشي او د نورو وګړو یا ډلو په تکفیرولو لاس پورې کړي. دوی همدې ته ناست دي چې په چا کې یوه نښه ووینې او تکفیر یې کړي.

**د جهادیزم ایډیالوژي چېرته روانه ده؟**

**د جهاد په اړه له ډېر پخوا، د اسلامي تمدن د جوړېدو له لومړیو پېړیو فني – تیوریکي بحثونه شته وو چې دا وښیي چې ایا د دین په قاموس کې جهاد یوازې د وسله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**والې جګړې مانا لري که د پراخو هڅو مانا چې ډېر ظاهري او باطني اعمال رانغاړي. یا دا چې د وسله والې جګړې په مانا جهاد، د تېري او یرغل پر وړاندې د ځان د مشروع دفاع لپاره وي که د مقدسې جګړې او د نورو دینونو د پیروانو د ماتولو لپاره. همدارنګه دا چې په دې مانا جهاد**"حسن لذاته" دی که "قبیح لذاته و حسن لغیره" (د فقیهانو د اصطلاحاتو مطابق).

خو په دې لیکنه کې د دې پر ځای چې جهاد له دې نظره وکتل شي، بله پوښتنه څېړل کېږي، هغه دا چې جهادیزم څه غواړي او د مسلمانو ټولنو لپاره به څه ډول برخلیک وټاکي.

ښه به وي چې د «جهادیزم» مانا روښانه شي چې له مطلق جهاد سره غلط نه شي. نن سبا جهادیزم هغې ایډیالوژۍ ته ویل کېږي چې:

1- اساساً جهاد وسله واله جګړه ګڼي او
2- په همدې مانا جهاد د اسلام تر ټولو مهم رکن او ښایي تر توحید وروسته یې په دویمه درجه کې بولي او
3- په اوسنیو شرایطو کې د وسله والې جګړې تر څنګ بله هر رنګه هڅه لکه علمي فعالیتونه، ټولنیز خدمتونه، سیاسي هڅې، فرهنګي اصلاحات او ... کم اهمیته ګڼي او
4- دا لاره له بې شمېره ستونزو د مسلمانانو د خلاصون یوازینی لاره ګڼي او
5- په دې برخه کې مشروع دفاع کافي نه بولي او یرغلیز جنګونه هم د جهاد مهمه برخه ورته ښکاري او
6- په دې جګړه کې که لازمه وي، د مدني خلکو د وژلو باک هم نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم چې دا ایډیالوژي په ځینو دودیزو منابعو کې ریښه لري خو دا اوسني جوړښت یې اوږده مخینه نه لري او د څېړونکو په باور پیدایښت یې د سید قطب د لانجمن کتاب "معالم فی الطریق" پورې غوټه دی. دا کتاب د شلمې پېړۍ په شپېتمو کلونو کې لیکل شوی دی.

څه موده وروسته ځینو مذهبي ځوانانو چې عمدتاً د اخوان المسلمین کسان وو، له دې کتابه په الهام اخیستلو سره یوه نوې ډله جوړه کړه چې نوم یې و «الجهاد الاسلامي». هغه تخم چې سید قطب شیندلي وو، د عبدالسلام فرج په لاس د «المواجب المکتوم» کتاب په لیکلو سره زرغون شول. دا سړی د اسلامي نړۍ له نظریه جوړوونکو او د ایمن ظواهري له نږدې همفکرانو څخه و. الجهاد د دې ډلې ځانګړی نوم و خو ورسره هم مهاله دوو نورو بهیرونو چې د «معالم فی الطریق» په کتاب کې یې نسب یو دی، د دې مفکورې د خړوبولو هڅه کوله. یو یې جماعة المسلمین و چې په الهجرة مشهور شو او بل یې الجماعة الاسلامیة چې شیخ عمر عبدالرحمن د دې بهیر ړوند رهبر تاوتریخوالي ته د خلکو د هڅولو په وجه زیات مشهور شو.

د پخواني شوروي د سره پوځ پر وړاندې د افغانستان جهاد، په لومړي سر کې له دې ایډیالوژۍ سره نه و پیوند او په فکري لحاظ یې زیاتره د مصر له اخوان، د پاکستان له جماعت اسلامي او د ایران د ځینو ایډیالوژیکو مفکرانو لکه شریعي او مطهري الهام اخیستی و.

ځینې جهادي رهبران او د مجاهدینو سیاسي څېرې د سید قطب له مفکورو سره اشنا وو خو زیاتره د هغه «په اسلام کې ټولنیز عدالت» له کتاب او ځینو نورو اثارو سره بلد وو چې د چپي مفکورو د ګرم بازار په کلونو کې یې د ډېرو ځوانانو پام ځان ته اړولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان جهاد لا له کوم ځانګړي ايډيالوژيکي چوکاټ سره نه و غوټه شوی او مختلفې ډلې له مختلفو فکري – سياسي تګلارو سره ورته راغلې وې. ښايي د دوی تر منځ يوازينی ګډ ټکی به د شوروي نيواکګرو پوځونو او د هغوی تر ملاتړ لاندې حکومت سره جنګ و.

د جنګ له غځېدو سره د جهاد جبهو ته د وردانګلو لپاره د عرب جنګياليو سېل د پاکستان خوا ته رامات شو. په دې منځ کې تر ټولو مشهوره څېره ډاکټر عبدالله عزام و چې متخصص فقيه او د اخوان المسلمين غړی و. هغه په خو ځايونو کې دا خبره ياده کړې ده چې له څلورو کسانو اغېزمن شوی دی: په عقيده کې له ابن تيميه، په روحي چارو کې له ابن القيم، په فقه کې له نووي او په فکري مسايلو کې له سيد قطب. (7) ده د خپل څو بُعديز شخصيت په وسيله وکولای شول د جهاد ايډيالوژي په داسې خاصه مزه وړاندې کړي چې د دې ايډيالوژۍ نور تيوريسنان ځنې بې برخې وو. د عزام اثار د جهاد د ايډيالوژۍ د ناځاپي ودې سبب شول او د اسلامي ملکونو د ډېرو ځوانانو په منځ کې د دې ايډيالوژۍ له پراخېدو سره يې مرسته وکړه. البته تر ده وروسته په دې ايډيالوژۍ کې د نووي  د فقهي او د ابن القيم د اخلاقياتو پل ورک شو او د ابن تيميه اعتقادي بريدټاکنو او د سيد قطب ايډيالوژيکې خط کشيو د هغه ځای ونيو.

وروسته بيا د پاکستاني – کشميري پر ځينو ډلو سربېره، له مصر، د عربستان له ټاپووزمې او د افريقا له شماله خواره واره جهاديستان پر دې ايډيالوژۍ راټول شول. ښايي يوه لسيزه به تېره وه چې د «الجهاد العالمي» په نامه يو بهير راوټوکېد چې محور يې د القاعده سازمان و. دې بهير له قفقاز او منځنۍ اسيا رانيولې د افريقا تر غربه پورې د شبکو په جوړولو پيل وکړ او د نورو اسلامي خوځښتونو او جماعتونو لکه اخوان، حزب التحرير، تبليغي جماعت، سنتي سلفيانو او نورو لپاره په جدي رقيب بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې دا پخوانيو جماعتونو او خوځښتونو نړېوال بُعد درلود او هڅـه يـې کوله چې ايډيالوژي يې سيمه ييز رنګ ونه لري خو په عملي لحاظ بيا هـر کلـه چـې د يـوه مشخص سازمان او ګوند په چوکاټ کې راڅرګند شوي دي، په چارو کـې يـې سـيمه ييـزو ستونزو او اړتياوو لړ ډېر ځای نيولی دی ځکه خو په دوی کې په سياسي – ټولنيز ډګـر کـې يو ډول رنګارنګي ليدل کېږي. مثلاً د فلسطين حماس ډلې چې اصـلاً د اخـوان المسـلمين يوه څانګه ده، تل هڅه کړې ده چې په فلسطين کې خپلو خاصو شرايطو او له اسراييل سره تقابل ته لومړيتوب ورکړي او له هغو لانجو لرې پاتې شي چې د اخوان نورې څانګې يې له خپلو حکومتونو سره لري. د عراق، سوريې، کويت، الجزاير او نورو ملکونو اخواني ډلې هم همداسې درواخله.

خو نړېوال جهاديزم بيا هڅه کړې ده چې په بحثونو کې يې سيمه ييزې اندېښنې تتې شي او په داسې ژبه وغږېږي چې ګواکې په ټوله دنيا کې د مسلمانانو يوازينی استازی دی. په عملي لحاظ يې هم داسې تکتيکونه غوره کړي دي چې د خپلو غړو او څانګو لپاره انتهايي نرمښت په کې وي دا په دې چې د هېوادونو تر منځ شته سرحدونه يې د موخو د دوام خنډ نه شي. په همدې خاطر يې ځينې مهمې څېرې له اسيا تر افريقا او له لرې ختيځه تر منځنې ختيځه خوځندې پاتې شوې دي.

د دې بهير په نظر د جنګ ميدان هم پراخ او پراخېدونکی دی. مسکو او واشنګټن هماغومره د جګړې ډګر ګرځېدای شي څومره چې حرمين شريفين کېدای شي. په مادريد او لندن کې چاودنه هماغه حکم لري چې په افغانستان، پاکستان، عراق يا بل هر ځای کې د انتحاري عملياتو لپاره وي. په تايلند کې د الوتکې راغورځول هماغومره اهميت لري څومره چې د يمن په ساحلونو کې د بېړۍ چول يا په تانزانيا کې د ودانۍ نړول. ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا د هغې جګړې میدان دی چې دې بهیر د خپلو مخالفانو پر ضد اعلان کړې ده او هېڅ ځای د دوی له ډزو نه دی بچ.

د دې بهیر په نظر دښمن یوازې هغه ځواکونه نه دي چې رسماً د مسلمانانو پر خاورو تېری کوي، بلکې هر حکومت او هره ډله چې د ده له دریځونو سره مخالف وي، د دوی دښمن ګڼل کېږي او ان که یې اړتیا وي، بې پلوه مدني وګړي هم د حق او باطل تر منځ په جګړه کې د بې پلوۍ په جرم د دښمن د پلي ځواک په شان د دوی له تېغه تېرېدای شي. د دې کار بېلګه د تېرې پېړۍ په نویمو کلونو کې په الجزایر کې ولیدل شوه چې د اټکل له مخې خوا و شا دوه لکه کسان په کې قرباني شول.

د جهادیزم د ایډیالوژۍ یوه ځانګړنه دا ده چې له تاریخي پوهې محرومه ده او همدا محرومیت تېر او راتلونکي ته د دوی د لید بڼه تعینوي. دا بهیر پر هغو اصلاحي نوښالو هڅو باور نه لري چې په نولسمه پېړۍ کې د ختیځ د رنسانس په خاطر شوې دي. له دې نظره، نه سید جمال الدین او محمد عبده کوم اهمیت لري او نه خیرالدین تونسي او علال فاسي. د لاهوري اقبال او مالک بن نبي الجزایري او ډېرو نورو کسانو هغه ډېر ښه فکري او فرهنګي فعالیتونه د وخت ضایع کول وو، هغه کارونه خو لا پر ځای پرېږده چې په څه باندې یوې پېړۍ کې په ترکیه، ایران، مصر، مالیزیا او ځینو نورو هېوادونو کې د مسلمانو حکومتونو یا ځینو سازمانونو او بنسټونو له خوا د پراختیا او مډرن دولت د جوړولو په لاره کې شوي دي.

په دې ایډیالوژۍ کې په تېر تاریخ کې یوازې د اسلام څو لومړنۍ لسیزې او ځینې نور وختونه چې د اسلامي فتوحاتو تاریخ بلل کېږي، اهمیت لري او تر هغه راوروسته دورې د جاهلیت دورې ګڼل کېږي چې له نګه اسلام سره تړاو نه لري. هغه علوم او هنرونه چې د اسلامي تمدن د زېږېدو سبب شول، د دې ایډیالوژۍ په نظر خاص اهمیت نه لري ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مختلفو اسلامي فرقو او مذهبونو د ګوتو نښې په کې ښکاري چې له لازمې پاکدینۍ څخه محروم وو. یوازې د اسلامي علومو هغه ټوټې له دې قاعدې مستثنا ګڼل کېدای شي چې د دې ایډیالوژۍ له معیارونو سره اړخ لګوي.

په دې ایډیالوژۍ کې راتلونکی هم تر تېر بهتره بخت نه لري. د دې لپاره چې د سرتېرو توان او وخت ضایع نه شي او له غوره شویو هدفونو لرې نه شي، ان د دوی په رهبرۍ کې هم د هغو علومو زده کړې ته توجه نه کېږي چې د ټولنې د پراختیا او مدیریت په درد لګېږي. په افغانستان کې د دې بهیر د تړونوالو طالبانو شپږ کلن حکومت وښودل چې دوی راتلونکي ته په کوم نظر ګوري. اساساً تر اوسه پورې چا نه دي لیدلي چې دې بهیر دې غیر له دې چې ځوانان جګړې ته ولمسوي، د راتلونکي د جوړولو لپاره کومه طرحه وړاندې کړې وي. په بله وینا، د دې بهیر ټول مهارت په سلبي بُعد کې دی نه په ایجابي بُعد کې. یعنې ټول فکر و ذکر یې پر ورانولو او د مقابل لوري پر بربادولو راټول دی او تر هغه وروسته د راتلونکې سبا فکر ورسره نشته.

د دې بهیر تنده یوازې د دښمن په بربادولو نه ماتېږي، بلکې څنګه چې طالبانو وښودل، د حکومتي نظم او انضباط له ړنګولو رانېولې، د پوځ او پولیسو تر ختمولو، د لرغونو تمدنونو د نښو (لکه د بامیان د مجسمو) تر ورانولو پورې مخ ته ځي. په لیبیا او مالي کې د دې بهیر د نورو څانګو کړنې چې د صوفیانو زیارتونه یې ونړول او ځینې لرغوني اثار یې وسېځل، له هغو تمایلاتو سره ورته دي چې د دوی مصري همفکران یې په سر کې لري او غواړي چې د فرعونانو د وختونو پاتې شوني اهرام، ابوالهول  او نور شیان له منځه یوسي.

جهادیزم د ورانولو ځواکمنه څپه راخوشې کړې ده خو د بیارغولو او ابادولو د تفکر په جوړولو کې پاتې راغلی دی. دا بهیر یوازې د یوه ځانګړي عامل محصول نه دی، بلکې تر شا یې ګڼ عاملونه پراته دي. ښایي په عاملونو کې یې یو هم د رغوونکې مفکورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جوړولو کې د پخوانو بهیرونو او جماعتونو ناکامي وي لکه هغه حکومتونه چې ویې نه شول کولای په عمل کې دا رغاونه عملي کړي.

انتحاري عملیات او د درولو هڅه يې

**د افراطیت یوه عملي او دردناکه نتیجه د ډاروونکو انتحاري عملیاتو خپرېدا ده چې غالباً ړوند عمل کوي او زیاتره بې گناه وگړي وژني. په دې لحاظ انتحاري عملیات په افغانستان او سیمه کې ژوره اندېښنه زېږولې ده. ډېر خلک هڅه کوي چې د دې خپې د مهارولو لاره ومومي او د دې ټولنو زیانمن شوی امنیت ورته راستون کړي. په دې منځ کې د دیني عالمانو نقش لا زیات اهمیت لري ځکه چې دا عملیات تر هر څه زیات او تر هر څه وړاندې پر مذهبي انگېزو تکیه کوي. په همدې خاطر د مختلفو کچو سیاسي مسوولان د دیني عالمانو لمن نیسي چې له دې بهیر سره په مقابله کې ورسره مرسته وکړي او په اتفاق سره دا عملیات حرام وگڼي او مشروعیت یې له بېخه نفي کړي.**

ډېره موده کېږي چې حاکمانو او سیاستوالو د انتحاري عملیاتو د تحریمولو او له هغې سره د غوڅ مخالفت په اړه له دیني عالمانو سره خبرې کوي خو تر اوسه چندانې کامیابه شوي نه دي.

دا چې له انتحاري عملیاتو سره مقابله فوق العاده مهمه ده خصوصاً هله چې قربانیان یې ملکي وگړي وي، او دا چې هم خلک او هم حکومتونه په پراخه کچه دا شی له عالمانو غواړي نو وجه یې څه ده چې په عمل کې داسې اجماع نه ده شوې او دا قضیه لا هم د متضادو تا ویلو ما ویلو په ابهام کې پاتې شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې برېښي چې څو اساسي عاملونه دي چې په دې برخه کې يې شک او ابهام رامنځته کړی دی او دا عاملونه به داسې زر نه لرې کېږي او نتيجه به يې دا وي چې زموږ ټولنې به همداسې له دې مرګونې ننګونې سره لاس و ګرېوان پاتې وي.

د انتحاري عملياتو په اړه د ابهام يو عامل دا دی چې د ديني متوليانو پر نسبتاً زياتې برخې عام فکرونه غالب دي. هم هغه کسان چې غواړي د مهمو مذهبي څېرو په حيث معرفي شي او هم هغه ګوندونه او ډلې چې دا ادعا لري، عاميانه سليقو ته لومړيتوب ورکوي او ځنې ډارېږي. اکثره يې د لارو کوڅو د خلکو نبض کسي او خپل بحث او پيغام داسې تياروي چې د هغوی د خوښۍ سبب شي. البته عام وګړي د انتحاري عملياتو پلوي نه دي ځکه چې تر ټولو زيات قربانيان يې همدوی دي خو دا چې حکومتونه د اساسي خدمتونو په وړاندې کولو کې پاتې راغلي دي او د اکثرو خلکو ژوند نه دی ښه شوی نو د خلکو په منځ کې يو ډول پټه غوسه شته. ځينې ديني متوليان له دې وضعيته ګټه پورته کوي او غوره ګڼي چې له خپلو مخاطبانو سره يوه خوله اوسي، د احساساتو پر څپو سپاره شي او خپل موقف ورسره ټينګ کړي. دې کسانو ته عمومي امنيت او عامه هوساينه دومره مهمه نه ده، څومره چې خپل ټولنيز مقام ورته مهم دی او نتيجه يې دا راووځي چې د غوسې او بل ځپلو د احساساتو اور ته په پوکي سره د تاوتريخوالي او کرکې ټغر غوړوي او څوک چې انتحار کوي، له همدې ټغره راپاڅېږي.

په دې برخه کې د شک بل عامل دا دی چې له ديني نصوصو څخه د متفاوتو انګېرنو او تاويلو د اخيستلو امکان شته. حقيقت دا دی چې په قران مجيد کې د انتحاري عملياتو په اړه قاطع نص نشته او په دې برخه کې يا خو د قتل نفس او ورته چارو د تحريم په اړه عموماتو ته رجوع کېږي او يا هغو حديثونو ته چې د ځانوژنې په اړه راغلي دي او معمولاً د انتحار متعارفه مانا چې غالباً د ژور خپګان او اروايي ستونزو يا ورته عاملونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه ترسره کېږي، نه پر شهادت د اعتقاد او د مقدسو ارزښتونو په لاره کې (البته په دې مورد کې هم کله کله د انتحار ریښې هماغه وي). په دې بحث پورې اړوند حدیثونه هم غیر له دې چې ورسره مستقیمه اړیکه نه لري، د ثبوت او قطعیت په لحاظ هم د تواتر په درجه کې نه راځي، بلکې د آحاد اخبار په ډله کې حساب دي چې یوازې ظن افاده کوي او بس. دا موضوع سبب کېږي چې هم د انتحاري عملیاتو مخالفان او هم یې موافقان د دیني نصوصو تاویل ته مخه کړي او د خپلې کړنلارې سره سم یې تفسیر او توجیه کړي. کله چې د تاویل خبره په منځ کې وي بیا نو اجماع او وروستۍ پرېکړې ته د رسېدو لاره نه وي او متضادې مناقشې به تر بې پایه وخته پورې وغځېږي.

په دې برخه کې د ابهام بل عامل د اصولي او کلامي مبحثونو کمزوري ده. له اصولي مبحثونو څخه منظور د فقهي د اصولو په علم پورې اړوند قواعد دي د اجتهاد او د فقهي مذهبونو د جوړېدو مبنا ده. د اسلام د تاریخ د سر په پېړیو کې چې د اسلامي تمدن د ښېرازۍ دورې ګڼل کېږي، هم اصولي مبحثونو او هم کلامي مبحثونو ته جدي پاملرنه کېدله او د اجتهاد تنور به ګرم و. نن سبا سره له دې چې بې شمېره دیني مدرسې او علمیه حوزې شته خو دا ډول علمي مبحثونو ته په میتودیک ډول پام نه کېږي او اکثره هغه کسان چې په دې مدرسو کې یې زده کړې کړې دي او مذهبي مرکزونو او منبرونو ته تللي دي، په دې ډول مبحثونو کې تسلط نه لري. دوی سره له دې چې د فقهې د اصولو علم ته د اجتهاد او د دیني نصوصو د فهم په برخه کې د یوه سیستماتیک علم په سترګه ګوري خو په عمل کې په حاده برسېرن پالنه اخته دي او سلفي تمایلونه په کې شدید دي، ان په هغو کسانو کې چې ظاهراً له سلفیت سره په تقابل کې دي. د کلام علم هم چې لږ تر لږه د اعتقادي مسایلو په تحلیل او له هغوی څخه په دفاع کې یې له فلسفې او عقلي میتودونو کار اخیست، اوس په دې مدرسو او حوزو کې یو مخ له پامه غورځول شوی دی. نتیجه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکله د انتحاري عملیاتو خبره کېږي، علمي ضوابطو او قواعدو ته رجوع کمه وي او زیاتره په خطابي میتودونو مطرح کېږي.

بل عامل هم ورسره یوځای کولای شو او هغه زموږ په سیمه کې د سیاسي- ټولنیزو اوضاعو پېچلتیا ده چې که یو څوک په لوړه کچه سیاسي – تاریخي پوهه ونه لري، د ښه او بد تشخیص به ورته گران وي. مانا دا چې مثلاً که یو تصور کوي چې له خارجي دولتونو په تېره بیا زبرځواکونو سره هر ډول اړیکه د هېواد په تاوان ده او بل فکر کوي چې په گټه یې ده. یو کس داسې انگېري چې د متحده ایالتونو له هر ترونوال نظام سره مخالفت او غربي قدرتونو ته هر ډول تاوان رسول یو ډول جهاد دی او بل گومان کوي چې دا یو ډول ملي خیانت دی. ځینې په دې باور دي چې موجود نظام د مدني فعالیتونو له لارې بدل کړو او ځینې وایي چې په هره لاره چې ممکنه وي. ځینې فکر کوي چې له ناټو سره هر ډول مخالفت، د گاونډیو هېوادونو ژرندې ته اوبه خوشې کول دي او دا به د گاونډیو استخباراتو ته خدمت وي  او ځینې بیا فکر کوي چې له گاونډیو ملکونو سره ملگرتیا کولای شي د استعمار پر ضد په مبارزه کې یو تکتیک اوسي. ځینو ته د اقتصادي او ټولنیز وضعیت ښه کېدل لومړیتوب لري او په دې برخه کې هر ډول مثبت بدلون ورته د استقلال او ازادۍ پیلامه ښکاري او ځینو ته بیا جهاد او د بهرنیو ځواکونو شړل د لومړیتوبونو په سر کې ځای لري ان که د هېواد د بشپړې ورانۍ په بیه هم تمام شي.

په دې برخه کې اختلافونه او د لیدلوریو توپیرونه د ټولنې په مختلفو قشرونو کې په مختلفو اندازو شته او د مفکورو په دې تضادونو کې انتحاري عملیات هم په دومره مختلفو بڼو تفسیرېږي چې څوک یې د ځان مردارول بولي او څوک یې استشهادي عملیات.

دا خبره به هم په کې ورزیاته کړو چې اکثره هغه بنسټونه چې د مذهبي چارو رسمي متولیان دي، خپل اعتبار بایللی او خبرې یې یوازې پر محدودو مخاطبانو اغېز کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دې ته زړه نه شو ښه کولای چې د یوه ځانګړي بنسټ یا د خاصو وګړو له یوې وینا سره به دا لانجه ختمه شي.

اوس نو اساسي پوښتنه دا ده چې له دې بندې لارې څخه د وتلو لاره هم شته که نه؟

که څه هم چې په دې برخه کې د ځینو دیني رهبرانو یا ځینو بنسټونو لکه د عالمانو د شورا دریځ بې اغېزه نه دی او په خپل حد کې د ستایلو وړ دی خو داسې نه برېښي چې د دې مسألې په اساسي حل کې دې مرسته وکړای شي ځکه له دې کار سره نه خو د عالمانو عوام ځېلې مفکورې سمېږي، نه د نصوصو د تاویل ستونزه حل کېږي، نه اصولي او کلامي مبحثونه تازه ژواک موندلای شي او نه د سیاسي – ټولنیزو شرایطو پېچلیتا ورسره کمېږي.

ښایي بهتره به دا وي چې د انتحاري عملیاتو د مشروعیت د سلبولو په خاطر د اساسي چارې د موندلو لپاره د وګړو او بنسټونو د هر ډول رانه او غوڅ دریځ پر هرکلي سربېره ، نور ګامونه هم پورته شي چې د لیکوال په نظر تر ټولو مهم به یې دا وي چې زموږ په ملکونو کې د انسان ارزښت احیا شي او د وګړو د فکر په محراق کې خپل ځای پیدا کړي.

باید دا پوښتنه رامیدان ته کړو چې انسان هدف دی که وسیله؟ دا پوښتنه باید په پراخه کچه مطرح شي چې ټول هغه کسان چې په عمومي بحثونو کې ښکېل دي، په جدیت ورسره مخامخ شي او پر وړاندې یې خپل دریځ مشخص کړي.

که په خپله ټولنه او فرهنګ کې دې موضوع ته د نښو نښانو له نظره وګورو، وبه وینو چې د سیمې په رواج شوي عمومي باور کې، انسان هغه وسیله ګڼل کېږي چې باید د قبیلې، توکم، ګوند، ایډیالوژی، مذهب، دین، حکومت، وطن، فرهنګ او نورو په خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وي. دغه هره مقوله داسې مقدسه ګڼل کېږي چې انسان باید ځان ترې نه ځار کړي یا نور ورته قربان کړي.

دا پوښتنه لږه مطرح شوې ده چې دا مقولې دې ته پیدا شوي دي چې د انسان په خدمت کې اوسي او انسان ته ګټه ورسوي که برعکس، انسان دې ته پیدا دی چې د هغوی په چوپړ کې اوسي. کېدای شي په دې موضوع کې ابهام له دې راپیدا شوی وي چې د حقیقي او اعتباري چارو توپیر په واضحه توګه نه دی پېژندل شوی.

حقیقت دا دی چې تر اوسه پورې دا پوښتنه په جدي توګه نه ده مطرح شوې چې د اعتباري مقولو او حقیقي موجوداتو تر منځ نسبت څه دی؟ او دا چې کوم یو یې مقدم دی؟ که دا مسأله سمه وسپړل شي، په اسانۍ سره به پوه شو چې انسان حقیقي موجود دی او یادې مقولې اعتباري او یوازې حکمي دي او یوازې په ذهنونو کې د مفاهیمو په بڼه او د انسانانو په منځ کې د قراردادي مفاهیمو په توګه رامنځته شوي چې د هغوی ژوند ښه کړي. یادې مقولې انتزاعي چارې دي چې وجود یې یوازې ذهني بڼه لري او د واقعیت په عالم کې، د انسان له ذهنه بهر، د فرهنګ، دین، مذهب، ایډیالوژي، قبیلې، توکم، حکومت او ... په نامه څه نشته. البته انسانانو هڅه کړې ده چې دې مقولو ته د فیزیکي اړخ د ورکولو په خاطر داسې بنسټونه رامنځته کړي چې په ودانیو او مشخصو فیزیکي ځایونو کې مستقر وي لکه دیني معبدونه، د سیاسي ګوندونو دفترونه، د قومي شوراګانو ځایونه، حکومتي ادارې او ... خو ښکاره ده چې دا ځایونه له هغو مقولو سره عین شی نه وي او یوازې په دې خاطر ایجاد شوي دي چې مقولو ته وجود وبخښي. په عمل کې دا ناممکنه ده چې دین دې وي، بې له دې چې په فیزیکي بڼه کوم معبد ورته جوړ شي یا کولای شو ایډیالوژي ولرو بې له دې چې ورته دفتر ولرو او دا نور یې هم همداسې درواخله. مطلب دا چې په دې ټولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې انسان حقیقي موجود دی چې حقیقي درد او رنځ ګالي یا واقعي لذت او هوساینه تجربه کوي.

له دې مهم اصل سره غفلت او د حقیقي چارو او اعتباري چارو په ګډولو سره، دې ته زمینه برابرېږي چې څوک د خلکو احساسات راوپاروي، پرګنې سړکونو ته راوباسي او ولسونه پاڅونونو ته مجبور کړي، چې توکم ته خطر پېښ دی، مذهب ته تاوان رسېدلی، دین ضعیف شوی او ... حال دا چې دا توصیفونه یوازې د انسان په شان یوه حقیقي موجود ته اطلاقېدای شي او اعتباري چارو ته یې منسوبول یوازې په مجازي او استعاري بڼه سم وي. که پر دې خبرې دقت وشي، وبه پوهېږو چې د مجاز او استعارې لپاره د انسانانو وژل یا وژل کېدل به څومره پوښتنپاروونکي ښکاري.

د دې ټکي په درک کولو سره پوښتلای شو چې ولې انسان، دا حقیقي موجود، باید وهمي یا ذهني مقولو ته قرباني شي. ولې به دا مقولې اصل وګڼل شي او د انسان ژوند د هغوی په توابعو کې یوه تابع وګڼل شي. دا انسان دی چې پر دې مقولو او مفاهیمو د اعتقاد له لارې ورته وجود ورکوي او که انسان نه وي، نه به دین کومه مانا ولري، نه ایډیالوژي او نه توکم، قبیله، حکومت، دولت او نه بل اعتباري مفهوم.

یو څه چې زموږ په فرهنګ کې له ډېرې مودې راهیسې اپوټه شوی، دا دی چې فرع د اصل ځای نیولی دی او حقیقت د مجاز قرباني شوی دی. د یادو د مقولو د هرې یوې ارزښت له هغې ګټې سره برابر دی چې انسان ته یې رسوي او که هره یوه یې د انسان د تباهۍ او بربادۍ سبب شي، اعتبار یې له بېخه ختمېږي.

که دا اصل ومنل شي نو د دین، فرهنګ، قانون او حکومت هر تفسیر باید داسې وي چې د انسان د ژوند په ساتنه او د هغه د هوساینې پر لاره برابر وي او هر څه چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیر پر خلاف وي او د انسان د تباهی او بربادۍ سبب شي، باید غیر انساني لاره وګڼل شي او ایسته وغورځول شي.

د لیکوال په باور، د انتحاري عملیاتو او هر ډول خونړیو او خشونت زېږوونکو عملیاتو پر وړاندې د مقابلې تر ټولو مهم ګام به دا وي چې دا پوښتنه مطرح کړو او ابهام ځنې لرې کړو. وروسته بیا د دیني نصوصو د متضادو تفسیرونو ستونزه او د عوام ځپلې مفکورې او خشونتپاله پوپولیزم او ان د سیمې د سیاسي – ټولنیز پېچلې اوضاع د مختلفو تحلیلونو ستونزه به د حل لاره ومومي. انسان ته د داسې لید په رڼا کې کولای شو د لانجو د ختمولو او د ابهامونو د رفع کولو لپاره یو معیار ولرو.

البته دا هم څرګنده ده چې یوازې د دې مسألې په ساده یادولو سره به اساسي بدلون رانه شي او باید شعر، ادب، هنر، پوهه، مفکوره، قانون او ... ټول د دې چارې په بیان، تفسیر او توضیح کې برخه واخلي چې انسان د ارزښتونو د ارزښت په حیث په سر کې وي او د نورو ټولو مفاهیمو وجود او اهمیت انسان ته د خدمت او ګټورتوب پر اساس وي. په دې لاره کې یو اغېزمن ګام به دا وي چې د افراطیت د سرچینو منابع په دقیقه توګه وپېژندل شي.

هغو کسانو چې زموږ په سیمه کې یې د افراطیت سرچینې څېړلې دي، پر توندلارو جماعتونو او د هغوی پر سخت دریځې ایډیالوژۍ سربېره پر ځینو دیني مدرسو او پر نصاب یې هم نیوکه کړې ده. دوی اخطار راکوي چې که چېرې مدرسې ونه څارل شي او نظارت ورباندې نه وي، افراطپالنه به پراخه شي. دا به وګورو چې د دوی اندېښنه پر ځای ده؟ او د دې اندېښنې عاملونه کوم دي؟

## د مدرسو نقش او د اندېښنو زیاتېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پانګې ډېرېدنه هغه حالت ته ویل کېږي چې د چا شتمني د هغه تر اړتیاوو اوړي او زیاتېږي او هغه ته دا وس ورکوي چې دا پانګه تر خپلو معمولي اړتیاوو ورهاخوا پر نورو چارو او پروګرامونو ولګوي. په دې حالت کې پانګه بل نوی تعریف مومي ځکه چې د خپل خاوند د اړتیاوو له بریده اوړي او داسې عنصر ته لوړېږي چې عمل کولای شي نو د دې نوي نقش پر اساس نوي منطق ته تابع کېږي.

خو نن سبا پانګه یوازې مالي شتمنی ته نه ویل کېږي، بلکې نور اصطلاحات لکه ټولنیزه پانګه، سیاسي پانګه، انساني پانګه، فرهنګي پانګه، دیني پانګه، معرفتي پانګه او ... هم لرو چې د دې کلمې د استعمال ساحه پراخوي. دا اصطلاحات هغو تحولاتو ته اشاره کوي چې د پانګې د متعارفې مانا ورهاخوا په نورو برخو کې پېښېږي.

په دې منځ کې دیني پانګه هغه اصطلاح ده چې په یوه اړخ کې له مذهبي اقتصاد سره اړخ لګوي او دا په هغو شرایطو کې وي چې وګړي یا دیني بنسټونه له یوې خوا د خپلې خوښې ارزښتونه او مفکورې ترویجوي او خلک ورجذبوي او له بلې خوا د مالي امکاناتو په ګټلو سره خپله مالي اډانه پیاوړې کوي او په دې توګه د اقتصاد او سیاست په ډګرونو کې په یوه اصلي لوبغاړي بدلېږي.

تر دې ځایه هم اندېښنې او نیوکې شته ځکه که چېرې د دین اصلي رسالت د تقوا ښوول، د اخلاقي فضایلو ټینګول او معنوي ژوند ته د وګړو هڅول وګڼو نو د اقتصادي او سیاسي بنسټونو جوړول به څومره له دې موخو سره اړخ لګوي. د قدرت او ثروت خوی ته په کتو سره به کوم ضمانت وي چې پخپله دین د دې دوو سرکښو عناصرو په نانځکه له بدلېدو وساتي. په منځنیو پېړیو کې دا کار شوی دی او مذهبي بنسټونو په تېره بیا مسیحي هغو ځان ته لویه او پراخه دنیوي دستګاه جوړه وه.

خو اندېښنه هله زیاتېږي چې د دین بنسټپاله او نامداراګر تعبیر په میدان کې بر وي او پر نورو میدان تنګ کړي. په دې وضعیت کې نورې ټولې ډلې، ان هغه مذهبي ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دینه بل ور تعبیرونه لري هم له خطر سره مخ وي.  نو دا ډلې د ژوندي پاتې کېدو په خاطر مجبورېږي چې له ځانه دفاع وکړي او غبرګون وښيي. همدا ده چې تاوتریخوالی پراخېږي او د ټولنې نظم خرابېږي. که داسې وشي نو د وینو بهول او د غم پر ټغر د کورنیو کېنول او د ژوند بربادېدل به خامخا وي.

د افغانستان په سیاسي ډګر کې د طالبانو ظهور، هغه هم په داسې وخت کې چې چپي ایډیالوژي له پښو غورځېدلې وه، په یوه لحاظ د اوښتون ټکی ګڼل کېږي ځکه چې دې وخت کې داسې غښتلې مذهبي بنسټپاله ایډیالوژي د افغانستان سیاسي –ټولنیز ژوند ته رادننه شوه چې د طالبانو راپرځېدل هم د دې ایډیالوژۍ په ختمولو کې مرسته ونه کړه. مهمه لا دا ده چې سره له دې چې اکثره وګړي له طالبانو سره سیاسي خواخوږي نه درلوده خو د دې ډلې تر راپرځېدو وروسته چا چندانې هڅه ونه کړه چې د هغوی پر فکري چوکاټونو نقد وکړي چې پاتې ریښې یې وروچې کړي.

سربېره پر دې، دا ځل طالباني بحثونه په نورو نومونو لکه د دیني هویت د دفاع او د پردي فرهنګ د یرغل پر وړاندې د مقابلې تر نامه لاندې تاوده شول او په هېواد کې د ننه د ځینو ځواکمنو ډلو او بنسټونو له خوا له لږ نرمښت سره ادامه وموندله. دوی له داسې عصري امکاناتو استفاده وکړه چې د طالبانو په واکمنۍ کې نه وو لکه ټولیزې رسنۍ، روزنیز مرکزونه، مالي بنسټونه، اقتصادي شرکتونه او ... نو دا تبلیغات د وطن ګوټ ګوټ ته ورسېدل.

د افغانستان دولت چې  د مشروعیت له کمزورۍ سره مخ و او په غربي قدرتونو پورې د تړلتیا تور ورپورې و، هڅه وکړه چې له دې ډلو سره لاره یوسي او احیاناً باج ورته ورکړي، بې له دې چې د دې کار اوږدمهاله نتیجه په پام کې ونیسي. چارواکو دا توان نه درلود چې تر طالبانو وروسته د یوه مډرن نظام عمومي کرښې د ملي تګلارې په توګه وکاږي چې ټولې فعالې ډلې د اساسي قانون تر چتر لاندې پر هماغه لاره پل کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدني ټولنې چې له مډرنې نړۍ سره د افغانستان د پیوندولو او د طالبانیزم له سختې لارې د وتلو مهمه لاره ګڼل کېده په مختلفو دلیلونو د دې پر ځای چې ځېرل شوې لویې تګلارې ته مخه کړي، په ورځنیو او داسې چارو بوختې شوې چې «ډونرانو» به خوښولې. سره له دې چې د ټولنې ځینو برخو ته دا فرصت پیدا شوه چې له نویو مقولو سره اشنا شي او د تحول پر لاره ګام کېږدي خو د ټولنې د ذهنونو په روښانولو کې د مدني ټولنو د کمزورۍ په وجه، نورو ډلو ته طلایي فرصت پیدا شو چې خپله طالباني ایډیالوژي د وګړو په ذهنونو کې ورپېچکاري کړي، دغه ډلې د لیکوال په بله لیکنه کې «نرم طالبان» بلل شوې دي.

نن سبا په افغانستان کې هغه څه چې د دیني مدرسو له درکه یې د خلکو اندېښنې راپارولې دي، پخپله دیني مدرسې نه دي، بلکې هغه څه دي چې تر دې نامه خلکو ته ښوول کېږي او ټولنه د فرهنګي طالبانیزم خوا ته روانوي. ښکاره خبره ده چې په مذهبي ټولنه کې د مذهبي مدرسو موجودیت منل شوې چاره ده او څوک یې مخالف نه دي.

که دې پدیدې ته د دین  له منځه او له فقهي لیدلوري وګورو، فقیهان په دې باور دي چې دوه ډوله دیني زده کړې دي او هر یو یې ځان ته خاص حکم لري. لومړی ډول یې په عقیدې پورې اړوند د خورا ابتدایي او اساسي عبادتونو او شرعي احکامو زړه کړه ده. د اهل فقه له نظره، دا ډول زده کړې د هر متدین انسان لپاره «فرض عین» دی. دویم ډول یې پرمختللې او تخصصي زده کړې دي چې د دین تر ضروري مسایلو ورهاخوا نور پراخ مسایل رانغاړي او معمولاً په دې موخه ترسره کېږي چې د فقهې، د فقهې اصول، د قران تفسیر، حدیث، عقیدې او کلام په برخو کې متخصص عالمان ورزول شي. د اهل فقه په نظر، دا ډول زده کړې «کفایي فرض» بلل کېږي او اهمیت یې د نورو علومو او فنونو لکه طب، زراعت، مدیریت، صنعت، تجارت، ډریوري، ترکاڼي، حجاري، معماري او د ټولنې د اړتیا وړ نورو تخصصي څانګو هومره دی. د دې علومو فرضیت په هماغه اندازه دی چې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره «کفایت» وکړي او په همدې دلیل کفایي فرض ګڼل کېږي. (8)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دې مسألې ته د ټولنيزې ودې او پراختيا له نظره وګورو، د ديني مدرسو د بې درکه زياتېدو په باب يوه انديښنه دا ده چې د عرضې او تقاضا تر منځ يې انډول نشته. ځکه چې که په هره رشته او هره تخصصي څانګه کې د «کفايت» تر حده پورته انساني ځواک توليد شي، ستونزه به جوړوي. که دا کار د ديني تعليم په برخه کې وشي خو څو چنده زياته ستونزه به وزېږوي ځکه چې د ديني عالمانو مقام حساس دی.

مثلاً که له پوهنځيو د فارغ شويو ډاکترانو يا انجينيرانو شمېر د کاري محيط تر اړتيا زيات وي، تاوان به يې د هغو لګښتونو په برابر وي چې دولت يا د دوی کورنۍ يې پرې کړې دی خو په نورو کاري ډګرونو کې ورته د جذبېدو زمينه تر زياته حده مساعده وي او په دې لحاظ داسې کومه ستونزه نه راولاړېږي چې بحران يې وبولو. خو که د ديني مدرسو زرګونه فارغان تر اړتيا پورته او وزګار پاتې شي او په نورو ډګرونو کې يې د جذب امکان هم نه وي دا په دې چې د دوی زده کړې نورو کارونو ته مساعدې نه وي، نو په دې حالت کې هغه ساده پېښه چې پېښېدای شي د يوه ناراضه خو د دين په وسلې سمبال ټولګي رامنځته کېدل دي چې غوسه ناکه تګلاره به يې بحرانزېږوونکې وي. خو تر دې هم لا زيات خطرناکه دا وي چې دا وزګاره ټولګی به جنګي پروژو او تنظيم شويو بلاګانو ته ورجذب شي، دقيقاً لکه هغه څه چې په نويمو کلونو کې راپېښ شول او د پاکستان له ديني مدرسو زرګونه فارغان ناڅاپه داسې غورځنګ سره يوځای شول چې وروسته بيا د طالبانو تحريک ونومول شو او کيسه يې ټولو ته جوته ده.

که د عرضې او تقاضا له نانډولۍ ورتېر شو، بله ستونزه دا ده چې په ديني مدرسو کې د زده کړې پروګرامونه او نصابونه سره توپير لري. هغه کسان چې په افغانستان کې د ديني مدرسو چارې سمبالوي، د خپلو زده کړو، تحصيلي محيط يا ايډيالوژيکي تړاو پر اساس، مختلفې فکري سليقې پالي. د دې مدرسو د طيف يو سر په قم او نجف کې فقيه ولايت ته رسېږي او بل سر يې د سعودي عربستان سلفيت ته او د دواړو تر منځ بيا ديوبندي او اخواني او د پاکستان او عربي هېوادونو ورته بهيرونو ته تمايل ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې یاد بهیرونه ټول انحصار گر دي، یو بل سره نه زغمي او سره جوړېږي نه، دا اندېښنه زېږوي چې له یوې خوا به د دوی او لږ مذهبي طیفونو تر منځ او له بلې خوا د هر بهیر د پلویانو او غړو تر منځ به له تاوتریخوالي ډکې شخړې رامنځته شي، په تېره بیا کله چې د حق او باطل مسأله رامیدان ته شي او د تکفیر له وسلې استفاده وشي، لکه هغه شخړې چې په عاشورا او نورو ورته مناسبتونو کې پېښې شوې دي.

په تاریخي لحاظ افغانستان د اسلام د حنفي – ماتریدي تعبیر یو مرکز پاتې شوی دی. دا تعبیر چې د اهل رای په مکتب کې ریښې لري، د اهل سنت په معتدلو څانگو کې حساب دی او لا تر اوسه هم د افغانستان اکثره وگړي په میراثي بڼه همدې لارې سره تعلق لري. هغه بنسټپاله بهیرونو چې اوس میدان ته راغلي دي او د هېواد په گوټ گوټ کې یې گڼې مدرسې جوړې دي، غالباً له دې مکتب سره چنداني جوړ نه دي. دا موضوع پخپله د بل ډول کشمکش سبب او زمینه ده ځنگه چې همدا اوس د سلفي مشربو او صوفي مشربو بهیرونو تر منځ څه ناڅه لانجه محسوسه ده.

له بلې خوا اکثرو نویو مدرسو ته مالي مرستې له بهره او معمولاً د هغو کسانو له خوا راځي چې د افغانستان د ملي گټو په نامه څه نه پېژني او د مرستو تر شا یې ایډیالوژیکه یا سیاسي – ایډیالوژیکه انگېزه وي. له دې لارې یو ډول سیاسي اقتصاد د رامنځته کېدو په حال کې دی چې ورو ورو کولای شي په هېواد کې په اقتصادي ورځو امپراتوریو بدل شي، هماغسې چې په گاونډیو هېوادونو کې پېښه شوې ده. په دې لحاظ به افغانستان د بلې نیابتي جگړې میدان شي.

د بنسټپالو په لاسونو کې د مالي شمتني راټولېدنه به له یوې خوا او پر دوی راټوله انساني پانگه به له بلې خوا ټولنه په داسې پېښو او تحولاتو بلاربه کړي چې سخت دردناک زېږون به ولري او پوره نه ده معلومه چې څه ورځ نوزېږی به وزېږوي. خو په پاکستان، عراق او سوریه کې د فرقه ییزو جگړو له مخې اټکل کولای شو چې دا نوزېږی به ښه مرغ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري او داسې به نه وي چې خلک يې زېرېدنه ولمانځي او د لويېدو هيله يې په زړه کې ولري.

**د اندېښنو بله نمونه**

په کابل کې د سعودي عربستان له خوا د داسې علمي – اسلامي مرکز د جوړېدلو پلان چې ويل کېږي په خپل ډول کې به په سيمه کې بې سارى وي، د ځينو خلکو په زړونو کې اندېښنې اچولې دي.(9)

د اندېښنې وجه به غالباً دا وي چې سلفي ډلو د افريقا له شماله تر منځنۍ اسيا او قفقازه پورې په مختلفو بڼو افراطيت ښييلى دى. د سلفي عقيدې په باورمندانو پورې ويل کېږي چې په لومړي سر کې خپل مخالفان تر سخت تبليغاتي بريد لاندې نيسي او په پاى کې د هغوى په فيزيکي حذفولو لاس پورې کوي. د طالبانو په وخت کې د افغانستان په ځينو سيمو کې د سپاه صحابه له خوا د شيعه ګانو او ان د مخالفو سنيانو عام وژنې او هغوى د کليو او کورونو سوځول، د منتقدانو په نظر د سلفي ډلو د کړنو نمونې ګڼل کېږي.

هغه کسان چې د سعودي دولت له خوا په کابل کې د داسې مرکز له جوړولو وېرېدلي دي، په دې ډارېږي چې د نازغمونکو مذهبيانو نوى نسل به راوزېږي او پر نورو به ميدان تنګ کړي. دا کار به د رقيبانو (شيعه ګان، صوفيان، دوديز حنفيان او د اخوان ځينې پلويان) غبرګون راوپاروي او د تارتريخوالي او نارامۍ اور به بل کړي. د دې خلکو په باور، په نورو اسلامي ملکونو کې، په سعودي پورې تړلي مرکزونه، غير له دې چې د سلفيت/ وهابيتوب تبليغ وکړي، بل څه نه دي کړي او نتيجه يې په دې ملکونو کې د زغم او تسامح

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېدل، د مذهبي سياليو سختېدل، د ديني دښمنيو زياتېدل او وروسته د افراطي وسله والو ډلو رامنځته کېدل او د کورنيو جګړو پيلېدل دي.

خو له بلې خوا، ځينې نور بيا د سعودي دولت دې ګام ته د يوه اړتيا په سترګه ګوري چې د قم/نجف تر حمايې لاندې له ځواکمنو بنسټونو او د ايران د استخباراتو (سپاه پاسداران) تر حمايې لاندې ډلو سره مقابله وکړي او دا عمل لږ تر لږه د «لامذهب سره بې دينه جوړېږي» په حساب، د اندول د ساتلو لپاره يوه لاره ګڼي او دا احتمال يادوي چې د ديني تعبيرونو او تفسيرونو يو ډول تعدد به رامنځته شي. دا خلک استدلال کوي چې په هېواد کې نور مذهبي بنسټونه هم د زغم او مدارا خبره نه کوي او تر اوسه نه دي توانېدلي چې په خپلو تبليغاتو او تعليماتو کې د ملي ګټو په خاطر له خپلو ايډيالوژيکو پولو واوړي.

اوس نو پوښتنه دا چې د ټولو خواوو ملاحظاتو ته په پام سره به داسې منځنۍ لاره پيدا کړای شو چې د افغانستان وګړو ته يې ګټه ډېره او لګښت يې کم وي؟

له دې سترګې نه شو پټولی چې د سعودي عربستان د مدرسو فارغان په سلفي او سفلي وزمو تمايلاتو اخته دي او له زغم او مدارا سره چندانې جوړ نه دي، البته ځينې استثناګانې به په کې وي.

دا به هم نه هېروو چې د سعودي عربستان د دولت د دې هېواد د نادولتي بنسټونو په سياستونو کې توپير شته. توپير يې دا دی چې سعودي دولت د ګڼو نورو دولتونو په شان د ګټو د منطق پر اساس عمل کوي، نه د ايډيالوژيکو باورونو پر اساس، البته په ګڼو موردونو کې يې دا ګټې د ايډيالوژيکو پروګرامونو له لارې غوښتي دي خو خارجي سياست يې د ايران د اسلامي جمهوريت تر خارجي سياسته په کراتو کمتره ايډيالوژيکه صبغه لري. نو په هر ځای کې چې د شرايطو تقاضا دا وه چې د سلفيت ايډيالوژي له پامه وغورځول شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی هماغسې کړي دي. په ځینو موردونو کې لیدل شوي دي چې ان د داسې کړیو او بهیرونو حمایت یې کړی دی چې د سلفي شیخانو له نظره د منلو نه دي. البته چې دا پېښې محدودي دي.

که د افغانستان دولت وتوانېږي چې انفعالي نقش پرېږدي، بیا کولای شي سعودي دولت پوه کړي چې په افغانستان کې د کړکیچ د زیاتېدو د مخنیوي په خاطر لازمه ده چې دا روزنیز مرکز دې ایډیالوژیک رنګ ونه لري. په دې چاره کې د ډاډ لپاره افغان دولت کولای شي د مرکز د تعلیمي نصاب په جوړولو کې برخه واخلي، البته لازمه نه ده دا کار د هغو کسانو په مرسته وشي چې په سعودي پورې تړلو مدرسو کې یې درس ویلی وي. د افغانستان دولت کولای شي د نورو اسلامي ملکونو لکه ترکیه، مالیزیا، مصر او ... له تجربو څخه استفاده وکړي او د دې مرکز د ډیپارټمنټونو په جوړولو کې د افغاني ټولنې د اړتیاوو پر اساس مداخله وکړي.

پر دې سربېره افغان دولت کولای شي داسې لاره پرانیزي چې رسنۍ او مدني ټولنې د داسې مرکزونو له فعالیتونو باخبر اوسي او عامه افکار پر هغه څه خبر کړي چې په دې ځایونو کې تېرېږي. کولای شي دا کار د نورو مدرسو او تعلیمي حوزو په برخه کې هم وکړي چې حرکت او فعالیتونه یې د هېواد له ملي ګټو سره لا زیات هم لوري شي.

د یادو اندېښنو د کمولو لپاره ښایي لازمه وي چې د رسنیو د څارنې د بنسټ په شان یو بنسټ جوړ شي چې دنده یې د ملي ګټو له نظره د روزنیزو مرکزونو څارنه وي ځکه د مذهبي تعصبونو زیاتېدل او د متضادو ډلو د فعالیتونو ډېرېدل به په داسې جنګ بدل شي چې ډېره ځنې نه شي کېدای. خو که د عمومي باورونو رغوونکي او نظریه جوړوونکي په ایډیالوژیکو لانجو کې د دولت ناپیېلتوب او پلورالیزم بنسټیز کاندي او د ټولو فکري ډلو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ سوله ییز ژوند ترویج کړي چې د فرهنګي ټولنې د زغم لمن پراخه شي نو بیا به اندېښنه نه وي.

خو دا یوازې دیني مدرسې نه دي چې د دین د افراطي تعبیر په سرچینې بدلېدای شي. ان مډرن روزنیز مرکزونه لکه پوهنتونونه او عالي انستیتیوتونه هم د داسې افراطي ایډیالوژیو لپاره فرصت برابر کړی دی او افراطي ډلو ته د سرتېرو د جذبولو زمینه برابره کړې ده. دا شی په عمل کې لیدل شوی او د صاحب نظرانو له لیده پټ نه دی پاتې شوی.

## پوهنتون، علم که ایډیالوژي

اغلب ټولنې له دوه ډوله معرفت او علومو سره سروکار لري. یو ډول یې معمولاً په اکاډیمیکو مرکزونو کې د څېړونکو له خوا وړاندې کېږي چې مقصد یې کشف او شناخت وي او عمدتاً دا هڅې معرفت ته معطوف وي. بل ډول علم وزمه مسایل دي چې د ډلو یا حکومتونو له خوا قدرت ته د رسېدو یا د قدرت د ټینګولو په موخه عرضه کېږي او اصلاً قدرت ته معطوفې هڅې وي. دا دویم ډول یې ایډیالوژي بلل کېږي چې غالباً له علم سره په تقابل کې وي. د ایډیالوژۍ د تعریف په اړه خبرې ډېرې دي او ویل کېږي چې د ټولنیزو علومو په اصطلاحاتو کې دا یوه تر ټولو پېچلې اصطلاح ده. په یوه مشهور تعریف کې ایډیالوژي کاذب معرفت بلل شوې ده او په بل تعریف کې، قدرت ته معطوفه فکري وسیله. که تعریف یې هر څه وي خو مطلب یې د افکارو او معلوماتو هغه ډله ده چې وار له مخې برابره او بسته بندي شوې ده چې ځینې خاص باورونه د حقیقت په حیث پر ټولنه ومني.

د کاذبو معلوماتو په توګه ایډیالوژي د علم پر وړاندې درېږي. علم د استدلال، څېړنې، مطالعې، ارزونې او ازمایښت له لارې حاصلېږي. په علمي هڅو کې اصل دا دی چې څېړونکی د امکان تر بریده له ناازمویل شوي وارله مخکې قضاوته ځان وساتي او د تحقیق او ازمایښت منطق ته غاړه کېږدي. په دې میتود کې هېڅ شی د حقیقت تر کشف او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنې مهم نه دی او څېړونکی خپل ټول وس کوي چې د تحقیق په کار کې نوې زاویه پرانیزي. دا چې په علمي کار کې له پیله د تېروتنې احتمال مفروض ګڼل کېږي نو د تعصب په لومه کې د نښتلو احتمال کمېږي. دا چې تېروتنه محتمل ګڼل کېږی نو د علمي نظریاتو په اړه د نظر د نوي کولو امکان له منځه نه ځي او ځوک چې په دې ډګر کې کار کوي، په قدسي او نورو ماورايي لقبونو نه نازول کېږي.

په ایډیالوژۍ کې بیا کار یو مخ د دې اپوټه دی؛ نظرونه په قاطعیت او جزم سره وړاندې کېږي، د حقایقو اشناوالی وار له مخې مفروض وي نو په حکمونو کې خطا پخپله منتفي ګڼل کېږي. همدارنګه د ایډیالوژۍ وړاندې کوونکي د ایزدي جلال خاوندان او د غیرمتعارفې پوهې څښتنان ګڼل کېږي.

د علم یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې څومره د ځواب په لټه کې وي، هماغومره یا تر هغه لا زیات په نویو پوښتنو پسې ګرځي. حال دا چې ایډیالوژي د پوښتنو او نقد دښمنه ده او هر ډول کنجکاوي او د جزیاتو پلټنه ځان ته ګواښ ګڼي.

د پوهنتونونو او اکاډیمیکو مرکزونو تاسیسول اصلاً د دې لپاره وي چې د لا زیات معرفت په تولید سره، پر علم دښمنه ایدیالوژي باندې میدان تنګ کړي. خو د مختلفو هېوادونو تجربې ښیي چې ایډیالوژۍ په کراتو پر علم باندې میدان تنګ کړی او ان د علم اصلي ځالې (پوهنتونونه) یې نیولې دي. په پوهنتونونو کې د ایډیالوژي واکمنۍ دا ځایونه پر داسې لارې روانوي چې د علم او معرفت د تولید پر ځای، د مرکب جهل پر تکثیر، د جزمي باورونو پر پېچکاري کولو، د تعصب اور ته پر لمن وهلو، او پر بې اساسو باورونو د شک، تردید او ترسیخ د لارې پر بندولو لګیا شي.

د افغانستان په خاصه تجربه کې وینو چې تر جنګ په مخکې کلونو کې په پوهنتونونو او روزنیزو محیطونو کې دوو ایډیالوژي ګانو راج چلاوه، یوه یې چپي ایډیالوژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه چې د روسي – چيني له فکري ادبياتو يې الهام اخيستی و، بله مذهبي ايډيالوژي چې له ځينو ايراني، پاکستاني او مصري سرچينو څخه يې الهام اخيستی و.

تر کمونيستي کودتا وروسته، لومړی بهير د واک پر گدۍ کېناست او رسمي پوهنتونونه يې په خپلو منگولو کې ونيول. رقيب بهير يې بيا د جهاد او مهاجرت له سنگره پرې راودانگل. د کمونيستي حکومت له راپرځېدو سره مذهبي بنسټپالنه په حاکمه ايډيالوژي بدله شوه او لا سخته نسخه يې چې له اسلامه په طالباني تعبير کې راڅرگنده شوه، څو کاله پر خلکو حکم وچلاوه او پوهنتونونه يې له سېکه وغورځول.

د طالبانو له راپرځېدو سره تمه کېده چې د پراخ بنسټه ډيموکراټيک حکومت په جوړېدو سره به پلوراليزم ته لاره هواره شي او پوهنتونونه به د هر ډول ايډيالوژيو له واکمنۍ خلاص او خپل اصلي رسالت ته به راستانه شي. تمه کېده چې پوهنتونونه به د دې بحران ځپلې ټولنې د ستونزو غوټې پرانيزي او د ژور بدلانه لپاره به لاره هواروي چې نوی نسل د تړليو مقولو له دايرې ووځي، تاريخ تېرو مراجعو ته شا کړي او پخپله په جسارت سره د عقلانيت لاره خپله کړي.

اوس يوه لسيزه وروسته، وينو چې د اکاډيميکو مرکزونو د شمېر له زياتوالي سره سره، د دې چارې په تحقق کې شکونه شته ځکه په دې ملک کې پوهنتونونه د علم او ايډيالوژۍ په دوه لارې کې حيران دريان ولاړ دي.

ايډيالوژيکه تگلاره په دوو لارو ترسره کېږي، يوه د استاد او بله د موضوع او درسي مضمون لاره. که استاد پخپله د يوې ايډيالوژۍ پيرو وي، که يې مسلک او د تدريس موضوع هر څه وي، بيا هم کولای شي خپله ايډيالوژۍ خپره او ترويج کړي. په دې لحاظ هر درسي مضمون او هر تدريسي ټولگی به يې دې کار ته فرصت برابروي. خو کله کله بيا خاص درسي مضمونونه وي چې مشخصاً د يوې خاصې ايډيالوژۍ د ښوولو لپاره تدريسېږي. په پخوانۍ ليبيا کې د قذافي «شين کتاب»، په ايران کې تر انقلاب وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

«اسلامي معارف»، په ډېرو پخوانيو کمونيستي ملکونو کې «سياسي فلسفه»، او په افغانستان کې تر کمونيستي حکومته وروسته «اسلامي ثقافت» د دې مضمونونو نمونې دي.

که استاد پخپله په ايډيالوژيو باورمند نه وي او علمي اخلاق او اداب تر پښو لاندې نه کړي، ان همدا ځانګړي مضمونونه هم کېدای شي د پوهنتون له شأن سره سم په علمي ميتود تدريس شي او د محصلانو له علمي ودې سره مرسته وکړي.

خو که داسې ونه شي، دا مضمونونه دا فرصت برابروي چې بشپړه ايډيالوژي د محصلانو ذهن ته تلقين شي او د هغوی له لارې په ټولنه کې پيچکاري شي. په دې صورت کې به پوهنتون د دې پر ځای چې د ټولنې پر زخمونو مرهم کېږدي، د تيت و پرکوالي درزونه بخې کړي، د زغم او مدارا اندازه زياته کړي او د فضيلت او لويوالي لارې وښيي، پخپله به د تاوتريخوالي، کرکې، تعصب او افراطيت په مرکز بدل شي. نو بيا به دا عجيبه نه وي چې هغه استاد چې د فکر کولو جرأت کوي، وګواښل شي او که يو محصل پر دې لاره ګام کېږدي، ورځ به يې بده شي.

که له دې ليدلوري د افغانستان اوسنيو پوهنتونونو ته وکتل شي، وبه ليدل شي چې ايډيالوژۍ د ساه اخيستلو مجال چا ته نه ورکوي او د علمي هلو ځلو بازار سوړ دی. که د ځينو استادانو له ايډيالوژيکو تعلقاتو او د اکاډيميکو کارونو له ميتودونو او ادابو سره د ځينو له نابلدۍ ورتېر شو، د «اسلامي ثقافت» مضمون چې د ټولو پوهنځيو او ټولو رشتو لپاره الزامي مضمون دی، د ايډيالوژيکو مفکورو د ترويج عمده لاره ګڼلی شو. د دې خبرې مانا دا نه ده چې دا مضمون دې حذف شي ځکه په مذهبي ټولنه کې له ديني مفاهيمو سره اشنايي د منلو ده او څوک د دې قضيې له اصل سره مخالف نه دي، خو نيوکه د دې مضمون د ښوولو پر ميتود کېږي.

مثلاً د دې مضمون په ترڅ کې اسلامي عقايد او نړۍ ليد، د دين او سياست تر منځ رابطه، د اسلام اقتصادي نظام، د مسلمانانو د تېر تاريخ تحليل او د دوی د تمدني

(c) ketabton.com: The Digital Library

صعود او نزول عاملونه، په اوسني عصر کې د مسلمانانو د کمزورۍ او په علمي – تمدني تولیداتو کې د دوی د تت نقش عاملونه او داسې ډېر نور موضوعات مطرح کېږي.

د علمي میتود غوښتنه خو دا ده چې د هرې تخصصي موضوع اصطلاحات، تاریخچه، د لومړۍ درجې منابع، وتلي صاحب نظران، په اړه یې مختلف لیدلوري او داسې نور مسایل په بې طرفانه ډول او په علمي امانت دارۍ سره محصلانو ته تشریح شي، او بې له دې چې استاد د محصل پر ځای وروستۍ نتیجه وښیي، محصل مطالعې او څېړنې ته وهڅوي. د دې موضوعاتو متخصصانو ته جوته ده چې د هرې موضوع په اړه مختلف نظرونه او لیدلوري شته او هره ډله خپل دلیلونه لري نو دا د محصل حق دی چې د ټولو په نظرونو خبر شي چې وروسته یې سره پرتله کړي، ویې ارزوي او په پای کې یې خطا او صواب سره بېل کړي.

خو ایډیالوژیک میتود دا شی نه شي زغملای او په هره موضوع کې غالباً هغه خبره کوي چې بنسټپالو بهیرونو کړې ده او محصل ته دا خبره د یوازینۍ سمې خبرې په صفت کوي. هغه استاد چې په ایډیالوژۍ پورې تړلی دی، له هماغه پیله هوډ لري چې د هر بل تعبیر پر ردولو او نفي کولو سربېره، د نورو تعبیرونو د خاوندانو پر ضد د محصل په ماغزو کې د کرکې زړي وکري. طبیعي ده چې په دې میتود کې د اکثرو موضوعاتو په اړه ناقص تعبیرونه وړاندې کېږي او غیر له هغو تعبیرونو چې د استاد د منلو وړ دي، له نورو تعبیرونو سره داسې چلند کېږي چې یوازې کمزوري ټکي یې څلول کېږي. بله مسأله دا ده چې د استدلالي میتودونو پر ځای، د عواطفو د راپارولو او خطابي میتودونه غوره کېږي او د بې طرفانه تحقیق اداب له پامه غورځول کېږي.

تر دې عجیبه لا دا چې د افغانستان په پوهنتونونو کې د مختلفو ایډیالوژیو پلویان پر دې هم بسنه نه کوي او له پوهنتونه بهر له ځینو واک غوښتونکو بهیرونو سره پټ ایتلاف جوړوي او کله چې په بحث او استدلال کې خپله ناتواني احساس کړي، هڅه کوي چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکاډیمیکو محیطونو بهر خپل ایتلافي ځواکونه واښونو ته راوباسي او د مخالفانو آواز تربت کړي.

په علمي کار کې د نظرونو تنوع د ودې او بلوغ نښه ګڼل کېږي خو په ایډیالوژیک کار کې هماغه ایکي یو نظر هم د میتود په لحاظ او هم د حقانیت په لحاظ، سم ګڼل کېږي.

دا ستونزه په افغانستان پورې متخصه نه ده، بلکې ډېرې ټولنې ورسره لاس و ګرېوان دي، په تېره بیا هغه هېوادونه چې پر ایډیالوژیو ولاړ حکومتونه لري. خو دا ستونزه په افغانستان کې لا زیاته او لا خطرناکه ده ځکه چې د دې ټولنې نازک عمومي امنیت زر ماتېدای شي او د ساتلو لپاره یې داسې هڅو ته اړتیا ده چې عقلانیت، زغم، پخلاینه، مدارا او نور اخلاقي فضایل ورسره زیات شي. دا تمه تر ټولو زیاته له معارف خصوصاً د عالي زده کړو له موسسو څخه کېږي. پر پوهنتوني محیطونو د ایډیالوژۍ او ایډیالوژیکو بهیرونو واکمني د کړکېچ او تقابل خطر یو په دوه زیاتوي او ورسره دا ماتېدونکی وضعیت لا خرابېږي.

**له دیني مقدساتو څخه د وسیلې په توګه استفاده**

**په دې وروستیو کلونو کې دود دا دی چې څنګه د مسلمانانو د مقدساتو د سپکاوي په اړه کومه شایعه او ګونګسه خپره شي، سم له واره توند او غوسه ناکه غبرګونونه پیلېږي. مثلاً هله چې امریکایي پادري تري جونز قران مجید ته اور واچاوه یا په بګرام کې د ورته پېښې شایعه خپره شوه، جدي تاوتریخوالي رامنځته شول او په ځینو موردونو کې بې ګناه انسانان ووژل شول، لکه د 2011 په اپریل کې په مزار شریف کې د ملګرو ملتونو پر دفتر برید.**

دا چې په شریعت کې د قران د سوځولو حکم څه دی، له هغه چا سره چې دا کار یې کړی باید څه وشي، او دا چې دا عمل په مسلمان هېواد او غیر مسلمان ملک کې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه توپیر لري، فقیهان او شرعي صاحب نظران وربانديږ یوه خوله نه دي خو ظاهراً په داسې وختونو کې څوک په فقهي خبرو پسې نه ګرځي او ګواکې «له شافعي څخه څوک د دې مسایلو پوښتنه نه کوي.»

د نړیوال عرف له مخې، د ملتونو مقدساتو ته سپکاوی غیر اخلاقي او بد عمل دی چې معمولاً د ملګرو ملتونو او د هېوادونو د سروالو له خوا غندل کېږي او د داسې اعمالو تکرار د نظم او امنیت خرابوونکي او د ملتونو تر منځ د کرکې او دښمنۍ سبب ګڼل کېږي. نو څوک چې عقل او درایت ولري، داسې پېښو ته په ښه سترګه نه ګوري.

په پخوانیو موردونو کې په نورو اسلامي ملکونو کې عمدتاً سوله ییزې مظاهرې وشوې یا د اړوندو رسمي بنسټونو له خوا غبرګون وښودل شو خو چا ته اجازه ورنه کړل شوه چې د ټولنې عمومي نظم د یو داسې کس تر ماجراجویۍ ځار کړي چې د اخلاقو او ادب حد اقل یې هم نه دی زده کړی او دا کار یې ظاهراً یوازې د ځان د ښودولو او د شهرت د ګټلو لپاره کړی دی.

خو هغو کسانو چې په افغانستان کې د دې اعمالو پر ضد غبرګونونه وښودل، په دې اړه یې د فقهي احکامو پروا ونه کړه او د نړۍ د سیاستوالو او رهبرانو له خوا د دې پېښو غندنه هم ورته بابېزه ښکاره شوه. په دې منځ کې داسې عناصر او ډلې هم وې چې په ظاهره خو غوسه او عصبي ښکارېدې خو په باطن کې له دې کاره چندانې خپه هم نه وې ځکه چې ورته دا فرصت په لاس ورغلی و چې د لارو واټونو نبض په خپل لاس کې ونیسي او د سیاسي – ټولنیزو تحرکاتو مشري وکړي خو تر دې مخکې یې دا ارمان په اسانۍ سره نه پوره کېده.

هماغه مهال ځینو څارونکو دا پوښتنه مطرح کړه چې ولې به د هغه چا د جرم په خاطر چې د دنیا په هاغه بل سر کې یې کړی دی، دلته داسې خلک ووژل شي چې په دې قضیه کې هېڅ نقش نه لري؟ اصلاً د بې ګناه وګړو قتل ته کومه شرعي توجیه شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې شنوونکي باور لري چې دا توند و تېز غبرګونونه د اسلام له مقدساتو څخه د دفاع لپاره نه وي ځکه د هر دین پیروان د خپل مذهب د ښه معرفي کولو لپاره نورې بهترې او اخلاقي لارې لري لکه د ناروغانو له درملنې سره مرستې، بېوزلو سره مرسته، د بې کوره وګړیو لاسنیوی، د معارف او ښوونځیو پراختیا او ګڼې نورې لارې چې د دفاع غوره لارې او هر هغه چا ته کلک ځوابونه دي چې د دوی پر دین نیوکه کوي.

په ځینو نورو اسلامي ملکونو کې ځینو ډلو عملاً له دې تمدني لارې ګټه واخیسته او په ځینو ښو پروګرامونو لکه پر نامسلمانانو د شیرینیو او نورو سوغاتونو په وېشلو سره وغوښتل هغه بلاغواړي پادري او نورو ملګرو ته یې دا وښیي چې د قران پیغام د دښمنۍ او خشونت پیغام نه دی.

په افغانستان کې د طالبانو د خشونت نیت او انګېزه ځکه تر پوښتنې لاندې راځي چې دوی د قران مجید د سوځولو په پېښو کې دوه ګونی چلند کوي. کله چې دا کار د ناټو د غړو هېوادونو کوم وګړی کوي، په دې چې ګاونډي ملکونه مو له هغوی سره نه دي جوړ، ان که دا یوازې ګونګسه هم وي نو تبلیغاتو ته زور ورکوي چې د ځوانانو احساسات راوپاروي، اهل منبر د ځان ملګري کړي او په هېواد کې د غوسې او قهر داسې فضا خوره کړي چې د بحث او پوښتنې ځای پاتې نه شي. خو که پخپله طالبان او په ګاونډیو ملکونو پورې تړلې ډلې قران ته اور ورته کړي، بیا هېڅ غږ نه پورته کېږي او هېڅوک یې نه غندي، دا خو لا پرېږده چې څوک دې یې پر وړاندې توند غبرګون وښیي.

پوښتنه دا ده چې که د کندوز په جامع جومات کې د ځانمرګي برید په وجه یا د غزني پر یوه ښوونځي د برید په وجه قران وسوځول شي یا دا چې د دولتي چارواکو د وژلو لپاره بم په قران کې کېښودل شي نو دا قران سوځونه له هغې قران سوځونې سره څه توپیر لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي خبره دا ده چې د دې ډول اعمالو پر ضد غبرګون، دوی ته کومه سیاسي ګټه نه لري نو همداسې ښوی یې تر ځنګ تېرېږي او دې ته ګوري چې کله به د ناټو یو ناپوه سرتېری په دې کار لاس پورې کوي چې دوی بیا شور ماشور جوړ کړي، منبرونه په خوټېدو راولي، د رسنیو بازار ګرم کړي او د دین محتکر جماعتونه په کې خپله سودا وکړي.

د افغانستان او پاکستان په جوماتونو او مکتبونو کې په کراتو د طالبانو د عملیاتو په وجه هم د جومات حرمت مات شوی او هم قران په کې سوځېدلی او بې ګناه لمونځ کوونکي وژل شوي دي خو نه چا یې پر ضد مظاهره کړې ده، نه د منبرونو خاوندانو غندلي دي او نه د خلکو غوسه ورته پارېدلې ده.

له ځینو مشهورو منبروالو سره لیکوال خبرې کړې دي او هغوی د طالبانو پر وړاندې د غبرګون په اړه دا عذر وړاندې کړی چې دا کار خطرناک دی او موږ نه شو کولای د طالبانو دښمني واخلو. خو همدا خلک د حکومت او نړیوالو ځواکونو پر ضد، او ان د بشري حقونو د موسسو او نورو هغو کسانو پر ضد چې د تاوتریخوالي خلک نه دي، له خبرو ډډه نه کوي. ګواکې د جابر (ظالم) سلطان په مخ کې د حق خبره کول دلته مصداق نه لري او یوازې دا مانا ځنې اخیستل کېږي چې یوازې د حکومت پر ضد به غږېږې او حکومت هم داسې بې داړې او بې منګولې زمری دی چې پر چا یې زور نه دی بر.

هغه د «یو بام او دوه هوا» دوه ګونی چلند اوس یو له هغو معیارونو څخه دی چې ورباندې کولای شو د دیني مقدساتو د دفاع په پلمه د دوی د سیاسي او ګوندي اجنډا پل پیدا کړو. کېدای شي پر دې پدیدې غور او ژور فکر له دینه د وسیلې په توګه استفاده لا بربنډه کړي او خلکو ته دا وس ورکړي چې غرضي شعارونه له رغوونکو طرحو بېل کړي او ویې پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فکر د تاوتریخوالي په چوپړ کې

کله چې د انتحاري عملیاتو او له خشونته د ډکو اعمالو په اړه خبرې کېږي، دا پوښتنه د چا ذهن ځوروي چې کوم عاملونه دا خونړي عملیاتونه ممکنوي؟

پوهېږو چې دا دومره اسانه کار نه دی او باید چې تر شا یې اغېزناکه او ځواکمن عاملونه وي چې ترسره کول یې اسانه او ممکن کړي.

ځینې وایي چې اطلاعاتي – استخباراتي دستګاوې د داسې عملیاتو په طرحې او عملي کولو کې لاس لري. ښایي دا خبره به تر یوه بریده سمه وي خو دا تحلیل د دې چارې ټول اړخونه نه شي توضیح کولای ځکه چې استخباراتي دستګاوې یوازې دغومره وس لري چې د دې عملیاتو ابزار او د ترسره کولو لارې چارې برابرې کړي. هېڅ اطلاعاتي او غیراطلاعاتي دستګاه نه شي کولای د پیسو په بدل ان که ډېرې پیسې هم وي، څوک وګوماري او د ځان وژلو ته یې راضي کړي.

هغه بل عامل دی چې له استخباراتي کړیو سره مرسته کوي چې دا پروګرامونه تطبیق کړي او دا عامل معمولاً د دې دستګاوو مستقیم محصول نه ګڼل کېږي. دا عامل هغه اعتقادي باور دی چې د ایډیالوژۍ په قالب کې راڅرګندېږي.

د ایډیالوژیو د پیدایښت او ودې ځمکه د استخباراتي کړیو له پټو او ترلیو محیطونو بهر ده. هر ډول ښوونځي، پوهنتونونه، مدرسې، مذهبي معبدونه او ان د ډلو ناست ځایونه کولای شي د ایډیالوژیو د جوړولو کارخانې اوسي. ګوندونه، عامه رسنۍ او نور مختلف جوړښتونه هم په دې برخه کې نقش لرلای شي.

معمولاً د یوې ایډیالوژۍ جوړېدل ګڼ عاملونه لري او لږ به لیدل شوي وي چې ایکي یو عامل دې دا کار کړی وي. دا عاملونه کېدای شي ټولنیز محرومیتونه، اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړکېچونه، توکمیز تضادونه، سیاسي ماتې، فرهنګي ناتواناییي او ګڼ نور غټ او واړه عاملونه اوسي چې ځینې یې د وخت او مکان په لحاظ په خاصو شرایطو کې له ځینو نورو سره یوځای کېږي او ایډیالوژي جوړوي.

د ایډیالوژۍ کامیابي په دې پورې تړلې ده چې کومو جامو کې وړاندې کېږي او د خپلو مخاطبانو له روحیې او ذهنیت او د هغوی له فکري – فرهنګي سلیقې سره څومره اړخ لګوي. که ایډیالوژي وشي کولای په خپل پیغام کې ځینو سیمه ییزو باورونو ته پام وکړي او د هماغه سیمې د وګړو د درک او پوهې مطابق خبرې وکړي، د څواک جلب او جذب به ورته اسانه شي. د هغو ستونزو یادول چې خلک ځوروي او دا تلقین چې کولای شو دا ستونزې لرې کړو، د ایډیالوژۍ د متولیانو چاره ډېره اسانوي. د ایډیالوژۍ کامیابي هله خپل اوج ته رسېږي چې ځینې خوله ور او په ټولنیزې روحیې پوه کسان په شور او ولولو سره ورته تبلیغ وکړي. که ځینې یې ټولنیزو رسنیو ته هم لاره ولري نو دعوت به یې په پراخې او پاروونکې څپې بدل شي.

د دې لپاره چې ایډیالوژي معقول او په زړه پورې ښکاره شي، باید ظاهراً منطقي جوړښت ولري، البته د خپلو مخاطبانو له درک او پوهې سره سم، چې یو ډول پوهه ورته ورسوي. دا لازمه نه ده چې دا پوهه دې په خپل ذات کې سمه اوسي، مهمه دا ده چې سمه وایسېږي. د دې کار لپاره باید خاص مهارتونه زده کړي چې د ایډیاګانو د سم ښوولو چاره ورته اسانه کړي.

څومره چې د عواطفو تنور سور وي او احساسات راوپاروي، هماغومره تعقل او د مسایلو تحلیلي درک کمزوري کېږي. له هر ډول حکومتي او ناحکومتي قدرت او اقتدار سره نښتل عواطف راپارولی شي ځکه چې د ایډیالوژۍ له عیني کېدو سره مرسته کوي او په پلویانو کې یې غښتلې حماسه ایجادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتله لازمه نه ده چې علمي او غښتلي استدلال وړاندې شي چې د مخاطبانو قناعت حاصل کړي، بلکې دا به کافي وي چې ادبي او ادبي وزمه خبرې او د خطابې مهارتونه سم استعمال شي چې د اغېزې لمن یې پراخه کړي. کله کله د یوه پیغام تکرار او بیا بیا تلقینول هم کولای شي یو خبره مسلمه او بدیهي وښیي چې پوښتنې او استدلال ته اړتیا پاتې نه شي په تېره بیا هله چې له نقد او جدي ننګونې سره مخ نه شي.

د یوې ایډیالوژۍ پر محور د ډلې جوړېدل او د دې ثابتول چې عملي تغییر راوستی شي، کامیابي به یې دو چنده کړي ځکه چې اکثره خلک د قدرت د جاذبې پر وړاندې ځان نه شي ټینګولی. که د قدرت خبره رامیدان ته شي او ځینې باور وکړي چې په دې لاره خپلو غوښتنو ته رسېدلی شي، بې له دې چې د دې لارې په سموالي یا ناسموالي فکر وکړي، ورسره یو ځای کېدلو ته هوسېږي.

کله کله قدرت پخپله د حقانیت دلیل ګڼل کېږي او دلیل ویلو ته اړتیا نه پاتېږي. کله چې ولیدل شي یوه ډله دومره انساني ځواک لري چې د قدرت په محاسبو کې او د قدرت په موازنه کې نه انکارېدوونکی نقش لرلای شي، پر دې سربېره چې پیروان یې لا زړور کېږي، حکومتونه او سیمه ییز او ان نړېوال قدرتونه ورته په بله سترګه ګوري او دا لید پر دې اساس نه وي چې دا ډله په حقه ده که ناحقه، بلکې د ډلې د نقش او توانایی پر اساس وي. د داسې محاسبو پل له ډېر پخوا څخه تر ننه لیدلی شو، مثلاً پخوا له فدایي اسماعیلیه وو سره د حکومتونو تعامل او اوس له فاشیستي، کمونیستي، شیعي، سني، بودایي، یهودي، مسیحي، هندو، سیک او ... څخه د حکومتونو استفاده.

وروسته بیا زیات مالي او غیرمالي امکانات د ایډیالوژۍ د خاوندې ډلې خوا ته بهېږي خو د ډلې کامیابي یا ناکامي بیا د هغې د مفکورو په منطقي اعتبار او ځواک پورې نه وي تړلې، بلکې د یادو عاملونو په یوې ډلې او ورسره په سیمه ییزو او نړېوالو اغېزناکو عاملونو پورې تړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېرې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د مارکسيزم او فاشيزم کامیابي او همدارنگه په وروستیو لسیزو کې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د تونداڵرو مذهبي ايډیالوژیو پراختیا راوښوده چې نه د یوې ايډیالوژۍ د کامیابۍ سبب د هغې حقانیت دی او نه د یوې مفکورې حقانیت د هغې د کامیابۍ ضمانت کوي.

مسلمانانو ته افراطي ايډیالوژي د یوه مشخص کتاب په وسیله نه ورښودل کېږي، بلکې کلاسیک روزنیز نظامونه د بنسټپالو مسلمانانو له فکري تولیداتو سره یو ځای داسې بستر جوړوي چې د نورو عناصرو په ورزیاتېدلو سره دغه طرز تفکر زېږوي. یانې ځینې کلاسیکې منابع چې د انسان، ټولنې، تاریخ، طبیعت او ... په اړه زوړ نامډرنه لیدلوری لري، په بالقوه ډول د تاتریخوالي ايډیالوژۍ د جوړېدو عاملونه دي.

څوک چې په داسې تړلیو نظامونو کې زده کړې کوي، هغه اومه مواد دي چې کولای شو په تونداڵرو ايډیالوژیو کې یې جذب کړو. د دې تمایل یو عامل دا دی چې په دې روزنیز نظام کې زیاتره درسونه او تعلیمونه د تقدس په لحن تدیسېږي او د شاگرد په ذهن کې هېڅ کله نه تېرېږي چې پر دې درسونو شک وکړي.

مثلاً، کله چې د یوې فکري یا اعتقادي موضوع په اړه د پخوانیو پېړیو د یوه عالم خبره راخیستل کېږي، د هغه عالم له نامه سره د امام، شیخ الاسلام  او ... لقبونه او د رحمة الله علیه، رضي الله عنه، قدس الله روحه او ... وروستاړي ذکر کېږي او شاگرد ته داسې تلقین کېږي چې هغه د نورو متفکرانو او لیکوالو غوندې عادي عالم نه و، بلکې داسې قدسي شخصیت و چې غیرطبیعي وړتیا یې لرله او علم یې له نامتعارفو منابعو یانې له پورته عالمه حاصل کړی و.

که خبره د معاصرو عالمانو وي بیا یې تر نامه مخکې ځینې احترام پاروونکي لقبونه لکه امام یا شهید امام یا لږ تر لږه شهید استاد او نور لقبونه راوړل کېږي او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه د هغوی خبرو ته داسې ځواک ورکول کېږي چې لزوماً د هغوی د خبرو له منطقي قوت او استدلاله نه راولاړېږي، بلکې زیاتره عاطفي- رواني بڼه لري.

سره له دې چې ځینې جماعتونه په خپلو تعلیماتو کې دا اصل په تکرار سره یادوي چې"کل أحد یؤخذ من کلامه و یترک" یانې کولای شو د هر چا خبره ومنو یا یې رد کړو به غیر د پیغبر (ص) له خبرو چې معصومې دي او منل یې پر مسلمان الزامي، خو دا لقبونه او عنوانونه او تکرار یې، عملاً دا اصل شنډوي او مخاطب په رواني لحاظ داسې وضعیت سره مخ کېږي چې د هغو مشرانو خبرې یوازې باید ومني نه دا چې رد یې کړي.

مخاطب د داسې لقبونو او تعبیرونو په اورېدو سره نور فکر نه کوي چې د عادي متفکر خبرې اوري، بلکې فکر کوي له یوه متعال شخصیت سره مخ دی چې غیرعادي ځواک لري او د علم او مفکورې سرچینې یې له عادي متفکرانو ډېرې متفاوتې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په نننۍ نړۍ کې په نورو روزنیزو ځایونو کې کله چې د یوه عالم نوم اخیستل کېږي، سره له دې چې علمي ژوند یې تشریح کېږي او علمي مقام ته یې اشاره کېږي خو نوم یې په ډېر عادي ډول سره یادېږي. تر اوسه به چا نه وي اورېدلي چې د انشتین، کانت، اپلاتون، نیوټن، دکارت او نورو پوهانو په حق کې دې ځوک تقدسي لقبونه او تعبیرونه کارولي وي.

خبره هله نوره هم سختېږي چې د ځینو متفکرانو لپاره لا نور زیات لقبونه جوړېږي چې ګواکې هغوی ته خاص الهامونه راتلل او څه یې چې ویلي یا لیکلي دي، غیبي ترشحات دي. ان د دې لپاره چې دا انګېرنه پیاوړې شي، د هغوی د غیرعادي حالت او میتافیزیکي وړتیاوو په اړه حکایتونه بیانېږي چې له هغوی سره په لا زیات ادب او درناوي چلند وشي. له اهل علم سره دا ډول چلند یو ډول ادب او احترام ګڼل کېږي خو حقیقت دا دی چې په دې لاره د فکر دغه خاوندانو ته یو ډول سلطه او وقار برابرېږي چې مخاطب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته تسلیمېدو ته اړ شي. دغه سلطه او واک چې د تللیو لپاره ایجادېږي په عملي لحاظ هغو کسانو ته انتقالېږي چې ځانونه د هغوی وارثان او د هغوی د مفکورو ساتندویان بولي.

## د انتقادي تفکر قحطي

تر دې لا مهم د انتقادي تفکر ښوول دي. د دیني مدرسو په کلاسیک میتود کې او ورپسې بیا په ځینو اسلامي پوهنتونونو کې، اصلاً شاګرد ته دا وروښوول کېږي چې د رسمي اتوریتو پر وړاندې ودرېږي او مثلاً په جرأت سره ووایي چې زه د پلانکي امام خبره نه منم او کولای شم د خپل نظر د ثابتولو لپاره دلیل راوړم.

د روزنې په مډرن میتود کې پر انتقادي تفکر جدي ټینګار کېږي او شاګردان اړ ایستل کېږي چې د لویو پوهانو د نظرونو او مفکورو د نقدولو تمرین وکړي. که یو محصل د احترام په سبب مثلاً توماس هابز، ایمانویل کانت، جان لاک یا بل چا ته قدسي لقبونه وکاروي او مثلاً ووایي چې امام توماس یا مولانا کانت یا شیخ العلم و الفلسفه حضرت دکارت، په علمي مرکزونو کې د ملنډې ګرځي مګر دا چې دا خبره یې د ټوکې او طنز په بڼه کړې وي چې نور وخندوي.

خو په مدرسو او کلاسیکو مجامعو کې، که څوک د ځینو پوهانو له نومونو سره دغه مشهور عنوانونه او لقبونه ونه نښلوي، داسې ګڼل کېږي لکه دوی ته چې سپکاوی او بې ادبي شوې وي. مثلاً که څوک د امام غزالي د پلویانو په منځ کې یوازې غزالي ووایي، یا د ابن تیمیه د مینه والو په منځ کې د هغه له نامه سره امام او شیخ الاسلام ونه وایي ګواکې د دې پوهانو قدسي ساحت ته یې سپکاوی کړی دی. په داسې چلند سره عملاً پوهان د یوه پوه له بریده اوړي او په بلامنازع فکري مرجعیتونو بدلېږي چې نور باید یوازې وګوري چې هغوی څه اکتشافات کړي دي او هغه د زړه له تله ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بنه علم یانې یوازې د منلیو پوهانو د مفکورو زده کول، حفظول او تکرارول، نه د دې مفکورو ارزول او وړاندې علمي مناقشه او نه د دوی د لارې د غځولو هڅه ان که دا تداوم د دوی د ځینو مفکورو نقد او نقض هم وغواړي. یانې په حقیقت کې د دې مشرانو په اړه د خطا احتمال له اساسه نفي کېږي او د نقد لپاره ځای نه پاتې کېږي.

## دعوتګري د تفکر پر وړاندې

څه چې د انتقادي تفکر پر وړاندې ور یو مخ تړي، د علم او دعوت سره ګډول دي. دعوتګري یانې د یو فکري یا دیني بهیر پر حقانیت او سموالي پوره باور درلودل او ورپسې د هغه منلو ته د خلکو رابلل. دا چاره حماسه، د عواطفو راپارول او د خطابې مهارتونه غواړي چې مخاطب په ښه شان را جذب کړي او په مطیع او سرښندونکي فرد یې بدل کړي.

په دعوتګرۍ کې دا وار له مخې فرض نغښتی وي چې حقیقتونه مشرانو کشف کړي دي او په خپلو ویناوو او لیکنو کې یې وړاندې کړي دي نو دې ته اړتیا نشته چې موږ له سره دا زحمت وباسو. زموږ وظیفه یوازې غوږ نیول او منل او وروسته بیا د دې ویناوو او لارښوونو عملي کول دي. علمي کار بیا د دې برخلاف دا وار له مخې فرضیه مني چې د حقیقت کشف او پېژندنه دوامداره پدیده ده او څومره چې د انسانانو پوهه زیاتېږي، هماغومره د لا زیاتو څېړنو لپاره لاره هوارېږي.

د دعوتګرو د روزنې لپاره کېدای شي ځانګړي روزنیز – تخصصي مرکزونه وي چې کار یې یوازې د خطابو، د تبلیغ د طریقو او داسې نورو چارو ښوول دي خو له لومړي سره دا د علم د زده کړې ځای نه دی، بلکې یوازې مهارتونه په کې زده کېږي. پوهنتون، مدرسه او هغه محیطونه چې اصلي وظیفه یې تعلیم دی، باید پر هغو اصولو او قواعدو لاړ شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي او تحقيقي کارونه يې غواړي چې محصل له علمي اخلاقو او د څېړنې له ميتودونو سره اشنا شي.

علمي اخلاق په ذات کې د دعوتگرۍ له اخلاقو سره توپير لري. هغه څوک چې د علم او څېړنې په کار بوخت دی، د حقيقت تر کشف او پېژندلو مهم کار نه پېژني او خپل ټول ځواک پر همدې لاره کاروي. هغه د خپلو څېړنو د نتيجې د منلو يا نه منلو خبره په دې پورې تړي چې دا نتيجې څومره سمې دي او څومره منطقي قوت لري. نو هغه په دې لټه کې نه وي چې خپل مخاطبان ډېر کړي، بلکې د نظريې سموالی ورته تر دې زيات مهم وي چې خلک يې خوښه کړي.

د دعوتگر کار بيا يو مخ اپوټه دی. له هغه سره د حقيقت د کشفولو هېڅ فکر نه وي ځکه مخکې له مخکې قانع شوی دی چې نورو لکه د جماعت رهبرانو، د علم سرلارو يا خاص مرجعيتونو چې تر ده زياته ورټيا درلوده، د ده پر ځای دا زحمت ايستلی او د ده دنده يوازې دا ده چې د هغوی له خوا کشف شوی حقيقت نورو ته وړاندې کړي او نور يې منلو ته راوبولي او د دې کار لپاره بايد د اغېز ښندلو او د مخاطب د راجذبولو ټول مهارتونه زده او عملي کړي.

اکثرو کلاسيکو مدرسو ځان ته دا نه ده مشخص کړې چې اصلي رسالت يې علمي کار او څېړنيز مطالعات دي که دعوتگري او خپلو مفکورو او باورونو ته د نورو راجذبول او د قالبي او انعطاف نا منوونکو باورونو د ترويج هڅه.

کله چې د علمي کار او دعوتگرۍ تر منځ پوله جوته نه شي، بله ستونزه راولاړېږي او هغه دا چې په داسې فضا کې د روزل کېدونکو کسانو په زړونو کې د قدرت او واک د خپلولو هوس راټوکېږي. دعوتگري قدرت او اقتدار ته د تمايل پر اساس بنا شوې ده. دعوتگر گومان کوي چې ټول حقيقت له ده سره دی او نور بايد بې له شکه دې حقيقت ته غاړه کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ویني ټولنه یا د ټولنې یوه برخه دا حقیقت نه مني، غوسه کېږي او ماغزه یې خرابېږي او هغوی په دې تورنوي چې یا د ځارویو په څېر بې بصیرته، کاڼه او ړانده دي او د حقیقت دا ځلانده لمر نه شي لیدای او یا د خپل سرۍ او دښمنۍ په داسې مرض اخته شوي دي چې قصداً دا روښانه او ځرګند حقیقت نه مني.

دلته بیا په دې لانجه کې بل اړخ هم ورزیاتېږي او هغه دا چې قضیه د خطا او صواب له دوه ګونې دایرې څخه د حق او باطل دوه ګونې دایرې ته انتقالېږي او دا د علم او دعوتګرۍ تر منځ بل عمده توپیر دی.

په علمي مجامعو کې خبره د حق او باطل نه وي – البته حق په هغه مانا چې د حقوقو په علم کې کارول کېږي جلا موضوع ده –، بلکې په دې مجامعو کې ټوله بحث پر دې وي چې کومه نظریه سمه ده او د سموالي دلیلونه یې کوم دي او کومه نظریه ناسمه ده او دا ځرنګه تشخیصولای شو.

که قضیه د خطا او صواب په بڼه طرحه شي، عواطف که په کې دخیل هم شي، ډېر به تت وي، حال دا چې که قضیه د حق او باطل په شکل مطرح شي، ځوک چې ځان حق ګڼي د باطل (مقابل لوري) پر وړاندې هر ډول نرمښت او انعطاف حق او حقیقت ته خیانت ګڼي او له باطل سره هر ډول ضدیت او خشونت ورته جهاد او په حقه مبارزه ښکاري.

په علمي کار کې ټوله خبره د خطا او صواب تر منځ توپیر دی او بس. دې کار ته لښکرې او سرتېري نه دي په کار، شور ته اړتیا نه وي خو د حق او باطل په مقابله کې بیا د حق د بري مسأله او د باطل د ریښو د غوځولو خبره په لوړ او مقدس ارزښت بدلېږي چې په هره بیه باید ترسره شي.

د دې لپاره چې د حق او باطل تر منځ تقابل لا سخت شي او هغه ځوک چې ځان په حقه ګڼي، د خپل حقانیت لپاره دلیل ولري، دا په علمي میتودونو نه کېږي، بلکې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مقدساتو خبره رامیدان ته کړي او موضوع په یو ډول سره له دین او مذهب سره غوټه کړي. د علمي کار لپاره ځانګړي میتودونه شته او دا میتودونه په عملي مجامعو او پوهنتونونو کې غالباً ځان ته تعریفونه لري او له هغه چا چې دې ځایونو ته د ننوتو توان لري، غوښتل کېږي چې خپله ادعا په همدې میتودونو ثابته کړي. خو، د حق او باطل په تقابل کې هغه ارام اعصاب او فکري تمرکز چې لازم دي، نه په کارېږي او باید پر دیني نصوصو د استناد او د اسطورو په مرسته او د تاریخي او له تاریخه هاخوا د دیني، سیاسي، موضوعاتو په هنرمندانه ګډولو سره، متفاوته فضا رامنځته کړي.

د مناسبې فضا جوړول، د مخاطبانو د عواطفو راښکېلول او د مخاطبانو له ګټو سره د خپلو دعوو پیوندول هغه لارې دي چې په دعوتګرۍ کې ترې ګټه اخیستل کېږي. تر اوسه پورې داسې پېښې کمې لیدل شوې دي چې دعوتګر دې خپله مدعا یوازې په منطقي بحث او استدلال سره ترویج کړې وي. هغه لاره چې ټول دعوتګران یې غوره کوي، د مخاطبانو له اقتصادي او معیشتي ګټو سره د خپلو ادعاوو غاړه غړۍ کول دي. دې سره د مخاطبانو همدردي راپارول کېږي او که هغوی غواړي له دې دردناکه وضعیت څخه خلاص شي، باید راپاڅېږي او هغه نوی وضعیت رامنځته کړي چې دعوتګر یې لاره ورښیي.

دی د خپلې تګلارې د سموالي د ثابتولو لپاره علمي میتودونو ته اړتیا نه لري، بلکې همدا به بس وي چې د خپلې ادعا په تایید کې یو دیني نص ولولي او د توضیح لپاره یې د تاریخ یو خاص تعبیر غوره کړي او په خپله خوښه یې هغه صحنې ځنې بیاتي کړي او خلکو ته یې وښیي چې د ده مدعا ورباندې تاییدېږي.

مثلاً که وغواړي خلکو ته وښیي چې د ده تګلاره به د وګړو اقتصادي ستونزې حل کړي، داسې نه کوي چې په اکاډیمیکو محیطونو کې د معمولو میتودونو په مرسته دلیل ووایي،، بلکې د دویمې هجري پېړۍ یو مثال راوړي چې پلانکی مسلمان خلیفه وشول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای په خپل وخت کې خلک داسې سوکاله کړي. تر اوسه پورې چا نه دي لیدلي چې معاصر دعوتگر به د عمر بن عبدالعزیز یونیم کلنه دوره نه وي یاده کړې او له هغې څخه دې د خپلې ادعا د ثابتولو او د خلکو د قانع کولو لپاره گټه نه وي اخیستې. حال دا چې اول خو یوه یونیم کلنه دوره د یوې لویې ادعا د ثابتولو لپاره قاطع او هر اړخیز دلیل نه شي کېدای، دویم دا چې د هغې دورې په اړه دغه یو دوه روایتونه به څومره د هاغه مهال له واقعیتونو سره اړخ لگوي، درېیمه خبره دا ده چې له هاغه وخته تر اوسه پورې ډېر شیان بدل شوي دي نو دا به سمه وي چې د هغوی تجربه تر ننه پورې وغځوو، څلورمه خبره، که دا ومنو چې دا تاریخي روایت به یو مخ سم وي خو هغه به څنگه له دغه تگلارې سره وتړو چې زر کاله وروسته د بل چا له خوا په یو مخ متفاوتو شرایطو کې واړندې کېږي. (10)

که خبره په سیاسي اقتدار پورې وي، ځینې مذهبي دعوتگران د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره راساً ځي او د اسلام د تاریخ هغه خاصه دوره یادوي چې د مسلمانانو عظمت او اقتدار رانښیي. مثلاً که یو دعوتگر په اوسني وخت کې د مسلمانانو د مظلومیت په اړه خبرې کوي، د عباسي خلیفه معتصم د دورې هغه نکل بیانوي چې په یوه جنگ کې یوې مسلمانې ښځې ویلي وو:"وا معتصماه" او کله چې دا خبر خلیفه ته ورسېد، هغه د دې ښځې او نورو مسلمانو اسیرانو د خلاصون لپاره روم ته قوا ولېږله. کله کله مقاومت او جگړې ته د مخاطبانو د هڅولو لپاره د قطز او بیبرس په شان د ځینو ملکونو د پاچاهانو پر کیسو استناد کېږي چې څنگه یې د جالوت په حالت کې د مغولو پر وړاندې وجنگېدل او هغوی یې مات کړل.

خو څنگه چې په دعوتگري کارونو کې علمي اصول اعتبار نه لري نو کله کله په زړه پورې تناقضونه زېږوي. مثلاً همدا وگړي په بل مناسبت کې بیا د دې لپاره چې وښیي اصلي حقیقت یوازې له دوی سره دی او رقیبانو یې باطله لاره خپله کړې ده، بیا هم د تاریخي شواهدو لمن نیسي او داسې روایت بیانوي چې د اسلام په تاریخ کې گڼې ډلې او فرقې راټوکېدلې دي چې له اصیل اسلامه لرې وې او د اسلام د دښمنانو په خدمت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقع شوې دي، په دې ډلو کې معتزله د يوې منحرفې ډلې په توګه معرفي کوي، حال دا چې هماغه عباسي معتصم پخپله معتزلی و. بل ځای کې بيا کله چې غواړي وښيي چې د حق او باطل تر منځ تقابل د تاريخ په ټولو دورو کې جاري و، د ځينو پخوانيو علماوو نمونې بيانېږي چې د خپل وخت له ظالمو او فاسقو حاکمانو سره يې مخالفت کړی دی او په دې برخه کې يو مشهور مثال به يې د قطز او بيبرس د ملکونو له پاچاهانو سره د عزالدين بن عبدالسلام مخالفت وي.

کله چې مدرسې او د فکر د توليد محيطونه د علمي منابعو او له علمي ميتودونو سره د اشنايۍ له قحطۍ سره مخ کېږي، بيا داسې يوه ګډوډه فضا رامنځته کېږي چې په کې ديني نصوص، تاريخي روايتونه، عصري مسايل، اقتصادي ستونزې، سياسي کشمکشونه او ان ژبني او قومي تضادونه د خامو موادو حيثيت غوره کوي او د ايډيالوژۍ د توليد لپاره ورنه کار اخيستل کېږي.

په داسې مدرسو کې د روزل شويو کسانو د ويناوو د لحن او چلند سپړنه راښيي چې دوی څومره قهرجن دي څکه چې ځان ورته حق او نور ورته باطل ښکاري. هغه کسان چې په همدې تفکر سره منبرونو ته لاره مومي، د تبشير ځای تنفير ته ورکوي او د اسانوالي ځای سختوالي ته، تسامح د تسليمۍ په مانا تعبيروي او مدارا منافقت او دوه مخيتوب ګڼي، محبت ورته د ايمان کمزوري ښکاري او دوستي او نرمښت د مسلمان له شان سره وړ نه بولي.

### له افراطپالنې سره د چلند سياستونو ته بيا کتنه

**په دې کلونو کې له افراطپالنې سره د تعامل په چاره کې يو ډول ګنګوالی ليدل کېږي. نه دولت، نه سياسي ډلې او نه د افغانستان نړيوال ټرونوال توانېدلي چې په دې اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځانګړې ستراتیژي جوړه کړي. څه چې تر ټولو زیاتې پوښتنې پاروي، دا ده چې د افراطپالنې ایډیالوژیکي بُعدونه کمرنګه ښییل کېږي او قضیه د سیمه ییزو بغاوتونو حد ته راټیټېږي. د دوی تصور به دا وي چې د یو ډول پخلاینې زمینه مساعده او د سیاستوالو ستونزه پرې حل شي.**

ښایي دوی به هېره کړې وي چې هرڅومره افراطیانو ته باج ورکړل شي، هماغومره به د هغوی فیزیکي ځواک پیاوړی شي او هماغومره به یې روحیه غښتلې شي او د خپل نړیوال حکومت د جوړولو هوډ به یې لا کلک شي.

د دې ستر ګواښ عاملونه مختلف دي او د هغو ځواکونو کړنو ته ورګرځي چې د افراطپالنې پر ضد مبارزه یې پر مخ بیوله. لیکوال په دې کې هېڅ شک نه لري چې د افراطي ډلو بیا ځواکمنېدل، د دوی د ذاتي ورتیاوو او توان محصول نه دی، بلکې د دوی د مخالفانو له کمزورۍ او ناکامۍ سرچینه اخلي. ځکه چې دوی د خلکو د ډېرو غوښتنو په تامینولو کې پاتې راغلي دي، یو کارنده او ټینګ نظام یې نه دی رامنځته کړی او د افراطیانو د ټغر د ټولو لپاره یې سمه لاره نه ده غوره کړې.

کله چې خبره د هغې جګړې کېږي چې د یوه ملت له ټولې هستۍ سره لوبې کوي، باید چې بې پردې او په ډاګه خبرې وشي او د قضیې مبهم او ګنګ ټکي روښانه شي.

دا هېواد په جګړه کې اوسېږي. دلته ټول وګړي له جنګ سره سروکار لري، هغه که د جګړې په دواړو خواوو کې دي، که هغه وګړي چې په دې جنګ کې نه دي ښکېل او نه غواړي چې په کې برخه واخلي. دلته ټول خلک د جنګ فضا احساسوي او که وغواړي یا ونه غواړي، په یو ډول سره له جګړې اغېزمنېږي، یا په ټېپي کېدو او وژل کېدو سره، یا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګه د وېرې او ډار په وجه، یا د هغو تاوانونو په وجه چې اقتصاد، تجارت او کار و بار ته یې رسېږي.

نو بهتره ده چې د دې واقعیت په منلو سره د دې وضعیت په اړه له مناسب منطق سره خبرې وکړو. طالبانو خپل دښمن سم پېژندلی او له هغه سره په چلند کې هېڅ شک نه دی کړی خو مخالفان یې نه دي توانېدلي چې د دښمن په تعریف کې او د دښمن د حضور او فعالیتونو د مرکزونو په اړه سره یوه خوله شي. حال دا چې د دښمن روښانه او له ابهامه لرې تعریف، په هره جګړه کې د بري لومړنی شرط دی.

همدارنګه طالبانو د خپلو مخالفانو پر ضد په مبارزه کې د وېرې او وحشت داسې فضا رامنځته کړې ده چې د دوی قوت څو ګنه زیات وښیي او له دې لارې د ټولنې هغه زړه نازړه او متردده برخه په رواني لحاظ د ځان خوا ته ورماته کړي، دا په دې چې خلک به فکر کوي چې طالبان غښتلي او برلاسي دي. رواني جګړه له دښمن سره په مبارزه کې مهمه وسیله ده او څوک یې له اغېزې انکار نه شي کولای. طالبانو د خپلو مخالفانو په ځپلو کې هېڅ شرعي اصل، هېڅ اخلاقي عرف او هېڅ انساني قانون ته غاړه نه ده ایښې او د جوماتونو له الوځولو او د ښوونځیو له سوځولو رانېولې، د ښځو او ماشومانو او بې دفاع وګړو تر وژلو پورې یې هر څه کړي دي. د دوی هدف د دښمن ماتول دي، په هره ممکنه وسیله چې وي.

طالبانو هر هغه څوک په بې رحمۍ سره له خپلې مخې لرې کړي دي چې د دوی له مخالفانو سره یې همکاري یا اړیکه درلوده او ان د هغوی سرونه یې د خپلو مېرمنو او اولادونو په مخ کې پرې کړي دي خو د دوی مخالفانو بیا پر ډېرو هغو کسانو سترګې پټې کړي دي چې له طالبانو سره اړیکه لري او د هغو کسانو پر وړاندې یې غوږ دریځ نه دی غوره کړی چې له وسله والو مخالفانو او غیرمسوولو وسله والو ډلو سره یې ارتباط درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو مخالفانو د جنګ منطق په پام کې نه دی نیولی. کله یې په پاکستان کې د طالبانو له ملاتړ کوونکو سره مالي مرسته کړې ده او هغوی یې خپل مهم دوستان ګڼلي دي او کله بیا د جګړې په ډګر کې له طالبانو سره ښکېل شوي دي. له یوې خوا یې د طالبانو د مشرانو او قوماندانانو د نیولو پر سر غټې جایزې ایښې دي او له بلې خوا یې د دوی نیول شوي مشران له یوې مودې وروسته بېرته خوشي کړي دي او دا کسان بیا بېرته د جګړې ډګر ته له نوې روحیې سره ورداننګلي دي.

د نوي نظام او نویو تحولاتو یوه بریا، د رسنیو ازادي او په ټول هېواد کې د ډول ډول غږیزو، چاپي او لیدیزو رسنیو فعالېدل وو. رسنۍ د طالبانو د حقیقي ماهیت او د هغوی د سیمه ییزو او نړېوالو ملاتړو څېرې بربنډولای شوې چې خلک د دې ډلې له واقعیت سره لا بهتره اشنا شي او له هغوی سره د همکارۍ پر عواقبو ښه وپوهېږي. که سم سیاست په مخ کې نیول شوی وای، دغو رسنیو کولای شول چې له خشونت او خشونت کوونکو څخه کرکه او له توندلاریتوب او افراطیت څخه ډېره کول په ټولنه کې بنسټیز کړي، په تېره بیا رسنیو کولای شول چې د طالبانو اصلي څېره داسې وښیي چې د هغوی په اړه یو ډول ملي او ولسي اجماع رامنځته شي.

په دې لاره به طالبان له ټولنې څخه ګوښه کېدل او هغه کسان چې له اوضاع ناراضه وو یا پر نظام به یې نیوکې لرلې، کولای یې شول له مدني او سوله ییزو لاره ګټه واخلي او خپله مبارزه وغځوي. له دې سره به نور د خپل حق د غوښتلو لپاره طالباني لاره، د ګواښلو لپاره طالباني تعبیرونه او د باج اخیستلو لپاره طالباني چال چلند په ټولنه کې ځای نه شوای موندلی. هېڅا رسنیو، منبرونو او ټولنې ته دا خبره ونه کړه چې موږ په جنګي شرایطو کې یو او جنګي شرایط له طبیعي حالته توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې په افغانستان کې هره ورځ لسګونه انسانان قتلیږي، هېڅ څوک دا نه غواړي چې په منبرونو کې څه ویل کېږي، رسنۍ څه ور پیغام خپروي، او نور بنسټونه پر کومو بحثونو لګیا دي. خو، طالبان چې هر چېرته وي، ځان د یوه قهار او واکمن ځواک په صفت معرفي کوي او چا ته اجازه نه ورکوي چې د دوی پر ضد ان یوه خبره وکړي. طالبانو دې کار سره خلک مجبور کړي دي چې جبراً د دوی پر حضور او ځواک باور پیدا کړي.

کېدای شي ځینې داسې وانګېري چې ګواکې لیکوال د شخړې او جګړې پلوی دی او د سولې او پخلاینې سره يې نه ده جوړه ... البته چې داسې نه ده. زه غواړم فقط دا ووایم چې د لا زیاتو وینې بهولو او لا زیاتو ناامنیو د ختمولو لاره دا ده چې د خشونت او وینې بهولو له پلویانو سره د دوی په خپل منطق خبرې وشي، په هماغه ژبه چې دوی ورباندې پوهېږي. دا خبره هم له شرع سره اړخ لګوي هم له عقل سره. قران مجید ویلي دي: "فمن اعتدی علیکم فاعتدوا علیه بمثل ما اعتدی علیکم" (یعنې که چا پر تاسو تیری وکړ، تاسې پر هغه هماغسې تیری وکړئ چې ده کړی دی.) هغه باید درد ووینې چې د دردولو په مانا پوه شي او د نورو له دردولو پښېمانه شي. وروسته بیا د سولې او پخلاینې خبره کولای شو او د تفاهم لاره خپلولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخيستنې:**

1- عن أنس، متفق عليه.

2- رواه البخاري معلقا فی صحيحه، و الحديث صحيح بشواهده.

3- اسامة بن زيد ته په خطاب کې، چې يو کس يې د شهادت د کلمې تر ويلو وروسته وژلی و، د اسلام د پيغمبر (ص) حديث: "هلا شققت قلبه" متفق عليه.

4- وګورئ: ابوحامد الغزالي، فيصل التفرقة بين الاسلام و الزندقة، السبکي، الفتاوي، 2/ 578، ابن حزم، الفصل فی الملل و الأهواء و النحل، 392/3، الشوکانی، السيل الجرار، 578/4.

5- د غزالي له کتابه پرته دغه درې نور کتابونه ټول فارسي ته ژباړل شوي دي.

6- عبدالهادي هادف دغه دواړه ليکنې فارسي ته ژباړلې دي او په کابل کې خپرې شوې دي.

7- وګورئ: عبد الله عزام، فی خضم المعرکة.

8- وګورئ: سعيد حوی، فلنتذکر فی عصرنا ثلاثا، بيروت، دار الارقم للطباعة و النشر، 1938.

9- دا خبر د 1391 د مني په پای کې د افغانستان د دولت له خولې په رسنيو کې خپور شوی دی.

10- وګورئ: عبد الکريم بکار، مقاله فی وجه التبسيط، د مولف رسمي وېبپاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**-3-**

# د اسلامي غورځنګونو مور، د ناروغۍ په بستر کې

## د اخوان تجربې او د هغه ځانګړو ته یوه کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي غورځنګونو مور، د ناروغۍ په بستر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخوان او پوځ

هماغسې چې میشیل فوکو او ځینو نورو متفکرانو څرګنده کړې ده، قدرت د ټولنیزو مناسباتو په شبکه کې داسې ساري او جاري مقوله ده چې هېڅ حوزه ځنې نه ده پاتې. خو، په هغه مانا چې په سیاسي – ټولنیزو مبحثونو کې استعمالېږي، قدرت هغه سازماني تبلور ته ویل کېږي چې کولای شي د خلکو پر ګډ برخلیک یا لږ تر لږه د خلکو پر یوې برخې اغېز وشندي.

د اوسني مصر په سیاسي – ټولنیز ډګر کې د اغېزناکو او مطرح ځواکونو په منځ کې، د دې هېواد پوځ او اخوان المسلمین تر ټولو زیات وزن لري او په همدې دلیل یې تر ټولو زیات اهمیت لاره او لري یې. همدارنګه د دغو دوو ځواکونو تر منځ اړیکي او مناسبات د مصر د کورنیو او بهرنیو شرایطو په ټاکلو کې تر ټولو اغېزناک عاملونه ګڼل کېږي.

په تاریخي لحاظ د دې دوو تر منځ اړیکي د مصر لپاره له مهمو او تاریخ جوړوونکو لوړو ځوړو سره مله پاتې شوي دي. د پوځ او اخوان تر منځ تلاقي د تېرې میلادي پېړۍ له څلوېښتمو کلونو راپیلېږي، دا هغه وخت و چې د اخوان نفوذ د غوړېدا اوج ته رسېدلی و. هاغه مهال چې په مصر کې بریتانوي پوځیان دېره وو او انګلستان د مصر په سیاسي ډګر کې هم د شاهي ماڼۍ له لارې او هم د ځینو ګوندونو او بنسټونو له لارې نفوذ لاره، پوځ نه شوای کولی چې د هېواد د شرایطو په ټاکلو مهم نقش ولري. په همدې خاطر د ځېنو افسرانو په منځ کې ناخوښي خپره شوې وه. د پوځ چې یو منسجم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ و او اخوان چې هاغه مهال تر ټولو زيات نفوذ لرونکې سياسي – مذهبې ډله وه، سره يو ځای کېدل، کولای شول د هاغه وخت په مصر کې بدلونونو ته لاره پرانيزي.

د پوځ مهم افسران لکه جمال عبدالناصر، انورالسادات او ګڼ نور ملګري يې د پوځ د يوه اخواني افسر عبدالمنعم عبدالرووف په واسطه د اخوان له مشر حسن البنا سره اشنا شول او په دې يې سره سلا وکړه چې د اخوان د نظامي څانګې (نظام الخاص/ خاص سازمان) غړي به روزي. څه موده وروسته چې د عربو او اسراييلو تر منځ په 1947 او 48 کلونو کې جګړه ونښته، د دواړو غاړو تر منځ ټينګه همکاري رامنځته شوه. دغه ګډه تجربه چې پر دواړو خواوو ښه لګېدلې وه، د نورو همکاريو لپاره لاره هواره کړه چې تر ټولو دوې مهمې همکارۍ يې د مصريانو لپاره برخليک ټاکونکې وې، يوه يې په 1952 په مصر کې د نظام د بدلانه او د شاهي حکومت د ختمولو لپاره سلامشورې او همغږي وه چې بريالی شوه او بله يې له سياسي ډګره د نورو لوبغاړو شړل، داسې چې د شاهي نظام پر ضد د انقلاب تر بري لږه موده وروسته، پوځ ټول سياسي ګوندونه منحل او ممنوع کړل، اخوان په دې کار کې د پوځ ملا ورروتړله او په خلکو کې د خپل نفوذ په وسيله يې د سياسي ډلو او ګوندونو د غبرګون مخه ونيوله.

د همکارۍ تر دغو دريو مهمو او اغېناکو تجربو وروسته چې ټول سياسي رقيبان له ډګره وتلي وو، د پوځ او اخوان تر منځ د واک د وېشلو وار رسېدلی و او د قدرت د غوښتنو پر اساس، ملګرتوب خپل ځای تقابل او شخړې ته ورکړ. اوس نو پوځ پر نظامي ځواک سربېره نور دولتي ارګانونه هم په خپل واک کې درلودل او په ټول وس سره يې د خپل پروني شريک او نني ستر رقيب ختمولو ته ملا وتړله. اخوان هم پر خپل پراخ ولسي نفوذ تکيه وکړه او د مقابلې په لټه کې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو څو شیان وو چې په دې پړاو کې یې اخوان زیان منونکی کړی و. لومړی دا چې نور ګوندونه لا پخوا له سیاسي ډګره شړل شوي وو او اخوان ته دا امکانات نه وو برابر چې دا ځل نور ګوندونه تر انقلاب د مخه کلونو په شان د ځان ملګري کړي او په دې بې رحمانه جګړه کې یې له ځانه سره ولري. د نورو ګوندونو په ختمولو کې له پوځ سره د اخوان همکارۍ د اخوان د ختمولو لپاره هم لاره هواره کړه.

دویم، په نظامي ډګر کې: په تېرو کلونو کې او په تېره بیا د انګریز ځواکونو د شتوالي په پلمه د اخوان وسله والې څانګې ورته د ګټونکې ورقې حیثیت لاره خو اوس کورنۍ جګړې ته د وردانګلو زمینه ورته نه وه برابره. اخوان ته کار په دې لا سخت شوی و چې د نظامي څانګې روزونکي یې پخپله د پوځ افسران وو. دې افسرانو ته د اخوان د نظامي څانګې ټولې وړتیاوې او تشکیلات ورمعلوم وو. جمال عبدالناصر وتوانېد چې له خپل نفوذه په استفادې سره دا څانګه ان د اخوان د رهبرۍ پر ضد استعمال کړي او د اخوان په تاریخ کې تر ټولو سخت کړکېچ رامنځته کړي. تر دې پورې چې د اخوان رهبري چې هغه مهال د حسن هضیبي په لاس کې وه، له سختو او سترې کوونکو خپل منځي شخړو وروسته وتوانېده چې نظامي څانګه منحله او ځان یې له شره خلاص کړي.(1)

درېیم، په ملي او سیمه ییز ډګر کې: پوځ سویز کانال ملي کړی او له ځواکمنو غربي هېوادونو سره یې مخالف اعلان کړی و نو د استعمار پر وړاندې د مقاومت په اسطورې بدل شوی و. په دې خاطر د پوځ ګرانښت د مصر له جغرافیایي بریدونو ډېر ورهاخوا تللی و او په نورو عربي او ان غیرعربي ملکونو کې یې ګڼ شمېر مینه وال موندلي وو. دا کارونه د دې سبب شول چې جمال عبدالناصر د جواهر لعل نهرو، مارشال تیتو او سوکارنو غوندې څېرو په څنګ کې یاد شي. دې شي د پوځ پر وړاندې د اخوان د درېدو امکان په ملي او عربي کچه تر ټولو کمې اندازې ته راټیټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې چې د دوو رقيبانو په منځ کې يوه يې ځو چنده ګټونکې ورقې په لاس کې لرلې، د ځواکونو انډول د پوځ په ګټه بدل شو او د پوځ لاس د منځني ختيځ د تر ټولو پياوړي اسلامي غورځنګ په تار و مار کولو کې خلاص شو. جمال عبدالناصر او نظامي ملګرو يې د اخوان ځينې مهمې څېرې او مشران پانسي کړل او شا وخوا شل زره کسان يې بنديان کړل. په دې توګه يې تقريباً د دوو لسيزو په مخه دا غورځنګ مرګې حاله وساته. د پوځ افسران پوهېدل چې د رقيب يوه ګټونکې ورقه مذهبي ايډيالوژي ده نو پخپله يې بله ايډيالوژي يعنې پر ملي صبغې ولاړه سوسياليستي ايډيالوژي جوړه کړه، البته بې له دې چې ورته ځانګړې تيوريکي تکيه برابره کړي او يا په شعوري توګه ټولنه ورته چمتو کاندي. د دې کار په تبعاتو کې د پخواني شوروي بلاک ته لا زيات تمايل او په مصر او عربي هېوادونو کې د چپي ګوندونو د فعاليت زياتېدل وو، دا هغه څه وو چې د غربي بلاک د اندېښنې سبب کېدل.

تقريباً دوه لسيزې وروسته چې د پرمخ تللو ملکونو له مخونو د نړېوالو جګړو دوړې لرې کېدې او په ډېرو دغو هېوادونو کې سوکالي او غوړېدا راغلې وه، د انورالسادات په مشرۍ د پوځ ځينو افسرانو د تګلارې بدلانه ته اړتيا محسوسوله. پوځ سياسي بريا خپله کړې وه او په غريبو او د درېيمې نړۍ په ملکونو کې يې نوم ګټلی و خو دې شيانو د دوی د اقتصادي بيوزلۍ او ټولنيزو ناخوالو چاره نه شوه کولای. پانګوال بلاک ته مخه کول ظاهراً تر دې حالت غوره ښکارېده. دې کار ته لاره هله هوارېدای شوه چې هغه ډلې او کړۍ چې په دې موده کې يې له شرقي بلاک سره د همغږۍ او په سوسياليستې صبغې د مصر په سياسي ژوند کې يې ځای پيدا کړی و، بايد د قدرت له مرکزونو لرې شوې وای. دا غوښتنه له بنده د اخوان او له اخوانه د جلا شويو ځانګو د فعالانو په خوشې کولو او هغوی ته د فعاليت د کنټرول شوي مساحت په ورکولو سره بې له کوم لګښته پوره کېدای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسراییلو د سینا صحرا بېرته نیول، د ډېوېډ کمپ د تړون لاسلیک کول، د امریکا د متحدو ایالتونو د مرستو او د هغه د تړونوالو ملکونو د پانګوونې راجلبول، د شوروي پلوو چپي ډلو ځنډېږ ته کول، د یوې پراخې طرحې برخې وې چې پوځیانو جوړه کړې وه او دا طرحه میدان ته د مذهبي فعالانو له راتګه پرته نه شوه پوره کېدای. د هغې پېړۍ اوېایم کلونه په مصر کې د نوې دورې پیل و چې یوه ځانګړنه یې د مصر ټولنیز ډګر ته د اخوان او ځینو نورو مذهبي ډلو بېرته راتګ و.

هغه جګړه چې پر افغانستان د پخواني شوروي تر برید وروسته پیل شوه، ډول ډول عواقب یې لرل، په دې جمله کې په عربي نړۍ کې د نوې څپې څپاندېدل هم وو چې پلویانو یې «اسلامي ویښتابه» بلله. په دې پړاو کې سېمبولیکې مذهبي نښې لکه اسلامي جامې عامې شوې او ګڼ مذهبي بنسټونه راوټوکېدل. سره له دې چې دې وخت کې ګڼې مذهبي ډلې له مختلفو سیاسي او ټولنیزو تګلارو سره ډګر ته راووتلې خو اخوان المسلمین لا هماغسې تر ټولو پراخ اسلامي غورځنګ پاتې شو.

خو دا ځل د اخوان رهبرانو له تېرو همکاریو زده کړې وه چې باید په احتیاط سره قدم واخلي او نظامیان هم پوهېدل چې نور نو نه شي کولای له ټولو سره په تېره بیا له اخوان سره د هغوی د ځپلو له لارې مقابله وکړي. د جنورۍ تر انقلابه مخکې په درې لیسزو کې په مصر کې د قدرت د دوو عمده بهیرونو تر منځ محتاطانه تقابل روان و. له یوې خوا د اخوان او نورو مذهبي اړخونو موجودیت تر هغې پورې د زغملو و چې د رژیم د نسکورولو غبړ یې نه و پورته کړی او له بلې خوا اخوان او ډېرو نورو مذهبي ډلو لکه سلفیانو او غیرسلفیانو له پوځ سره له ټکر او حاد تقابله ډډه کوله.

دغه وضعیت چې د ځواک اندول په کې د پوځیانو په ګټه و، د ډېرو اوږدو کلونو په مخه دوام کولای شو خو دوو نورو عاملونو چې د یوه پراخ ولسي انقلاب په بڼه راڅرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، د یوه لوی بدلانه لپاره لاره هواره کړه، یو عامل د خلکو په کچه او بل یې د نظام په کچه و. خلک د وضعیت په بدلولو کې د اخوان او نورو سیاسي ډلو له ورتیا ناهیلي شوي وو او دا یې احساساوه چې په متعارفو لارو دا بنده لاره نه شي خلاصېدای. دغه سر پر سره ناهیلۍ ورځ تر بلې په یو ډول پټ قهر بدلېدله چې د چاودنې شېبې ته یې انتظار کاوه.

په نظام کې، حکومت په وروستیو کلونو کې هڅه کړې وه چې داسې یو گوند جوړ کړي چې عمده عناصر به یې د ناقونونې گټې وټې او خاصې اقتصادي کړۍ وې. دغو وګړو د پخواني ولسمشر زوی رامخته کړی او د مصر په حکومت او تجارتي ډګر کې د نورو واکونو تر څنګ یې د هغه د ځایناستي طرح جوړه وه. دې سره نظامي دستگاه ناراضه شوه. اوس نو نظامیان پر دې سرېېره چې باید یې خپل اصلي مخالفان د امنیتي ارگانونو له لارې کنټرول کړي وای او دې کار پخپله ډېر لگښت او توان ته اړتیا درلوده، له بل رقیب سره هم مخ شوي وو چې د وینې (هغه حشره چې لرګی له ننه خوري) په شان یې نظام له ننه گواښاوه. حاکم گوند چې تر ډېره اقتصادي مافیا ته ورته و، غوښتل چې ځان د نظام د سیکې بل مخ وښیي. پوځیانو لیدل چې د شته وضعیت د ساتنې او پاینښت لپاره هره هڅه به د حاکم گوند د واک د غځولو مانا ولري او دې گوند نه له پوځ سره کومه ژمنه لرله، نه په خلکو کې نفوذ.

د عربو د پسرلي له پیل سره، قهرجنې پرګنې میدان ته راووتلې چې د وضعیت بدلون وغواړي. د پوځ غټو افسرانو د بدلانه د شېبو رارسېدل حس کړل او هماغه و چې لوی درستیز د لوړ پوړو افسرانو له یوې ډلې سره د نارامیو په لومړیو ورځو کې متحده ایالتونو ته لاړ چې له خپل ځنډن متحد سره د راروانو پېښو په اړه سلا مشورې وکړي. د دې خبرو اترو حال نه دی معلوم خو نښو نښانو یې ښودل چې دواړه خواوې د حاکم گوند پر فساد او په حکومت کې تر هغه د لا زیات فساد پر شتون، چې په وروستیو کلونو کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو زیاته نارضایتي راپارولې وه، خبرې وې. دوی ته د خلکو ملاتړ له حکمت او درایته لرې نه ښکارېده. پراخې هلې ګولې کولای شول چې هم د دولت خبره ختمه کړي هم د ملت.

پوځ پوهېدلی و چې باید پخپله غلبېل راواخلي او چاڼ وکړي چې د قدرت ستن له لړزېدو بچ کړي. ښایي د پوځ تر ټولو زړور کار هماغه وي چې ان هغه مهال چې حسن مبارک لا د پوځ اعلی سرقوماندان و. پوځیانو له خلکو سره خبرې پیل کړې او فوق العاده جلسې یې ورسره وکړې. د دې کار مانا دا وه چې عملاً ولسمشر او د پوځ اعلی سر قوماندان یې له پامه غورځولی او له خپل مقامه د هغه د عزل لپاره تیار و.

د پوځ څنډن رقیب، اخوان المسلمین به ښایي د شدید احتیاط د روحیې په وجه لا د انقلاب پر راتلو باورمن نه و. کله چې سه شنبه د جنورۍ پر 25 مه ولسي مظاهرې پیل شوې، د اخوان هېڅ څوک په کې نه وو. وروسته چې په تحریر میدان کې د انقلابي ځوانانو مقاومت تر جمعې پورې دوام وکړ، لا زیات وګړي یې ملګري شول او په تېره بیا کله چې د محمد البرادعي په شان څېرې د انقلاب په ملاتړو کې ورزیاتې شوې، اخوان هم زړه وکړ چې د انقلاب په لیکه کې ودرېږي. څومره چې د خلکو مقاومت غځېده، له نظام سره د مقابلې پر امکان د اخوان باور هم زیاتېده او لا زیات یې خپل پلویان میدان ته رااېستل چې په پای کې ولسمشر څنډې ته شو او د وضعیت بدلانه ته لاره هواره شوه.

له هاغه وخته تر هغې پورې چې اخوان وتوانېد په انتخاباتو کې د بري له لارې خپل یو غړی د مصر ولسمشرۍ ته ورسوي، په قدرت کې د لا زیاتې برخې پر سر د پوځ او اخوان له خوا په مختلفو بڼو متقابلې هڅې کېدې. په حقیقت کې دواړوو خواوو هڅه کوله چې د دې لوی بدلانه په منځ کې لا زیاتې مورچې فتح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصر ټولنه د ډېرو نورو شرقي ټولنو په څېر هرمي جوړښت لري. ښايي د مصر اهرام به د دې جوړښت غوره فيزيکي تجسم وي چې له زرګونو کلونو پخوا څخه تر ننه پورې پايي دی. د جوړښت په دې نمونه کې قدرت وېشل کېږي نه،، بلکې راټولېږي او هغه کس چې د هرم په سر کې دی، تر ټولو زيات واک او په حقيقت کې مطلقه واکمني لري. څوک چې غواړي د هرم سر ته ځان ورسوي، بايد داسې ملاتړي ولري چې ورباندې تکيه وکړي او دا لاره لنډه کړي. داسې تکيه او ملاتړ کله نظامي بنسټ برابرولی شي، کله اقتصادي بنسټ، کله دين او کله د دغو دوو يا درېو بنسټونو ايتلاف.

دين په يوه مانا د معنوي ژوند او اخروي سعادت لپاره د انسان يو فردي تصميم او ازادانه انتخاب دی. خو، ټول دينداران بيا د دين دا تعريف نه مني. تاريخي تجربو ښودلې ده چې د وخت په تېرېدو سره دين د دينداراانو لپاره په داسې بنسټ بدلېږي چې اقتصادي امکانات، ټولنيز نفوذ او ښايي سياسي کارونه ورپورې غوټه شوي وي.

دين د سياسي – ټولنيز بنسټ په حيث، د دې پر ځای چې د انسان له معنوي بُعدونو سره سروکار ولري، زياتره د انسان پر تن او جېب له واکمنی سره سروکار لري. دين د سياسي – ټولنيز بنسټ په حيث، د نورو غوښتنو تر څنګ، د خپلو پيروانو پر اوږو د مذهبي ماليې پيټی ږدوي. د دغو ماليو په وسيله هم د ديني واکمنانو او سرلارو د ژوند اړتياوې پوره کېږي او هم د پانګې د تدريجي زېرمه کولو له لارې په عمومي ډګر کې د دخالت او نفوذ لاره ورته هوارېږي.

هغه بنسټ چې په مصر کې يې په پېړيو پېړيو د دين استازولي کوله «الازهر» و. سره له دې چې دا بنسټ په مالي لحاظ خپلواک و خو هېڅکله حکومت ته په رقيب بدل نه شو. ګواکې د هغه بهير ځای تش و چې د دين له خوا د قدرت نيولو ته ملا وتړي. دا تشه د اخوان په جوړېدو سره ډکه شوه. له پخوانيو ديني غورځنګونو د اخوان توپير دا و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان د حکومت جوړولو ته قاطع عزم درلود او په دې لاره کې یې له قهریه قوې استفاده کوله. د دې جماعت بنسټګر او تر ټولو مهم تیوریسن حسن البنا، په خپلو رسالو کې دې خبرې ته اشاره کړې ده.(2) په دې لاره کې هغه په لومړیو پړاوونو کې له پوځ سره ایتلاف ته مخه کړه چې د قدرت له اصلي بنسټ سره مقابله وکړي او کله چې پوځ د قدرت پر اصلي بنسټ منګولې ښخې کړې، د دواړو تر منځ تقابل تاوتریخجنه بڼه غوره کړه.

اوس نو تر دې سختو او خونړیو بدلونونو وروسته، ان که اخوان یا پوځ په دې بریالی هم شي چې ځنډن رقیب له ډګره یو مخ وشړي او په یوازې سر د قدرت کلا ونیسي، بیا به هم لانجه خلاصه نه شي. د دین او قدرت رابطه لا هم له ننګوونو ډکه ده. د دې ستونزې ختمول داسې تیوریکې هڅې غواړي چې په عامه توګه د دین او قدرت او په خاصه توګه د دین او حکومت نسبت تعریف کړي.

اخوان په کراتو ویلي دي چې نه غواړي دیني حکومت جوړ کړي،، بلکې مدني حکومت غواړي. له دې ادعا سره یې غوښتي دي چې خپل برید له ولایت فقیه (د ایران اخوندي رژیم) او همدارنګه له نورو بنسټپالو مذهبي ډلو لکه طالبانو او القاعدې (چې هر څه پوره غواړي) سره وټاکي. خو تر دې کُلي خبرو ورهاخوا یې هېڅ کومه مهمه هڅه نه ده کړې چې د قضیې دا ابهام لرې شي او ولیدل شي چې د دین د بنسټ ځای کوم دی او د قدرت بنسټ ورسره څه نسبت لري. اخوان دا نه ده ثابته کړې چې له دینه خپله پوهه د دین تر نورو تعبیرونو غوره ګڼي او په عمومي ډګر کې دیني بنسټ په ځان پورې منحصر کوي که د دین په تفسیر کې پلورالیزم مني او دین د ټولو ګډ ملک بولي چې ورسره غیرسیاسي معنویت محوره دین هماغومره رسمیت ولري څومره چې معیشت محوره سیاسي دین یې لري، بې له دې چې څوک یې د انحصاري تملک حق ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مصر کې هم د ګڼو نورو اسلامي ملکونو په شان، د دین او قدرت د عملي تقابل پای په دې پورې غوټه دی چې په دې برخه کې تیوریکي اخ و ډب او ناجوړې ختم شي چې دا کار په څو انتخاباتي شعارونو سره نه شي کېدای. تر ټولو مخکې باید حقیقت پر مصلحت بر شي او د فکر اصلاح د چارو په سر کې ځای ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیعت او انتخابات، پټ پاراډاکس**

د محمد مرسي په دوره کې د اخوان المسلمین حکومت پر ضد د معترضو ډلو له خولې یو ډېر تکرارېدونکی شعار دا و چې:"لسنا کافر، لسنا ملحد، یسقط یسقط حکم المرشد" یعنې موږ کافر او ملحد نه یو، د مرشد حکومت دې نسکور وي. دلته له مرشده منظور د اخوان د جماعت عمومي رهبر دی چې د دغه انحصاري لقب څښتن دی او په نورو هېوادونو کې د اخوان سیمه ییز رهبران حق نه لري چې ځان په دې لقب ونوموي. هغوی زیاتره «مراقب عام» یعنې عمومي ناظر بلل کېږي.

د مرسي له واکمنۍ سره د مخالفانو د حساسیت وجه دا وه چې ګواکې ده د پردې تر شا د مصر د ولسمشر رهبري په لاس کې درلوده او ولسمشر د دې پر ځای چې ولس ته ځواب ووایي، ده ته ځواب ویلو ته ژمن و. هغو ډلو ته چې په هېواد کې یې دیموکراتیک نظام غوښت، د قدرت د ثقل په مرکز کې دا دوه ګونیتوب له تناقضه ډک او د نظام د دیموکرات کېدو په لاره کې جدي خنډ ښکارېده.

دا اندېښنه له هغه ځایه راولاړه شوې وه چې د اخوان له نظره له مشروع رهبرۍ سره بیعت، په دیني واجباتو کې حسابېږي او له هماغه شېبې چې بیعت کېږي، د رهبر اطاعت د شرعي واجب حیثیت غوره کوي چې اخروي ثواب او عقاب له ځان سره رانغاړي. د سازمان په منځ کې رهبري د مراتبو مختلفې سلسلې لري خو مرشد یا عمومي رهبر بیا تر ټولو لوړ او ځواکمن مقام وي. هغه ته د دې سېمبولیک لقب مختص کېدل، دا مانا لري چې نه یوازې د مصر په کچه، بلکې به ټوله نړۍ کې یوازې یو کس په اخوان کې دا مقام لرلای شي. په دې سازمان کې مرشد د طالبانو د «امیر المومنین» او د ایران په ولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقیه کې د «ولي امر مسلمین» ته ورته مقام دی. له مصره پرته په نورو هېوادونو کې د اخوان سیمه ییزې څانګې «عام مرشد» د یوازیني عمومي/ نړېوال رهبر په توګه مني. څنګه چې دې مقام ته د رسېدو لپاره لازمه نه ده چې منتخب کس دې په علمي – تیوریکي لحاظ تر ټولو بر وي نو د هغه مقام فقهي – نظري اړخ نه لري چې معنوي رهبر وګڼل شي (دا اوسنی مرشد وتړنر دی)،، بلکې دا مقام مشخصاً سازماني او تشکیلاتي بڼه لري چې د عمومي بهیر څارنه کوي. د اخوان پلویان، له عام مرشد سره بیعت، هغه که نېغ په نېغه وي که سیمه ییزو رهبرانو ته د بیعت له لارې، له مشروع رهبرۍ سره د شرعي بیعت د واجب ترسره کېدل ګڼي.

بیعت هغه مفهوم دی چې د پخوانۍ نړۍ له سیاسي – ټولنیزو مناسباتو زېږېدلی دی او له اوسني عصر سره چې رازونه په کې راسپړل شوي دي، اړخ نه لګوي. په پخواني پلارواکي نظم کې به پلرونو او سپین ږیرو یو ډول اسطوره یي اقتدار درلود او کله چې دوی یو څوک د رهبرۍ مقام ته غوره کاوه، د هغه اطاعت به الزامي ګڼل کېده او د هغه شخصیت به د ډېرو وګړو په نظر له برم او پرتمه برخمن و. دا مفهوم د هاغه مهال له نړۍ لید سره جوړ و او له یوه منلي کس سره د قبیلې د مشرانو بیعت کولای شول چې د ټولنې نظم او نسق سمبال کړي.

په نوې نړۍ کې دا ډول مفاهیم یو مخ بدل شوي دي. په پرمخ تللو ټولنو کې رهبرانو خپل قدسیت له لاسه ورکړی او د قدرت په معاملو کې د اخروي ثواب او عقاب د اندېښنې پر ځای د دې دنیا د ګټې او تاوان خبره مطرح وي. په دې نوي سیاسي – ټولنیز ډګر کې وګړي غالباً په مستقیمه توګه د رهبرانو په غوراوي کې برخه اخلي او هغوی خپل خدمتګاران بولي او که چېرې د رهبرانو له کاره خوښ نه وي، د لرې کولو حق یې له ځان سره خوندي ساتي. د دې دور سیاسي ادبیات له میتافیزیکي بُعدونو تش شوي دي. نتیجه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې که د یوه ګوند غړی هر کله چې وغواړي کولای شي د ګوند له غړيتوبه لاس په سر شي، پرته له دې چې دا کار ګناه وګڼي.

سیاست او عمومي حوزې ته دا لیدلوري که په عمل کې د ډلو ترمنځ دښمنی نه دي ختمې کړې، په نظري لحاظ يې د بل منلو او کثرتپالنې ته لاره هواره کړې ده. له قدرت او سیاسته د میتافیزیکي اړخونو له لرې کېدلو سره، د حق او باطل د تقابل ځای د خطا او صواب تقابل نیولی دی. په دې سیستم کې څوک حق نه لري چې ځان یو مخ حق او بل باطل وښيي. په دې بڼه له یوه سیاسي – ټولنیز جوړښت سره تړون، د پخوانی زمانې له بیعت سره ماهیتي توپیر موندلی دی.

د اسلام په تاریخ کې بیعت مختلفې بڼې لرلې دي. د بیعت تر ټولو مهمه بڼه هغه وه چې خلکو او غالباً د قبیلو رییسانو به له منتخب یا منتصب خلیفه سره کاوه. د بیعت کېدونکي کس تر ټولو مهمه ځانګړنه دا وه چې هغه به د اجرایي قدرت داسې مقام خپلاوه چې کولای یې شول ټولنیز نظم خوندي کړي او د خلکو د سر او مال له خوندي کولو سره د هلو ګولو مخه ونیسي. د اکثرو مسلمانو فقیهانو په نظر دې ډول بیعت ته التزام، شرعي واجب ګڼل کېده ځکه چې د دې بیعت ماتول د ټولنې بې نظمی ته لاره هواروله، لکه په اوسنی نړۍ کې د یوه دولت راپرځېدل.

د بیعت بله بڼه چې عمومي به نه وه، د صوفیانو په منځ کې دود شوی بیعت و. د مسلمانانو په صوفیانه دود کې پیر/ مرشد د کامل انسان او د ولي الله په حیث ګڼل کېږي او مرید/ سالک باید په هره چاره کې د هغه اطاعت وکړي، ان که د هغه امر ظاهراً د عقل او شرع خلاف هم وي. (3) دغه بیعت سیاسي – ټولنیز اړخ نه لري او یوازې په شخصي سلوکیاتو پورې محدود وي او عمدتاً له هغو تعلیماتو سره یې سر وکار وي چې مرید یې باید د نفس د تزکیې او د اخلاقو د تهذیب په خاطر ترسره کړي. د مسلمانانو په تاریخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به کله کله ځینو ډلو د سیاسي – مذهبي یا سیاسي – ټولنیزو موخو سره هم له خپلو غړو څخه بیعت اخیسته چې دا کار به غالباً د واکمن سیاسي نظام په تقابل کې کېده خو په فقهي لحاظ به یې اعتبار نه درلود.

وروسته تر دې چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې عثماني امپراتوري، چې په سېبمولیک لحاظ په اسلامي نړۍ کې د قدرت تر ټولو لوړه مرجع وه، راوپرځېده، د هغو کسانو په باور چې سیاست ته به یې په پخواني نظر کتل، د قدرت یو ډول خلا رامنځته شوه او د هاغه وخت حاکمانو د دې خلا د ډکولو لپاره لازم مشروعیت نه درلود. تر دې مخکې هغو کسانو چې د بیعت پر واجبوالي یې باور درلود، د وخت د خلیفه منل به یې غالباً د دې واجب د ترسره کېدو لپاره کافي ګڼل. خو، دا ځل معلومه نه وه چې دا واجب به څنګه ترسره کوي.

د اخوان جماعت له لومړي سره د بیعت پر اساس رامنځته شو او تر ننه پورې دا دود په کې چلېږي. دا نه ده په ډاګه شوې چې دا بیعت له هغه معروف بیعت سره څه تړاو لري. په لومړي سر کې تصور دا و چې دا بیعت د صوفیانه بیعت بڼه لري او ان ویل شوي دي چې د رهبرۍ لپاره د مرشد نوم غوره کول هم له صوفیانه ادبیاتو اخیستل شوي دي. خو، ډېره موده نه وه تېره چې د بیعت مفهوم ته په بل نظر وکتل شول او ګڼې حاشیې پرې ولیکل شوې. د اخوان بنسټګر، امام حسن البنا ویلي دي: «په اخوان کې رهبري د قلبي رابطې په لحاظ لکه پلار، د علمي استفادې په لحاظ لکه ښوونکی، د روحي روزنې په لحاظ لکه شیخ، او د دعوت د عمومي سیاست په لحاظ لکه قوماندان وي.» دا خبره یې هم ورسره کړې ده چې بیعت کوونکی دې رهبرۍ ته د خپل اخلاص د اندازه لګولو لپاره باید وګوري چې: «د رهبرۍ اخلاص او کفایت باندې ډاډ لري؟ دې ته چمتو دی چې د رهبرۍ امرونه به– که د معصیت خبره په کې نه وي – په غوڅه توګه مني بې له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناقشه او شک وکړي یا یې کم یا زیات وبولي؟ دې ته چمتو دی چې په اختلافي اجتهادي مسایلو کې به خپل نظر خطا او د رهبرۍ نظر صواب وګڼي؟ دې ته چمتو دی چې خپل ژوند د دعوت په واک کې کېږدي؟ رهبري دا حق لري چې د دعوت عمومي ګټې د ده تر شخصي ګټو غوره وګڼي؟» (4).

د اخوان په ادبیاتو کې د بیعت مفهوم تر ډېرو کلونو پورې هماغسې ناسپړلی پاتې شو او نه د دودیزې فقهې پر اساس نه د مډرنو حقوقو او سیاسي علومو له نظره، وربانديې بحث وشو. خو، وروسته بیا د دې غورځنګ دوو مهمو تیوریسنانو سعید حوي او مصطفی مشهور وویل چې د عثماني خلافت تر راپرځېدو لږه موده وروسته د اخوان د جماعت جوړېدل په دې غورځنګ کې د خلافت د تداوم مانا لري او دا د خلافت د احیاکولو یوه هڅه ده.(5) که داسې وي نو د اسلامي خلافت په نه شتون کې د اخوان له رهبرۍ سره بیعت به له مشروع خلیفه سره د بیعت ځای‌ناستی وي. په تېره بیا په دې چې د اخوان په موخو کې د یوه نړېوال اسلامي خلافت جوړول هم شامل دي. بنایي همدا خبره به وه چې کله اخوان د خپلواکو افسرانو له نظام سره ولوېد او جمال عبدالناصر د اخوان مشر حسن هضیبي ځکه له مشروعیته بې برخې وباله چې ډله یې د حکومت له خوا منحل شوې وه خو هضیبي ورته وویل چې دی یوازې د مصر د اخوان د جماعت رهبر نه دی، بلکې په ټولو هېوادونو کې د اخوان د نړېوال جماعت رهبر دی چې ناصر یې له منحلولو عاجز دی. (6)

د اخوان جماعت په دوو وروستیو لسیزو کې هڅه کړې ده چې ځان مډرن سیاسي ادبیاتو ته ورنژدې کړي. د دیموکراسۍ منل د همدې هڅو په ډله کې راځي. خو، څه چې لا تراوسه هم مبهم دی، دا دی چې اخوان واقعاً تر یوه تکتیکي شعار ورهاخوا پر مډرنې دولتوالۍ باور پیدا کړی او د اوسني عصر د سیاسي ادبیاتو تومنه یې خپله کړې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مصر د اخوان د حاکمیت په ورځو شپو کې به منتقدانو ویل که داسې وي نو د مرشد خبره او مقام به څنګه شي چې لا هم له خپلو پیروانو بیعت اخلي؟ په اخوان پورې تړلی د مصر ولسمشر لا هم مجبور دی چې له مرشد سره بیعت ولري او د هغه اطاعت وکړي؟ که داسې وي نو له هغو خلکو سره به یې تړاو څرنګه وي چې ده ته یې رایه ورکړې او څرنګه به هغوی د خپل مشروعیت تکیه وګڼي؟  که مرشد ولسمشر له خپل اطاعته معاف کړي (څرنګه چې تر انتخاباتو مخکې یې دا ژمنه کړې وه) نو د اخوان د هغه نورو غړو حکم به څه وي چې په دولتي مقامونو کې ګومارل کېږي، هغوی به د کوم مرجعیت اطاعت واجب ګڼي؟ دا چې مرشد د انتخاباتو په صندوق کې خپله رایه اچوي، د بیعت معادل او د اطاعت مستلزم نه وي؟ که داسې وي نو په عین وخت او عین ځای کې دوه بیعته چې دواړه یې د قدرت په مسأله کې دي، څرنګه تفسیرېدای شي؟ لا مهمه خبره دا چې په فقهي لحاظ کله چې د جماعت یو غړی د هېواد د اجرایي قوې په سر کې راشي نو بیا له مرشد سره د ده بیعت څه مانا لري، ځکه چې هغه د ده په شان واکونه نه لري؟ که له مرشد سره بیعت معنوي اړخ ولري او د قدرت له جوړښت سره تړاو نه لري نو بیا د معنوي او سیاسي چارو تر منځ برید څرګند شوی دی؟ او دا برید د دین او حکومت د بېلوالي بڼه لري؟ په حقوقي لحاظ دغه پیچلی او تر یوه بریده متناقض وضعیت تر ډېرو نورو پوښتنو لاندې هم راوستی شو چې د اخوان جماعت له درنو نظري او عملي ننګوونو سره مخ کولای شي.

داسې نه ښکاري چې اخوان دې تر اوسه پورې د دې قضیو په اړه خپل دریځ څرګند کړی وي او په تېره بیا په تیوریکي لحاظ دې یې د هغوی څېړلو او سپړلو ته ملا تړلې وي ځکه چې دا کار په مدرني نړۍ پورې تړلي د نویو سیاسي ادبیاتو تولیدول غواړي. هغه مفاهیم چې په بل عصر او په متفاوتو سیاسي – ټولنیزو مناسباتو کې خلق شوي دي، نن که د خطابې لپاره د استفادې وړ هم وګڼل شي خو په عملي ډګر کې به له سختو ستونزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره شي او له دې کړکیچه وتل یوازې په دې کېږي چې فکرونه نوي شي ان که دا کار د جوړښتونو د ماتېدو سبب هم شي.

## اخوان په افغانستان کې

څنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، اخوان المسلمین نړیوال سازمان دی. د اخوان له جوړېدو لس کاله وروسته، په 1938 کې چې د دې غورځنګ پنځمه عمومي کنګره جوړه شوه، د ستراتېژۍ عمومي کرښې یې وټاکل شوې چې پر جغرافیایي پولو نه باور او د نړیوال اسلامي حکومت د جوړولو اړتیا هم په کې یاد شوي وو. (7) څو کاله وروسته د تېرې پېړۍ په څلوېښتمو کلونو کې د دې غورځنګ د خپرېدو څپې تېزې شوې او پر دې سربېره چې د مصر په ټولو کلیو بانډو کې یې دفترونه پرانیستل شول، په قاهره کې یې په مرکزي دفتر کې د بهرنیو اړیکو څانګه جوړه شوه چې له اسلامي نړۍ سره اړیکي جوړ کړي او د هر اسلامي هېواد لپاره یوه څانګه په کې جوړه شوه. وروسته بیا په ځینو عربي هېوادونو کې د دې غورځنګ څانګو په کار پیل وکړ. خو، افغانستان لا ورسره نه و یوځای شوی او د دې هېواد له څو تنو ځوانانو پرته نور چا له اخوان سره اړیکي نه لرل. تر ټولو مشهور کسان چې هغه مهال یې له افغانستانه له دې غورځنګ سره اړیکي لرل، د مجددي د کورنۍ محمد صادق او محمد هارون وو.

دوه لسیزې وروسته، په شپېتمو کلونو کې چې د افغانستان او مصر تر منځ دوه اړخیز تړون وشو او ځینې افغان محصلان د زده کړو لپاره د مصر پوهنتونونو او عمدتاً الازهر پوهنتون ته واستول شول، لا نور افغان ځوانان له اخوان سره اشنا شول او افغانستان ته د دې ایډیالوژۍ د لېږدولو زمینه یې برابره کړه. سره له دې چې په دغو کلونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان اصلي سته د قهرجنو او پراخو څپلو په وسیله له کاره لوېدلي وه خو لا یې هم د مصر په مذهبي طیفونو کې داسې پلویان لرل چې اخوان ته د لېوالو کسانو اړتیاوې ورپوره کړای شي. هغه مشهور افغان محصلان چې په دې کلونو کې یې له اخوان سره تمایل پیدا کړ، غلام محمد نیازی، برهان الدین رباني او عبدالرسول سیاف وو چې وروسته همدوی په افغانستان کې د اسلامي غورځنګ رهبران شول، سره له دې چې د قراینو پر اساس دوی د اخوان جماعت له هر اړخیزو او سیستماتیکو روزنو نه وو برخمن شوي. ظاهراً څه چې دا کسان یې د اخوان مفکورو ته لېواله کړي وو، هغه تحولات وو چې په افغانستان کې په کراره پېښېدل او د کلیوال او ښاري ارزښتونو تر منځ تقابل یې رازېږاوه. له دې تحولاتو سره غبرګ د نوپالنې ځینې مظاهر چې په دودیزو ټولنو کې د منلو وړ نه ښکارېدل، په ټولنه کې عامېدل او ورسره لومړني چپي یا لېبرال ګوندونه او سیاسي ډلې رامنځته کېدل.

یوه لسیزه وروسته بیا کله چې د افغانستان ملتپال ولسمشر سردار محمد داوود د ځوانو مسلمانانو له غورځنګ سره وران شو او د دولت پر ضد د دې غورځنګ تر ناکامې کودتا وروسته یې د غورځنګ د پلویانو څپلو ته ملا وتړله، د دوی تښتېدلو مشرانو د اخوان له ځینو نورو کسانو سره چې په دې وخت کې د سعودي پاچا ملک فیصل په برکت، په سعودي کې ازاد ګرځېدل او محترم ګڼل کېدل، اړیکي ټینګ کړل او د مصر له اخوان سره یې اړیکي وشلېدل.

پر افغانستان د سره پوځ برید او د هغه پر ضد پراخه جګړه چې د ساړه جنګ په دوران کې د اوښتون مهم ټکی دی، څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، ګڼ یې عواقب لرل او په دې جمله کې د ګڼو مذهبي ډلو منځته راتلل هم وو چې دا ځل یې د عربي او اسلامي هېوادونو له مستقیم یا نامستقیم ملاتړ سره میدان ته راودانګل. د دې دورې په تحولاتو کې یو تحول دا و چې د افغانستان د جهادي ګوندونو اړیکي هم په مصر کې د اخوان له مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفتر سره او هم په نورو هېوادونو کې د دې غورځنګ له څانګو سره ټينګ شول. دې وخت کې په مصر کې اخوان بېرته د فعاليت ډګر ته راوتلی و.

د دې کار يوه پايله دا وه چې د افغانستان په اسلامي غورځنګ کې تر ملي تمايلاتو ها خوا انټرنشنليزم لاره وکړه چې دا غورځنګ يې د نړۍ له زياتو اسلامي ډلو سره ونښلاوه او د هغوی د مفکورو او تيوريو د جذبولو لاره يې هواره کړه. هم د اخوان د تيوريو جذب ته زمينه برابره شوه او هم د نورو سازمانونو لکه الجهاد الاسلامي سازمان چې د مصر له اخوانه بېل شوی او د چټکو او تاوتريخجنو بدلونونو غوښتونکی و. په پېښور کې د افغان مهاجرانو د مېشتېدو کلونه، د اخوان د خپل منځي فعل او انفعالاتو د غښتلتيا کلونه هم وو چې ګڼې پايلې يې لرلې. ځينې هغه ځوانان چې په دې کلونو کې يې مذهبي زده کړې وکړې، د توندلارو جماعتونو تر اغېزې لاندې راغلل او وروسته د طالبانو او القاعده سرتېري ځنې جوړ شول. ځينو نورو يې بيا د جهادي ګوندونو په وړاندې انتقادي دريځ ته تمايل پيدا کړ خو له لېبرال دريځه نه،، بلکې له اورتودوکسي مذهبي دريځه. په حقيقت کې د افغانستان د اخوانيانو دويم نسل په همدې دوره کې وزېږېد. دا نسل د مصر او عربي نړۍ اخواني غورځنګ ته يوازې په سېبموليک نظر نه کتل، بلکې د هغوی مفکورې او پيغامونه يې په لا زياته تلوسه جذبول او د افغاني ټولنې په بدن کې يې ورپېچکاري کول.

څومره چې د افغانستان د اخوانيانو لومړی نسل په سيمه ييزو او نړيوالو لانجو کې بې واکه کېدل، هماغومره دغه نوی نسل چې له پخوانو سرلارو يې خپله لاره بېله کړې او ځان ته يې له پولو هاخوا نور مشران غوره کړي وو، سختې هلې ځلې کولې چې دلته د اخوان د اصلي ميراثونو ساتونکی ځواک جوړ کړي.

د نوي نسل غړي سره له دې چې په يوه سازماني ليکه کې سره نه دي او له فردي فعاليته رانېولې د ګڼو بنسټونو تر جوړولو پورې يې مختلفې لارې په مخ کې نيولې دي خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه ییزو او نړېوالو مسایلو په اړه د ټولو هغو نظرونه سره ورته دي. خو د دې نسل کمزوري په دې کې ده چې داسې مهمې څېړې په کې نشته چې په تیوریکي لحاظ یا د سیاسي – ټولنیز فعالیت په لحاظ په ملي او سیمه ییزه کچه مطرحې وي. د همدې کمزورۍ په وجه دې نسل تل هڅه کړې ده چې د خپل مشروعیت لپاره د بهرنیو سازمانونو تایید خپل کړي لکه د مصر د اخوان غورځنګ او ښایي د پاکستان د جماعت اسلامي تایید. په همدې وجه دوی مجبور وو چې په خپلو بحثونو کې دغو بهرنیو سازمانونو ته د مرجعیت مقام ورکړي.

سربېره پر دې، دا چې لومړی نسل په هغه څه کې پاتې راغلی و چې له خلکو سره یې ژمنه کړې وه او د افغانانو په ټولیز ذهن کې د دوی تجربه ناکامه ثبت شوې وه نو دویم نسل تل هڅه کړې ده چې په نورو هېوادونو کې د اسلامي سازمانونو بریاوې لوی وښيي چې دا عیب وربانديې جبیره کړي. البته دوی د اسلامي سازمانونو پر ناکامیو یا خو سترګې پټوي یا یې بل ور ښيي، مثلاً په سودان کې د دوی شل کلنه ناکامه حکومتولي یا په افغانستان کې د مجاهدینو او طالبانو واکمني.

**ښه وځلېد خو عمر یې لنډ و**

په 2012 کې د مصر په ولسمشریزو انتخاباتو کې د اخوان بریا او تر اتیا کلن ځنډ وروسته قدرت ته رسېدل، هغه هم په داسې هېواد کې چې د اخوان د زېږېدو ځای او تر ټولو مهم عربي هېواد ګڼل کېده، یو لوی بدلون و چې ګڼې محاسبې یې دړې وړې کړې، هم په نورو اسلامي هېوادونو کې د دې بهیر د پلویانو په منځ کې او هم د هغه د کورنیو او بهرنیو مخالفانو په منځ کې. د اخوان د پلویانو ته دا بریا د دوی د حقانیت ننبه ښکارېده او د تبلیغاتو لپاره یې په درد لګېده چې خپل ملګري لا زیاتو هڅو ته وهڅوي. ایډیالوژیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیرونه چې د داسې پېښو له قضیو او عاملونو سره انتخابي چلند کوي، هغه نور عاملونه یې له پامه وغورځول چې په دې بریا کې یې نقش درلود، لکه د مصر د تېرو مستبدو حکومتونو ناکامی، د تعلیم یافته طبقې وده، د ښاریانو د توقوعاتو زیاتېدل، په وروستیو کلونو کې په سیمه ییزو چارو کې د مصر د نقش تتېدل، او ګڼ نور عاملونه. دوی یوازې د قضیې پر ایډیالوژیک اړخ باندې تکیه کوله او هڅه یې وکړه چې د مصر د پېښو پېښې وکړي.

د مصر په دننه او بهر کې د اخوان پلویانو ته دا تصور پیدا شو چې دا هېواد به تر دې وروسته د ام القرا په شان وي چې مرجع غورځنګ ورباندې واکمني کوي او مطلوب نظام به په کې جوړوي. دوی تمه لرله چې اخوان به ځان یوازې د مصر د ملي ګټو په چوکاټ کې نه ایساروي، بلکې د اسلامي دارالخلافه په شان به عمل کوي چې د انټرنشنلیزم دریځ یې مجسم شي. دوی تمه درلوده چې د مصر د دولت امکانات او وړتیاوې به د اخوان د ایډیالوژیک رسالت په چوپړ کې راشي. خو دغه ارماني بېړۍ ژر د سیاسي – ټولنیزو واقعیتونو له سختو کمرونو سره ولګېده. واقیعتونه دا وو چې په مصر کې پوځیانو، ګوندونو او مخالف سرلارو پیاوړی نقش درلود، مصر له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان و، د متحدو ایالتونو په مرستو او له پر مختللو هېوادونو سره په راکړې ورکړې پورې تړلی و، په مصر کې قبطي اقلیت اوسېده او داسې نور غټ او واړه عاملونه وو چې د مصر د نوي حکومت لاسونه یې ورتړلي وو او د خوځښت وړتیایي اقل حد ته راټیټه کړې وه.

له بلې خو ځینو نورو بنسټپالو ډلو لکه طالبان او القاعده چې له دیموکراتیکو لارو سره د اخوان له جوړ جاړی سره مخالفې وې او د دې ټولنو د ستونزو اساسي حل یې په وسله وال جهاد کې لیده، د دې بدلونونو هرکلی ونه کړ. څو کاله مخکې، هاغه مهال چې اخوان په مصر کې خپلې اویا کلنی ته رسېدلی و، د القاعده اوسني رهبر ایمن الظواهري د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان په نقد کې د «احصاد المر» په نوم یو کتاب ولیکه. په دې کتاب کې یې لیکلي وو چې دا لاره بې گټې ده. اخوان چې په مصر کې واک ته ورسېد، القاعده پرې خوښه نه وه او ویل یې چې په دې لاره د شریعت تطبیقول امکان نه لري او کله چې اخوان شریعت تطبیق نه کړای شي، حکومت یې اسلامي نه شو بللی. د سلفي ډلو ځینو برخو هم ورته نظر درلود.

هغو کسانو چې د مصر له سیاسي – ټولنیزو ستونزو سره اشنا وو، دا یې درک کول چې زیاتې تمې باید ونه لري او دا خبره یې لږ تر لږه د قوي احتمال په بڼه مطرح کوله چې په هغه ډېر ښه حالت کې به هم اخوان له هغې فاضلې مدینې څخه ډېر لرې وي چې خلکو ته یې زېری ورکړی و.

که د مصر اخوان المسلمین کولای شوای چې د ترکیې د اسلامپالو له نمونې استفاده وکړي، پر دې سربېره چې دا به د مصر او ټولو اسلامي غورځنگونو لپاره بریا گڼل کېدله، دا پایله به هم ورسره غوټه وه چې د دې عصر تر ټولو لوی اسلامي غورځنگ، سیاسي سیکولریزم او د قدسي او غیرقدسي حوزو تر منځ پوله په رسمیت وپېژني. دا به په دې مانا وه چې اخوان د خپل جماعت له هغه خورا اساسي تیوریکي اساسه تېر شوی او سره له دې چې دا به د سیاسي اسلام ځینو ډلو ته ترخه خبره وه خو کولای یې شول چې د رنسانس لپاره لاره پرانیزي، هغه رنسانس چې اسلامي ملکونه یې له مودو راهیسې انتظار کوي.

داسې بدلون به په اسانه رامنځته نه شي ځکه چې له یوې خوا فکري جسارت او لوړ اخلاقي جرأت غواړي او له بلې خوا هم د اخوان په منځ کې او هم له اخوانه بهر د سیاسي اسلام له نورو توندلارو سره لا سختې نښتې به ورپورې غوټه وې. او دا هغه څه دي چې تر دې دمه اخوان ځنې په ښنگ تېر شوی دی. خو په عمل کې لا د اخوان د حکومت له عمره یو کال نه و تېر چې په مصر کې د ناکراریو او اعتراضونو پراخې څپې راووتې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځیانو ته فرصت پیدا شو چې له موقع استفاده وکړي او حکومت نسکور کاندي او ډېرې هیلې له خاورو سره خاورې کړي.

### د دیموکراتیک ژوندانه ننګوونې

واک ته د رسېدلو په لومړۍ کلیزه کې د اخوان د حکومت نسکورېدل، په مصر کې او له مصره بهر ډېر خلک حیران کړل او ګڼې پوښتنې يې راولاړې کړې. پوښتنې هم د لیبرالو ډلو د کړنو په اړه وې، هم د مذهبي ډلو د انجام په اړه، هم د دیموکراسی د ګټورتوب او پر دیموکراتیکو لارو چارو د باور په اړه، هم په حکومت کې د پوځیانو د نقش په اړه.

د دې پېښې د دلیلونو او عاملونو په اړه مختلفو فکتورونو ته اشاره شوې ده، لکه په مصر او سیمه کې د متحدو ایالتونو نقش او نفوذ، د اخوان او لیبرالو ډلو تر منځ بې اعتمادي، تر انقلاب وروسته د مصر نازک اقتصادي وضعیت، له خطر سره د ځواکمن پوځ د ګټو مخامخ کېدل، د حسني مبارک د نظام د پاتې شونو هلې ځلې، او له دغو واقعیتونو سره د اخواني ولسمشر په معامله کې تېروتنې.

دا لیکنه غواړي پر دې موضوعاتو یو بل داسې عامل هم ورزیات کړي چې لږ پام ورته شوی دی او هغه په دیموکراتیک ژوندانه کې د اخوان بې تجربه ګي ده.

دیموکراتیک ژوندانه دوه مخونه لري: دننه او بهر. مانا دا چې که یو سازمان غواړي په عمل کې دیموکراسي وکاروي، باید هم د سازمان په دننه کې د دیموکراسي د پلې کېدو قواعد او اداب زده کړي او هم باید د هېواد او سیمې په سیاسي – ټولنیز ډګر کې له نورو اغېزناکو ډلو سره پر همدې لاره لاړ شي.

په داخلي کچه د دیموکراسي عملي کول رانه غواړي چې په پریکړو کې شفافیت ولرو، په پریکړو کې نور شریک کړو، او د یوه وګړي، ډلې یا ځانګړي نسل په لاس کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واک د راټولېدو مخه ونیسو. په بهرنۍ کچه دیموکراسي رانه غواړي چې له نورو ډلو سره د تفاهم زمینه برابره شي، په عمومي کچه ګډ ټکي مطرح شي او که چېرې د پردې شا ته خبرو اترو ته اړتیا وي نو باید اصل دا وي چې له ځینو استثنایي موردونو پرته به دا خبرې اترې ښکاره وي چې دواړه خواووې ورته ژمن او مکلف کاندي.

د اخوان داخلي جوړښت تر دې دمه دیموکراتیکه بڼه نه ده لرلې. په همدې وجه په عمومي ډګر کې دیموکراسۍ ته د التزام په برخه کې له بې اعتمادۍ سره مخ دی. مثلاً د اخوان په څه باندې اتیا کلنه تجربه کې، یوازې په څو وروستیو کلونو کې د عمومي رهبر په حیث د مرشد کاري دورې ته زماني محدودیت وضع شوی دی. دا کار هم وروسته له هغې وشو چې په اخوان کې دننه او له بهرهورباندې اعتراضونه زیات شول چې په دې یوویشتمه پېړۍ کې به دا څنګه ممکن وي چې یو څوک دې مادام العمر رهبر وي، هغه هم په داسې سازمان کې چې ځان د دیموکراسۍ مدافع بولي.

تر عام مرشد او د هغه تر دفتره وروسته بیا تر ټولو زیات واک د هغو کسانو په لاس کې دی چې د پخواني نسل خلک دي. دا چې د ځوانو غړو نقش تت او په حاشیه کې و، هر وخت به د اعتراض سبب کېده. ان تر دې څو کاله مخکې پورې هغه کسان چې د څلوېښتو او پنځوسو کلونو په منګ وو، د سازمان لوړو پوړیو ته له رسېدو محروم وو او د کښتنیو لیکو تر فشار وروسته، د متوسط عمر ځینو څېرو ته دا لاره هواره شوه.

په دې یو میلیوني جماعت کې د عام مرشد د غوراوي بڼه هم داسې ده چې عمومي رایې په کې هېڅ نقش نه لري ځکه چې دا رایه اخیستنه یوازې د رهبري شورا د دیارلسو غړو تر منځ کېږي او له دې کسانو څخه یو تن دې مقام ته غوره کېږي، سلګونه زره نور غړي له ترسره شوي کار سره مخ کېږي او هېڅوک دوی نه پوښتي.

نوی رهبر چې انتخاب شو، ټول مجبور دي چې نېغ په نېغه یا د سیمه ییزو مسوولانو له لارې له رهبر سره بیعت وکړي. بیعت چې شرعي صبغه لري، د رهبر انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تعقلي حالته تعبدي حالت ته لېږدوي او د جماعت غړي دا خپله شرعي وجیبه ګڼي چې د هغه د نظر په مقابل کې له خپل نظره تېر شي، د رهبر او د رهبري شورا پرېکړو ته د شرعي حکم په سترګه وګوري چې واجب الاجرا دی، ځکه چې مخالفت به د بیعت د نقض یا د تړون د ماتولو په مانا وي. د اخوان د تعلیماتو پر اساس، د جماعت له رهبرۍ سره بیعت له خدای او پیغمبر سره د بیعت په ادامه کې ځای لري او پرېښودل یا ورسره مخالفت یې شرعي ګناه ګڼل کېږي. د جماعت د رهبرۍ اطاعت د کلاسیکې پلارواکۍ بڼه لري چې د عام مرشد د لاس او تندي په ښکلولو او د هغه او نورو رهبرانو بې قید و شرطه اطاعت یې نښې دي. د دې جماعت ځینې خبرې چې په ځانګړو ایډیالوژیکو رسالو کې تدریسېږي، ټینګار کوي چې پر رهبرۍ به بې پوښتنې اعتماد کوئ او امرونه به یې منئ.

د یوه جماعت په تعلیماتو کې د داسې مفاهیمو ننوتل، پر پیروانو یې خاصې رواني اغېزې پرې باسي او د بیعت والو او نه بیعت والو تر منځ دېوال دروي. دا دېوال بیا مذهبي بڼه خپلوي او په ښاروندۍ او ملي مشترکاتو پورې تړلي مفاهیم یې په مقابل کې پیکه کېږي. په همدې خاطر کله چې له نورو سیاسي – ټولنیزو ډلو سره د تعامل خبره رامنځته کېږي، دیموکراتیک تعامل له ستونزې سره مخ کوي.

هغه ډله چې واک په کې په څو پړله پسې لسیزو کې د ځانګړو کسانو په لاس کې وي او د ډلې په دننه کې قدرت ازاد نه وي لېږدېدلی، دې ته به په اسانۍسره غاړه کې نه ږدي چې واک دې د ډلو په منځ کې سره تبادله شي. ځکه خو په دولت کې د مختلفو بنسټونو تر منځ د قوا تفکیک د منلو نه وي او په همدې وجه اخواني ولسمشر د خپل حکومت په لومړي کال کې هڅه وکړه چې د مقننې، قضایې او پوځ واکونه خپل کاندي. حال دا چې له نولسمې میلادي پېړۍ راهیسې د مصر سیاسي سرلارو د قواوو د تفکیک موضوع لږ تر لږه په نظري لحاظ منلې ده او اجماع په کې راغلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیان د ازادۍ، رسنیو او د مختلفو لیدلوریو طرح کول هم همداسې دي. د اخوان داخلي تجربه بیا دا وه چې د لیکو وحدت هر وخت د اخوان د نظر د یووالي او د ګڼو نظرونو د مخنیوي لپاره دلیل یا بهانه ګرځېدلی و. تر دې حده پورې چې ان که د رهبرۍ د شورا د کوم غړي نظر به د سازمان له رسمي او مسلط نظر سره په ټکر کې راغی، هغه مجبور و چې د شورا غړیتوب پرېږدي.

دا میتود که د یوه تړلي او هرمي شکله سازمان په دننه کې ګټور هم وي، د مصر په څلوراتیا میلیوني ټولنه کې چې ګڼ دینونه، مذهبونه، تمایلونه، او سلیقې لري او د ډلو، سیمه ییزو او نړېوالو ګټو د تضاد خبره په کې مطرح وي، هېڅ کار نه شي کولای.

اخوان چې په پر له پسې لیسزو کې یې پټ فعالیت درلود او ازاد مدني ژوند یې نه و تجربه کړی، د مبارک تر راپرځېدو وروسته چې په هېواد کې سیاسي فضا خلاصه شوه، هغه نوي زده کوونکي ته ورته و چې نوی نوې الفبې زده کوي. په دې شرایطو کې اخوان دې ته اړتیا درلوده چې د ازاد ژوند او له نورو ډلو سره د ګډ ژوند تمرین وکړي. باید یې په کثرتواله ټولنه کې د ژوندانه یو جدي پړاو له ټولو خوړلتونو او تریخوالو سره تر شا پرېښی وای چې د نورو له زغملو سره روږدی شوی وای.

د اخوان په چارو کې تیوریکي کمزورۍ سبب شوه چې دا ډله د ګډ دیموکراتیک ژوندانه او تکیتکي جوړجاړي په توپیر پوه نه شي. اخوان له پوځ، حزب وفد او سلفیانو سره مصلحتګر تعامل له همزیستۍ سره یو شان وګاڼه. د اخوان لپاره تر ټولو غوره کار دا و چې دې وخت کې له تېرو پېښو سبق زده کړي او یوازې د حکومت د قبضه کولو په فکر کې ونه اوسي،، بلکې له واقعي دیموکراسي او ازادۍ ملاتړ وکړي چې بیا هېڅ ځواک ونه شي کولای د خلکو ازادي ورنه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دې کار یوه لیسزه وخت هم نیولی، پروا یې نه کوله څکه چې اخوان کولای شول په دې موده کې په ټولنیز ډگر کې خپل حضور زیات کړي او نوی ژوند تجربه کړي چې نور د نظامي محاکمو او ځپلو له خطره بچ شي.

په حقیقت کې اخوان د وتلو داسې دورې ته اړتیا درلوده چې له پټ او ځپلي حالته ازاد او څرگند فعالیت ته وځي. اوس هم دا اړتیا ورته شته. دې سره اخوان کولای شول ځان ته خپل ځواک او کمزوري ټکي رامعلوم کړي او په داسې جنجالي سیمه کې د سیاست او په ازاده ټولنه کې د اوسېدو لپاره لازم تمرینونه وکړي، همدارنگه له نورو ملي ځواکونو سره د تفاهم لاره خپله کړي او خپلې هغه خبرې یوې خوا ته کېږدي چې له نورو څخه د کرکې د پارولو لپاره وې. باید یې د نورو اعتماد خپل کړی وای او پر نورو یې اعتماد کړی وای.

**تور او سپین که خاکستري؟**

**اخوان المسلمین د نړۍ د همدې سیمې په شان چې شرق، درېیمه نړۍ یا اسلامي نړۍ بلل کېږي، له بدلونونو ډک تاریخ لري چې کله کله درد او شکنجه هم ورسره وو. وجه یې هم د دې سیمې متناقض وضعیت او هم د اخوان خپلې مفکورې وې. ځینې دا ډله د پرستش تر بریده ستایي او ځینې یې بد ایسوي.**

هغه کسان چې دا ډله خوښوي، ټول غواړي د مسلمانانو له لاسه تللی اعظمت اعاده شي، بېرته اسلامي خلافت رامنځته شي او د خو تېرو پېړیو ماتې او نیمگړتیاوې جبران کړي. د دوی په باور دا کار اخوان کولای شو او که اخوان پر رقیبانو او مخالفانو بر شي، دغه ارمان به یې پوره شي. دوی د اخوان دښمنان د اسلام دښمنان گڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې د دې غورځنګ مخالفان دي بیا وایي چې مذهبي تعصبونه، دیني تونډلاریتوب او فاشیزم د اخوان کارونه دي چې د اسلام تر نقاب لاندې یې کوي. دوی فکر کوي چې د اعتدال شعار یوازې یو تکتیک دی او که اخوان غوڅه بریا خپله کړي، ټولنه به بیا منځنیو پېړیو ته بیایي. د دوی په نظر په ایران، سودان، افغانستان او نورو ځایونو کې د دیني نظامونو ټول منفي کارونه د همدې اخوان فکري محصولات دي او القاعده، الجهاد او نورې ډلې د اخوان له ایډیالوژۍ رازېږېدلي دي.

ښکاره ده چې د دواړو لوریو پر لیدلوریو د تور یا سپین یا مطلقپاله فکر حاکم دی. یو لوری اخوان پاکه، ښکلې او ژغورونکې پرښته ګڼي او بل لوری ورته د داسې ورانکاري شیطان په سترګه ګوري چې تر نقاب لاندې یې ځان پټ کړی دی. خو داوړو لوریو دا خبره هېره کړې ده چې اخوان هم د نورو انساني ټولنو په شان یوه انساني ډله ده چې خپلې خوبۍ او بدۍ دواړه لري.

اخوان په خپلو عملي پروګرامونو کې د دیني روزنې تر څنګ، ټولنیز خدمتونه، فرهنګي او فکري روزنیز فعالیتونه او خیریه پروژې هم لري او پلویان یې له همدې زاویې ورته ګوري. خو له بلې خوا د دوی پر سیاسي دریځونو، د روزنې پر میتودونو او ایډیالوژیک جوړښت باندې نیوکې کېږي او مخالفان یې همدې اړخ ته ځیر دي.

دا مقاله نه غواړي د دواړو لوریو ترمنځ قضاوت وکړي، بلکې غواړي د هغو عواملو یوه برخه راوسپړي چې د اخوان د راپرځېدو سبب شو.

د لیکوال په باور، له اخوان سره د موافقت یا مخالفت خبره یوې خوا ته، خو له دغو تحولاتو درس اخیستی شو.

## د قدسي او دنیوي پدیدو تر منځ پوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې قضیې د ژورو ریښو د سپړلو لپاره مجبور یو بحث له یوه تیوریکي ځای څخه راپیل کړو. د اخوان د سرخوږیو یو عامل دا دی چې قدسي او دنیوي عناصر سره ګډوي. د ډېرو متدینانو په باور د دین اصلي رسالت دا دی چې دا ژوند د اخرت لپاره برابر کړي او که دین د دنیوي چارو لپاره ځینې لارښوونې هم لري، هغه ضمني دي او غواړي چې انسان ته اخلاقي ژوند وروښیي خو دنیوي چارې باید د متدین انسان د فعالیتونو محور نه وي. په بله وینا انسان د دنیوي ژوند د سمبالولو لپاره دین ته چندانې اړتیا نه لري ځکه چې که په هر دین کې اوسي یا بیخي بې دینه وي هم، خپل دنیوي ژوند ښه کولای شي. حال دا چې د ژوند معنا، د خلقت مقصد، د هستی په نظام کې د انسان مقام، په اخرت خبرېدل او داسې نور ستر مفاهیم یوازې د دین په وسیله ترلاسه کېدای شي.

په دنیوي چارو کې ثروت او قدرت تر ټولو هغه مهم عناصر دي چې دیني خلوص وربانديې معلومېدای شي. نه یوازې د مسلمانانو په منځ کې، بلکې د نورو ادیانو په پیروانو کې هم، تقوا او پاکي د دینداری عمده محکونه ګڼل کېږي.

د دې مانا دا نه ده چې متدین دې ترک دنیا کړي، بلکې مطلب یې دا دی چې قدرت او ثروت باید د متدین انسان اصلي هدف نه وي. البته چې متدینان کولای شي د خپلو فردي یا ټولنیزو اړتیاوو په وجه تجارت او صنعت ته مخه کړي او د نورو انسانانو غوندې د خپلې دنیا د ابادۍ فکر وکړي خو شرط یې دا دی چې اول خو دې دا کارونه د دیني چارو په څنګ کې نه دروي او مذهبي واجب یې ونه ګڼي، دویم د اخرت او معنوي چارو فکر دې تر ټولو کارونو ورته مهم وي.

که څوک په دنیایي چارو کې ښه بریالی وي مانا یې دا نه ده چې دینداري یې هم هماغومره ښه ده. د ثروت او قدرت د ګټلو ځینې متعارفې قاعدې شته او هر چا چې دغه قاعدې ښې یادې کړې، زیاته بریا به خپله کړي. خو که څوک په دې رقابت او سیالي کې له دینه کار اخلي او قدسي چارې په دنیوي چارو کې ګډوي، د خلکو اندېښنه راپاروي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې وجه اکثره خلک ان هغه خلک چې د دین پر اصل باندې باور هم لري، دا نه مني او له سیاسي شوي دین څخه ډارېږي. اندېښنه یوازې دا نه وي چې له دغو کسانو سره څوک رقابت نه شي کولای ځکه چې قدسي وسله په لاس کې لري، بلکې خپله د دیندارانو اندېښنه دا وي چې د سیاسي دین متاع به اصلي وي که نقلي.

که خبره ساده کړو، مثلاً د انتخاباتو په برخه کې یو ګوند راځي او د خلکو د ژوند د ښه کولو په اړه خپلې متعارفې طرحې وړاندې کوي او هڅه کوي چې خلک قانع کړي. خو بله ډله داسې شی رامخته کوي چې په عادي روشونو یې د ارزولو امکان نشته. دوی غواړي د دین په نامه واک ته ورسېږي او خلک یې باید ځکه ومني چې دوی د دین استازي دي. په دې صورت کې د لوبې قواعد له منځه ځي.

په مصر کې د اخوان المسلمین تجربه سیاسي ډګر ته د دین په نامه د وردانګلو ښکاره نمونه ده. اخوان له څو لیسزو راهیسې د «الاسلام هو الحل» له شعار سره په انتخاباتو کې برخه اخیستې ده او رایه ورکوونکي یې په داسې دوه لارې کې درولي دي چې یا دې اسلام انتخاب کړي یا غیراسلام. اکثره هغه خلک چې د اسلام په اړه یې علمي معلومات کم دي، ګومان کوي چې که مجبور اوسو د خپلې ټولنې د ستونزو د حل لپاره د اسلامي او غیراسلامي ترمنځ یوه لاره غوره کړو نو اسلامي به یې غوره کړو. ډېر خلک ګومان کوي چې همدا کافي ده چې پر یوې تګلارې د اسلامي لارې نوم کېښودل شي چې هرڅوک بیا ورنه دفاع او ورته تبلیغ وکړي.

همدا ټکی د اخوان لپاره له پیله تر اوسه پورې هم د قوت ټکی پاتې شوی دی، هم د کمزروۍ. د قوت ټکی په دې دی چې اکثره مذهبي خلک همدا چې د اسلام نوم ورسره ویني، بې پوښتنې ګروېږنې یې هرکلي ته وردانګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل لوري کې هغه ډلې چې خامخا بې دينه يا د دين ضد هم نه دي او کېداى شي د ټولنې د ستونزو لا ښې حل لارې ولري خو يوازې په دې دليل چې د «الاسلام هو الحل» د شعار پر وړاندې درېدلې دي، غيراسلامي ګڼل کېږي او خلک ورنه مخ اړوي.

کله چې په دې دنيوي چاره کې د دين قدسي عنصر کارول کېږي، رقيبان ورسره سيالي نه شي کولاى او بيا نو د رقيبانو کرکه راپارېږي او سيالي په دښمنى بدلېږي. اخوان په څه باندې اتو لسيزو کې همدا لاره وهلې ده.

## د تګلارې بدلون او د محاسباتو بدلون

کله چې اخوان په 1928 کې جوړ شو، د صوفي، تبليغي او نورو جماعتونو غوندې يې د ساده ديني جماعت بڼه درلوده ځکه خو چا ورسره ستونزه نه درلوده. خو کله چې په 1938 کې يې په خپله پنځمه کنګره کې خپله نوې تګلاره اعلان کړه چې سياست او قدرت ته وردانګل هم په کې وو، اندېښنې شروع شوې او يوه لسيزه وروسته چې په ځواکمن ګوند بدل شو، دښمني ورسره لازياته شوه.

د اخوان او مخالفانو تر منځ لومړنى ټکر په 1948 کې پېښ شو چې اول د مصر صدراعظم د اخوان د يوه افسر په لاس ووژل شو او لږ وروسته بيا د اخوان موسس او رهبر، حسن البنا د حکومت له خوا ترور شو.

اخوان له هماغه پيله مجبور و چې د هر بل سياسي ګوند په شان کله له رقيبانو سره ايتلاف وکړي او کله شخړه. په دې کې چا ورسره ستونزه نه درلوده خو په دې لوړو ځوړو کې څه چې د اخوان ځواک يې ډېراوه او هماغومره يې د نورو وېره او دښمني راپاروله، د دې سيالى ديني کول وو. کله چې يو څوک ځان د ديني تګلارې څښتن بولي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ته فوق العاده مشروعیت ورکوي او هماغومره د نورو مشروعیت ختموي او دا نو یو ډول د لوبې د پای اعلانول دي.

دا چې په اخوان کې خاص قوت لیدل کېده، د مصر د ازادو افسرانو له ډلې رانیولې، تر هیټلر (په دویمه نړیواله جګړه کې)، انګلیس او امریکا پورې د قدرت نورو اړخونو په کراتو دې ته زړه ښه کړی چې ورسره ایتلاف وکړي او د دوی په بریالي کېدو سره خپلو موخو ته ورسېږي. خو له دغو اړخونو سره دا وېره هم وه چې اخوان خو غیرمتعارفه وسله کاروي او د دې کار عواقب نامعلوم دي.

د دغو ایتلافونو یوه نمونه دا ده چې د سړې جګړې په پای کې او افغانستان ته د شوروي عسکرو په راتلو سره امریکا له اخوان سره غیرمستقیم ایتلاف وکړ. غرب او امریکا ډېرې پیسې لرلې خو داسې انساني ځواک یې نه درلود چې په دې جنګ کې برخه واخلي نو له اخوان سره ملګري شول.

اخوان ته هم دا زمینه برابره شوه چې تر دوه لسیزې ګوښه توب وروسته، نړۍ ته د پراخېدو هڅه وکړي. د اخوان رهبران کولای شول بهر ته سفرونه وکړي او په نړیوالو کنفرانسونو کې ګډون وکړي او علمي مرکزونو او پوهنتونونو ته ځانونه ورسوي.

په همدې کلونو کې د اخوان یو رهبر، کمال سنانیري پاکستان ته راغی او له ولسمشر ضیأالحق سره یې وکتل. وروسته د اخوان عام مرشد، محمد حامد ابوالنصر د اتو میاشتو په مخه پاکستان ته راغی. د اخوان بل وتلی غړی، عبدالله عزام ته دا فرصت پیدا شو چې په کراتو غربي ملکونو او امریکا ته سفر وکړي او پراخې ارتباطي شبکې رامنځته کړي.

خو نه غربیانو پر اخوان پوره باور کولای شو او نه اخوان پر غربیانو. اخوان غربیانو ته یوازې تر هغې پورې په درد لګېده چې له چپي رقیبانو سره یې وجنګېږي او افراطي مذهبي ډلې مهار کړي. تر دې ورهاخوا اخوان پخپله ورته رقیب و. همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوان هم غربیانو ته په بدبینۍ کتل او له هغوی سره یې یوازې تکیتکي ایتلاف مناسب ګاڼه.

د تعامل دغه بڼه په دنیوي او سیاسي چارو کې منل شوې او د لوبې یوه برخه ګڼل کېږي خو د دیانت او معنویت په نړۍ کې بیا له سختو پوښتنو سره مخ کېږي.

د انور السادات په دوران کې اخوان له حکومت سره یو ډول نااعلان شوی ایتلاف جوړ کړ چې چپي او ناصري ځواکونه خنثې کړي خو د کمپ ډیوډ تر تړون وروسته دا رابطه سسته او خرابه شوه. د حسني مبارک په وخت کې چې ځینو افراطي مذهبي ډلو خشونت ته مخه کړه او دولتي افسران او بهرني سیلانیان یې ووژل، اخوان هڅه وکړه له داسې کارونو ځان لرې وساتي او پر سوله ییزو فعالیتونو په ټینګار سره، د حکومت او خلکو په منځ کې خپل مشروعیت نسبتاً زیات کړي. حکومت نه دا خوښول چې اخوان دې د مذهبي بهیر په نامه د فعالیت پوره ازادي ولري او نه یې په ځپلو لاس پورې کاوه. حکومت غوښتل اخوان نه دومره پیاوړی شي چې حکومت راوپرځوي او نه دومره وځپل شي چې خشونت ته مجبور شي.

دې حالت درې لسیزې دوام وکړ او په دې ترڅ کې د مصر نوی نسل د دې ولاړ او غیردیموکراتیک نظام له لاسه تنګ شوی و او داسې فرصت ته سترګې په لاره و چې نظام بدل کړي خو اخوان او د مصر نورې سیاسي ډلې له دې کاره عاجزې وې، په همدې خاطر اکثره وګړي د هغوی خوا ته نه ورتلل.

### ترلې اوضاع او نه چندان مطلوب انتخابونه

**د سیاست په دې بنده لاره د اخوان او نورو ډلو لپاره یوازې محدود انتخابونه پراته وو چې هېڅ یو یې ورته مطلوب نه و. یو انتخاب دا و چې له غربي ځواکونو، په تېره بیا له**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**امریکا سره مذاکره وشي چې پر حکومت فشار راوړي او دې ستونزې ته د حل لاره راوایستل شي. د اخوان ځینو غړو چې بهر اوسېدل، هڅه وکړه چې دې مذاکراتو ته زمینه برابره کړي، مثلاً د حسن البنا لمسی، طارق رمضان چې اروپايي تابعیت یې درلود او له ټوني بلېر او ځینو نورو غربي مشرانو سره یې اړیکې ښې وې، یا په سوریه کې د اخوان رهبران چې له ځینو غربي ملکونو سره یې ښې اړیکې درلودې. د همدې هڅو په نتیجه کې د امریکا پلاوي مصر ته راغلل خو د حکومت له توند غبرگون سره مخ شول.**

بل انتخاب دا و چې له نظام سره خبرې اترې وشي. کله چې حسني مبارک خپل زوی، حافظ اسد، خپل ځایناستی وټاکه، ځینو سیاسي ډلو وسره کلک مخالفت وکړ خو اخوان ورسره په احتیاط وچلېد او د اخوان ځینو غړو له دې شي سره مشروطه موافقه وکړه. تصور دا و چې که د حافظ اسد د مسألې احتمال زیات وي نو بهتره به وي چې له هغه سره ښه روابط رامنځته شي چې واک ته تر رسېدو وروسته له دوی سره دښمني ونه کړي او کېدای شي دی پخپله نسبي تغییراتو ته لاره هواره کړي ځکه چې دی ځوان او د نویو شرایطو سړی دی. البته وروسته داسې پېښې وشوې چې هېچا ته د دې کار لپاره فرصت پیدا نه شو.

درېیم انتخاب دا و چې اخوان له نورو سیاسي ډلو او وتلیو څېرو سره ایتلاف وکړي او د اپوزسیون له دریځه په سوله ییزه توگه د تغییراتو د راوستو هڅه وکړي. په دې منځ کې تر ټولو مهمه څېره محمد البرادعي و. هغه چې په نړېواله کچه  ځلانده سابقه درلوده، مصر ته راغلی و او په صراحت سره یې د بدلون خبره کوله او دا یې هم ویل چې اخوان باید په نظام کې ونډه ولري.

اخوان چې ټول عمر ځپل شوی و او مجبور و چې پټ فعالیتونه وکړي، داسې مخفي جوړښتونه یې رامنځته کړي وو چې د هر ډول ځپلو تاب ولري. له بلې خوا اوس چې د ازاد فعالیت زمینه ورته برابره شوې وه، دا ورته سخته وه چې په مدرنو لارو له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي ډلو سره په ګډه فعالیت وکړي. دغه شي د اخوان په کار کې بل تناقض رامنځته کړی دی چې هم د اخوان د قوت ټکی دی، هم یې د کمزورۍ. ډېر خلک چې د اخوان د ایډیالوژۍ پر اصل باورمن هم نه دي، د هغه د ځواک په خاطر ورماتېږي او فکر کوي چې اخوان په دې منسجم ځواک سره تغییرات راوستی شي. خو له بلې خوا اخوان نه د سازمان په دننه کې او نه له سازمانه بهر دیموکراتیکه تجربه درلوده او دا یې خامي وه. دا مسأله د مصر تر انقلاب وروسته جوته ښکاره شوه.

د اخوان د خامۍ لومړۍ نښه هله څرګنده شوه چې د مصر ځوانانو د تونس له تحولاتو په الهام اخیستلو سره، مېدان ته راووتل او د تغییراتو غوښتونکي شول. خو اخوان باور نه درلود چې دا ډول اعتراضونه دې نتیجه ورکړي نو کرار کېناستل او کله چې دغو اعتراضونو دوام وکړ او پولیس یې له پښو وغورځول، اخوان هم راودانګل او له اعتراض کوونکو سره یوځای شول. دې کار خلکو ته دا سند په لاس ورکړ چې اخوان فرصت طلبه دی او هغې پلې ته ځان اچوي چې درنه وي.

هر رنګه چې و خو بدلون غوښتونکو ته دا مهمه وه چې نظام راوپرځېږي او له دې جنجاله خلاص شي نو هره ډله چې به ورسره یوځای کېدله، دوی ورته هرکلی ویل. هماغه و چې په څو ورځو کې مذهبي، سیکولرې، مسیحي او نورې ډلې له مظاهره چیانو سره یوځای شوې. اخوان له خپلو تېرو تجربو په استفادې سره د مظاهراتو په پراخولو او سمبالښت کې پوره ونډه واخیست او د اوښ سپرو د برید په مشهوره پېښه کې یې په کلکه دفاع او مقاومت وکړ.

### د نظام راپرځېدل او د دریځونو ابهام

کله چې د حسنی مبارک نظام نسکور شو، د هېواد واګې د پوځ لاس ته ورغلې. دې وخت کې اکثره انقلابي ځواکونه غوښتل چې پوځ دې ژر تر ژره څنډې ته شي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدني حکومت د جوړولو لپاره لاره هواره شي. خو اخوان د 1952 کال په څېر یو ځل بیا له پوځ سره د پردې شا ته معامله وکړه. د اخوان د عام مرشد د لومړي مرستیال، محمد حبیب په وینا پوځ غوښتل چې د تیت و پرکو ګڼو ډلو پر ځای له یوې منظمې ډلې سره معامله وکړي او اخوان په دې لحاظ تر ټولو غوره و. اخوان هم د تېر په څېر د دې پر ځای چې د مدني ډلو او ګوندونو تر څنګ ودرېږي، له ځواکمن پوځ سره جوړ شو.

اخوان پوهېده چې هم د مصر سیاسي – ټولنیزې ډلې ورسره حساسیت لري او هم هغه ځواکمن بهرني ځواکونه چې په دې وضعیت کې دخیل وو، په تېره بیا امریکا او اسراییل. نو په لومړي سر کې یې ادعا وکړه چې په سیاسي ډګر کې به د اخوان حضور محدود وي، د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې به کاندید نه ورکوي او په پارلمان کې به هم تر درېیمې یا څلورمې حصې زیاتې چوکۍ نه غواړي. دې سره اطمینان پیدا شو چې اخوان او مذهبي ډلې به د هېواد د سیاسي بهیر یوه برخه وي خو پر ټول واک به قبضه نه لګوي.

څو ورځې وروسته د اخوان د رهبرۍ هیأت یوه غړي، عبدالمنعم ابولفتوح اعلان وکړ چې د اخوان له خوا نه، بلکې د یوه سیاسي شخصیت په توګه به د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې ځان کاندید کړي. دی چې په ښاري سیمو کې د مډرنو نظریو د لرلو په وجه مشهور و او ښاري خلکو یې ملاتړ کاوه، تر دې پرېکړې وروسته د اخوان له رهبرۍ وایستل شو.

د اخوان له جماعته د ابولفتوح شړل، د اخوان په منځ کې توند غبرګونونه راوپارول. د اخوان ډېر غړي په دې باور وو چې دی ولسمشرۍ ته مناسب کس دی او د مډرنو مفکورو د لرلو په سبب خلک ورسره حساسیت نه لري نو د کامیابېدو چانس یې زیات دی او که په خپلو کارونو کې ناکام هم شي، د اخوان رنګ به ورباندې نه بدېږي ځکه چې د خپلواک نوماند په حیث انتخاباتو ته ځي، نه د اخوان د استازي په صفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوان رهبرۍ د خپلو غړو د قانع کولو لپاره وویل چې اوس په ملي او نړیواله کچه له اخوان سره حساسیت شته نو د اخوان هېڅ غړی باید ځان ولسمشرۍ ته کاندید نه کړي.

د دې خبر خپرېدل په نورو سیاسي ډلو کې دا نظر پوخ کړ چې اخوان نه غواړي ټول واک خپل کړي او د ستراتیژیک ملګري په شان ورسره جوړېدای شو.

کله چې په 2011 کې پارلماني انتخابات وشول، اخوان د خپلې ژمنې خلاف هڅه وکړه چې ډېرې چوکۍ خپلې کړي او هماغه و چې له سلفیانو او نورو مذهبي ډلو سره یې پارلمان تر خپل واک لاندې راوست. نورو انقلابي ډلو فکر وکړ چې اخوان د پارلمان په خپلولو سره غواړي قانون بدل کړي او د دیموکراتیک نظام پر ځای به مستبد نظام واکمن کړي. همدا و چې د پارلمان پر ضد هڅې وشوې او پارلمان منحل شو.

د ولسمشري انتخاباتو په نژدې کېدو سره اخوان خپله دویمه ژمنه هم ماته کړه او د اخوان د عام مرشد مرستیال، خیرت الشاطر یې کاندید کړ. دې سره اندېښنې او بدبینۍ زیاتې شوې او پر لیبرالو څېړو سربېره ځینې اسلامي څېرې لکه سلیم العوا، محمد حبیب، کمال هلباوي او نورو هم د اخوان پر دې کار نیوکه وکړه او دا یې د مصر په زیان وګڼله او په همدې وجه له اخوانه راووتل.

څو ورځې وروسته چې د خیرت الشاطر نوماندي د انتخاباتي مقاماتو له خوا رد شوه، اخوان د هغه پر ځای محمد مرسی معرفي کړ.

په داسې حال کې چې ابولفتوح له اخوانه په دې دلیل وشړل شو چې ځان یې ولسمشرۍ ته کاندید کړی او د حساسیتونو په خاطر د اخوان کوم غړی باید ولسمشر نه شي خو اوس پخپله اخوان خپل بل غړی ولسمشرۍ ته کاندیدوي. دې خبرې د اخوان د غړو په منځ کې شکونه پیدا کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې کارونو سره د خلکو دا تصور پوخ شو چې اخوان هم د نورو سیاسي گوندونو په شان یوازې خپلې گوندي گټې غواړي او دین او ملي گټې هسې پلمه کوي.

د انتخاباتو په لومړي پړاو کې چې شپږو کاندیدانو سره سیالي کوله، د اخوان کاندید یوازې 24 فیصده رایې وگټلې. په دویم پړاو کې، د ده پر وړاندې د حسنی مبارک د نظام یو پاتې شونی ولاړ و نو ټولو انقلابي ځواکونو د لیبرالو، سلفي او سنتي مذهبي ډلو په گډون د اخوان کاندید ته په دې هیله رایه ورکړه چې له ژمنې سره سم به پراخ حکومت جوړوي او هېڅ انقلابي ځواک به څنډې ته نه پورې وهي.

خو مرسي د مشورو برخلاف یوازې یو څو څوکۍ په دې نیت مستقلو افرادو ته ورکړې چې په یکه تازۍ تورن نه شي خو اصلي ډلو ته یې هېڅ ورنه کړل. دې سره ځینې انقلابي دلې خپه شوې.

وروسته مرسي د لازیات واک د خپلولو په خاطر داسې کارونه وکړل چې خلکو گومان وکړ دی هم د ایران، سودان او طالبانو په شان غواړي بنسټپاله نظام رامنځته کړي. یو له دغو کارونو د پوځ د لویو افسرانو گوښه کول وو لکه مارشال طنطاوي او جنرال سامي عنان. څوک چې د مصر د پوځ په ځواک او نفوذ خبر دي، پوهېږي چې داسې کار به څه نتیجه ولري. د اخوان بله هڅه په عدلي او قضایي سیستم کې د تغییراتو راوستل وو چې د حقوقپوهانو او قاضیانو سخت اعتراضونه یې راوپارول. مرسي په بل گام کې قانون بدل کړ او ځان ته یې داسې واکونه ورکړل چې د ولسمشر تر قانوني واکونو پورته وگڼل شول.

دا ډول هڅې چې تر هرې یوې وروسته د نارضایتۍ یو څپه راجگېدله، په مصر کې د مالي او اقتصادي بحران سبب شوې. گواکې اخوان دا خبره هېره کړې وه چې پر داسې ملک واکمني کوي چې په بهرنیو مرستو تکیه لري او تر څو د چې د هېواد د مختلفو ډلو رضایت خپل نه کړي، نړېوال ځواکونه نه شي راضي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو ستونزو پوځ ته مناسب فرصت په لاس ورکړ چې د اخوان یو کلن حکومت رنګ کړي.

**د بل نه منلو ادبیات او ویجاړوونکي عواقب یې**

هغه تحولات چې د عربو پسرلی ونومول شول، څکه راپېښ شول چې ټولو په دې هېوادونو کې تغییراتو ته اړتیا درلوده. ښايي د ځینو څواکمنو واکمنانو لکه بن علي، مبارک، قذافي او عبدالله صالح په لرې کولو کې د دې بهیر د بریا وجه همدا وه چې د ټولو سیاسي – ټولنیزو ډلو ترمنځ یو ډول بې سابقه ملګرتیا پیدا شوې ده.

که دا بهیر همداسې پاتې وای نه یوازې په دې سیمه کې، بلکې په ټول منځني ختیځ او ان تر هغه وړاندې ځایونو کې به داسې لوی بدلونونه راتلل چې د یوویشتمې پېړۍ تر ګردو لوی تحول به یې رامنځته کولای شو.

خو څه چې پېښ شول، داسې نه وو. په مصر کې ګډوډۍ، په لیبیا کې درزونو، په یمن کې کمرنګو بدلونونو دا بهیر ټکنی کړ او د هیلو د پسرلي پرځای یې د ژر رارسېدونکي مني وېره پیدا کړه.

ولې داسې وشول؟ ښايي تر ټولو ساده ځواب یې دا وي چې بهرنیو دښمنانو او کورنیو ګوډاګیانو اجازه ورنه کړه چې د عربو پسرلی وغوړېږي.

دغه تحلیل چې د توطیې له تیورۍ سره اړخ لګوي، ان که سم هم وي، د قضیې ټوله پېچلتیا نه شي توضیح کولای.

د عربو په پسرلي کې د بریا په هماغه لومړیو ورځو کې داخلي درز پیدا شو چې د اعتقاد او ایډیالوژۍ پر محور راڅرخېده. دا ځل د اسلامپالو او لیبرالو تر منځ تقابل پیدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان چې دې ماجرا ته له لرې ګوري، داسې ګومان کوي چې اسلامپالي هغه دیندار ځواکونه دي چې پر مذهبي ارزښتونو ولاړه ټولنه غواړي او لیبرال ځواکونه د دین دښمنان دي چې غواړي په عربي – اسلامي ټولنو کې دین ختم کړي.

دا انګېرنه تر ډېره بریده ناسمه ده ځکه چې د اسلامپالو پر وړاندې داسې ډلې هم ولاړې دي چې پخپله هم مذهبي دي خو له اسلامپالو سره یې مخالفت د دین په خاطر نه، بلکې یوازې د سیاسي پروژو او په خارجي سیاست یا ځینو قانوني اړخونو کې د لومړیتوبونو په سر دی.

په عربي هېوادونو کې اسلامپالې او غیراسلامپالې ډلې له پخوا وې خو هېڅ یوه یې نه شول کولای چې په یوازې سر واکمن نظام راوپرځوي او تغییرات راولي. د عربو د پسرلي په پیل کې په لومړي ځل د ټولو ډلو ترمنځ ملګرتیا پیدا شوه او تمه پیدا شوه چې دوی به سیاسي بلوغ ته رسېدلي وي او یو د بل منلو ته یې غاړه ایښې وي.

خلکو لیدل چې اسلامپالې ډلې د ایډیالوژیک حکومت د رامنځته کولو خبره نه کوي او لیبرال ګوندونه مذهبي ډلې په خپله خوا کې نیسي. ان د مختلفو ادیانو د پیراونو ترمنځ بې سارې ملګرتیا رامنځته شوې وه. د قاهرې په تحریر میدان کې به مسیحیانو د مسلمانانو لپاره د اوداسه اوبه برابرولې او مسلمانانو به د مسیحیانو د دعا په مراسمو کې ورته حفاظتي دېوال جوړاوه. د همدې یووالي زور و چې زورور یې مات کړل.

خو د بریا په هماغه سبا ښکاره شول چې دا یووالی او پیوستون د اجتماعي بلوغ په وجه نه و، بلکې د ځواکمن دښمن پر وړاندې د درېدو په خاطر د مجبورې ورځې پیوستون و. لا څو ورځې نه وې تېرې چې بېرته د مسلمان او نامسلمان، مذهبي او غیر مذهبي، لیبرال او غیرلیبرال خبرې راپورته شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ستونزې ریښه چېرته ده؟ ولې دا پخواني درزونه د ډکېدو نه دي؟ ولې دغه ټولنې د تفاهم پل نه شي ترړلی او د رابطې د ځراغ په بلولو کې ناتوانه دي؟ ولې هغه کسان چې د یوې خاروې بچیان دي، نه شي کولای پر خپلو ګډو ګټو موافقې ته سره ورسېږي؟

که هغو ادبیاتو ته مراجعه وکړو چې دغو سیاسي ډلو په څو لسیزو کې تولید او تبلیغ کړي دي، د دې پوښتنو ځواب په اسانی سره موندلای شو.

د دغو ډلو په فکري تولیداتو کې له بل سره د دښمنی، بدګومانی، توطیې، کرکې، کینې او غوسې خبرې ډېرې دي خو د بل د منلو، تسامح، مدارا، خبرو اترو، وحدت، پیوستون او پر مشترکاتو د تمرکز خبرې کمې.

د سیاسي اسلام د پیدایښت له پیله، د خپل او پردي تر منځ پوله د اعتقاداتو او ایډیالوژیکو تمایلونو پر اساس بنا شوې ده. په دې ډلو کې د باورونو تکثر ته هېڅ ځای نشته.

د دوی په مقابل کې چپ او ښي لیبرال ګوندونه هم همداسې دي او د دې پر ځای چې د ملي یوالي لپاره لاره هواره کړي، په خپلو تبلیغاتو کې یې د خپلو رقیبانو وېروونکی تصویر وړاندې کړی دی.

دغه کار که د انتخاباتو په ورځو شپو یا په محدودو سیاسي فعالیتونو کې وشي، طبیعي ښکاري خو که دوامداره پاتې شي او ګڼو نسلونو ته همدا فکر ورکړي نو سربېره پر دې چې انصاف او اعتدال له منځه وړي، د تفاهم لاره هم بندوي او د خبرو اترو ور د تل لپاره تړي.

د اخواني، سلفي، جهادي، حزب تحریر او دوی ته ورته نورو ډلو په ادبیاتو کې ټول کورني مخالفان هغه که لیبرال وي، که سنتي، که چپي وي که ښي لاسي، او ان نورې مذهبي ډلې د دښمن د پنځمې ستنې په توګه معرفي کېږي او ویل کېږي چې دوی ټول د دین دښمنان او د بهرنیانو مزدوران دي. مثلاً په مصر کې اخوانیانو ته نه له اسراییلو څخه د سینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېرته نيولو لپاره د انور سادات هڅې مهمې دي، نه د جمال عبدالناصر هغه خطرناکه هڅه چې د سويز کانال يې ملي کړ او د بريتانيا ځواکونه يې له هېواده وشړل.

د مقابل لوري په سياسي ادبياتو کې هم د يوې افراطي مذهبي ډلې تاوتريخجن عمل ټولو مذهبي ډلو ته تعميمېږي او دا نامتعادل قضاوت تر دې بريده مخته ځي چې د طيب اردوغان حکومت، د طالبانو له حکومت سره يو شان ګڼل کېږي.

د داسې تبليغاتو خپرول د تفاهم پر مخ لاره بندوي، بدګوماني زېږوي او پر بل باور له منځه وړي. همدا چې فرضاً په مصر کې مذهبي ډله واک ته رسېږي، لا يې چا کار نه وي ليدلی چې ورپسې ويل کېږي چې د طالبانو يا د ايران د اخوندانو نظام راغی. او له دې خوا همدا چې پر حکومت نيوکه کېږي، واکمن يې له دين سره په دښمنی تعبيروي او بيا نو د خبرو اترو لپاره هېڅ لاره نه پاتې کېږي.

د عربو د پسرلي پيلوونکي هغه کسان وو چې په هېڅ ايډيالوژۍ پورې نه وو تړلي او يوازې د ازادۍ او هوساينې غوښتونکي وو خو دا بهير د هغو ايډيالوژيو او د بل دښمن ګڼلو فکري ادبياتو قرباني شو چې په څه باندې نيمه پېړۍ کې تبليغ شوي وو.

## په ترکيه کې اسلامپالنه، متفاوته تجربه

د ترکيې په ولسمشري انتخاباتو کې د عدالت او توسعې د ګوند مشر، رجب طيب اردوغان بريا په ډېرو نورو ملکونو کې اسلامي جماعتونه خوشحاله کړل. خو د سياسي اسلام ډلو بيا دا بريا د ځان بريا وګڼله.

دغه ډلې ځکه دومره خوشحالې شوې چې خپلې خېرې يې د اردوغان په هېنداره کې ليدې. خو که دا قضيه له عاطفي اړخه ورها وځېړو، بايد وګورو چې د عدالت او توسعې ګوند له نورو اسلامپالو ډلو څه توپيرونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترکیې د اسلامپال غورځنګ لومړنۍ ځانګړنه دا ده چې له سلفي تمايلاتو سره هېڅ تړاو نه لري. حال دا چې اخوان، جماعت اسلامي پاکستان، القاعده او نورې همفکره ډلې يې په سلفي تمايلاتو کې ريښه لري. د ترکيې اسلامپالي دوې نورې فکري منبعې لري، تصوف په تېره بيا د مولانا مفکورې، او حنفي مذهب چې د اهل سنت د ډلو په منځ کې تر ټول عقلپاله مکتب دی. د سياسي اسلام د ډېرو پلويانو له سترګو دا فکري توپيرونه پټ پاتې دي. سلفي تمايل د سلفانو/پخوانو پر پيروۍ بيخي زيات ټينګارکوي او غواړي چې خلک په فکر او عمل کې د هغوی پيروي وکړي. دوی د هر ډول نوي فکر او ابداع پر مخ لاره بندوي.

په ټولنيز لحاظ، د ترکيې اسلامپالي غالباً ښاري خلک دي او د معاصر مدنيت له مظاهرو سره مقابلې ته تمايل نه ښيي. په همدې وجه يې په خپل ټول تاريخ کې تاوتريخوالي ته لاس نه دی پورې کړی او په دې لحاظ ټولنه ورنه بې غمه ده. خو د سياسي اسلام اکثره نورې ډلې داسې نه دي، د دوی پلويان زياتره کليوال او يا د ښارونو د څنډو اوسېدونکي دي. د مصر فقيد څېړونکي حسام تمام دا پديده «تريف الاخوان» بللې وه يعنې د اخوان کليوال کېدل. د سياسي اسلام د بهيرونو په تجربه کې هغه څه چې دوی يې اسلامي مبارزه بولي، په حقيقت کې د ښاري او کليوالو يا قبيلوي ارزښتونو تر منځه جګړه ده. د سياسي اسلام دغه بهيرونه چې د تيوريکي فقر په وجه تحولاتو ته د ټولنپوهنې له نظره نه شي کتلای، غالباً د اسلامي ارزښتونو د ساتنې په جامه کې په حقيقت کې د محافظه کارو کليوالو ارزښتونو ساتنې ته راوتلي دي.

د ترکيې اسلامپالي په ټولنيز ډګر کې سيکولرو ارزښتونو ته غاړه ايښې ده او هغه ټولنه يې منلې ده چې حجاب والې او بې حجابې ښځې په کې يو شان شته دي. خو په اکثره نورو اسلامي هېوادونو کې د مذهبي مظاهرو او سېمبولونو پر سر دعوا، د سياسي اسلام او نورو اجتماعي ډلو ترمنځ لوی کشمکش جوړ کړی دی. په نورو هېوادونو کې د سياسي اسلام غورځنګونه د ښځو لپاره د حجاب او د نرانو لپاره د ږيرې رواجول، د ديني احيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سېمبول ګڼي، حال دا چې د ترکيې اسلامپالي يوازې وايي چې حجاب د ښځو حق دی، نه تکليف.

د ترکيې او نورو هېوادونو د اسلامپالو ترمنځ بل عمده توپير دا دی چې ترکيه سکولريزم مني خو نور يې د کفر سېمبول ګڼي او ورسره نه پخلا کېږي. کله چې اخوان د مصر په انتخاباتو کې شاملېده، اردوغان د مصر يوه تلويزيون سره په مرکه کې د اخوان پلويانو ته په خطاب کې وويل: «دوی بايد پوه شي چې سيکولريزم د بې دينۍ په مانا نه دی،، بلکې ټولو اديانو ته د احترام او هر چا ته د تدين د ازادۍ مانا لري. بهتره ده چې دوی په خپل اساسي قانون کې تصريح کړي چې دولت د ټولو اديانو پر وړاندې يو شان دريځ لري. سيکولريزم په دې مانا نه دی چې خلک دې سيکولر وي، زه پخپله سيکولر نه يم خو د يوه سيکولر دولت صدراعظم يم. کله چې دولت دا شان دريځ ولري، ټول د امنيت احساس کوي، ان هغه کسان چې بې دينه دي ځکه چې دولت وظيفه لري چې بې دينانو ته هماغومره احترام په پام کې ونيسي چې دينداراتو ته يې لري. د ترکيې 99 فيصده وګړي مسلمانان دي او د يهودي، مسيحي او نورو اديانو اقليتونه هم په کې دي خو دولت له ټولو سره يو شان اړيکې لري او دا هغه څه دي چې اسلام يې غواړي او د مسلمانانو تاريخ همدا وايي». (8)

د هويت په ډګر کې د ترکيې اسلامپالي د سلبي روش پر ځای ځان په ايجابي ميتود معرفي کوي. د سياسي اسلام اکثره نورې ډلې له نورو سره په تېره بيا له غرب  او د غربي تمدن له مظاهرو سره مخالفت د خپل هويت اساسي برخه ګڼي. د اخوان بنسټګر حسن البنا ويلي دي:"موږ له دې تمدن سره مبارزه پالو او جګړه به د دوی تر کوره ورسوو." (9) د ترکيې اسلامپالي د خپل هويت پر اسلاميتوب ټينګار کوي خو دا له غرب سره د دښمنۍ په مانا نه ګڼي. د بل نه منلو ادبيات چې د سياسي اسلام د ډېرو ډلو په ادبياتو کې دود دي، د ترکيې د اسلامپالو په منځ کې خورا کمرنګه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا وجه ده چې د ترکيې اسلامپالو په سياسي ډګر کې له غرب سره د ملګرتيا او د ناټو د غړيتوب په خاطر هېڅ اعتراض نه دی کړی، بلکې اروپايي اتحاديې ته يې د شاملېدو خبرې هم کړې دي. د عدالت او توسعې د ګوند د واکمنی په کلونو کې د ترکيې سياست پراګماتيستي سياست و او دا له هغه څه سره چې د اسلامي سياست په نامه يادېږي، هېڅ تړاو نه لري. سره له دې چې دا تګلاره له اسلامي ارزښتونو سره هېڅ ټکر نه لري خو د ترکيې د اسلامپالو دغه پرګماتيستي سياست د اوسنی نړۍ د رايجو سياستونو له ډلې دی نه له هغه ډلې چې رسماً د السياسة الشرعية يا اسلامي خلافت په نامه يادېږي.

د ترکيې اسلامپالي عمل ته پام کوي، د دې شي بېلګه د ګوندونو د نومونو په انتخاب کې وينو چې اسلامي مختاړی ورپورې نه غوټه کوي او شعارونه يې زياتره د اسلامي تمدن پر کلياتو ولاړ وي نه پر جزيي چارو. مثلاً رفاه، فضيلت، سعادت، عدالت او توسعه چې د ګوندونو نومونه دي او ښيي چې دوی د ترکيې د ټولنې ستونزې درک کړې دي. د دوی شعارونه د شرايطو په بدلېدو سره بدلېږي. خو نور اسلامي غورځنګونه داسې نه دي، مثلاً اخوان المسلمين، القاعده، اسلامي جماعت، اسلامي تحريک او ... سره له دې چې دغه نومونه د دې ګوندونو د پيروانو په نظر مقدس دي خو د خپلو ټولنو د ستونزو د هوارولو لپاره هېڅ مشخصې لارې ته اشاره نه کوي.

د ترکيې اسلامپالو په اقتصادي ډګر کې د غربي – امريکايي سبک ازاد بازار منلی دی او تر اوسه پورې چا له دوی څخه نه دي اورېدلي چې د اسلامي اقتصاد بحث دې مطرح کړی وي او يا دا چې له غربي اقتصاده دې ځان بې نيازه ګڼلی وي. خو نور اسلامي غورځنګونه هغه څه چې دوی يې اسلامي اقتصاد بولي، د بشر د ټولو اقتصادي ستونزو حل ګڼي خو تر اوسه يې د دې اقتصاد هېڅ طرح نه ده عملي کړې. يوازينی مورد چې د اقتصاد په ډګر کې له اسلامي مختاړي سره عملی شوی دی، اسلامي بانکداري ده چې دا هم د سياسي اسلام په بهير پورې اړه نه لري. حال دا چې له دې بهيرونو بهر مسلمانو پوهانو او صاحب نظرانو منلې ده چې د اسلامي اقتصاد په نامه هېڅ شی نشته او څه چې د قران له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایتونو، نبوي حدیثونو، یا په صدر اسلام کې د مسلمانانو له تجربې بوديږي، یوازې د اخلاقي سپارښتونو مجموعه ده او دا مجموعه د تخصصي لیدلوري پر اساس له اقتصادي نظام سره زیات توپیر لري.

د ملي تمایلاتو په برخه کې د ترکیې اسلامپالو ملت په مډرنه مانا منلی دی او هغه چوکاټ یې نه دی رد کړی چې ترک ملتپالو رامنځته کړی دی. دوی داسې لاره موندلې ده چې خپل ملي هویت له خپل اسلامي هویت سره پخلا کړي او سره له دې چې د ترکیې پر ملي گټو او په نورو هېوادونو کې له ترک توکمو سره پر پیوند باور لري خو دا له خپل اسلامي هویت سره په ټکر کې نه گڼي. خو نورو اسلامي غورځنگونو د ملت پر ځای پر امت ټینگار کړی دی او یو ډول تیوریکي ابهام یې رامنځته کړی دی، ځکه چې د اوسنی نړۍ د قوانینو او نړېوالو تړونونو پر اساس د امت حقوقي چوکاټونه نه شي تعریفېدای. امت تر ډېره بریده په منځنیو پېړیو پورې اړوند معلق هویت ته ارجاع کېږي. د نورو اسلامي غورځنگونو سیاسي ادبیات تر استعمار وروسته په لومړیو کلونو کې رغېدلي دي او سیاسي مقولې یې زیاتره ایډیالوژیکې دي نه علمي، په همدې خاطر د امت او ملت د مفهوم لپاره داسې نظریات په کې نشته چې په اکاډیمیک لحاظ د پام وړ وي.

د ترکیې اسلامپالو متفاوته لاره په مخکې نیولې ده. په دې هېواد کې تر اسلامپالنې مخکې مډرنیتي ټولنه سمبال کړې وه او اسلامپالي د همدې ټولنې له متنه راپاڅېدلي دي خو دا یې احساس کړی دی چې د ترکانو له تاریخي او تمدني مخینې سره د پیوند په لحاظ یو کمی لري. دوی هڅه وکړه چې د خپل هېواد په مډرنیزاسیون کې د اسلامیت عنصر ورزیات کړي چې دا کمی پوره شي. خو اکثره نور اسلامي غورځنگونه تصور کوي چې مډرنیزاسیون فرهنگي تهاجم له ځانه سره لري چې د دین ختمول یې هم یوه برخه ده نو پر ضد یې راپاڅېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ټولو خبرو سره سره، په ترکیه کې د اسلامپالو د کامیابیو په اړه وروستی قضاوت لا تر وخت د مخه دی ځکه چې دا بهیر له څو اړخونو زیان منونکی دی:

لومړی دا چې دا وضعیت لږ ډېر د رجب طیب اردوغان په کاریزماتیک شخصیت پورې تړلی دی او هر بهیر چې پر فرد تکیه ولري، له ننګوونو سره مخ وي. که اردوغان بریالی شي چې د دې بهیر په سر کې د ځان په شان د نویو رهبرانو راتلو سره مرسته وکړي، بیا به په اوږد مهال کې د دې بهیر لا زیاتو بریاوو ته هیله من کېدای شو.

دویم، دا بهیر په دې نوې بڼه د خپل پخواني مشر نجم الدین اربکان له تګلارې څخه پوره توپیر لري. دغه نوی بهیر له زیاتو کورنیو او بهرنیو ازموینو سره مخ دی. باید له خپلو مخالفانو او منتقدانو سره د حاد تقابل مخه ونیسي، هغه که د ګولن د فتح الله جماعت په شان مذهبي مخالفان وي او که سیکولر مخالفان. باید د ملي یووالي لپاره چې په دې وروستیو کې محسوس درز په کې راغلی دی، مشترک ټکي پیدا کړي. که دغه درز په ترکیه کې حاد دوه قطبیز وضعیت رامنځته کړي نو بیا به دا بهیر له لویو ننګوونو سره مخ شي.

دریم، په عمل کې چابکي څوک په تفکر کې له پخوالي نه شي بې نیازه کولی. له دې ټولو تحولاتو سره سره چې په ترکیه کې پېښ شوي دي او ګواکې د ترکیې په تاریخ کې یې نوی باب پرانیستی دي، تر اوسه پورې داسې وتلي متفکران او نظریه جوړوونکي نه دي لیدل شوي چې د ژور فکري – فلسفي تکیې پر اساس لویې تمدني نظریې طرحې کړي. د ترکیې دولت کولای شي د غربي هېوادونو په څېر غښتلې موسسې جوړې او متفکر مغزونه جذب کړي چې دا تشه ډکه شي.

څلورم، د ترکیې د اسلامپالو ځینې بریاوې له ځواکمنو غربي ځواکونو سره د ملګرتیا په سبب ترلاسه شوې دي او که یوه ورځ سیاسي تحولات د دوی ترمنځ واټن پیدا کړي، کېدای شي وضعیت کاواکه کړي، هماغسې چې د سویل ختیځې اسیا ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونه د نويمو کلونو په پای کې له دې وضعيت سره مخ شول. که ترکيه خپلې برياوې تر ممکنه بريده له کور دننه ترلاسه کړي، دا ننګونه به هم کمرنګه شي.

د پای خبره، د ترکيې د اسلامپالو برياوې د نورو اسلامي غورځنګونو او له دې جملې څخه زموږ د سيمې بهيرونو ته سبق ورزده کولای شي. د ډېرو هېوادونو له نظره اسلامي جماعتونه او غورځنګونه مناسب شريکان کېدای شي په دې شرط چې د سړې جګړې د دورې ذهنيت پرېږدي او په ننني او پرمختللي تعقل سره کورنيو او بهرنيو پېچليو مناسباتو ته ورودانګي، هماغسې چې د ترکيې اسلامپالو کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مل لیکونه:**

1- د دې پېښې له جزییاتو سره د لا اشنایی په خاطر دا اثر وګورئ: محمود عبدالحلیم، الاخوان المسلمون احداث صنعت التاریخ، الجزء الثانی، الاسکندریة، دار الدعوة 1979.

2- وګورئ: حسن البنا، مجموعة الرسائل، ص

3- د صوفیانو په سنت کې د شیخ د پوره اطاعت په اړه زیات اداب او سپارښتونه شته، د حافظ دغه شعر همدغو ادابو ته اشاره کوي: به می سجاده رنگین کن، گرت پیر مغان گوید، که سالک بی‌خبر نبود ز راه و رسم منزل‌ها

4- حسن البنا، هماغه، رسالة التعالیم، ص 231.

5- وګورئ: سعید حوی، المدخل إلی دعوة الإخوان المسلمین، القاهرة، مکتبة وهبة، 1407.

6- وګورئ: مصطفی مشهور، تساؤلات علی الطریق.

7- وګورئ: حسن البنا، هماغه، رسالة المؤتمر الخامس.

8- دغه مناقشه پارونکې مرکه له مشهور ژورنالیست مني الشاذلي سره د «دریم» تلویزیون د العاشرة مساء په خپرونه کې شوې وه.

9- وګورئ: حسن البنا، هماغه،رسالة الاخوان تحت رأیة القرآن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# -4-

# زه لاهوتي مارغه وم

## آسماني دين، د ځمکني واقعيتونو په دايره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آسماني دين، د ځمکني واقعیتونو په دایره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ديني مفکورې سره اشنايي**

دين د نړۍ په ټولنو په تېره بيا په اسلامي ټولنو کې عمده او اغېزناک عنصر دی. پر دين سمه پوهېدنه ګټوره تمامېدای شي او نا سمه پوهېدنه يې له زيانه ډکې پايلې لرلای شي.

خو دين د وګړو په ژوند کې د دينې مفکورې له لارې تحقق مومي او د موضوع باريکي په همدې کې ده. باريکي او پيچلتيا په دې کې ده چې دلته دوه داسې چارې سره غوټه کېږي چې ذاتاً سره توپير لري. دين قدسي پديده ده چې له پورته عالمه راغلې ده خو ديني مفکوره بيا د بني ادم د ځمکني ذهن د تفکر او پلټنې محصول ده. نو دين او ديني مفکوره له يوه جنسه نه دي. کله چې هغه قدسي او اسماني پديده د خاورين ذهن په هېنداره کې راڅرګندېږي، د قدسي او ناقدسي پديدو تر منځ پوله ړنګېږي او بيا ډېرو ته يې د بېلولو او تفکيک چاره سختېږي.

د قدسي او غير قدسي مفاهيمو سره ګډېدل او ورته والی خطرناکې پايلې لري چې اخر کې د دين د تحريف او د هغه د ماهيت د بدلېدو سبب کېږي. د قران مجيد له نظره اکثره الهي پيغمبران د دې لپاره نه دي استول شوي چې بې ديني ختمه کړي، بلکې دې ته مبعوث شوي دي چې انحرافي ديانتونه سم کاندي. دغو ديانتونو په اول سر کې خو اسماني ريښه درلودلې وه خو د پيروانو د غلطو تفسيرونو او تعبيرونو په وجه يا له دين څخه د هغوی د ناروا استفادې په وجه، په دين کې د انحراف زمينه برابره شوې وه. نو، دې وخت کې د بې دينۍ او ديندارۍ تر منځ توپير له منځه تللی و،، بلکې دا حالت تر بې دينۍ لا خطرناکه او تاواني و ځکه چې بې ديني خو سپېڅلې نه وي خو انحرافي دينداري سپېڅلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډل کېږي او ځوک ورباندې نیوکه نه شي کولای ځکه چې له قدسي پدیدې سره غوټه ده او د پیروانو ولولې راپارولی شي، نو د وګړو د استثمار زمینه برابروي.

د دې لپاره چې پر کږو او انحرافي لارو د دیانت د تللو مخه ونیول شي، باید دین په علمي او قانون مند ډول وپېژندل شي چې هر وخت د قدسي او غیرقدسي چارو تر منځ پوله څرګنده پاتې شي او یوه د بلې ځای ونه نیسي.

که د نړۍ په مختلفو ځایونو کې د اوسنیو مسلمانانو تر منځ د دین رواج شوي تفسیرونه وګورو نو د هغوی دیني انګېرنې سموونه غواړي. لا هم ډېر ځله لیدل کېږي چې د دین په نامه داسې فتواګانې صادرېږي او داسې فیصلې کېږي چې د دین له لوړو مقصدونو سره په ټکر کې دي. لا تر اوسه هم په دې نامه د خلکو سر او مال د تباهۍ او نیستۍ کندې ته سیخېږي. لا هم د وګړو په منځ کې د مذهب په نامه د تفرقې اور ته لمن وهل کېږي او د فرقه پالنې بازار ښه ګرم دی. لا هم د دین په نامه د داسې کسانو جیبونو ته پیسې اچول کېږي چې د ټولنې په ابادۍ کې هېڅ نقش نه لري. لا هم د دین په نامه داسې بنسټونه جوړېږي چې حاصل یې له وژنو او ورانولو پرته بل څه نه وي.

که وغواړو چې دا وضعیت بدل شي، بله لاره نه لرو مګر دا چې د دین په اړه علمي بحثونه او میتودیکې شننې وکړو او د عاطفي او احساساتي بحثونو پر ځای یې وکاروو.

په ځینو محدودو مناسبتونو کې به د مذهبي احساساتو راپارول ممکن ښه کار وي ځکه چې احساسات او عواطف هم د بني ادم د وجود برخې دي او د اړتیاوو پوره کول یې پخپله یوه اړتیا ده. خو د دینداري په لاره کې د احساساتو غلبه او د عواطفو توپاني کېدل او د عقل او بصیرت تتېدل، لوی تاوانونه پېښوي چې پایله یې بربادي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمه کېدله چې د رسنیو او د ډله ییزو اړیکو د وسایلو له زیاتېدو سره به دا موقع په لاس راشي چې د وګړو پوهه زیاته شي خو څه چې په عمل کې واقع کېږي دا دي چې د شعور او پوهې پر ځای احساسات او شعارونه مخ په بره روان دي. د مخاطبانو د درک او پوهې د لوړېدو نښې نښانې نه ښکاري خو عواطف په تیزۍ سره مخ په بره درومي او د پوهې او تفکر لپاره میدان وار په وار سره تنګوي.

چېرته چې تفکر مړ شي او استدلال ورک، چېرته چې پلټنه جرم وګڼل شي او پوښتنه عیب، هلته له جهل پرته بل زړی نه شو کرلی او له شخړې او جنګ پرته بل حاصل ترې نه شو اخیستلی.

د دین په اړه علمي مبحثونو ته ورستنېدل او په دې اړه د تحلیلي او تحقیقي خبرو اترو پیلول د مذهبي ټولنو په اساسي اړتیاوو او واجباتو کې حسابېږي. دې سره به د لارې په سمولو کې له دیندارانو سره مرسته وشي او د دین په نامه د دنیوي او سیاسي ګټو وټو زمینه به محدوده شي.

هغه ډلې او ګوندونه چې غواړي د دین په نامه جنګیالي تر لاسه کړي او خپل قدرت ورباندې زیات کړي، د مخاطبانو د فکري ودې مخنیوی د ځان په ګټه بولي او هغوی په ساده یا مرکب جهل کې ساتي چې هر وخت دوی ته تابع پاتې شي. دوی وېرېږي چې هسې نه پلویان یې کتاب ته مخه کړي او فکر وکړي او بیا پوښتنې وکړې او بیا به دې ته نه وي چمتو چې د خپلو مشرانو او مفتیانو خبرې په پټو سترګو ومني.

د عقلانیت وده که د ناوړو استفادو زمینه یو مخ ورکه نه کړي نو ډېره راکمه خو به یې کړي. دا به د هغو کسانو بازار خراب کړي چې د دین په نامه سودا کوي. د دوی په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کتاب سره جنګېدل، د قلم ماتول، د خولو تړل او د ماغزو بندلو هماغومره ضرور دي ځومره چې له دښمنانو سره جهاد مهم دی.

که د نن ورځې د اخ و ډب ژورو ته ځیر شو نو دا په حقیقت کې د فکر او پوهې پر ضد د جهل او خشونت جګړه ده. د جهالت د معبد کاهنان د هرې هغې ډېوې له بلېدو وېرېږي چې په یوه ګوټ کې هم تیاره ځپي. هر هغه بحث چې استدلال رادبره کوي، دوی قهروي او له هرې هغې خپې ترهېږي چې د علم او عقل له ودې سره مرسته کوي.

په دې منځ کې له دین سره ډېر ستم شوی دی. د دین په نامه رنګ رنګ جنایتونه او وېروونکي کارونه شوي دي چې د ین له اساسي موخو او مقصدونو سره یې هېڅ تړاو نه درلودل. دا ستونزه دومره لویه وه چې ځینو هغو وګړو چې د دین په اړه یې مطالعه په کمه وه، کله کله یې پخپله دین تر پوښتنې لاندې راوستی او داسې تصور یې کړی دی چې ګواکې دا جنګونه او جنایتونه به له دینه الهام اخیستی وي. دوی ته ان داسې تصور پیدا شوی چې کېدای شي د دین په پرېښودلو به تر دې هوسا او بې جنجاله ټولنه ولرو.

همدا اوس هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې داسې وګړي شته چې د دیني انګېزې پر اساس د راولاړو شویو شخړو او تاوتریخوالو له عواقبو خطر اعلانوي او په عاجزۍ غواړي چې دې وضعیت ته د پای ټکی ولټول شي، ان که د دین له یو مخ ختمولو او بې دینۍ ته د مخه کولو په بیه تمام هم شي.

هغه دیانتوال چې خپل دین یې د پوهې او تفکر پر اساس پېژندلی او غوره کړی دی، باور لري چې د دیني تفسیرونو او انګېرونو په سمولو سره کولای شو ډېرې ناخوالې ختمې کړو، بې له دې چې د دین ځنګ ته وهلو ته اړتیا پیښه شي. کولای شو هم دینداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسو هم نورو ته د رحم او عاطفې په سترګو وګورو او د ټولنې د ستونزو حل ته د عقل او پوهې په مټ ملا وتړو.

د دې ډلې په نظر، دين د بني ادمانو په ژوند کې ډېر برکتونه لري او دا برکتونه يې همداسې پراخ او دوامدار پاتې کېدای شي خو شرط دا دی چې د پوهې او خبرتيا د غوړېدا فرصت وي او تفکر او استدلالي بحثونو ته ميدان ورکړل شي.

البته ډېرو هڅو ته اړتيا ده چې اوسنی وضعيت بدل شي او د ديانت لپاره بهتره شرايط پيدا شي. په دې لاره کې يو مهم ګام له ديني مفکورې او د هغې له ځانګړنې سره اشنايي ده چې بايد پر مشخصو اصولو او ضوابطو ولاړه وي.

## دين او ديني مفکوره

دين هغه پيغام دی چې د خدای له لوري پيغمبر ته رسېدلی او هغه بيا خپلو پيروانو ته ابلاغ کړی دی. د دې پيغام د ډول او ماهيت په اړه د اسلام په تاريخ کې پېچلي کلامي بحثونه او مهمې څېړنې شوې دي چې بايد جلا وسپړل شي. خو د ژبې په متني قالب کې د دې پيغام د ځای موندلو په اړه ټولې اسلامي فرقې او مذهبونه سره يوه خوله دي.

د دين له لومړني جوهر سره د متدينانو تعامل يوازې او يوازې د همدې ژبني متن له لارې ممکنېدای شي. د الهي پيغام د پوهېدو په خاطر د دوی ټولې هڅې بايد د همدې ژبني متن پر پوهېدا تمرکز ولري. د مسلمانانو لپاره دا ژبنی متن همدا قران مجيد دی. ځينې اسلامي فرقې په تېره بيا اهل حديث او سلفيان، نبوي حديثونو ته هم د قراني متن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازه اهميت قايل شوي دي خو په دې توپير چې د حديت قراءت تعبدي بڼه نه لري او هاغسې چې د قرأن په تلاوت سره عبادت کيږي، په دې لاره عبادت نه شو کولای.

دغه فرقې له دې توپيره پرته د قران او حديث تر منځ په نورو مهمو توپيرونو نه دي قايل، په تېره بيا د عقايدو او احکامو لپاره د حجت په توګه دواړه يو شان ګڼي. سره له دې چې دا مني چې د ثبوت په لحاظ په يوه درجه کې نه دي او د قران مجيد ايتونه قطعي الثبوت دي حال دا چې اکثره حديثونه له متواتر (لفظي يا معنوي) حديثونو پرته قطعي الثبوت نه دي. البته دا خبره په خپله مهمه ده چې د اسلام په تاريخ کې يې د فقهاوو، متکلمانو او محدثينو تر منځ مهم بحثونه او مشاجرې رامنځته کړي دي. د دې بحثونو د جزياتو بيان خپل علمي ارزښت لري خو دلته غواړو بلې موضوع ته ورشو او هغه د دين او ديني مفکورې رابطه ده.

که دا ومنو چې دين په اوله درجه د قران مجيد تعاليم دي او په دويمه درجه د نبوي حديثونو تعاليم، نو ديني مفکوره د لومړۍ درجې متنونو د فهم او پوهېدا په برخه کې د دين د پيروانو هڅه ده. په حقيقت کې د وحي د نزول له هماغه لومړيو کلونو ديندارانو د ځينو ايتونو او حديثونو په پوهېدا کې له ستونزې سره مخ کېدل او مطمين نه وو چې په مطلب سم پوه شوي دي که نه ځکه خو به پيغمبر ته ورتلل او پوښتنې به يې کولې چې د دې متنونو حقيقي معنا او مقصد ته ځان نږدې کړي.

له هماغه وخته د ځينو ايتونو او حديثونو په فهم کې د مسلمانانو تر منځ يو ډول توپير ليدل کېده. د دې توپير عاملونه مختلف وو لکه د وګړو په ذکاوت او هوښيارتوب کې، د دوی په پوهه او تجربه کې يا په بهرنيو شرايطو کې توپير چې د الحاقي قراينو په حيث يې کولای شول د ژبني متن پر پوهېدا اغيز وښندي. د اسلام پيغمبر پخپله د فهمونو دغه توپير تاييد کړ او ويې فرمايل: "رب مبلغ أوعی من سامع" يعنې: داسې به ډېر پېښېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه څوک چې زما پيغام د نورو په وسيله ورته رسېږي تر هغو کسانو به زما په مقصد ښه پوه شي چې پيغام يې پخپله له ما اورېدلی دی. (1) او په بل ځای کې يې وفرمايل: "فرب حامل فقه إلی من هو أفقه من و رب حامل فقه ليس بفقيه" يعنې: ډېر به يو څوک داسې چا ته يو علم وړي چې هغه به تر ده پوه وي او تر ده به په دې علم ښه پوه شي او ډېر به داسې څوک يو علم لېږدوي بې له دې چې پخپله يې د پوهېدا وړتيا ولري. (2)

له دغو روايتونو پوهېدلی شو چې ان د اسلام د تاريخ په هماغه لومړنيو ورځو کې هم ديندارانو د دين د پيغام او د هغه د مقصد په پوهېدو کې يو شان نه وو او سره له دې چې ټولو هڅه کوله چې پر دې پيغام لا ښه وپوهېږي خو دا برى د ټولو په برخه نه کېده.

د مسلمانانو په منځ کې د پيغمبر حضور يوه ځانګړې او استثنايي دوره وه ځکه چې هلته يو مرجعيت شته و چې د اړتيا په وخت کې دې څوک ورشي او خپل شک او ترديد لرې کړي او هغه ابهام چې د دين په فهم کې ورته پيدا کېږي له منځه يوسي. خو تر هغوی وروسته د وحي ور وتړل شو او د اجتهاد ور پرانيستل شو.

اجتهاد يعنې د ديندارانو هڅه او د دين د لومړي درجې متنونو د مقصدونو د پوهېدا لپاره د خپل درک او فهم کارول. دا لړۍ د اسلام له هماغه صدره پيل شوې و او تر دې دمه دوام لري. په دې برخه کې څه چې ټول عالمان او د نظر خاوندان ورباندې اتفاق لري دا دي چې د اهل دين اجتهادونه ټول ظني او احتمالي اړخ لري او هيڅ اجتهادي چاره د قطعيت درجې ته نه شي رسېدلی او څوک حق نه لري چې ادعا وکړي د هغه اجتهاد حتماً او قطعاً د دين مطلوب ليدلوری دی، بلکې يوازې دومره ويلی شي چې ده له ديني متنونو څخه همدا فهم بود کړی دی او ګومان کوي چې د دين نظر به همداسې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پر دغه اصل سم پوه شو نو د ډېرو فکري ګډوډيو مخه به ونيول شي ځکه چې نن سبا ډېر اورېدل کېږي او ليدل کېږي چې هر څوک له هر ټريبيونه په جرأت سره وايي چې د دې يا هغه کار په اړه د اسلام حکم دا دی. کله چې ويل کېږي «د اسلام له نظره» دا به يوازې هله سمه وي چې دغه حکم په قطعي الثبوت او قطعي الدلاله متن کې راغلی وي يعنې د قران مجيد په يوه ايت يا په متواتر حديث کې او هغه هم په داسې عبارت سره چې د بل ډول تأويل يا توجيه هېڅ امکان يې نه وي او هماغه حکم په کې تصريح شوی وي.

غير له دغو موردونو که هر څوک ادعا کوي چې د اسلام حکم داسې دی، په علمي لحاظ او د هغو اصولو پر اساس چې فقهاوو او لويو عالمانو د اسلام په ټول تاريخ کې ورباندې اجماع لرلې ده، هسې ادعا به وي او دا به ښيي چې دا سړی په شرعي قواعدو نه دی خبر.

نن سبا ډېر کسان ځان ته حق ورکوي چې د ډېرو اجتهادي مسايلو په اړه لکه ديموکراسي، سيکولريزم، ليبراليزم، د بشر حقونه، د ښځو حقونه، د ماشومانو حقونه، مدني حقونه، ټولنيز عرفونه او عادتونه، فرهنګي چارې، سياسي مسألې، نړېوال اړيکي او ... چې په اړه يې هېڅ ايت او قطعي الدلاله حديث نشته، په جرأت سره ووايي چې د اسلام نظر داسې دی او الهي شريعت داسې حکم کوي. حال دا چې د دوی په استدلال کې د شريعت د حکم د پوهېدا لپاره هېڅ قطعي سند نه وي ځکه چې دا يوازې له ايتونو او روايتونو د دوی برداشت دی او د ګومان بڼه لري.

تر دې لا خطرناکه هغه دی چې د بني ادمانو د وژلو او د هغوی د کورونو د ورانولو خبره په منځ کې وي او د دين د قطعي احکامو پر اساس، هر متدين انسان مکلف دی چې په دې برخه کې خورا زيات احتياط وکړي او له هر عمل او د هر حکم له صادرولو ډډه وکړي، تر څوپورې چې کافي دقت يې ورباندې نه وي کړی او قطعي دليل يې ورته نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړی. ځینې په بې پروایۍ سره ځان ته حق ورکوي چې فتوا ورکړي او خپل شخصي یا ګوندي نظرونه په بې شرمۍ سره د شریعت حکم وبولي.

اجتهاد په خپل ذات کې ارزښتمنه هڅه ده خو دا چې ماهیت یې ظني (ګوماني) دی نو د اجتهاد په برخه کې د ګډوډیو د مخنیوي لپاره له هماغه پخوا وختونو څخه لویو مسلمانو عالمانو هڅه وکړه چې قواعد او اصول ورته وضع کړي او دا مشخص کړي چې که څوک اړتیا ویني چې د نویو راپیدا شویو موضوعاتو په اړه د شریعت حکم بیان کړي نو وار له مخې باید د دې کار وړتیا ولري.

د اجتهاد لپاره ځینې شرطونه په پام کې نیول شوي دي چې ځینې یې درون دیني جنبه لري او ځینې یې بیرون دیني. مانا دا چې هم باید ځیني دیني علوم زده شي او هم ځینې هغه علوم چې دیني نه دي خو د هغو موردونو او شرایطو د پوهېدو لپاره په کارېږي چې په اړه یې شرعي حکم صادرېږي.

اجتهاد درجې لري او هغه کسان چې دا کار کوي، ټول په یوه کچه نه دي. اجتهاد پخپله تجزیه منونکې چاره ده، مانا دا چې کېدای شي یو څوک په یوه خاصه برخه کې د اجتهاد وړتیا ولري خو په بله برخه کې به یې نه لري. خو خبره دا ده چې اجتهاد د شریعت د احکامو په اړه د مومنانو احتمالي او ظني فهم دی و هېڅکله د دین او شریعت ځای نه شي نیولی.

په دې حساب سره، دیني مفکوره د شرعي احکامو او د دین د نظر د پوهېدو لپاره د اجتهادونو او د بني ادمانو د ذهني هڅو محصول دی. ټول هغه کتابونه چې د قران د تفسیر، د نبوي حدیثونو د شرحې، د فقهې د احکامو او فتوا، علم کلام او عقاید، تصوف او عرفان، اسلامي تربیه او اخلاقو او نورو اسلامي علومو په اړه لیکل شوي یا لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، سره له دې چې د علمي هڅو په حيث د قدر وړ دي او د اسلامي ټولنې علمي او فکري پانګه زياتوي خو هېڅ يو يې هم د اجتهادي چارو له دايرې بهر نه دی. دغه ټول کتابونه د دين د پوهېدو لپاره د متدينانو د هڅو هينداري دي. په دې ټولو کې هغه اجتهادونه راغلي چې هېڅ عصمت او قداست نه لري او تر نقد او ارزونې پورته نه دي.

دا لويه تېروتنه ده چې ځينې متدينان ديني مفکوره له دين سره يو شان ګڼي او هغو کتابونو ته چې د مومنانو په لاس ليکل شوي دي، د دين د لومړۍ درجې متنونو په اندازه اهميت ورکوي. دې کار سره هم پخپله دين ته تاوان رسوي او هم د خلکو ژوند له پرېشانيو سره مخ کوي.

### د ديني مفکورې د راپيدا کېدو بهير

ديني مفکوره د متدينانو د فکري يا عملي اړتياوو په نتيجه کې راپيدا شوې ده. دوی د دغو اړتياوو د پوره کولو لپاره د دين د لومړۍ درجې منابعو ته مراجعه کوي. تر هغې پورې چې متدينانو له خاصو ستونزو سره مخ نه شي، خاصې پوښتنې هم نه راولاړېږي نو خاص ځوابونه هم نه غواړي.

خو د متدينانو ټولنه، د هرې بلې انساني ټولنې په څېر تل له ستونزو سره مخ وي ځکه چې د ژوند بدلونونه او هغه شخړې چې د انسانانو تر منځ راټوکېږي، نوې غوښتنې او نوې معضلې رازېږوي چې لزوماً مشخصې حل لارې غواړي.

دغه اړتياوې که فردي وي لکه په عبادتونو او په کورنيو قضيو پورې تړلې چارې، که ټوليزې وي لکه سياسي او اقتصادي قضيې او که فکري اړتياوې وي لکه علمي مبحثونه چې هر وخت له ډېرو پوښتنو او ابهامونو سره مله وي، متدينان اړ باسي چې د حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې د موندلو لپاره دين ته مراجعه وکړي. په تېرو وختونو کې چې علومو کافي وده نه وه کړې، ډېرو متدينانو به د هرې چارې په خاطر دين ته مراجعه کوله او غالباً له دينه د توقعاتو پوله په علمي ډول سره نه وه ارزول شوې.

نن سبا چې ځينې ټولنيزې او ان فردي ستونزې د نورو علومو لکه طب، ارواپوهنه، ټولنپوهنه، سياسي علوم، حقوق، مديريت، زراعت، صنعت، انجينيري او نورو په مرسته حل کېدای شي نو له دينه د توقعاتو پوله هم، لا جوته شوې ده.

خو پخوا داسې نه وو او ډېرو متدينانو به همدا چې له هرې ستونزې سره مخ شول، سم له لاسه به يې دين ته مخه کوله چې ژر او په اسانۍ سره ځواب واوري او حل لاره ومومي. تر ټولو ځرګنده بېلګه يې په صدر اسلام کې د «حکميت» موضوع ده چې له څلورم راشد خليفه سره د شخړې او جګړې لپاره سند شوه.

تاريخي مطالعې ښيي چې هاغه مهال د اختلاف او شخړې اصلي دليل دا و چې د اسلامي فتوحاتو په وجه د قواوو توازن له منځه تللی و او د عربو قبيلو تر منځ ځينې ځنډنې او څو سوه کاله پخوانۍ سيالۍ په کې بيا په نوې بڼه رابرسېره شوې وې.

کېدای شو د دې ستونزې په اړه په عقلاني لارو چارو بحثونه او خبرې اترې شوې وای او يوه چاره ورته پيدا شوې وای خو دا چې د مسلمانانو تجربه اومه وه او داسې بنسټونه نه وو چې داسې چارې سمبال کړي نو دا قضيه شديداً ساده کړای شوه او دين ته راجع شوه. دې سره ادعا وشوه چې د هرې ستونزې د حل لپاره بايد د دين لمن ونيول شي.

دا ستونزه اساساً ديني نه وه، بلکې سياسي – ټولنيزه ستونزه وه چې د سياسي قدرت په ترکيب کې د هرې قبيلې له برخې او له اقتصادي منابعو څخه د دوی له ونډې څخه رازېږېدلې وه او د حل غوره لاره يې، بې له دې چې د مقدساتو پښه په کې رادننه شي، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې او مخامخ عقلاني خبرې اترې وې. دې ستونزې ته په دې نیت دیني رنگ ورکړل شو چې خبره اسانه کړي خو عملاً یې ستونزه لا پېچلې کړه ځکه چې د فیزیک او میتافیزیک د پولو سره گډول، قضیه لا پېچلې کوي.

همدا وجه وه چې په کم وخت کې د متدینانو تر منځ لوی درز پیدا شو او د خوراجو فرقې په اعتقادي لحاظ خپله لاره له نورو مسلمانانو بېله کړه او د وخت په تېرېدو سره نورې فرقې هم راوزېږېدې او د مسلمانانو تر منځ لا ژور درزونه پیدا شول چې شدیدې شخړې ورپورې غوټه وې.

دغه مشهوره بېلگه راښیي چې خلک څرنگه د خپلو فردي یا ټولیزو ستونزو د حل لپاره دین ته مراجعه کوي خو دا چې دین د هرې نوې راټوکېدلې موضوع لپاره وار له مخې صادر شوي حکمونه نه لري نو اجتهاد ته لاره پرانیستل کېږي چې د هماغه موضوع په اړه د دین حکم ولټوي.

دا ډول هڅې هماغه بهیر دی چې نتیجه یې د دیني مفکورې پیدا کېدل دي.

خو ټوله قضیه دومره اسانه نه ده. کله چې خلک غواړي د خپلو ستونزو حل د دین په لومړۍ درجه منابعو کې ولټوي، دا هڅه یې له څو نورو ستونزو سره مله وي چې کله کله پرې خبر وي خو غالباً نه وي خبر.

یوه ستونزه دا ده چې پخپله خلک له متفاوتو او احیاناً متضادو توقعاتو سره د دین لومړۍ درجې منابعو ته مراجعه کوي او هغه ځواب چې دوی یې غواړي د همدغو توقعاتو او تمایلاتو په نتیجه کې ورته پیدا کېږي. دا چې متدینان بشري موجودات دي نو د اړتیاوو، غوښتنو، هوسونو او ... له پېچلې ترکیب سره یې سر و کار دی او دین ته یې مراجعه هم د همدې پېچلې ترکیب زېږنده وي. په همدې وجه هر څوک داسې ځواب مومي چې د ده له

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال، اړتیا او غوښتنې سره مناسب وي او له هغو ځوابونو سره کار نه لري چې د ده له وضعیت سره تړاو نه لري. هغه ځوابونه او حل لارې چې د اجتهاد تر هڅو وروسته ځینو متدینانو ته پیدا کېږي، غالباً له هغو ځوابونو سره متفاوت او ښایي متناقض وي چې ځینو نورو متدینانو ته پیدا شوي دي.

دویمه ستونزه دا ده چې ټولنیز شرایط هم هماغسې او لا زیات پېچلي دي. څنګه چې انسانان د اړتیاوو او غوښتنو رنګارنګ او پېچلی ترکیب لري، هماغسې انساني ټولنه هم د بېلابېلو مناسباتو په لرلو سره لا شدید ترکیب لري چې اجازه نه ورکوي حق او باطل، خیر او شر، ګټه او تاوان په اسانۍ سره ټولو ته یو شان ښکاره شي.

د ټولنیزو شرایطو پېچلتیا کله کله تر دې حده وي چې ان د قوم تر ټولو لوی عالمان او عقلمندان هم د ښه او بد او حق او باطل په تفکیک کې پاتې راځي او په قطعي او نه ردېدونکې بڼه نه شي ویلی چې د خیر او شر تر منځ پوله کومه ده.

کله چې وګړي د داسې پېچلي شرایطو د فشار په وجه دیني متن ته مراجعه کوي، په اول سر کې تمه لري چې ژر به له حیرانتیا او لالهاندۍ خلاص شي او د دین په مرسته به څرګنده حل لاره ومومي خو په عمل کې د هماغه پېچلتیاوو په وجه، څرګند او بې ابهامه ځواب نه مومي. دوی ظاهراً دین ته مراجعه کړې ده چې له دینه خپل ځواب ومومي خو په حقیقت کې تللي دي چې د خپلې خوښې وړ ځواب د دین په خوله کې کېږدي او خپلې غوښتنې په دین باندې تایید کړي.

درېیمه معضله چې هماغومره اهمیت لري، دا ده چې د دین د لومړۍ درجې متونه تأویل منلی شي. دا چې دیني متن د بشر په ژبه عرضه شوی دی نو د ژبې له کړنو نه شي خلاصېدای. د بشر ژبه نیمګړتیاوې لري او د وینا وال د مقصود په رسولو کې بریالۍ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. مانا دا چې ژبه هغه ظرف دی چې د مانا د رسولو حد اقل وړتیاوې لري ځکه چې د لفظ او مانا نړۍ ماهیتاً سره متفاوتې دي.

ډېرې ماناګانې دي چې ویناوال یې نه شي کولای د الفاظو په قالب کې بیان کړي. څومره چې مانا نازکه او لطیفه وي، هماغومره د الفاظو په قالب کې په سختۍ سره ځایېږي. لفظ کولای شي د مانا هغه برسېرنه برخه او ځینې بُعدونه یې راونغاړي او هماغه مخاطب ته ولېږدوي خو هېڅ ضمانت یې نشته چې د مانایي منظومې ټول پوړونه راونغاړي.

خو خلک یوازې د شارع له خوا له صادر شوي لفظ سره سر و کار لري او تر دې ورهاخوا هېڅ لاره نشته. هېڅوک داسې لاره نه لري چې ورباندې د دیني متن د ویناوال باطني عالم ته ځان ورسوي او ټول مقصود یې بشپړ او په کمال سره درک کړي. له لفظونو سره تعامل هغه یوازینی کار دی چې په دې برخه کې ممکن دی.

دا چې لفظونه په ذاتي ډول نیمګړتیاوې لري او مخاطب ته ابهامونه پیدا کوي، نو د توجیه او تأویل لپاره زمینه برابروي.

د اسلام په تاریخ کې ډېرې هڅې شوې دي چې له لفظونو سره تعامل ته قانوني چوکاټ جوړ شي او د تفسیر او تأویل د ګډوډیو مخه ونیول شي. د دې کار لپاره ځینې علوم لکه نحو، بلاغت او د فقهې د اصولو او د کلام ځینې برخې رامنځته شوي دي. دغه هڅې چې په علمي او منضبط ډول تر سره شوې دي، په خپل ذات کې ارزښتناکې دي او پر اسلامي تمدن یې ښکاره اغېزه ښندلې ده. خو دا په دې مانا نه ده چې ګواکې هغه ستونزې به لرې شوې وي چې د لفظونو د نه وړتیا په وجه راولاړېږي، یا د توجیهاتو او تأویلاتو ور دې تړل شوی وي، او د دیني مفکورې له ډګره دې د ابهامونو کډه بار شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لفظ معضلې د هغه په ذاتیاتو پورې تړلې دي او تر هغې پورې چې بشر له لفظونو او عبارتونو سره سر و کار لري، دا ستونزه به پاتې وي او دا تمه چې یوه ورځ به دا وضعیت بدلیږي، بې اساسه خیال دی.

نو، دیني مفکوره د پیدایښت په لاره کې له دې ستونزو سره لاس او ګرېوان پاتې شوې ده. که د موضوع تفصیلاتو ته ورشو نو له لا نورو ځانګو سره به یې مخ شو.

دې بهیر ته په پام سره به متوجه شو چې دیني مفکوره له څرنګه ناهوارې لارې تېرېږي او کمزوری یې څه ډول دي.

### د دیني مفکورې ځانګړتیاوې

د دیني مفکورې ځانګړتیاوو ته پام ځکه مهم دی چې کولای شي مونږ ته دا توان راکړي چې دیني فکر له دینه بېل کړو او ویې پېژنو. په حقیقت کې یو له هغو تېروتنو چې په اسلامي – دیني ټولنو کې ډېرې باب شوې دي، د دین او دیني مفکورې تر منځ التباس دی.

دیني مفکوره د متدینانو له ذهن او ضمیره راټوکېدلې او د دوی له پوهې او مفکورې راڅڅېدلې ده، حال دا چې دین سره له دې چې د انسانانو په عالم کې څرګندېږي خو په خپل ذات کې ماورایي (د بل عالم) دی. خو دیني مفکوره بیا ماوراییي منشأ نه لري او سره له دې چې د موضوع په لحاظ کېدای شي په میتافیزیکي چارو او غیبي او غیر متعارفو قضیو پورې وتړل شي خو د پیدایښت په لحاظ په پورتني عالم پورې نه ده تړلې. ځینې متدینان باور لري چې د دیني مفکورې ځینې برخې هم لکه الهام او مکاشفه ماورایي منشأ لري او ګومان کوي چې د اعتبار په لحاظ تر نورو علومو او فکري قضیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برې دي. خو په حقیقت کې دا باور پر قوي دلیلونو نه دی بنا شوی او سره له دې چې الهام منل شوې چاره ده او کولای شو په معرفتي مبحثونو کې ورته ځای ورکړو خو معمولاً که چا ته الهام هم وشي نو فردي مسأله به وي او د علمي تیوریو په څېر ورسره چلند نه شو کولای. دې مبحث ته ورننوتل به مو له اصلي موضوع لرې کړي او باید جلا وڅېړل شي خو دلته به همدا اشاره بس او البته لازمه وي چې الهامونه او خوبونه او هر هغه علم چې په دې غیرمتعارفو لارو تر لاسه کېږي، د هغوی اعتبار په ډېرو دقیقو او باریکو شرایطو پورې تړلی وي او هېڅکله به د علمي محصولاتو ځای ونه نیسي او خلک به له متعارفو علومو بې نیازه نه کړي. دا به لویه تېروتنه وي چې په عمومي ډگر کې داسې چارو ته لاره خلاصه شي او فرضاً د خوب یا د الهام یا مکاشفې د ادعا پر اساس دې د جنگ فتوا یا بل داسې حکم صادر شي چې د نورو انسانانو برخلیک ورپورې غوټه وي. که دا چارې اعتبار هم ولري، یوازې پخپله هماغه شخص ته به اعتبار ولري او بس.

د بني ادمانو ذهن او ضمیر چې د دیني مفکورې د پیدایښت منشأ ده، له تېروتنې پاک نه دی او یوازې په دې خاطر چې د دین په اړه فکر کوي، له عیب، نیمگړتیا او ښویېدا خلاص نه شي گڼل کېدای. تفکر پخپله انساني عمل دی نو د نورو انساني عملونو په شان دا هم خپل عیبونه او نیمگړتیاوې لري.

خبره دا نه ده چې دیني مفکوره په دې خاطر چې د انسان له ذهن او ضمیره راټوکېدلې ده نو خامخا به صواب او یا قطعاً خطا وي. د انساني مفکورو صواب او خطا په نورو شرایطو پورې تړلې وي او باید په علمي معیارونو وسنجول شي. د یوې مفکورې دیني والی یوازې په دې دلیل چې دیني مفکوره ده، د هغې پر اعتبار یا بې اعتبارۍ تاثیر نه لري. یوه عامه تېروتنه چې د ځینو روښانفکرانو په منځ کې شایع ده دا ده چې دیني مفکوره علمي (علم په خاصه مانا) نه ده نو هېڅ اعتبار نه لري او گواکې غیرعقلاني او خرافه ده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفکورې ديني والى نه يې اعتبار زياتوي نه يې کموي، بلکې هغه په نورو برخو کې د انسان له ذهنه له راټوکېدليو تيوريو سره يو شان کوي. نن سبا د هرې تيورۍ د اثبات يا ابطال لپاره ځانګړي ميتودونه او ګڼې علمي لارې چارې شته چې په دې برخه کې له څېړونکو سره مرسته کوي.

د ديني مفکورې بله ځانګړنه دا ده چې د خاصو تاريخي – اجتماعي شرايطو محصول ده او په واقعيت کې د هماغه شرايطو په ځواب کې رامنځته شوې ده. د اکثرو ديندارو عالمانو په نظر، دين سره له دې چې رنګ او بڼه به يې د تاريخي شرايطو نښې نښانې لري خو جوهر يې تر تاريخ ورهاخوا او پورته دی. خو ديني مفکوره بيا داسې نه ده او کاملاً تاريخي محصول دی او هېڅ داسې عنصر په کې نشته چې تر تاريخ ورهاخوا (فراتاريخي) وي.

کله چې وايو تاريخي محصول، مانا يې دا نه ده چې د خلوص تمه دې ځنې ونه لرو. د هرې فرقې او هر مذهب ديني مفکوره که له دې نظره وسنجول شي، وبه ليدل شي چې د خپل پيدايښت په تاريخ کې تر کومه اندازه د ځانګړو سياسي – اجتماعي شرايطو تر اغېزې لاندې راغلې ده. ديني مفکوره د ورځنيو شرايطو عکس العمل دی په تېره بيا هله چې خاص کړکېچونه رامنځته شوي او خلک يې اړ ايستلي دي چې د وتلو لاره ومومي.

د سياسي قدرت دستګاوې، مسلط فرهنګي بحثونه او ځواکمنې ايډيالوژي ګانې د ديني مفکورې پر بڼه او جوړښت خپل خپل اغېز لري. البته په هره مذهبي ډله او بهير کې د دې شي د ريښو معلومول تخصصي کار دی چې يوازې په علمي لارو چارو او وسيلو يې کولای شو. خو په هر حال، که دا ومومو چې د ديني مفکورې هره برخه يا څانګه د کوم تاريخي واقعيت په غبرګون کې رامنځته شوې ده، په اسانۍ سره يې په وجودي فلسفې پوهېدای شو. همدارنګه په لا اسانۍ سره کولای شو دا وارزوو چې د هغې تاريخي دورې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرېدو وروسته، نن هم دا مفکوره په کار راځي که نه. مانا دا چې د هغو دعواوو ډېره برخه چې د مذهبي فرقو تر منځ روانې دي، هغو تاريخي شرايطو ته ارجاع شي چې دا دعوې په کې راټوکېدلې دي نو د حل لپاره به يې لا عقلاني لارې چارې پيدا شي. د شيعه او سني، صوفي او سلفي، معتزلي او اهل حديث او نورو تر منځ دعوې، د اوليه تاريخي شرايطو په تحليل سره او دې نتيجې ته په رسېدو سره چې دغه دعوې په هماغه خاصه زمينه کې مانا لرله، هم د پوهېدا وړ گرځي او هم د حل کېدو وړ.

نني نسلونه کولای شي ويوښتي چې هغه څه چې په نورو او په کاملاً متفاوتو تاريخي شرايطو کې پېښ شوي دي، له موږ او زموږ له اوسنيو اړتياوو سره څه تړاو لري او زموږ د نن ورځې کومه ستونزه ورباندې حل کېدای شي. د دغو دعوو اور ته لمن وهل به زموږ اوسنی وضعيت ښه کړي که به يې لا کړکېچن کړي.

د ديني مفکورې درېيمه ځانگړنه د هغې تکاملي بهير دی. څرنگه چې ټول علوم له خاصې نقطې څخه پيل شوي او ورو ورو يې د تکامل لاره وهلې ده، ديني مفکوره هم هماغسې ده. هېڅ ديني – فکري منظومه نشته چې له پيله دې د نه تجزيه کېدونکي کُل او د يوې کاملاً منظمې دستگاه په حيث رامنځته شوې وي. د هر ديني مذهب د تاريخي بهير مطالعه راښيي چې د ډېرو نورو طبيعي پديدو په شان لومړی په کې د يوه فکر نطفه زرغونه شوې او موده وروسته يې د زېږېدو وخت رارسېدلی، بيا يې ورو ورو د ماشومتوب پړاو تېر شوی، غښتلی شوی، غوړېدلی، او وروسته ځای پر ځای درېدلی او وروسته يې پيروانو جسد پر اوږو کړی دی. غالباً هرې ديني – فکري منظومې ته هله د راټوکېدو فرصت پيدا شوی چې پخوانۍ منظومې د زماني – مکاني شرايطو د پوښتنو په ځوابولو کې پاتې راغلې او د نوې خبرې د کولو وس يې نه دی لرلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیني مفکورې د تکامل توب یو دلیل دا دی چې ډېرې قضیې په کې له نورو (غیردیني) علومو په تعامل کې رامنځته شوې ده. نورو علومو د وخت په تېرېدو سره ځانګوړې شوې دي او په کمي او کیفي لحاظ غوړېدلي دي. دیني مفکوره هر وخت له غیردیني علومو تغذیه شوې ده. تفسیر، فقه، کلام، حدیث، عرفان او نور علوم تل په یوه نه یوه بڼه د خپل وخت د علومو تر اغېزې لاندې پاتې شوي دي. په دغو علومو کې هر بدلون ژر یا په ځنډ سره پر دیني علومو اغېز ښندلی دی.

د دیني مفکورې تکامل بهیر ته کتنه، نننیو متدینانو ته دا جرأت ورکوي چې هغوی هم د دیني مفکورې په نني تکامل کې ونډه واخلي او د مکرراتو له تکراره چې نن سبا په ډېرو مدرسو او د دیني علومو په حوزو کې روان دی، یو ګام مخته لاړ شي.

که هغه عاملونه سم مطالعه شي چې د دیني مفکورې پر تکامل اغېز ښندي، دا لاره به خلاصه شي چې د دیني مفکورې د خړوبولو لپاره لا زیات علوم وکارول شي او د خلکو د عملي یا فکري ستونزو په هوارولو کې یې ورتیا لا زیاته شي.

که د دیني مفکورې ځانګړنې هماغسې چې یادې شوې، سره ښه په ښه کې کېښودل شي، یوې لویې نتیجې ته به ورسېږو او هغه دا چې د دین برعکس، دیني مفکوره انساني – تاریخي – غیرقدسي محصول دی چې د تېروتنې احتمال په کې شته او د اعتبار د دورې تېرېدل یې عقلاً او نقلاً مطرح دي.

غیرقدسي او محتملاً په تېروتنو لړې مفکورې د انسانانو د نورو فکري تولیداتو په څېر په تېره بیا په هغو ټولنو کې چې مذهبي باورونه پرې حاکم دي، استعمالېدای شي. په داسې ټولنو کې به معمولاً هر تحول او اصلاح په یو ډول نه یو ډول له دین او دیني مفکورې سره تړاو ولري. خو که یادې شوې ځانګړنې هېرې شي، د دیني مفکورې او پخپله دین تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ پوله به ړنګه شي او بیا د دې پر ځای چې دیني مفکورې ته په انتقادي نظر وکتل شي، پر ذهنونو تصلب او ډېروزمي واکمنېږي او د بیا کتنې او نویو فکرونو مخه نیسي. بیا به ټولنیز جوړښتونه د هر ډول اصلاح او بدلون پر وړاندې مقاومت کوي. وګړي به د قدسیت له وېرې ګڼو دودونو او ټولنیزو عرفونو ته په فوق العاده اعتبار قایلېږي او ان د بدلون او تحول په اړه فکر کول به ناممکن شي.

هغه ټولنې چې له تحجر سره مخ کېږي، په دې توهم اخته وي چې ګواکې خپل اصالت ساتي او له بهرنیو بدلونونو نه متاثرېږي خو په واقعیت کې په داسې عجیب او پردي ټاپو بدلېږي چې په نړیوال کلي کې به هېڅ ځای نه مومي.

خو مخکې تر دې چې دا ستونزه راوسپړو، باید هغو لومړنیو ورځو شپو ته سر ښکاره کړو چې دیني مفکوره په کې رامنځته شوه او اصطلاحاً د سلف عصر بلل کېږي ځکه چې د ډېرو مسلمانانو په ذهن کې د هاغه مهال تصویر یو شان نه دی او دا د ډېرو مقولو پر فهم اغېزه لري. په دې بل مبحث کې به دا موضوع وڅېړو.

## په دیني مفکوره کې د سلف ځای ځایګی

**اوس وخت د مسلمانو عالمانو تر منځ یوه جنجالي قضیه د دیني مفکورې په ډګر کې د سلف د نقش او ځای ځایګی موضوع ده. سلف یعنې د مسلمانانو لومړني نسلونه چې صحابه، تابعین او تبع تابعین رانغاړي.**

د دین د لومړۍ درجې متونو په اړه د سلف فهم او برداشت د هغو مسلمانانو تر فهمه چې وروسته اوسېدلي یا اوس اوسېږي، زیات اعتبار لري؟ له دیني متونو څخه د دوی برداشت او تفسیرونه باید د محک او معیار په توګه په پام کې ونیول شي او نور تفسیرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تأویلونه په همدې محکونو وتلل شي؟ د سلف له نظریاتو سره مخالفت او د نویو تفسیرونو وړاندې کول بد بدعت ګڼل کېږي؟

دا ډول پوښتنې د مسلمانانو تر منځ هغو فکري واټنونو ته اشاره کوي چې د مختلفو ډلو ترمنځ پولې جوړوي.

د ځینو اسلامي ډلو په نظر، پخواني یا سلف هم په علم او تفکر کې او هم په اخلاقو او عمل کې لوړ مقام لري. هغه ډلې چې نن سبا سلفیان بلل کېږي او ان ځینې نورې سنتي ډلې چې رسماً له سلفیت سره سر و کار هم نه لري، په دې عقیده کې سره شریک دي چې د لومړنیو مسلمانانو فهم تر نورو سم او بې عیبه و. د دیانت او مسلمانۍ په برخه کې د دوی سرمشق ګڼل، یوازې په عبادي او اخلاقي مسایلو نه منحصرېږي، بلکې فکري او نظري چارې هم رانغاړي. له دې نظره، که یوه شو چې هغوی کومه خاصه فتوا ورکړې یا یې ځانګړی تمایل څرګند کړی نو بیا په هغه برخه کې د نویو او متفاوتو نظرونو لپاره ځای نه پاتې کېږي. لنډه دا چې سلف تر نورو مسلمانانو په قران او سنت ښه پوهېدل.

دغه ډلو د خپل لیدلوري د اثبات لپاره دلیلونه راوړي دي. تر ټولو مهم نقلي دلیل یې د پیغمبر دغه حدیث دی چې فرمایلي یې دي:"خير الناس قرنى ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم.." (3). یعنې غوره خلک هغه وګړي دي چې له ما سره په یوه عصر کې دي او بیا هغه کسان چې تر دوی وروسته راځي او بیا هغه کسان چې تر هغوی وروسته راځي. په دې اړه نور دلیلونه چې ویل کېږي، زیاتره خپله د سلفانو ویناوې دي چې د ځان او خپلو معاصرانو په شأن کې یې کړې دي نو ډېر د اعتبار وړ نه دي ځکه چې «مطلوب ته د مصادرې» له ډوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په عقلاني لحاظ هم استدلال کړی دی چې سلف او پخواني په اسلامي مفکوره کې مهم ځای لري ځکه چې د وحي د نزول زمان ته ورنږدې وو او ډېر تفسیرونه یې له پیغمبره زده کړي دي او ان که په ځینو موردونو کې یې دغه خبره یاده کړې هم نه وي، دا احتمال شته چې دغه موردونه یې هم له پیغمبره اورېدلي وي.

پر داسې استدلالونو ځینې نیوکې شته چې نورو مسلمانو متفکرانو مطرح کړې دي. د یاد روایت پر وړاندې یې دا حدیث راوړی دی چې: "إن مثل أمتي مثل المطر لايدري أوله خير أم آخره" (مسند احمد، حدیث 12429). یعنې زما امت د باران غوندې دی چې نه پوهېدل کېږي اول به یې ښه وي که اخر یې. د لومړي حدیث پر تأویل هم پرېمان بحثونه شوي دي چې د لومړنیو نسلونو برتري یوازې اخلاقي – عبادي بروالی دی که هر اړخیزه برتري چې فهم او پوهه هم رانغاړي. همدارنګه د «خیرالناس» پر منظور هم بحثونه شوي چې مطلب یې خاص جماعت دی که د ځمکې پر مخ ټول انسانان.

پر دې مناقشاتو خبرې کول، تخصصي چاره ده چې موږ له اصلي موضوع لرې کوي. د دې قضیې له مطرح کولو زموږ هدف دا و چې د دین په فهم کې د سلف د لوړ مقام په اړه استدلال قاطع نه دی چې د یوه دیني حکم په حیث یې په یقین سره ومنو. که دې موضوع ته له عقلاني لیدلوري وګورو، داسې عمده دلیل نشته چې د دین د فهم په برخه کې د یوه خاص نسل برتري ومنو. البته کولای شو قضیه داسې مطرح کړو چې د هر نسل فهم د هماغه عصر د تفکر له سطحې سره ډېر سمون لري او ممکن د هماغه وخت پوښتنو ته بهتره ځواب ووايي. خو که دا خبره تعمیم شي او وویل شي چې د یوه نسل فهم به د نورو نسلونو اړتیاوې هم پوره کړي، داسې مبالغه به وي چې پر غیب پوهېدل به غواړي چې دا بیا په قران او سنت کې د اسلامي عقیدې له کُلیاتو سره په تقابل کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې که دا ومنو چې یو خاص نسل دغه وړتیا درلوده چې د دین داسې فهم او تفسیر ته ورسېږي چې تر خپلې زمانې ورهاخوا د نورو نسلونو اړتیاوې هم پوره کولای شي، نو باید دا هم ومنو چې هاغه نسل باید د وخت او زمان د حجاب په څیرلو کې خارق العاده وړتیا درلودلې وي چې د نورو نسلونو له پوهې او درک څخه باخبر اوسي او د هغوی فکري ستونزې ورحل کاندي. تر اوسه پورې دغه فرض هېچا نه دی مطرح کړی، ان هغو کسانو هم چې شدیداً د سلف په برترۍ قایل دي.

که د لومړنیو نسلونو برتري اخلاقي برتري وګڼو او دا مو باور وي چې هغوی په تقوا او دیانت کې تر نورو بر وو، سره له دې چې دا خبره هم د مناقشې وړ ده خو که له مناقشو راتېر شو او په ټوله کې یې ومنو، دا برتري په خاصه برخه کې ده چې هغه اخلاقي او سلوکي برتري ده او علمي او فکري برتري نه شي رانغاړلی.

څه چې د مسلمانانو په تاریخ کې عملاً پېښ شوي دي، راښیي چې هېڅ نسل په علمي لحاظ خارق العاده وړتیا نه ده درلودلې او په دې لحاظ ټول سره یو شان دي. د مسلمانانو ټول نسلونه د خپلو ځانګړو زماني او مکاني شرایطو تر اثر لاندې وو او ټولو یوازې د خپل عصر مروجو علومو ته لاسرسي لرل. ټول پخواني نسلونه د خپل عصر له ستونزو سره اخته وو او ټولو پر همدې اساس د دین د لومړی درجې متنونو ته مخه کړې وه چې خپلو اړتیاوو ته ځوابونه پیدا کړي. هېڅ نسل تر خپل تاریخه پورته نه و تللی او تر تاریخ ورهاخوا نه و.

که له دې تېر شو، که د اسلامي تمدن او د اسلامي علومو تکوین مطالعه کړو، وبه وینو چې ځینې علوم یې د لومړنیو نسلونو په وخت کې یا خو بیخي نه وو او یا په کاملاً ابتدایي بڼه وو نو هغوی له دې علومو سره یا یو مخ اشنا نه وو یا یې اشنایي ورسره کاملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدوده وه. دا چې دوی د دین د لومړۍ درجې متونو تفسیر او تأویل د خپل وخت د علومو په وسیله کړی و نو خاص امتیاز نه شي لرلای.

نن ورځ د لومړنیو نسلونو هېڅ داسې مدون فقهي، تفسیري یا کلامي اثر نشته چې پر اساس یې استدلال وکړو او وښیو چې لومړني نسلونه په فهم او پوهه کې بر وو او وروسته دې دا پوهه د نورو نسلونو له لاسرسی لرې پاتې شوې وي. ان برعکس، تحقیقي شواهد راښیي چې د مفسرانو، محدثانو او فقیهانو وروستني نسلونه په لا علمي او فني ډول په دې کار بوخت شوي ځکه چې د دوی په وخت کې لا دقیقې علمي وسیلې او لارې رودې شته وې.

د علم تاریخ راښیي چې علم د تاریخ په اوږدو کې د تدریجي ودې او تکامل خوا ته روان و او څومره چې وخت پرې تېر شوی، هماغومره غوړېدلی او ځانګې یې کړې دي.

البته وروستني نسلونه د مختلفو علومو د بنسټګرو مدیون دي او د لومړنیو نسلونو له هغو هلو ځلو نه شو منکرېدای چې د وروستنیو څېړنو او پلټنو لپاره یې لاره پرانیستې ده. خو دا هم ثابته ده چې وروستني نسلونه په لا زیاتو علمي او فني وسیلو سمبال وو.

پر دې ټکي ټینګار مو په دې هدف نه دی کړی چې وویل شي د وروستنیو فهم تر پخوانیو زیات و او د خلف تفسیر د سلف تر تفسیره عالي و. که قضیې ته په تاریخي نظر وکتل شي، ښایي دې نتیجې ته ورسېږو چې د هر نسل فهم او تفسیر د هغوی له شرایطو سره مناسب و او د هماغه وخت له اړتیاوو سره یې سمون درلود.

ښایي د سلفانو تفسیر به بهترین تفسیر و خو د هماغه وخت لپاره چې دوی په کې اوسېدل. د ورستنیو نسلونو فهم او تفسیرونه هم د دوی د خپل عصر له ستونزو سره سمون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. له بلې خوا، د مډرني ټکنالوجی په رامنځته کېدو سره اوسنیو څېړونکو ته زمینه برابره شوې ده چې ډېرو پراخو منابعو ته لا په اسانۍ سره لاسرسی ولري چې د لاسرسي دغه زمینه په پخوانو زمانو کې یا ممکنه نه وه او یا د سختو سفرونو او ډېرو اوږدو هڅو په وسیله برابرېدای شوه. د کتابتونونو وده، د علمي او څېړنیزو مرکزونو زیاتېدل، د چاپ صنعت، د کمپیوټري او مجازي نړۍ رامنځته کېدل د فکر او پوهې په ډګر کې داسې انقلاب راوستی چې په تاریخ کې یې ساری نه شو موندلای.

په دې حساب، نن هم د پخوانو پوهې (د لومړنیو نسلونو یا سلفانو په ګډون) زموږ په لاس کې دي او هم تر ننه پورې د وروستنیو نسلونو. اوس نو سخته ده چې دا مفکوره ومنو چې یو خاص نسل دې د ټولو دیني مسایلو په اړه بهترین فهم ولري او موږ د خپلو برداشتونو او د نورو تفسیرونو د سمولو لپاره باید د هغوی فهم ته مراجعه وکړو او قضاوت هغه ته پرېږدو.

وروستۍ خبره دا چې په دې اړه قراني منطق د ټولو لپاره د عدالت او برابرۍ پلوی دی او دا مسأله یې یوه خاص زمان او مکان پورې نه ده تړلې. قران مجید د بني ادمانو په ژوند کې، بلکې په ټولو کایناتو کې د الهي سنتونو پر اهمیت ټینګار کړی او مسلمانانو ته یې ویلي دي چې دا سنتونه دې وپېژني او په سمه توګه یې وکاروي. الهي سنتونه، د علم او فکر او فهم په ګډون، د ټولو وګړو لپاره یو شان دي او په دې لحاظ د نسلونو تر منځ هېڅ توپیر نشته.

څرنګه چې د مسلمانانو لومړني نسل د جګړو لپاره جنګي تجهیزاتو ته اړتیا درلوده او لازم تدبیرونه به یې ورته نیول، او یوازې په تقوا سره نه شول بریالي کېدای، د پوهې په قضیه کې هماغه خبره ده. د څېړنو او علمي هڅو لپاره په لازمو وسایلو سمبالښت او له دې وسیلو څخه سمه استفاده په دې ډګر کې د بریا لوازم دي او هېڅ نسل له دې نظره مستثنا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. ټول نسلونه د الهي سنتونو پر وړاندې یو ډول حکم لري او ټولو ته د دې سنتونو د کارولو برابر حق ورکړل شوی دی.

### دیني مفکوره د انتزاع محصول که د عیني واقعیت

د ډېرو تصور دا دی چې هره مفکوره، د دیني مفکورې په ګډون، د انتزاعي فکرونو په اثر او د واقعیت له عالمه جلا رامنځته کېږي. داسې فرض کېږي چې ګواکې یو وتلی او تکړه عالم د دې لپاره چې فکر تولید کړي او تیوری جوړې کړي، په یوه خلوت او ارام ځای کې کېني، پر فکري قضیو تمرکز کوي او بیا قلم رااخلي چې خپل فکري تولیدات ثبت کړي. ګواکې د هغه فکري ساختمان د همدې تمرکز او تفکر په اثر جوړېږي او دی له بیروني اندېښنو د خپل فکر په تشولو سره، هڅه کوي چې دغه نوبنیاده ودانۍ څومره چې کېدای شي، لوړه کړي. د دې لپاره چې ودانۍ ښه سینګار کړي، باید په ورځنیو چارو ډېر بوخت نه شي او باید په داسې اسمان کې واوسي چې وشي کولای د تېرېدونکو واقعیتونو له پاسه والوځي او په بې اهمیته مسایلو بوخت نه شي.

خو د هغو کسانو واقعي تجربه چې خپل ژوند یې په فکري هڅو لګولی دی، د دې تصور خلاف تصویر راښیي. په واقعیت کې فکر د انساني وجود د واقعیت یوه برخه ده او هېڅکله له نورو عاملونو لکه عواطف، اړتیاوې، غریزې او ګټو څخه نه جلا کېږي. دغه هر عامل له محیطي واقعیتونو سره د عمل او عکس العمل پر اساس عمل کوي. په ساده وینا سره ویلای شو چې یو عالم د بل هر انسان په شان پر اقتصادي شرایطو فکر کوي او که خپل لاس یې تنګ وي، ذهن به یې سخت پر دې بوخت وي چې ځان له دې تنګ لاسی وباسي. که سیاسي وضعیت یې لاس او پښې ورتړلې وي او ازادي یې ترې اخیستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي یا یې کوم ګواښ ورته پېښ کړی وي نو ذهن به یې له دې تصوره نه شي تښتېدای او مجبور به وي چې پر همدې مسألې فکر وکړي. که ټولنیز عوامل دی څنډې ته کړي یا یې متن ته راولي، دی بې طرفه نه شي پاتېدای او نه شي کولای یوازې ورته وګوري. دغو عواملو ته د هر چا عکس العمل د هغه په رواني ټیپ پورې تړلی وي، همدارنګه د ټولنیزو شرایطو په حادوالي یا نرموالي پورې.

څرنګه چې دغه عوامل کولای شي د وګړي پر ټول ژوند اغېز وښندي او کله کله ورته جدي خطرونه رامنځته کړي یا دا چې طلایي او استثنایي فرصتونه په لاس ورکړي نو دی مجبور دی چې هېڅ یو یې له پامه ونه غورځوي. هغه فکري قضیې او علمي هڅې چې یو عالم ورسره سر و کار لري، له دې عواملو سره بې ارتباطه نه شي پاتې کېدای. په ډېرو موردونو کې غیر علمي عوامل د وګړو پر علمي فعالیتونو اغېز ښندي او د دوی فکري مسیر بدلوي.

د فکر تولیدوونکي چې د ټولنې غړي دي، پر شخصي اندېښنو او اړتیاوو سربېره ټولنیزې اندېښنې او اړتیاوې هم لري. هغه اندېښنې چې ټولنه ګواښي، د دوی خوا ته هم ورځي او لا خو ډېر ځله د نورو د برخلیک غم کول او زړه سوی، خپلې اړتیاوې څنې هېروي خو د نورو اړتیاوې به نه هېروي او دې ته به ګوري چې د نورو د درد او رنځ په کمولو کې څرنګه برخه اخیستی شي. له محیطه الهام اخیستل او سیاسي – ټولنیز شرایط د فکر په تولید او د فکري منظومو په سمبالولو کې مهم عاملونه دي.

د افکارو او علومو تاریخ ته کتنه راښیي چې ګڼې مهمې فکري قضیې له دویم ډوله یعنې د ټولنیزو عملونو، عکس العملونه دي او د فکر خاوندانو هڅه کړې ده چې د خپل علم او فکر په کارولو سره د خلکو ستونزو ته حل لاره ومومي او د وګړو د ژوند په ښه کولو کې عیني یا ذهني ونډه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې سیمه ییز شرایط او محیطي قضیې نه دي چې اندېښنې راپاروي او د متفکرانو د فکر پر څرنګوالي تاثیر کوي، بلکې هغه کسان چې پراخ معلومات لري، معمولاً د نورو حوزو پر هغو موضوعاتو هم فکر کوي چې د انسانانو پر برخلیک اغېز لرلای شي. که چېرې د لویو بریدونو او ورانوونکو جنګونو خطر وي، یا د لویو طبیعي حوادثو احتمال، یا د انسانانو د یوې ډلې په لاس د ګڼو نورو انسانانو د وژلو وېره مطرح وي، نو بیا امکان نه لري چې یو متفکر انسان دې بې غمه پاتې شي او وربادنې فکر ونه کړي، ان که دغه ستونزې د ده له سیمې سره تړاو هم ونه لري.

په ډېرو فکري محصولاتو کې د دې اندېښنو څرکونه موندلای شو او دا فکري محصولات یا خو د دې اندېښنو انعکاس دی او یا یې په غبرګون کې رامنځته شوي دي.

اوس چې خبره د دیني مفکورې پر پیدایښت او د پیدایښت پر څرنګوالي یې ده، د دې تصور خلاف باید ونه لرو. ځکه چې دا قاعده (له محیطي واقعیتونو سره د فکر د ارتباط قاعده) عامه ده او د تفکر په یوې ځانګړې ځانګې پورې مختصه نه ده. دیني فکرونه هم د انساني ذهن محصولات دي او سره له دې چې له دیني منابعو الهام اخلي خو له دې قاعدې نه دي مستثنا.

که داسې وګڼو چې د قران مجید د تفسیر عالمانو، د حدیث متخصصانو، متکلمانو، د عقاید، فقهې، تصوف، عرفان، سیرت او تاریخ عالمانو به په کاملاً انتزاعي فضا کې، له خپل محیطي شرایطو لرې، په یوه ګوټ کې کېناستلي او خپل اثار یې لیکلي او د نورو ځانګو د پوهانو برخلاف یې د ورځنیو مسایلو او د خپلو شخصي او ټولنیزو ستونزو په وړاندې هېڅ عکس العمل نه دی ښییلی، دا به یوازې یو خیالي تصور وي چې پر واقعیت بنا نه دی او د هېڅ انتقادي او تحلیلي ارزونې تاب نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعیت دا دی چې د اسلام د تاریخ له هماغه لومړیو ورځو څخه (ان د صحابه وو په عصر کې) د مسلمانو متفکرانو کار دا و چې د خپل چارچاپېر پوښتنو، ستونزو، او اړتیاوو ځوابونه ومومي.

هېڅ تیوري، علمي قاعده او فکري پنځونه په مجرده انتزاعي فضا کې نه ده رامنځته شوې. دغه تیورئ او فکري منظومې د مختلفو اسلامي مذهبونو او فرقو د راپیدا کېدو مبناوې وې. ټولو د فکر او تفکر د تناره په تودولو کې برخه لرلې ده او که د دوی له سموالي او ناسموالي ورتېر شو، هر یو یې د فقهي او کلامي مبحثونو په غوړېدا کې ونډه اخیستې ده.

که مسلمانان وغواړي پر دې خبرې وکړي چې اسلامي تمدن په لومړنیو پېړیو کې ښه غوړېدلی و او د علم ونې ښه ثمر ورکړی و او دا د اسلام د حقانیت او له علم او تفکر سره د اسلام د مطابقت دلیل یاد کړي نو دا حقیقت دې هم نه هېروي چې هاغه غوړېدا د مختلفو فکري لارو د تعامل، تقابل او ښایي تضاد محصول وه.

دغه فکري لارې او ډلې د خپل پېر د سیاسي – ټولنیزو واقعیتونو انعکاس و چې وروسته بیا پخپله د دې ډګر لوبغاړي شول.

د مسلمانانو په تاریخ کې د هرې فکري ډلې او فکري تمایلاتو نقد او ارزونه د هر څېړونکي او متفکر حق دی او څوک نه شي کولای دا حق له چا نه واخلي. خو د هر بهیر د فکري اساساتو او وجودي فلسفې د پوهېدا لپاره باید هماغه شرایط وڅېړو چې دغو بهیرونو په کې وده کړې ده. د دې مفکورو د ښه پوهېدا لپاره، هم د هاغه ټاټوبي په زماني شرایطو او هم یې په سیاسي – ټولنیزو شرایطو پوهېدل، لازمي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقیقت کې نن سبا داسې مطالعاتو ته شدیده اړتیا ده چې وښیي د مسلمانانو هره علمي تیوري په تېره بیا په دیني مباحثو پورې اړوندې تیورۍ، په کومو تاریخي – ټولنیزو شرایطو کې رامنځته شوي دي. باید وکتل شي چې د فکر خاوندانو او د خوا و شا خلکو یې دقیقاً له کومو ستونزو ځورېدل او د کومو ځوابونو په لټه کې وو بیا به وپوهېږو چې د افرادو او ډلو له خوا وړکړل شوي ځوابونه تر کومه بریده دغه ستونزې لرې کولی شوای او د خپل عصر په تحولاتو کې یې څه تاثیر لرلای دی. وروسته بیا د دې خبرې وار رسېږي چې وګورو هماغه ستونزې اوس هم شته او که نه. که دغه ستونزې نور د تاریخ برخه ګرځېدلې وي او نن یې د تداوم لپاره زمینه نه وي، نو باید دا وګورو چې د هاغه تاریخي پېر فکري مبحثونه زموږ په ورځنیو چارو کې کوم نقش لري که نه. ایا دا مبحثونه زموږ د ستونزو غوټه پرانیستلی شي؟ که دا مبحثونه بیا راژوندي کړو، د خپلې ټولنې او خپل عصر ستونزې وړباندې حل کولای شو؟

که تر دې ارزونو وروسته مو ولیدل چې په رښتیا هم د خورا پخوا وختونو ستونزې زموږ په اوسني ژوند کې نشته او هم هغه حل لارې چې ورته ښودل شوې وې، له کاره لوېدلې دي او که دا مو هم ولیدل چې د هغو ستونزو او حل لارو تکرار او له سره تولید به زموږ ستونزې لا زیاتې کړي نو بیا به دا جوته شي چې موږ او زموږ ټولنه پر داسې فکري مسایلو کار کولو ته اړتیا لرو چې زموږ په درد ولګېږي. تر دې وروسته د فکر تولید او د تیوریو وړاندې کول او په دې ډله کې د داسې دیني فکرونو تولید چې له اوسنیو سختو ستونزو د وتلو لاره راته هواره کړي، زموږ تر ټولو ضروري اړتیا ده. خو مخکې تر دې چې د فکر د تولید درشل ته ورسېږو، باید له هغو فکرونو او تیوریو ځان خلاص کړو چې په فکري لحاظ یې زموږ لاسونه او پښې راتړلې دي او موږ یې د تېرو پېړونو په جعلي دنیا کې ایسار کړي یو. دا یو اساسي او حتمي ګام دی. نو مجبور یو چې تېر ته بیا کتنه وکړو. د تېر مهال پېژندل له هغه څخه د خلاصون او ورسره د عاقلانه تعامل لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دین او فرهنګ تعامل

د فرهنګ ګڼ تعریفونه وړاندې شوي دي. په یوه تعریف کې یې راغلي دي: «د هغو علومو، باورونو، هنرونو، قوانینو، اخلاقیاتو او عادتونو مجموعه ده چې وګړی یې د ټولنې د یوه غړي په حیث له خپل محیطه راخپلوي.» نور تعریفونه یې هم دې ته ورته مفهوم لري. دلته مو بحث د فرهنګ پر تعریف او لغوي ریښې نه دی، دا بحث د ټولنپوهنې په علم کې ځای لري.

دلته غواړو په لنډو دا موضوع وڅېړو چې د دین او فرهنګ تر منځ څه ډول اړیکي شته او دا اړیکي پر دواړو څه ډول متقابل تاثیرات لري.

لومړی باید دې ټکي ته پام وکړو چې هېڅ دین په خلا کې نه دی څرګند شوی یعنې داسې نه وو چې خلکو به تر هغه وړاندې هېڅ عرف او عادت نه درلود او په هېڅ مورد کې یې په ذهن کې هېڅ باور او مفکوره نه وه او ضمیر یې داسې سپین کاغذ و چې هېڅ پرې نه و لیکل شوی تر دې چې دین راغلی او پر دې سپین کاغذ یې خپل مطلوب انځور رسم کړی دی.

بر عکس، د ادیانو او بشري ټولنو تاریخ راښیي چې هره ټولنه له خپلو امکاناتو او فرصتونو سره سم او له خپلو پرمختګونو سره متناسب د باورونو، عرفونو، عادتونو او ارزښتونو یوه جوړښت ته رسېدلې وه. ټولنو د همدې جوړښتونو له لارې د خپل ټولنیز ژوند نظم و نسق تامینول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډګر ته د دين ورننوتل، د يوه نوي عنصر حيثيت لري چې دې جوړښت ته لا ښه او لا اخلاقي نظم ورکړي. خو دغې مسألې خپلې خاصې ستونزې درلودې.

معمولاً په يوه پخواني او منلي جوړښت کې د هر نوي عنصر ورننوتل له خنډونو او مقاومتونو سره مخ کېږي. په ټولنيز ژوند کې د دين ورننوتل هم دې اصل ته تابع وي.

قران مجيد شاهدي وايي چې هر پيغمبر چې رسالت ته مبعوث شوی و، د خپلې ټولنې له سختو مخالفتونو سره مخ شوی و.

ولې هېڅ پيغمبر له هماغه پيله د خپلو خلکو له تاوده هرکلي سره نه و مخ شوی؟ ولې د هر پيغمبر پر وړاندې ډول ډول مزاحمتونه او مخالفتونه وشول؟ حال دا چې معمولاً د هر نبي په پيغام کې اخلاقي مفاهيم او ګټور تعليمات نغښتي وو چې عملي کول به يې د خلکو له اصلاح سره مرسته کوله.

اصلي وجه يې دا وه چې زياترو خلکو خپل ژوند د خپلو ټولنيزو واقعيتونو پر اساس عيار کړی و او دا يې احساسول چې ګټه يې په هماغه لاره کې وه. البته په دې منځ کې داسې کسان هم وو چې شته جوړښت ورته هېڅ ګټه نه درلوده، بلکې احياناً دوی يې ځوراوه او غالباً د ټولنې همدې برخې تر نورو مخکې هغه پيام ته هرکلی وايه چې د اوضاع د اصلاح او بدلون وعده به يې کوله. خو اکثره خلک، په تېره بيا هغه کسان چې په هماغه وضعيت کې يې زياتې ګټې ورپه برخه کېدې، له هماغه وضعيته خوښ وو او هر ډول بدلون ته يې د يوه داسې ګواښ په سترګه کتل چې د دوی ژوند ګډوډوي او ګټې يې له خطر سره مخ کوي.

ولې خلکو داسې انګېرله او د دين او پيغمبر پر وړاندې په شدت سره درېدل؟ ظاهراً تمه دا وه چې دوی دې د پيغمبرانو زېره سوی او د خير پيغام يو نيک فال وګڼي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

شک او اندېښنې پرته ورته لبیک ووايي. خو برعکس، اکثره پخوانو قومونو د خپلو پیغمبرانو پر وړاندې مخالفت کړی دی او کلونه یې هڅوی ځورولي دي او کله کله یې سم جنګ ورسره کړی دی.

دا خبره یو څه متناقضه ښکاري خو کله چې د فرهنګ او ټولنې پیچلی جوړښت مطالعه شي، درک به یې اسانه شي چې ولې هر ديني دعوت داسې ترخه تجربه تېره کړې ده.

فرهنګ او د ټولنې شرایط، وګړو ته نړۍ لید ورکوي او د ژوند کولو بڼه ورښيي، د ښېګڼې او بدګڼې پوله غالباً د محسوسو ګټو پر اساس ورته ټاکي، او داسې لارې رودې رامنځته کوي چې د ټولنیز ژوند له نظم سره مرسته وکړي.

د داسې جوړښت په دننه کې، اغلب خلک د امنیت او هوساینې، ان که نسبي هم وي، احساس کوي، ان که دغه جوړښت غیرعادلانه هم وي او نیمګړتیاوې هم ولري. که دوی پوه شي چې د دې وضعیت بدلېدل به یې ژوند بهتره کړي، ورسره ملګري کېږي به. خو د بشري ټولنو تجربې ورښيي چې اغلب بدلونونه پخوانی مقبول نظم خرابوي او لزوماً ځینې وګړي په متفاوت وضعیت او مقام کې دروي. په داسې بدلونونو کې زیات تاوان هغه کسان کوي چې په پخواني نظم کې یې ډېرې ګټې پرتې وې.

شته فرهنګ پر دې سربېره چې د ټولنې د ځینو طبقو ګټې تامینوي، له ځان سره ځانګړی نړۍ لید هم لري چې د ټولنې مختلف اړیکي سره تنظیموي، د وګړو تر منځ اړیکي، له طبیعت سره د انسان اړیکي، له ژوند او ټولې هستۍ سره د انسان اړیکي. هغه ارزښتونه او لارې رودې چې په دې فرهنګ کې رامنځته کېږي، له هماغه نړۍ لید سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دا جوړښت د دین یا بل فکري نهضت له لارې له بدلون یا ختمېدو سره مخ شي، مانا یې د هغه نړۍ لید، ارزښتونو، لارو چارو او قوانینو ګډوډول دي چې مختلف نسلونه ورسره اوسېدلي دي او پر اساس یې په مکاني لحاظ له خپل چاپېریال او په زماني لحاظ یې له خپل تېر او راتلونکي سره خپل اړیکي تنظیم کړي دي.

فرهنګ تر رغېدو او تکامل وروسته د انسانانو په ژوند کې د یوه قوي عامل په حیث عمل کوي او هېڅ ډول هڅه چې دا له منځه وړي، نه شي زغملای او پر وړاندې یې سخت مقاومت کوي.

له بلې خوا دین غواړي هغه ظلم او ستم چې د یوه فرهنګ په منځ کې ټینګ شوی دی، لکه د انسانانو غیرعادلانه طبقه بندي، د زورواکو د ګټو د ساتلو په خاطر د ناروا اعمالو مشروعیت، له منځه یوسي او پر ځای یې داسې نوی نظم راولي چې دغه غیراخلاقي نښې نښانې په کې نه وي. د دې لپاره چې دې بدلون ته زمینه په اساسي ډول برابره شي، د خلکو د نړۍ لید ستنې باید وغورځول شي او د ژوند فلسفه یې ورنوې شي. په همدې لاره کولای شو نوي ارزښتونه او نوي قوانین د پخوانو هغو پر ځای ودروو او د خلکو په ژوند کې نوي عرفونه او عادتونه وارد کړو.

د پخواني فرهنګ او ټولنیز نظم د مقاومت په وجه او د هغه ځواک او پیسو په مټ چې د دې فرهنګ متولیان یې لري، سمه جګړه پیلېږي. سره له دې چې دا جګړه لومړی یوازې د فکري او اعتقادي تقابل په بڼه وي خو ورو ورو په هر اړخیز تقابل اوړي.

پیغمبران هم چې د دې وضعیت له بدلولو پرته بله دنده نه لري او د دې ظالمانه وضعیت له منګولو د انسانانو له ژغورنې هم نه لاس په سر کېږي، نو منزل ته تر رسېدو پورې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې جګړې برخلیک یوازې په یوه مشخص عامل پورې نه دی تړلی، ځکه خو هر وخت د پیغمبرانو د دعوت عاقبت یو شان نه وي. په تاریخ کې ځینې پیغمبران بریالي شوي دي چې د خپلې سیمې یا خپل عصر شته وضعیت بدل کاندي او خپل ټول دیني ارمانونه یا یې یوه برخه پوره کړې ده. خو ځینو نورو پیغمبرانو بیا محدوده بریا درلودې ده او ځینو یې هېڅ بریا نه ده ترلاسه کړې. لکه څرنګه چې د اسلام د پیغمبر په یوه حدیث کې راغلي دي:"عرضت على الأمم فجعل النبى و النبيان يمرون معهم الرهط و النبى ليس معه أحد"، یعنې: امتونه مې ولیدل ... داسې پیغمبران وو چې محدود جماعتونه ورسره ولاړ وو او داسې پیغمبران وو چې هېڅوک ورسره نه وو. (4).

معمولاً د هغو پیغمبرانو د رسالت هېڅ نښه نه ده پاتې چې بریالي نه وو. ځکه خو په قران مجید کې محدود پیغمبران یاد شوي دي، حال دا چې واقعي شمېر یې تر زرګونو اوښت. خو که یو پیغمبر بریالی شوی و چې د خلکو او ټولنې وضعیت بدل کاندي او دین کامیاب کړي، د خپل عصر له شته شرایطو او فرهنګ سره یې دوه ډوله تعامل کړی دی چې نن ورته اصطلاحاً امضایي تعامل او تاسیسي تعامل ویل کیږي.

مطلب دا چې هر دین له ټولنیز فرهنګ سره په مقابله کې او وروسته له دې چې د هر بدلون پر وړاندې مقاومت شوی دی، د هغه فرهنګ هغه برخې یې چې د نوي دین له ارزښتونو سره یې ټکر نه درلود، هماغسې پرېښې دي، سره له دې چې دغه برخې د خلکو لاسته راوړنې وې نه د دین له محصولاتو څخه. دې ډول مسایلو ته امضایي چارې ویل کیږي یعنې د دین له خوا ورباندې د تایید امضا شوې ده.

بله خوا کې د فرهنګ هغه برخې چې له دیني ارزښتونو سره مخامخ په ټکر کې وې، حذف شوې دي او د نویو ارزښتونو احکام د هغوی پر ځای وضع شوي دي. دا دول

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسایل، تاسیسي چارې بلل کېږي يعنې هغه احکام او مسایل چې اساس يې دين ايښی دی.

که په نننی ژبه وغږېږو نو د دين او فرهنګ تر منځ ديالکتيکي رابطه ټينګېږي. څومره چې دين غواړي د شته فرهنګ په منځ کې خپل شتون تقويه کړي، هماغومره فرهنګ يې پر وړاندې درېږي او په ديني منظومه کې خپل ځای تثبيتوي او هڅه کوي په ډېرو چارو کې يې نښه پاتې وي.

څه چې عملاً د مومنانو په ژوند کې پېښېږي، د يوه نوي وضعيت رامنځته کېدل دي چې د دين او فرهنګ ګډ محصول دی. يعنې دين او فرهنګ يو ډول جوړجاړی کوي، سره پخلا کېږي او په ګډه ژوند کوي. تر دې وروسته چې خلک د هغه دين پر لاره ځي، په واقعيت کې دا د دين او فرهنګي قضيو د ترکيب تجربه وي. وروسته بيا د دين تاريخ او د متدينانو تاريخ سره ګډېږي، د دين او فرهنګ تر منځ پوله ړنګېږي او ځينې برخې يې د ځينو نورو برخو ځای نيسي.

سره له دې چې د دې بهير سوچه کول يعنې له دينه د فرهنګي عناصرو حذفول او له فرهنګه د ديني عناصرو لرې کول، ناممکن دي خو د دې عناصرو پېژندل له ديني مطالعاتو او د ديني مفکورې په پوهېدو کې لويه مرسته کولای شي.

## دين د فرهنګ پر ځمکه

د امام شافعي په اړه دا خبره مشهوره ده چې کله دی له عراقه مصر ته لاړ او يوه موده هلته پاتې شو، خپلو ځينو فقهي نظرياتو ته يې بياکتنه وکړه او نوې فقه يې تدوين کړه چې نوې شافعي فقه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د عراق او مصر متفاوت فرهنګونه وو چې شافعي يې بياکتنې ته اړ کړ. امام شافعي متوجه شو چې ځينې شرعي فتواګانې د عراق له شرايطو سره متناسبې وې خو په مصر کې مناسبې نه وې او دې ته اړتيا وه چې بيا وکتل شي.

دا تجربه يوازې په امام شافعي پورې متخصه نه ده، بلکې ډېر نور فقيهان وروسته له دې چې په مختلفو ټولنو کې د ژوند له مختلفو ډولونو سره اشنا شول، پر دې تفاوت يې سر خلاص شو او بيا يې دغه فقهي اصل رامنځته کړ چې:"تختلف الأحکام باختلاف الزمان و المکان" يعنې شرعي احکام د زمان او مکان له توپيرونو سره توپير کوي. ان ابن القيم په اعلام الموقعين کتاب کې په دې اړه يو څپرکی ليکلی چې عنوان يې دی:"تغير الفتوی و اختلافها بحسب تغير الأزمنة و الأمکنة و الأحوال و النيات و العوائد" (5).

البته د دې مسألې په شرحه کې اوږده بحثونه شوي دي چې څه ډول احکام دا رنګه تغيير او تحول مني او کوم احکام هماغسې ثابت پاتې کېږي چې د فقهې د اصولو په کتابونو کې يې بايد ولټو.

خو د فرهنګ تاثير يوازې د ځينو مقتطع يي فتوګانو په صدور پورې محدود نه دی. د ديني مفکورې د تاريخ ارزونه راښيي چې د نظرونو د توپير او تعدد يو مهم عامل د فرهنګونو توپير دی. دا اصل هم د هغو اشخاصو په اړه صدق کوي چې د اسلامي مفکورې په تکوين کې يې برخه اخيستې وه او هم د هغو ډلو او قومونو په اړه چې ديني ژواک يې درلودلی دی.

که څوک د ټولنپوهنې له نظره مختلفو مسلمانو قومونو ته وګوري، وبه وينې چې د ژوندانه سبک په حجاز او جزيرة العرب کې د خراسان د ژوند له سبکه لوی توپيرونه لرلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. همدارنګه د منځنۍ اسيا، شمالي افريقا، ترکيې او ضغيره اسيا، مغرب او اندلس، هند، شام او ... د وګړو د ژوند بڼه.

په دې هره فرهنګي حوزه کې توليد شوي فکري مقولې او مبحثونه د هماغې حوزې رنګ او نښې نښانې لري او ديني مفکوره نه ده توانېدلې چې له دې اغېزو لرې پاتې شي.

هغه اغېزه چې فرهنګ يې پر ديني مفکورې ښندي، د امام شافعي په اړه د راغلي مثال برخلاف، رنګارنګه ده او په يوه ډګر نه محدودېږي. يعنې داسې نه ده چې يوازې د فقهې علم دې د مختلفو فرهنګي شرايطو تر اغېزې لاندې بدلون منلی وي، البته چې علم فقه تر ټولو جوت بدلونونه تجربه کړي دي.

د قران مجيد تفسير يو له هغو ډګرونو دی چې د زمانې فرهنګ ورباندې ښکاره اغېزه پرې باسي. د دې مسألې خورا ساده دليل د مسلمانانو په منځ کې د تفسير ليکلو تداوم دی. سره له دې چې له لومړنۍ هجري پېړۍ څخه د قران تفسير ته توجه پيل شوې او له هماغه وخته وتليو عالمانو او صاحب نظرانو دې علم ته مخه کړې ده او دا چې د قران سمه پوهېدنه د ټولو مسلمانانو لپاره اهميت درلود، دوی ډېره هڅه وکړه چې د قران د بهتره پوهېدا اصول او ضوابط رامنځته کړي او پر هماغه اساس يې تفسير کړي. خو د تفسير ليکنې اړتيا هېڅکله لرې نه شوه او هر وخت په دوامدار ډول دې ته اړتيا وه چې نوي تفسيرونه وليکل شي.

د اسلام د تاريخ په اوږدو کې پراخې هڅې د قران تفسير ته وقف شوې دي او هر عالم د خپلې خاصې سليقې او سبک له مخې دا کار کړی دی. ځينو د قران پر بلاغي او ادبي بُعدونو تمرکز کړی، ځينو پر عملي احکامو او مسايلو، ځينو پر کلامي او اعتقادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوعاتو، ځینو نورو پر روایاتو او ځینو پر اخلاقي او روزنیزو اړخونو او هر یو یې کله مختصر او کله اوږده تفسیرونه لیکلي دي. خو هرڅومره چې وخت تېر شوی دی، د نویو تفسیرونو لیکلو ته اړتیا پیدا شوې ده.

که د ګڼو تفسیرونو د لیکلو یو عامل تاریخي بدلونونه او زمان و نو بل عامل یې مکان او سیمه او په کې شته فرهنګونه وو چې دغه اړتیا یې دوه چنده زیاته کړې ده. د تفسیرونو معرفي او د هر یوه د سبک بیان اوږد او جلا بحث دی چې باید جلا وڅېړل شي خو دلته مو ځکه ورته اشاره وکړه چې د قران د فهم او د تفسیرونو په پیدایښت کې د فرهنګي عامل پر نقش ټینګار وشي او وپوهېږو چې د دین او فرهنګ د تعامل یو ډګر تفسیر دی.

له حدیث سره تعامل هم ورته لاره وهلې ده. پر هغو مختلفو کتابونو سربېره چې د نبوي حدیثونو د راټولو لپاره کښل شوي دي، ډېرې هڅې پر دې هم شوي دي چې د حدیثونو د شرحې مختلف کتابونه هم ولیکل شي. د حدیثونو د کتابونو په لیکلو کې هم د مخاطبانو له اړتیاوو سره سم کله پر فقهي حدیثونو تمرکز شوی دی، کله پر اخلاقي او روزنیزو حدیثونو او کله پر نورو موضوعاتو. د حدیثونو د شرحې ځینو کتابونو یوازې د څلوېښتو حدیثونو شرحې راوستې دي چې مسلمانان د هغه حضرت د ویناوو یوې لنډې مجموعې ته لاسرسی ولري، ځینو یې د احکامو حدیثونه شرح کړي دي چې فقهي مسایل لکه د عبادتونو فقه او د معاملاتو فقه وڅېړل شي. ځینو لویو عالمانو لکه عسقلاني، نووي، سیوطي، او ډېرو نورو هڅه کړې ده چې د حدیث پر لویو کتابونو لکه بخاري، مسلم او نورو معتبرو کتابونو شرحې ولیکي. دا لړۍ تر ننه پورې هم روانه ده او لا هم ګڼ عالمان په دې برخو کې پر څېړنو او لیکنو بوخت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو علمونو لکه د عقیدې علم، کلام، فلسفه او اسلامي عرفان حال هم دغسې درواخلئ. یو یې هم دومره نه دی بشپړ شوی چې د نویو اثارو کښلو ته دې اړتیا نه وي.

د دې بهیر غځېدل او تکامل هم ګڼ دلیلونه لري هم ګڼ دلالتونه. یو دلالت یې له فرهنګ سره د دیني مفکورې تعامل دی چې د مکان او زمان په قالب کې څرګندېږي. یعنې په هره زماني مقطع یا مکاني حوزه کې خاصې پوښتنې او اړتیاوې وې چې د ځوابونو د موندلو په خاطر یې باید دیني متن له سره لوستل شوی وای او په نتیجه کې یې د دیني مفکورې په برخه کې نوي تولیدات رامنځته شوي وای.

د دین او فرهنګ د تعامل بل پوړ د دیني سنتونو او سیمه ییزو دودونو په ګډه اوسېدل دي. مختلفو اسلامي ټولنو ته د پدیده پوهنې له نظره کتل، راښیي چې د هرې سیمې وګړو هڅه کړې ده چې د اسلامي ارزښتونو له ساتلو سره سره، د خپلې سیمې دودونه او رواجونه هم وساتي چې له پخواني تمدني هویت څخه یې اړیکي پرې نه شي، البته که دا دودونه له اسلامي اعتقاداتو سره ښکاره تضاد نه وي لرلي. د افریقا د شمال قبایل له هنده متفاوت دودونه لري نو دیني ژوند یې هم لږ ډېر د هماغو دودونو رنګ اخیستی دی. د مالیزیا د وګړو عرفونه د مراکش د خلکو له دودونو ډېر توپیر لري. همداسې د ډېرو نورو مسلمانانو.(6)

په هېڅ یوه هېواد کې هڅه نه ده شوې او اړتیا هم ورته نه وه چې د پخواني فرهنګ پاتې شوني یې له ژونده یو مخ ختم کړای شي او د داسې نوي فرهنګ بنسټ کېښودل شي چې له بېخه متفاوت وي. دلیل یې دا و چې دا کار عملاً امکان نه لري او که فرضاً ممکن هم وي، مطلوب نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنگونه د انسانانو د ټولنیز ژوند د تکامل نښه ده او د ګڼو نسلونو زحمتونه په کې نغښتي وي. د فرهنګونو حذفول یعنې د ټولو پخوانو نسلونو له پامه غورځول او د هغوی د هڅو له منځه وړل. حال دا چې دغه هڅې د انسانانو د ژوند د بهترۍ، فکري پرمختګ او د سلوک د ښه کېدو په خاطر شوې دي.

کله چې اسلام په جزیرة العرب کې راڅرګند شو، د دې ځای خلکو د ارزښتونو او ټولنیزو عرفونو یوه منظومه درلوده. ځینې یې د اسلام له اخلاقي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وو نو اسلام هم ژوندي وساتل. د وګړپوهنې او نوې بشرپوهنې مطالعات راښیي چې د عربي ارزښتونو او عرفونو ډېره برخه چې د اسلام له نظره غیر اخلاقي نه وو، د مسلمانانو په ژوند کې پاتې شول او د وخت په تېرېدو سره ځینو خلکو ته د اسلامي ارزښتونو په بڼه معرفي شول، حال دا چې دا دودونه په کتاب او سنت کې ریښه نه لري، بلکې عربي عرف او عادت وو.

همدغه خبره د نورو اسلامي ملکونو د خلکو په اړه هم کولای شو.

د دین او فرهنګ تعامل لا دقیق بُعدونه هم لرلای شي، لکه د ژبې په قالب کې د دین د اصلي پیغام تجلي او د اصلي پیغام د لېږدولو په خاطر له فرهنګي نښانو څخه کار اخیستل چې دا کلامي او د دین پوهنې بحث دی او باید بل ځای په ژوره توګه وڅېړل شي.

دلته پر دې ټکي ټینګار مهم دی چې کله چې دین د فرهنګ پر څمکه زرغونېږي یو ډول متقابل اثر ښندنه کېږي او د دې بهیر پر تکامل، تصحیح یا نقد هر ډول بحث ته په کار ده چې دین او فرهنګ دواړه په علمي ډول وپېژندل شي. دا سمه نه ده چې هغ څوک چې په علمي ډول دین نه پېژني یا له فرهنګ او میکانیزمونه یې نه دي خبر، په دې اړه حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

صادر کړي یا دریغ ونیسي او یا یې د بدلولو هڅه وکړي. دیني مفکوره له فرهنګي ظرفه بهر پېژندلی او مطالعه کولای نه شو.

له مختلفو فرهنګي میکانیزمونو سره د دین او دیني مفکورې د تعامل بڼه تر ننه پورې هم د یوې ژوندۍ او اغېزناکې قضیې په توګه مطرح ده او په دې عصر کې چې د فرهنګونو سره ګډېدل او د تمدني حوزو تداخل رامنځته شوي، شرایط لا پېچلي شوي او د دیني مفکورې د تیوریسنانو کار یې له نویو غوښتنو سره مخ کړی دی او د دوی پر اوږو یې نوې دندې بار کړې دي.

## دیني مفکوره د وار له مخکې فرضونو په لومه کې

د انسان د ذهن او روان په اړه پرمختللې او مډرن مطالعات ښیي چې شعور او لاشعور سره متفاوت میکانیزمونه لري او کېدای شي یو د بل پر وړاندې عمل وکړي. څېړنې دا هم ښیي چې د لاشعور نقش ډېر زیات دی او غیر له دې چې شعور په دوامداره توګه وده وکړي د لاشعور له منګولو د خلاصون بله لاره نشته. البته له لاشعوره خلاصون هم هېڅکله وروستي حد ته نه شي رسېدای او د انسان پر شخصیت د لاشعور نقش د عمر تر پایه په یوه نه یوه ډول دوام کوي.

د لاشعور پر ځواکمن، پېچلي او تر ډېره حده پټ نقش سربېره، شعور هم پېچلی دی ځکه چې د اکتسابي علومو او باورونو مجموعه چې له مختلفو لارو او مختلفو منابعو د ذهن دې برخې ته رسېږي، د هر چا په ذهن کې وار له مخې فرضونه جوړوي چې د هغه پر تمایلاتو، شناخت او ډېرو تصمیمونو او ان د هغه پر ورځنیو کړنو اغېز ښندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ذهن کې د وار له مخکې فرضونو شتون سبب کېږي چې له ډېرو علومو او مفاهيمو سره د انسان تعامل او د هغو پديدو په اړه چې دی يې ويني يا ورنه خبرېږي، بې طرفه نه پاتې کېږي. دی د خپل ذهني دريځ په لومه کې ايسارېږي او نه شي کولای بې طرفانه قضاوت وکړي او يا په مطالعه او څېړنه کې بې پلوه پاتې شي.

د ډېرو مفکورو مثل يا ردول او د مذهبونو، اديانو، گوندونو، قومونو او نورو پديدو په اړه قضاوت پر همدې لاره تېرېږي. همدا وار له مخې فرضونه دي چې د هر فکر او هرې نظريې د اعتبار درجه تعينوي او د گڼو مسايلو پر وړاندې زموږ دريځ ټاکي.

وار له مخې فرضونه ټول يو شان نه دي او کولای شو پر دوو ډولونو يې ووېشو: سم او ناسم. خو دلته د سم او ناسم سره پېژندل او توپيرول پخپله ستونزمن کار دی او په اسانۍ سره نه شي کېدای. د تعليم او تربيې اصلي رسالت دا دی چې د وگړي پوهه او معلومات دې بريد ته ورسوي چې د ناسمو وار له مخې فرضونو له شره ځان خلاص کړای شي او په خپل قضاوت او تصميمونو کې منطقي او د منل شويو قواعدو پر اساس عمل وکړي.

د وار له مخې فرضونو عمل او نقش په خاصې محدودې پورې نه دی منحصر، بلکې د وگړي د ژوند بېلابېل ډگرونه په يوه ډول د هغوی تر اغېزې لاندې راځي. ديني مفکوره هم پر همدې څېړې لارې گام ږدي او سختې يې گالې.

که له دې نظره ورته وگورو، هغه کسان چې په ديني فکرونو پورې اړونده حوزه کې يې د تيوريو او مباحثو په توليد کې برخه درلودې ده، د ټولو انسانانو په شان د دغو وار له مخې فرضونو تر اغېزې لاندې وو او کله چې د دين د لومړۍ درجې منابعو په فهم او تفهيم لگيا شوي دي، د هغو وار له مخې فرضونو پر اساس يې عمل کړی دی چې د دوی په ذهن کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وار له مخې فرضونه ګڼ دي او هر يو يې په يوه ډول سره د انسان پر فهم او دريځ اثر پرې باسي.

ژبني وار له مخې فرضونه يو له هغو موردونو څخه دي چې د ديني نصوصو د پوهېدو پر بنې اغېزه لري. مثلاً ځينې کسان ژبه ماوراْ الطبيعي پديده ګڼي او داسې انګېري چې ژبه په «توقيفي» بڼه له بلې دنيا موږ ته رارسېدلې ده او تر انسان هاخوا عاملونو د هغې په انتقال کې برخه لرلې ده، د ژبې په اړه د دوی وار له مخې فرضونه د هغو کسانو له ليد لوري سره ډېر توپير لري چې ژبه طبيعي پديده ګڼي او باورمن دي چې دا پديده د يو مخ تدريجي بهير په ترڅ کې رامنځته شوې ده او د انسانانو د ټولنيز تکامل محصول ده او اساس يې ټوليز توافق دی، سيال حالت لري او هر وخت به د ودې او تکامل په حال کې وي.

د لومړۍ ډلې په نظر، معاني له الفاظو او ژبنيو قالبونو سره نه شلېدونکي اړيکي لري او په هماغه عالم کې چې ژبه خلق شوې ده، مشخصې معناوې هم ورته ايجاد شوې دي او دا دوه به هېڅکله له يو بله نه بېلېږي. په دې صورت کې د دې متن د لوستونکي او اورېدونکي وظيفه دا ده چې د کلمو اصلي او ازلي معناوې راپيدا کړي او هغو نورو معناګانو ته اعتبار ورنه کړي چې په نورو سياقونو وربandې زياتې شوې دي.

د دويم وار له مخې فرض پر اساس، ژبه د معنا په متابعت رامنځته شوې ده او معاني هغه فهم او برداشت دی چې انسانانو د ټولنيز تکامل او د ژوند د تحولاتو په ترڅ کې حاصل کړي دي او د هغوی د تعبير لپاره يې ژبه رامنځته کړې ده. نو، د کلمو او معناګانو تر منځ تل پاتې اړيکه نشته او هره کلمه ممکن په خاص سياق کې خاصه معنا ورکړي او هم شوني دي چې د ژوند ځپانده بهير، نوې موندنې ورپه برخه کړي چې د هغوی لپاره نوې کلمې خلق شي يا شته کلمې د نورو معناګانو لپاره وکارول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديني نصوصو ته مراجعه له ټولو ژبنيو وار له مخې فرضونو څخه لرې نه شي کېداى او هر وار له مخې فرض کاملاً متفاوته نتيجه زېږوي چې له نورو نتيجو به جوت واټن ولري.

د نړۍ پېژندنې وار له مخې فرضونه هم همداسې نقش لري. ځينې کسان نړۍ ته د پخواني «علم هيأت» پر اساس ګوري او تصور کوي چې ځمکه د عالم مرکز دی او نورې سيارې تر ځمکې راڅرخي. د دوی وار له مخې فرضونه له هغو کسانو ډېر توپير لري چې د ميلياردونو کهکشانونو پر شتوالي خبر دي او د نوري کال واټنونه درک کوي. همدارنګه د نړۍ طبيعي جوړښت له رازونو ډک ګڼل له هغه ليدلوري ډېر توپير لري چې د علمي پرمختګونو پر اساس يې د ډېرو فيزيکي تحولاتو علتونه کشف کړي دي، د طبيعي تعاملاتو قوانين يې پېژندلي دي او د نړۍ رازونه يې راسپړلي دي.

د انسانانو په اړه وار له مخې فرضونه هم شته لکه د جنسيت پر اساس د دوی وېش او دا چې يو جنس غښتلی او پوه دی او بل يې کمزوری او ناپوه. همدارنګه د انسان د اصيل فطرت په اړه هم وار له مخې فرضونه شته دا چې انساني کرامت ذاتي دی او هويتي قضيې چې وروسته ورته حاصلېږي، عارضي چارې دي، يا دا چې کرامت يې د هويت فرع دی او د ده د ديني، ژبني، توکميز او ... هويت له مخې يا کرامت ورکول کېږي يا ځنې اخيستل کېږي.

که يو څوک وغواړي د انسان او د هغه د حقونو په اړه ځينې ديني نصوص تفسير کړي او پر اساس يې حقوقي قوانين او مقررات وضع کړي، نو د پخوانيو ليدلوريو نقش پخپله راميدان ته کېږي او هغه به پر ديني متن هماغسې پوه شي چې د انسان په اړه د ده له وار له مخې فرضونو سره سمون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وار له مخې فرضونو بله بڼه تاریخ ته د کتلو په ډول پورې وي. یوه ډله باور لري چې انسانان په لومړي سر کې پر سمه لاره روان وو او څومره چې وخت تېر شوی، دوی له سمې لارې لرې شوي دي او دغه بې لاریتوب به تر اخرالزمانه پورې دوام وکړي او د ژغورنې یوازینۍ لاره دا ده چې هماغه لومړني فطري حالت ته وروګرځي. د دوی پر وړاندې بله ډله په دې باور ده چې انسانانو په لومړي سر کې هېڅ مهم علم او معلومات نه درلودل او د وخت په تېرېدو سره یې د ټولنیز تکامل پر لاره ګام ایښی دی، د علم د زده کولو لاره یې موندلې ده او زده کړي علمونه یې نورو نسلونو ته لېږدولي دي او د علمونو او مهارتونو د تراکم په اثر لوی انساني تمدنونه رامنځته شوي دي. له دې نظره، څومره چې وخت تېرېږي، هماغومره انسان لا تکامل او پخوالي ته رسېږي او له تېر او راتلونکي سره د ده نسبت داسې دی لکه له جهل او علم سره نسبت. مانا دا چې د تاریخ مسیر داسې دی چې شا یې جهل ته او مخه یې علم ته ده او انسانان په تدریج سره لا زیاته پوهه ترلاسه کوي او خپل جهل کموي.

کله چې لومړۍ ډله دیني نصوصو ته مراجعه کوي، هر هغه شی لا معتبر ګڼي چې لا پخوانو وختونو سره تړاو ولري او هر شی چې وروستیو وختونو پورې اړه ولري، ورته کم اعتباره ښکاري. دویمه ډله بیا د پخوانو وختونو محصولات د هغوی د وروسته پاتو شرایطو او د بشر د خامۍ محصول ګڼي او وروستي محصولات لا متکامل او اقلاً د استفادې په لحاظ ننني انسانانو ته لا ګټور ګڼي.

پر دغو موردونو سربېره، د وګړو په ذهن کې نور وار له مخې فرضونه هم شته چې د دوی له شخصي تجربو، تحصیلي او تخصصي څانګې، سیمه ییزو دودونو او ان کورنۍ تربیې څخه منشأ اخلي او ټول یې د فهم او تفسیر او تحلیل پر نتیجې اغېز پرې باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وغواړو ديني مفکوره له دې منظره وڅېړو، بايد د هغو کسانو په اړه نوي مطالعات وکړو چې دا مفکوره يې رامنځته کړې ده. دې سره به د دوی د معرفت په توليد کې د غيرمعرفتي عاملونو څرکونه ومومو. د دوی د وار له مخې فرضونو په ازمويلو سره به د دوی د ديني برداشتونو او ليدلوريو د قوت او اعتبار اندازه بهتره رامعلومه شي.

## په ديني مفکوره کې ژنبی عامل

د مسلمانو عارفانو او متکلمانو او د ګڼو نورو اسلامي علومو د عالمانو په نظر، خدای خپل پيغام په مختلفو لارو رالېږي ځکه چې د هغه ايات او نښانې چې په يوه ډول سره د هغه پيغام لېږدوي او د قران په تعبير کلمې ګڼل کېږي، په هر ځای کې، په آفاق او انفس کې خورې دي.

الهي نښانې تر هغه ډېرې دي چې وګڼل شي يا تصور شي. قران پخپله په صراحت سره دا خبره کړې ده:"قل لو کان البحر مدادا لکلمات ربی لنفد البحر قبل أن تنفد کلمات ربی" (سورۀ: الکهف، آيه: 109) يعنې که سمندر د ليکلو رنګ وي زما د رب د ويناوو لپاره هرګوره سمندر تمامېږي مخکې له دې چې زما د رب خبرې تمامې شي.

بې شمېره الهي ويناوې ډېر مخاطبان لري او يوازې انسانانو ته نه دي. قران په صراحت سره وايي چې نور موجودات هم الهي ويناوې د وحي په قالب کې تر لاسه کوي خو داسې وحي چې د دوی د وجودي ظرفيت سره متناسبه وي، نه د انسانانو د ادراک په سطح کې."و أوحی ربک إلی النحل أن اتخذی من الجبال بيوتا و من الشجر و مما يعرشون" (سوره:النحل، آيه: 68) يعنې ستا رب پر غومبوسې وحي وکړ چې په هغو غرونو او ونو او چتونو کې چې جوړوي يې، ځاله جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې بني ادمانو ته وحي کېږي او څه چې نورو موجوداتو ته وحي کېږي، يوه منشأ لري، خو يوه بڼه او يوه محتوا نه لري. ان څه چې انسانانو ته وحي کېږي هم هر وخت يو شان نه وي، کله د الهام په بڼه، کله د ملايکو د نزول په بڼه او کله د خوب په بڼه څرګندېږي.

د وحي ډېر ډولونه او شکلونه د انفرادي پېښې بڼه لري چې واحد مخاطب يې وي او معمولاً دغه مخاطب ته محدود او مقطع يي پيغام لېږدوي او نورو ته د تعميمولو وړ نه ده او غير له اصلي مخاطبه په بل چا پورې اړه نه لري. خو د وحي يوه بڼه چې د مکتوب ژبني حالت غوره کوي او ګڼ مخاطبان لري او د يوه دين ټول پيروان رانغاړي، د ډېرو علمي بحثونو او مناقشو په محور کې ځای لري.

يو مبحث چې په دې مناسبت مطرح کېږي، دا دی چې د اسماني پيغام د ماورالطبيعي محتوا او د الفاظو د طبيعي ظرفيت تر منځ څه ډول نسبت جوړېږي. ايا د هغه متعالي محتوا او د ځمکني الفاظو تر منځ د پيوند تر جوړېدو وروسته، د ژبې ماهيت او فطرت بدلېږي او د ژبې بشري ځانګړنې له منځه ځي يا دا چې د ژبې طبيعي او بشري ځانګړنې هماغسې خوندي پاتې کېږي؟

که د ژبې ماهيت بدل شي او له متعارفې ژبې سره توپير پيدا کړي، نو بيا کولای شو د پوهېدا لپاره يې د همدې متعارفې ژبې ګرامر او قواعد وکاروو؟ که دغه قواعد د دې ژبې لپاره چې د وحي ظرف ګرځېدلې ده، بايد ونه کاروو نو ايا نور ځانګړي قواعد موندلای شو چې د وحي د ژبې لپاره مخصوص وي؟ ايا دا قواعد پخپله له وحي څخه اخسيتل شوي که د انسان په لاس جوړ شوي چې د خپل اجتهاد او فهم پر اساس يې جوړوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه پوښتلی شو چې که د ژبې لپاره نوي قواعد نه دي په کار او معمول قواعد يې ستونزې حل کولای شي، نو ايا هماغه قواعد پر دې ژبې چې د وحې ظرف دی، بې له استثنا تطبيقېدای شي؟ که دغه ژبه چې وحياني مفاهيم رانغاړي د متعارفې ژبې گرامري قواعدو او بلاغي معيارونو ته تابع شي، نو بيا د ماهيت او طبيعت په لحاظ يې له هغې ژبې توپيرولی شو چې په نورو حالتونو کې استعمالېږي؟

د اسلام په تاريخ کې د مسلمانانو عملي تجربه راښيي چې دوی په دې برخه کې له وحياني متن سره هماغه چلند کړی دی چې له هر ژبني متن سره يې کوي. د صرف، نحو، اشتقاق، ترکيب، معاني، بيان او بديع علومو په دې برخه کې د دې دوو ډولو ژبو تر منځ په توپير نه دي قايل شوي او قواعد يې پر دواړه يو خېل تطبيق شوي دي.

که داسې وي، نو بايد ومنو چې ژبه د يوې تاريخي - انساني پديدې په حيث ځينې محدوديتونه لري چې مجبورېږي له مجاز او استعارې او نورو بياني ميتودونو کار واخلي. دا کار ژبې ته څو اړخونه ورکوي او د مطلوبې معنا اخيستل ستونزمنوي، همدارنگه کله کله د مطلوبو مفاهيمو په رسولو کې، ژبه له ستونزې سره مخ کوي.

دلته ديني مفکوره يوه بل پېچلي پړاو ته ورننوځي. په دې پړاو کې مختلفې ادبي او ژبنۍ تيورۍ د ديني نصوصو په فهم کې اساسي نقش لوبوي او د هرې تيورۍ په کارولو سره خاصې او متفاوتې نتيجې ترلاسه کېږي.

مثلاً هغه کسان چې په ديني نصوصو کې د مجاز په شتون نه دي قايل او ټول عبارتونه يې حقيقي گڼي، په گڼو موردونو کې به بندې لارې ته ورسېږي ځکه چې د دوی د فهم او تفسير پر اساس داسې نتيجې راووځي چې ټوله اعتقادي دستگاه اغېزمنوي چې د عقيدې مهم اړخونه لکه د خدای صفات او په غيب پورې اړوندې چارې هم رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بله خوا کې ځينې کسان چې د مجاز په شتون قايل دي او د ځينو يا ټولو نصوصو تأويل جايز ګڼي، نورو متفاوتو برداشتونو ته رسېږي. دې سره د نويو تأويلونو لپاره زمينه برابرېږي او د نصوصو د تأويل لړۍ د متفاوتې فکري لارې د پيدايښت سبب کېږي چې دا به په هېڅ وجه د لومړۍ ډلې لپاره د منلو وړ نه وي.

حقيقت دا دی چې ژبنی عامل د ديني مفکورې په رامنځته کېدا کې عمده عامل دی ځکه چې له ژوند سره ډېر ټينګ پيوند لري. (7) او څومره چې ژوند بدلېږي رابدلېږي، هماغومره ژبه هم بدلېږي. ژبه اساساً خوځنده، وده کوونکې او بشپړېدونکې پديده ده او په يوه پړاو کې نه درېږي.

دا چې ژبه بدلېږي او په تېره بيا له ژوند سره سمه لاپېچلې کېږي نو له ژبې سره د تعامل او د هغې د رمزونو د سپړلو لپاره لا زياتې او متنوع تيوري ګانې راټوکېږي چې له وګړو سره د ژبنيو او ذهني تېروتنو په کمولو يا له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

نوې توليد شوې تيورۍ هماغومره چې د مختلفو ژبنيو محصولاتو په فهم کې د کارولو وړ دي، د ديني نصوصو په فهم او تفسير کې هم استفاده ځنې کېدای شي ځکه چې ديني نصوص هم ژبنی قالب لري. دا چې دغه ژبني تيورۍ نوې او پرمختللې دي، د ديني نصوصو فهم او تفسير به هم نوي او پرمختللې شي او له دې نصوصو د نويو برداشتونو لاره به هواره کړي.

ويلای شو چې ژبه د خپل څو اړخيز او ضمني ماهيت په وجه د برداشتونو او فهمونو تنوع ته زمينه برابروي او معرفتي پلوراليزم ممکنوي.

د مفکورو تنوع او د تفسيرونو توپير کېدای شي د تقابل او تعارض سبب شي او کله کله د ديني مفکورې ډګر له فکري شخړو ډک کړي. مختلف مذهبونه او مختلفې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرقې د یو بل پر وړاندې درېږي او په مختلفو فکري وسلو سمبالېږي. ژبنی تیورۍ او ژبني علوم تر ټولو تېرې وسلې دي چې په دې شخړو کې په کارېږي.

څرنګه چې ژبني تحولات يو جبري واقعيت دی او تېښته ځنې نه شي کېدای نو د ديني مفکورې تحول او د ګڼو ديني تفسيرونو پيدا کېدل هم حتمي دي.

نن سبا ديني مفکوره له ګڼو پوښتنو او ننګوونو سره مخ ده خو ژبني تحولات بيا هر وخت ننګوونه نه وي او کولای شي نويو فرصتونو ته زمينه برابره کړي او له بندو لارو څخه د وتلو لاره پرانيزي.

سره له دې چې تر اوسه پورې داسې نه ښکاري چې د ژبپوهنې د مطالعاتو اهميت دې په ديني حوزو کې تر جدي غور لاندې نيول شوی وي خو د نړۍ لوی علمي او معرفتي تحولات، سړی مجبوروي چې ژبنيو علومو ته پام واړوي.

دې سره کولای شوی د داسې مطالعاتو او څېړنو په غني کولو سره، د اسلامي مذهبونو او فرقو د مفکورو تنوع او توپيرونه درک کړو او د جزمي او دوګماتيزمي چلند پر ځای، د دوی په منځ کې د متقابل تفاهم او درک زمينه مساعده کړو.

**په ديني مفکوره کې سياسي عامل (1)**

سياست يعنې له قدرت سره د تعامل اوزار، هم د هغو کسانو لپاره چې واک او ځواک لري او هم د هغو کسانو لپاره چې د قدرت د دستګاه پر وړاندې ولاړ دي. د سياست مطالعې – هم د سياسي علومو له نظره او هم له فلسفي منظره – ښودلې دي چې قدرت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو فکري او فرهنګي تحولاتو باندې مهم او نه انکارېدونکی نقش لرلی دی. قدرت ان هغه کسان هم ځان ته تابع کړي دي چې د قدرت د دستګاه له عیبونو او فساده یې شکایت کاوه، ورسره مخالف وو او د هغې مهارولو یا نسکورولو ته یې ملا تړلې ده. مانا دا چې دا کسان باید د قدرت او توانایی په ابزارو ځان سمبال کړي چې وشي کولای د قدرت پر وړاندې د قدرت په مورچه کې ودرېږي.

د قدرت منطق ته د غاړه ایښودلو یوه مانا هغو معیارونو او موازینو ته تسلیمېدل دي چې د قدرت نظام یې غواړي. د قدرت د نظام لپاره څه چې مهم دي، د اقتدار او تسلط بقا او پراختیا ده او هر شی چې دغه بقا او پراختیا ته خطر پېښوي، دښمن ګڼل کېږي او د زغملو نه وي. څه چې د قدرت دستګاه ته لږ اهمیت لري، معرفتي او د حقیقت پلټلو مفکورې دي. له دې نظره قدرت د مطلق حقیقت مظهر دی او هر شی چې له دوام سره یې مرسته ونه کړي او یا یې پر خلاف وي، هغه د حقیقت خلاف ګڼل کېږي.

دغه ځانګړنه په ټوټالیټر نظامونو کې جوته ښکاري، البته په نورو نظامونو کې هم په مختلفو ډولونو شته. د قدرت نظام له نورو مقولو، بنسټونو او دستګاوو لکه فرهنګ، دین، هنر، علم، اقتصاد او نورو سره په خپله ګټه تعامل کوي. د قدرت د نظام په سترګو د هر یوه ارزښت په دې پورې اړه لري چې دغه مقولې څومره د قدرت د غوښتنو او هدفونو په تحقق کې په کارېږي.

سره له دې چې د قدرت نظام مطلق واک نه لري چې هر څه له خپلې خوښې سره سم وکاروي او هر څه د هغه په خوښه وي خو د هغو لوبغاړو په منځ کې چې په عمومي حوزه کې فعاله دي، د قدرت نظام غالباً تر نورو بر دی او په تحولاتو کې یې نقش تر ټولو زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قدرت نظام غواړي نورو بنسټونو ته د اوزارو په سترګه وګوري او د خپلو هدوفونو د پوره کولو لپاره يې استعمال کړي. نور بنسټونه ذاتاً خو داسې نه دي خو بالعرض پر همدې لاره استعمالېدای شي. مثلاً کله چې د قدرت نظام غواړي علم کاملاً خپل خدمت ته وګوماري او يا دين د وسيلې په توګه وکاروي، غالباً دا کار په اسانی سره کېږي.

علم اساساً د حقيقت د کشفولو لپاره رامنځته شوی دی او ذاتي غوښتنه يې د جهل او بې خبرۍ د تېغر راټولول او له تيارې سره مقابله ده. که علم ازاد وي او خپله لاره ووهي، هره ورځ يو نوی حقيقت څرګند کړي، جهل او ناخبري کم کړي، نو کېدای شي دا بهير د قدرت نظام په راپرځولو ختم شي. دين هم چې اساساً دې ته راغلی چې انسان د نورو وګړو، ارواحو، ګوندونو او مختلفو سياسي واکمنيو له بنده ګۍ او غلامۍ خلاص کړي، همداسې دی. که د دين پر لاره خنډ جوړ نه شي او ورسره مخالفت ونه شي، کېدای شي لوی بدلون رامنځته شي چې د قدرت نظام به هم رانغاړي. د اسلام پيغمبر همدې حقيقت ته اشاره کړې ده او ويلي يې دي: إن الله يرفع بهذا الکتاب أقواما و يضع به آخرين" يعني: خدای د دې کتاب (قران) په وسيله، ځينې خلک لوړوي او ځينې له خپلو مقامونو راکوزوي. (8)

په همدې وجه، د قدرت نظام چې پر اوضاع واکمن دی، د هر بدلون مخه نيسي او په ټول وس يې پر وړاندې درېږي. کله چې کمزوری شي او مجبور وي چې دې بدلانه ته غاړه کېږدي، نو دا ځل هڅه کوي چې د جوړ جاړي له لارې يې خپل خدمت ته وګوماري او پر هغه لاره يې بوځي چې پخپله يې غواړي.

دا دقيقاً هماغه څه دي چې د اسلام په تاريخ کې پېښ شوي دي. اقبال لاهوري د دې تاريخي پېښې وصف داسې کړی دی:

عرب خود را به نور مصطفی سوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چراغ مرده‌ی مغرب بر افرواخت
ولیکن آن خلافت راه گم کرد
که اول مومنان را شاهی آموخت

یعنې هغه لاره چې لومړنیو مسلمانانو د دین په مرسته د سلطې له نظام څخه د ژغورنې په خاطر غوره کړې وه او پر وړاندې یې بغاوت کړی و، لومړي سر کې یې په تاریخ کې یو نوی فصل پیل کړ او د پرگنو لپاره یې نوې لاره پرانیستله خو لا ډېر وخت نه و تېر چې قدرت د یوې امپراتورۍ په بڼه د قدرت هماغه پخواني منطق ته ستون شو او زړو نظامونو بیا په نوي قالب کې سرونه پورته کړل.

د اسلام د تاریخ تقریباً ټول څېړونکي دا مني چې د راشده خلافت تر دورې وروسته، د حکومت او سیاسي سلطې په ډگر کې ډېر بدلونونه راغلي دي. البته د عواملو او علتونو په اړه یې مختلف نظرونه او رنگارنگ بحثونه مطرح شوي دي.

دلته مهمه ده دې ته پام وکړو چې وروسته له دې چې د اسلام په تاریخ کې د قدرت په نظام کې بدلونونه راغلل، دا ځل د دین او د قدرت د جوړښت تر منځ تقابل نه و، بلکې هر حاکم به هڅه کوله او مجبور و چې خپل مشروعیت د دین له لارې ترلاسه کړي. سره له دې چې د اقتدار ستنې پر نورو عواملو لکه قومي – قبیلوي جوړښت، اقتصادي عواید (خراج، مالیات او ...)، هم ولاړې وې خو په دې منځ کې دین عمده برخه درلوده.

دا ځل د قدرت نظام په دې لټه کې شو چې د دیني تعلیماتو هغه برخې ترویج کړي چې د نظام د ستنو په ټینگولو کې یې مرسته کولای شوه او هغه دیني تعلیمات څنگ ته کړي چې د نظام مشروعیت یې ننگاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قدرت د نظام د ټينګولو لپاره د دين د اتسخدامولو او پر ديني مفکورې د اغېز ښندلو هڅو د اسلام په تاريخ کې مختلف رنګونه او ګڼې جلوې درلودې.

تر اوسه پورې د اسلامي مفکورې په رامنځته کېدا کې د سياسي عامل او قدرت د نقش په اړه محدودې نظري هڅې شوې دي (9) يو دليل يې دا دی چې دا ډول هڅې د واکمنو نظامونو له هرکلي سره نه مخ کېدې، بل دليل يې دا و چې د علم خاوندانو د واکمن نظام په اړه پرمختللی تصور نه درلود.

د حکومت او د قدرت د نظام دا تصوير چې هغه په مستقله توګه تر څېړنې لاندې ونيسي، مډرنه پديده ده او زموږ په تاريخ کې مخينه نه لري. پخوا به د قدرت نظام د حاکم شخص او څو متنفذو څېرو په وجود پورې محدود ګڼل کېده او ټول بحثونه به د اشخاصو پر محور راڅرخېدل، نه د نظام او جوړښت پر محور.

طبيعي ده چې له داسې تصور سره به له دين، فرهنګ او نورو مقولو سره د حکومت رابطه متفاوته بڼه خپلوي او د دې بحث د ځواب له موندلو سره مرسته نه شي کولای.

### په ديني مفکوره کې سياسي عامل (2)

د اسلام په تاريخ کې، ګڼو خليفه ګانو او اميرانو هڅه کوله چې د مسلمانانو په منځ کې مشروعيت ولري او دا مشروعيت چې عملاً يې پر مختلفو عناصرو تکيه لرله، په ديني رنګ هم ورنګوي. له ديني مفکورې سره د قدرت او سياسي عامل رابطه له همدې ځايه ټينګه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې منظور د مسلمانو حاکمانو یوه هڅه دا وه چې اهل علم حکومتي دربار ته وروغوښتل شي چې په نظام کې د دوی د جذبولو زمینه برابره شي. ځینو عالمانو له دې بلنې ځانونه ساتل او له اهل قدرت سره له نزدیکته یې ډډه کوله چې خپله خپلواکي وساتي او که په حکومت کې کوم انحراف ووینې، ورسره مخالفت او مقابله وکړای شي. معمولاً د اهل علم دغې ډلې ته مسلمانانو درناوی کاوه او ممتاز مقام یې ورته ورکړی و. د دوی ښه نومونه د اسلام په تاریخ کې تل پاتې دي.

خو ځینو نورو عالمانو چې د قدرت له اربابانو سره ناسته پاسته ورته غنیمت ښکارېده، یا به د ښو مشورو او نصیحت په نیت او یا د مادي امکاناتو د خپلولو په نیت، به یې د حکومت بلنه منله. د اهل علم دغه ډله په عربي کې د علماء السلطان او په فارسي کې د درباري عالمانو په نامه پېژندل کېدل. د علمي او فکري تولیداتو یوه برخه د همدغه عالمانو په لاس رامنځته شوې ده. سره له دې چې دغه ډله به په کراتو د نورو عالمانو تر نیوکو لاندې راتلل چې علم یې د حکومت او قدرت چوپړ ته گومارلی دی او په بله وینا دین یې پر دینا خرڅ کړی دی خو له بلې خوا د حکومت ملاتړ د دې سبب کېده چې د دوی اثار لا زیاتو مخاطبانو ته ورسېږي او ژر مشهور شي.

د اهل قدرت او حاکمانو هڅې یوازې همدومره نه وې. دا چې د دیني مسایلو په اړه رنگارنگ تفسیرونه او برداشتونه وو او په تېره بیا په دې چې فرقه یي تمایلات رامنځته شوي وو، دوی ته زمینه برابرېدله چې هغه تفسیرونه او مذهبي فرقې تقویه کړي چې د دوی په گټه وې. د خاصو فکري تمایلاتو ملاتړ داسې کار و چې اهل قدرت په کراتو ورته لاس پورې کړی چې د خپل حکومت ستنې ورباندې ټینگې کړي او رقیبان او مخالفان پرې کمزوري کړي. کله کله یې په دې وسیله ښې بریاوې هم ترلاسه کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته دا همکاري دوه اړخیزه وه، یعنې څومره چې د خاصو افکارو او اعتقاداتو ترویجول د حکومت په ګټه تمامېدای شول، هماغومره د حکومت ملاتړ کولای شول د خاص مذهب او ځانګړې فرقې د شهرت او پیاوړتیا سبب شي.

له ځانګړي مذهب یا فرقې د حاکمانو ملاتړ هر وخت هم د ګډو ګټو او د سره ورته لیدلوریو له مخې نه و ځکه چې یوازې د مختلفو ډلو ترمنځ تفرقه او اختلاف هم د واکمن نظام په ګټه تمامېدای شو او د ډلو تر منځ تضاد به داسې توازن رامنځته کاوه چې ټولې ډلې پرې شنډې شي. په همدې وجه اهل قدرت به غوښتل چې مذهبي او فرقه يي تضادونو ته لمن ووهي چې مختلفې ډلې یوه بله سره مهار کړي، بې له دې چې حکومت ته کوم خطر یا تاوان پېښ کړي.

پر یادو موردونو سربېره، کله کله به حکومتونو بې له چې له هرې فرقې یا ډلې سره هم نظره اوسي، هڅه کوله داسې تمایلات او لیدلوري ترویج کړي چې دوی به يې تقویه کولای شول. کله کله جبرپاله (تقدیر ته مطلق تسلیمېدل) او له دنیا د تېښتې مفکورې د حکومتونو له لوري رواج شوې دي چې خلک خپل برخلیک ته تسلیم شي، تراخه واقعیتونه خپل تقدیر وګڼي او د وضعیت د بدلولو له هر دول فکر څخه فارغ شي او حاکم نظام د ګډوډیو منشأ ونه ګڼي.

تر دې ځایه بحث مو په دې اړه و چې واکمنو نظامونو به د خپلو سیاسي ګټو لپاره له فکري مقولو او اعتقادي چارو استفاده کوله. په بله خوا کې، هغه ډلې چې په مختلفو دلیلونو د واکمن نظام پر وړاندې درېدې، مجبورې وې چې فکري قضیو ته مخه کړي.

په سیاسي اخ و ډب کې فکري او اعتقادي مقولو ته د مخه کولو انګېزې دوې وې: د خپلې ډلې غښتلې کول او مقابل لوری کمزوری کول. د خپلې دلې د تقویې لپاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید داسې فکرونه او باورونه رواج کړي واى چې د غړو ترمنځ یې وحدت زیات کړي، د رهبرانو او بولندویانو اطاعت ټینګ کړي، پیروان د سر او مال قربانۍ ته چمتو کړي، او د مبارزې روحیه غښتلې کړي.

د دې کار لپاره یې باید ځانګړي ادبیات پاللي واى او د دیني نصوصو له منځه یې هغه برخې غوره کړې او ځلولې واى چې دغه هدف ته یې رسولاى شوې. که د دې ډول باورنو او مفکورو تقویې ته عقلي علوم په کار وو نو دوى به دیني تعالیم او له دینه بهر موضوعات سره ترکیبول او ګډول، لکه څرنګه چې په لومړیو پېړیو کې ځینو فرقو هڅو وکړه یوناني منطق او فلسفه د خپلې فرقې د باورونو خدمت ته وګوماري. خو که به وضعیت داسې و چې عقلي مبحثونو او له دینه بهر علمونو د فرقې د غړو باورونه کمزوري کول او شکونه یې راپارول نو دوى به له عقلي مبحثونو څخه ډډه کوله او د عقلاني تفکر ور به یې بنداوه. یعنې هم له دیني نصوصو سره او هم له دینه بهر له نورو علومو سره همداسې چلند کېده او دواړه د وسیلو په توګه کارېدل.

د مقابل لوري د کمزورولو لپاره هم عین کار کېده، مثلاً د دې لپاره چې د نظام مشروعیت تر پوښتنې لاندې لاړ شي او د خلکو اطاعت ورنه کم شي او خلک د نظام پر ضد بلوا او پاڅون ته چمتو شي. په دې مورد کې به هم د دیني نصوصو له منځه هماغه برخه یې غوره کېدله چې خلک مبارزې او پاڅون ته هڅوي او پر هغه څه به یې شک کاوه چې واکمن نظام د خپل مشروعیت لپاره ترویج کړي وو. برعکس، که چېرې د یوې ډلې ګټه له نظام سره په روغه جوړه کې وه، نو هغه راویتونه به یې ځلول چې بلوا او بغاوت بد او ناروا ګڼي. دغه کشمکش د دې سبب کېده چې د دیني مسایلو ځینې برخې وځلول شي او ځینې نورې یې له پامه وغورځول شي. دلته په دې توده جګړه کې د دیني تعلیماتو علمي او بې طرفانه څېړنه، د پلویتوب قرباني کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مختلفو اسلامي فرقو او مذهبونو د ایډیالوژیکو او فکري ریښو مطالعه، راښیي چې ځرنګه پر خاصو مفاهیمو د ټینګار پل له حکومت سره په تعامل کې جوت ښکاري. که یوه فرقه به له حاکم نظامه سره د مقابلې وس نه درلود نو په هره بیه به یې هڅه کوله چې خپله ډله وساتي نو تقیه او پټول به د دې ډلې په دیني تعلیماتو بدلېدل. خو بیا کله چې د وضعیت بدلېدو ته هیله پیدا کېده او د ډلې د بریا احتمال زیاتېده نو د تقیې او پټولو پر ځای به یې د حقایقو ځرګندول او بې له وېرې د جابر سلطان جګړې ته وردانګل به یې د چارو په سر کې راتلل. په دې حالت کې به دوی له خاصو نصوصو په استفادې سره، هغه کسان چې مخامخ جګړې ته به یې غاړه اېښوده، د حق د لارې مجاهد او مبارز بلل او ټولو ته به یې بلنه ورکوله چې پر همدغه لاره لاړ شي.

په دې منځ کې د قدرت پر وړاندې د غبرګون یوه بله بڼه هم وه چې د دیني ادبیاتو او مذهبي تفکر پر تولید یې اغېز ښنده. ځینو ډلو چې له دولت سره د نورو ډلو د تقابل په نتیجه کې ګډوډیو ته پام کاوه او دا یې لیدل چې پاڅونونه او فرقه یې بغاوتونه څه نه شي کولای، وضعیت نه ښه کېږي، خلک له لا زیاتو ناخوالو سره لاس او ګرېوان کېږي، او د ټولنې عمومي نظم خرابېږي نو دا به یې غوره ګڼله چې خلک له دې ډول تحرکونو څخه منع کړي او زغم ته یې راوبولي. دوی به وګړي هڅول چې له دنیوي چارو دې لاس په سر شي او اخروي او معنوي خوا دې ونیسي چې له دې لارې په ټولنه کې ښېرته کراري راشي او په دنیوي کشمکشونو کې له دیني مفاهیمو سره د لوبې کولو مخه ونیول شي. د اسلام په تاریخ کې ځینو تصوفي ډلو همدا نقش درلودلی دی.

له دیني مفاهیمو سره د تعامل دې بڼې – چې له قدرت او سیاست سره د سلبي تعامل زېږنده وه – د مسلمانانو پر دیني مفکوره یې بله اغېزه کوله ځکه چې د دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

روايتونو او ايتونو هماغه برخې به يې څلولې چې هدف ته يې په کار راتلې او د ايتونو او روايتونو پر هغو برخو به يې سترګې پټولې چې دا ډول پيغام به په کې نه و نغښتی.

هغه هڅې چې له قدرت او سياست سره د سلبي يا ايجابي تعامل په انګېزه شوې دي، که د هرې ډلې له خوا شوې وي، د ديني مفکورې پر توليد اغېزناک او مهم عاملونه وو. دا پديده په ځانګړي عصر پورې محدوده نه وه، بلکې د اسلام د تاريخ له لومړيو پېړيو پيل شوې او تر ننه پورې دوام لري.

## ارواپوهنه او ديني څېړنې

ارواپوهنه په دې اوسنی بڼه، داسې علم دی چې زموږ په تمدني حوزه کې اوږده مخينه نه لري. پخوا، په تېره بيا د اسلامي تمدن د غوړېدو په پېر کې، د عرفان او تصوف د ډګر ځينو صاحب نظرانو هڅه وکړه چې د اسلامي علم النفس له لارې دې موضوع ته ورننژدې شي او ځينې مفکورې يې درلودې چې په خپل ځای ارزښتمنې دي خو دغو هڅو د ارواپوهنې يا اسلامي ارواپوهنې په نامه کوم علم ايجاد نه کړ. داسې علم يې رامنځته نه کړ چې خپل ځانګړی ميتود ولري او وشو کولای د ارواپوهنيزو څېړنو لپاره ورنه کار واخلو او د خلکو ستونزې پرې حل کړو. البته د هغوی څېړنې او مفکورې هم نګه اسلامي نه وې، بلکې له نورو فرهنګونو لکه يونان، هند او لرغوني فارس څخه اخيستل شوې وې.

په هر حال، ارواپوهنه هم د ټولنپوهنې، سياسي علومو او ځينو نورو علومو په څېر د اوسني پېر پيداوار دی. ارواپوهنه د بل فرهنګ پر ځمکه غوړېدلې ده خو د هماغه فرهنګ په پولو کې ايساره نه ده پاتې شوې او د ګڼو نورو معتبرو معاصرو علومو په شان نړېواله شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. نن سبا د دې علم پل په هر هېواد کې موندلی شو خو په دې شرط چې د دغو ټولنو علمي فضا غوړېدلې وي.

په پرمختللو پوهنتونونو کې، د اصلي علومو تر څنګ یو لړ داسې موضوعات هم رامنځته شوي دي چې په ګڼو څانګو پورې اړه لري او معمولاً موضوع له یوې څانګې اخلي، میتود له بلې، لکه «د ژبې فلسفه» چې موضوع یې ژبپوهنیزې څېړنې دي او میتود یې فلسفي. همدارنګه «ټولنیزه ارواپوهنه» چې موضوع یې ټولنپوهنه خو میتود یې ارواپوهنیز دی. د دین ارواپوهنه همداسې څانګه ده چې دین او دینداري ته د ارواپوهنې له نظره ګوري او داسې پوښتنې راسپړي چې ارواپوهنیزه صبغه لري.

سره له دې چې په اسلامي هېوادونو کې دین د خلکو په فردي او ټولنیز ژوند کې عمده عنصر دی خو دلته لا هم د دین ارواپوهنې او نورو مډرنو علومو ته د پام اړولو نښې نښانې نه لیدل کېږي. په دې حساب په دین او دیني څېړنو پورې د مطالعاتو یوه عمده څنډه لادرکه ده او په دې برخه کې د مهمو پوښتنو پر مخ لا ره تړلې پاتې ده.

ګڼې پوښتنې شته چې د ارواپوهنې له نظره یې ځوابولی شو، لکه: دینداري پر علت تکیه لري که پر دلیل؟ او دغه حکم پر ټولو دیندارانو کېدای شي که د دوی پر یوې برخې؟ ټول دینداران په یوه اروايي ټیپ پورې اړه لري که په ګڼو؟ د وګړو اروایي ټیپ د دوی د دیندارۍ پر ډول هم اغېز لري که نه؟ په دې برخه کې ارواییي عوامل قوي اغېزې لري که فرهنګي او ټولنیز عوامل؟ ټولنیز بدلونونه کولای شي د وګړو ارواییي زمینې بدلې کړي، او که ځواب هو وي، دا به یې پر تدین هم اغېزه ولري؟ ټولنیز او اجتماعي اصلاحات، او په دې ډله کې دیني اصلاحات کولای شي ارواییي فعل او انفعالات رامنځته کړي؟ دا عمل او عکس العمل به د دیني اصلاحاتو پر بهیر مثبته اغېزه ولري که منفي؟ هغه کسان چې د اصلاح او بدلون د راوستو نیت لري، باید د خپل کار ارواییي اړخونو ته هم فکر وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول ډېرې نورې پوښتنې دي چې ټولې له ارواپوهنې سره تړاو لري او میتودیکه سپړنه یې زموږ د هېوادونو د شرایطو له پوهېدو سره لویه مرسته کولای شي او همدارنګه ځینې ستونزې یې حل کولای شي.

که ارواپوهنیزې څېړنې او مبحثونه زموږ په ټولنو کې پراخ شي، کولای شو د هغو ستونزو حل ته ورنژدې شو چې په اوسنیو شرایطو کې ډېر اهمیت لري لکه د انتحار پدیده، قشري او برسېرنو مذهبي ډلو ته تمایل، د مذهبي او فرقه یي تعصباتو زیاتېدل، د کرکې او بدګومانۍ خپرېدل، په مذهبي جامو کې پټ فاشیزم ته د ځوانانو بې سابقې تمایل او ...

همدارنګه دا موندلی شو چې ولې تفرقه او اختلاف په تېره بیا زموږ په وطن کې دومره پراخ شوي دي چې ان د تحصیل خاوندان او هغه وګړي چې د ټولنې سرلاري ګڼل کېږي، هم نه شي کولای لږ تر لږه د لویو ملي او تمدني مقولو په اړه سره توافق او یووالي ته ورسېږي.

د اروا‌پوهنې په مرسته کولای شو اکثرو متدینانو ته داسې هینداره په لاس کې ورکړو چې د خپلې دینداریٔ په ماهیت پوه شي او وګوري چې څه چې دوی ته تدین ښکاري، داسې تدین دی چې له معنوي تعالي او روحي تزکیې سره مرسته کوي یا دا چې د دغو عملونو او عکس العملونو تر شا چې ځینې یې شعوري او ځینې یې لاشعوري څنې کېږي او ټولو ته یې د دیانت جامې وراغوستل کېږي، ارواییي او شخصیتي اختلالونو ځاله کړې ده او د دې پر ځای چې خپل خاوند بره بوځي، کښته یې راغورځوي او د ستر مولانا په وینا:

زانکه از قرآن بسی گمره شدند
زان رسن قومی درون چه شدند

(c) ketabton.com: The Digital Library

مر رسن را نیست جرمی ای عنود

چون ترا سودای سربالا نبود

ژباړه: ځینې قومونه د قران په رسۍ کندې ته غورځېدلي دي، خو دا د رسۍ ګناه نه ده ځکه چې دوی پخپله د پورته تلو نیت نه درلود.

که څه هم چې اروايي اختلالونه یوازې د ځینو متدینانو لپاره ځانګړي نه دي او ځیني نامتدینان هم په دې ستونزو اخته دي او د هغوی ستونزې هم د اندېښنې وړ دي چې باید یې چاره وشي خو په اروايي اختلالونو د اخته متدینانو ستونزه دا ده چې باطني نیمګړتیا یې له دیانت سره ګډېږي او ډېر خطرونه رامنځته کوي. هغه دوګماتیزم چې په داسې ارواييي اختلالونو کې ریښه لري، له هېڅ منطق او استدلال سره نه وېلي کېږي.

د مډرنې ارواپوهنې په مرسته کولای شو زاړه اسلامي عرفاني متونه مطالعه کړو او له هغو نه ګټور درسونه واخلو او داسې یې له سره ترتیب کړو چې اوسنیو خلکو ته په درد ولګېږي. دې سره به د هغو کسانو تنده ماته شي چې د معنویت  تږي دي او زموږ د خلکو لپاره چې په کړکچینو شرایطو کې ژوند کوي، ارامه فضا رامنځته کړي.

کېدای شي په ماهرانه او متخصصانه ډول د مډرنې ارواپوهنې او اسلامي عرفان تلفیق او یوځای کېدل وشي کولای د دین څېړنې د مطالعاتو لپاره نوې لاره روده جوړه کړي چې د ټولنې له ارواييي روغتیا سره مرسته وکړي او د خلکو جمعي اروا صفا کړي.

دې کې شک نشته چې د خلکو د باطني ناروغیو او نیمګړیتاوو د درملنې لپاره هره هڅه، انسانیت ته لوی خدمت دی او د دین له لوړو مقصدونو سره سمون لري. طبیعي ده چې یوه ځانګړې څانګه یا یو مشخص علم نه شي کولای دغه ټولې اړتیاوې پوره کړي خو هر یو یې په خپله وار سره کولای شي د دې اړتیا یوه برخه پوره کاندي او د لیکوال په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور ارواپوهنه که سمه زده شي او ان د ديني مدرسو په نصاب کې شامله شي، زموږ د ټولنې د مهمو قضيو او بوږنوونکو واقعيتونو د فهم لپاره به نوې زاويه پرانيزي.

## ديني مفکوره د تأسيس له عصره د توسعې تر عصره پورې

د اديانو تاريخ راښيي چې هر دين په خپل تاريخ کې له دوو نسبتاً مهمو پړاوونو تېر شوی دی او هر پړاو يې خپلې خاصې غوښتنې درلودلې دي. ځينې متخصصان لومړی پړاو د تأسيس پړاو بولي او دويم پړاو د پراختيا او توسعې پړاو. په دې برخه کې له مثاله استفاده کولای شو. يو نيالګی په نظر کې ونيسئ چې له لک کولو يې ډېر وخت نه تېرېږي او نوې نوې غوټۍ کوي. هر تېز باد يې ګواښلی شي. هر طبيعي او قصدي آفت يې له بيخه راايستلی يا وچولی شي. دغه نيالګی کافي ساتنه او پالنه غواړي او بايد له هر ډول ګواښ او خطره وساتل شي. کله چې دغه نيالګی غټ شي، څانګې او ښاخونه وکړي، ژورې ريښې وځغلوي او غښتلي ونه ځنې جوړه شي بيا به هغه کمزوری نيالګی نه وي چې هره ورځ يې ولړزوي او له هر ټکانه زيانمن شي. خو دې حالت کې بيا نور دې ته اړتيا لري. ډېر خلک به غواړي چې تر سيوري لاندې يې ارام وکړي، يا يې له ميوې استفاده وکړي او يا نورې ګټې ځنې واخلي.

اديان په لومړي پړاو کې له ګڼو خطرونو سره مخ وي او په دې پړاو کې يې لومړيتوب د خپل هويت تثبيتول دي. ځکه خو په دې پړاو کې هغه پولې لومړيتوب مومي چې دغه هويت روښانوي او هغه لارښوونې اهميت پيدا کوي چې د دې دين پيروان د نورو اديانو له پيروانو بېلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه په دې زيان منونکي پړاو کې له توطيې او دښمنۍ وېره له دين سره مله وي او دا وېره يې په ځينو تعليماتو کې ښکاري. د همدې خطرونو په وجه يې پر بحثونو او خبرو د مقابلې، جګړه مارۍ او ښايي د شخړې او جګړې ژبه حاکمه وي او خپل پيروان جګړې ته وربولي. دا بهير تقريباً د ټولو اديانو د پيل په پړاوونو کې ليدل کېږي.

ځينې اديان په مختلفو دليلونو او علتونو بريالي کېږي چې له لومړيو ننګوونو راتېر شي او ګڼ شمېر غړي او پيروان پيدا کړي. غالباً له زړو اديانو سره د نوي دين مخامختيا له شخړې سره مله وي او هر يو غواړي پر رقيبانو بر شي. که دغه شخړه د نوي دين په بريا تمامه شي او دغه دين د خپلې جغرافيايي قلمرو پر نورو اديانو بر شي، بيا نو پيروان يې دې ته اړتيا لري چې خپل مطلوب دولت او ټولنه رامنځته کړي او په طبيعي چارو لګيا شي.

تر دې پړاوه وروسته د پراختيا او توسعې پړاو پيلېږي. دې وخت کې چې د دين او د هغه د پيروانو هستۍ ته کوم ګواښ نه وي او د دين اقتدار تثبيت شوی وي، دې ته اړتيا وي چې د ژوندانه د چارو په سمبالولو کې بريا ترلاسه کړي او دا کار په مختلفو ځانګو او ډګرونو کې د استعدادونو جذبولو ته اړتيا لري چې ټول سره په ګډه د نوي نظم په جوړلو کې برخه واخلي.

معمولاً په دې کار کې تر هغو پورې نه شو کاميابېدای چې د دين د پيروانو زغم دومره زيات شوی نه وي چې د مومنانو په ټولنه کې د نورو اديانو د پيروانو او د نورو ډلو لپاره ځای پيدا شي او د هغوی د وړتياوو او استعدادونو د جذب لپاره زمينه برابره شي.

په دې پړاو کې، د دين د ننه او له دينه بهر بل ور انګېرونکي معمولاً د زغملو وي ځکه چې د دوی شتون نه يوازې دا چې اوسني حالت ته کوم خطر او تاوان نه پېښوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د تمدن په پیدایښت او د فرهنګ په وده کې نه انکارېدونکی نقش لري. هغه بحث چې تر دې وروسته به د دین په نامه ترویجېږي، غالباً به مداراګر او بل منونکی وي چې د وطنوالو پر تېښتې تمام نه شي او کورنۍ شخړې ونه زېږوي. د هر ډول تودې او تاوتریخجنې شخړې پای به د مومنانو بربادي او ناکامي وي.

یو دلیل چې د ادیانو د پیروانو په منځ کې د تسامح او بل منلو ظرفیت زیاتوي، په دې ادیانو کې د مختلفو مذهبونو او ډلو رامنځته کېدل دي چې دا بیا پخپله ګڼ نور عاملونه لري. د مختلفو ډلو او فرقو موجودیت د دې سبب کېږي چې یو ډول تکثر او تنوع رامنځته شي او د ټولنې شتمني زیاته کړي. له بلې خوا به د مختلفو فکري ډلو ترمنځ د قوا توازن ایجاد کړي چې هېڅ ډله ونه شي کولای د بلې ډلې ختمولو ته ملا وتړي. د دین د پیروانو لپاره د باندنیو دښمنانو د خطر کمېدل او په دننه کې د سلیقو او تمایلاتو زیاتېدل، د فرهنګ او تمدن وده راولي.

څه چې وویل شول، یوازې د یوه خاص دین لپاره ځانګړي نه دي، بلکې ډېر دینونه پر همدې لاره تېر شوي دي. اسلام هم په تاریخي لحاظ د تاسیس او توسعې پړاوونه تېر کړي دي او اسلامي مفکوره هم د هر پړاو له غوښتنو سره سم انقباض او انبساط لرلي دي.

د اسلام په تاریخ کې لومړني کلونه له ګڼو دښمنیو سره مله وو. دښمنانو یې هڅه کوله چې ختم یې کړي. په دې پړاو کې پر مقاومت ټینګار کېده او مسلمانان له مقابل لوري سره مخامخ جګړې ته هڅول کېدل.

په راوروسته پېړیو کې چې د اسلام قلمرو دریو مهمو براعظمونو ته وغځېده، هغه خطرونه له منځه تللي وو او متفاوت عصر پیل شوی و. په دې وخت کې هېڅ توپان نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای اسلام له خپل ځایه وخوځوي. د بهرنیو خطرونو تر لرې کېدو وروسته، اسلامي ټولنې خپله غېږه د مختلفو ډلو ته، ان د نورو دینونو وګړو ته، پرانیسته او هغوی یې د خپلو اتباعو په حیث ومنلې او د هغوی له وړتیاوو څخه یې د اسلامي تمدن د لاغوړېدا لپاره ښه ګټه واخیسته.

هغه اسلامي فکر چې په دې پړاو کې رامنځته شوی، له داسې تنوع او رنګانګۍ برخمن دی چې مختلفو فقهي – حقوقي مکتبونو په کې د مختلفو عقیدتي – کلامي مکتبونو او تمایلونو تر څنګ یو ځای په ودې پیل وکړ، همدارنګه په تفسیر او حدیث کې مختلفې مدرسې پیدا شوې. عرفان او تصوف له یوې خوا، فقه او حدیث له بلې خوا او فلسفه او کلام له بل لوري د مسلمانانو تر منځ د فکري مبحثونو تنور ګرم کړ.

د اسلام د تاریخ د توسعې په پېړیو کې د فکري منابعو او مبحثونو ګڼوالی د وخت طبیعي غوښتنه وه. نن سبا داسې ګڼ کتابونه په لاس کې لرو چې د اسلامي تمدن بُعدونه تشریح کوي او په هغه دوران کې غوړېدلي علمونه او فنونه راپېژني.

خو څه چې موږ یې له دې مبحثونو زده کوو، دا دي چې د اسلامي فکر طبیعت ته پام وکړو چې د هرې دورې له شرایطو سره مطابق و او د هماغه دورې پوښتنو ته یې ځواب وایه. د هرې دورې تاریخي محصول د خپل پیدایښت له شرایطو سره متناسب وي که چېرې دا شرایط بدل شي، محصولات یې هم د تاریخ د آرشیف برخه ګرځي، البته مطلب دا نه دی چې نور به د استفادې وړ نه وي،، بلکې په دې مانا چې عملي استفاده به یې محدوده شي.

یو له هغو تېروتنو چې نن سبا د دیني فکر له ډېرو مفاهیمو سره د تعامل په اړه کېږي، دا ده چې د دین د تل پاتې احکامو او د مقطع یې تحلیلونو او تفسیرونو تر منځ پوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پامه غورځول کېږي. نن سبا اکثره مسلمانان دا هېروي چې د مسلمانو متفکرانو، فقیهانو او عالمانو راپاتې لیکنې او اثار، سره له دې چې خپل ارزښت او اهمیت لري خو عملاً داسې محصولات دي چې په خاصو شرایطو پورې اړه لري.

د تللیو د اثارو هغه خزانه چې موږ یې نن لرو، د هغو ارزښتمنو هڅو نتیجه ده چې په مختلفو پېړیو کې د وخت له غوښتنو سره سم ترسره شوې دي. که وشو کولای د هر فکري مفرداتو د پیدایښت شرایط وپېژنو او تاریخي سیاق یې وڅېړو، بیا نو کولای شو په لا خلاص لاس او اجتهادي صلاحیت ورسره تعامل وکړو او موږ هم د پخوانو په شان دیني فکر داسې وپالو چې زموږ د وخت او زمان روح منعکس کړي او زموږ د اوسنیو شرایطو غوښتنې په پام کې ونیسي.

مخکې تر دې چې په اوسني عصر کې پر دیني فکر او فکري مقولو بحث وکړو، باید پر دیني فکر د زمان او مکان نقش له نظره تېر کړو.

## دیني فکر د زمان له بستره د مکان تر ډګره

څرنګه چې هر عصر ځان ته داسې ځانګړنې لري چې له نورو عصرونو یې بېلوي او په هر عصر کې تولید شوی دیني فکر لږ یا ډېر د هماغه عصر له مهمو پوښتنو او اړتیاوو سره سمون لري، هماغسې مکان او فرهنګي – جغرافیایي شرایط هم دیني فکر پر داسې لوري بیایي چې له اړتیاوو او واقعیتونو سره یې متناسب وي.

څرنګه چې په مخکیني مبحث کې ورته اشاره وشوه، دا قاعده په ځانګړې دین پورې مختصه نه ده، بلکې ټول ادیان رانغاړي او په دې جمله کې اسلام هم په خپل تاریخ کې پر همدې لاره تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام په جغرافیایي لحاظ د عربستان له ټاپووزمې راپورته شو خو مخاطبان يې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ټول انسانان وو. د عربستان ټاپووزمې د جغرافیایي شرایطو او فرهنګي وضعیت په لحاظ داسې ځانګړنې درلودې چې دا سیمه يې له نورو سیمو او هېوادونو بېلوله.

هغه لومړنی نسل چې د اسلام د پیغام مخاطب شو، ټول د عربستان په ټاپووزمې پورې اړه درلوده او د ژوند سبک يې د هماغه سیمې د شرایطو او فرهنګ محصول و. د اسلام پیغام سره له دې چې تل پاتې و او په سیمو پورې نه محدودېده خو په ځینو برخو کې هماغه خاص وضعیت ته معطوف و او د مخاطبانو د هماغه نسل د ژوند ظرفیتونه يې په پام کې نیول.

څو لسیزې وروسته چې اسلام نورو براعظمونو ته لاره ومونده او د لویو امپراتوریو خاورې يې فتح کړې او نورې فرهنګي حوزې د اسلام له قلمرو سره یوځای شوې، مسلمانان له نویو واقعیتونو او نویو شرایطو سره مخ شول چې د ژوند په ځینو ډګرونو کې يې د عربستان د ټاپووزمې له شرایطو سره عمده توپیر درلود.

په دې شرایطو کې د مسلمانانو مخې ته ګڼې عملي او نظري پوښتنې کېښودل شوې. په همدې وجه له صحابه وو راپېولې تر راوروسته نسلونو پورې د وخت عالمانو اجتهاد ته مخه کړه او په خپلو نظري هڅو سره يې دې ته لاره هواره کړه چې دیني فکر له موجودو شرایطو سره توافق پیدا کړي.

د عربستان د ټاپووزمې او د نورو سېمو ترمنځ فرهنګي توپیرونو د ځینو صاحب نظرانو لپاره یو ډول ابهام رامنځته کړ، دوی د ټاپووزمې فرهنګ اصل وګاڼه او له نورو مسلمانانو يې وغوښتل چې خپل د ژوند سبک پرېږدي او د عربستان د خلکو د ژوند سبک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته واوړي. سلفي تګلاره تر ډېره بریده همداسې ده چې د دین د تل پاتې چارو او د دین د لومړنیو مخاطبانو د ژوند په سبک پورې د اړوندو چارو تر منځ پوله په پام کې نه نیسي.

دغه فکري تمایل سره له دې چې د ټاپووزمې په پولو پورې منحصر پاتې نه شو او د اسلامي نړۍ په نورو سیمو کې یې هم پلویان وموندل خو د اسلامي ژوند لپاره غوره او ایډیال سبک یې، هماغه سبک ګاڼه چې د وحې د نزول په شرایطو کې په هماغه سیمه کې رواج و. په همدې خاطر، هر متفاوت وضعیت ورته ناسم ښکاري او د بدلولو فتوا یې ورکوي.

په مقابل لوري کې، ګڼ شمېر عالمان په ځیرکۍ سره پوه شول چې د عربستان د ټاپووزمې د ژوند له ځانګړي سبک سره د وحې د نزول نزدیکت او تقارن، تصادفي چاره ده او د اسلام د ظهور په اصل کې دخیله نه ده. نو مسلمانان کولای شي په هاغه وخت او هغو شرایطو کې د دین د تطبیق له څرنګوالي یوازې په ځانګړیو ټولنیزو شرایطو کې د دین د تطبیقولو د یوې نمونې په توګه استفاده وکړي، نه د معتبرې نمونې په توګه.

د ټاپووزمې شرایط، ټولنیز فرهنګ او د ژوند سبک د ارزښت او اعتبار په لحاظ د نورو سیمو له ټولنیزو فرهنګونو او شرایطو سره هېڅ توپیر نه لري او دا ټول د انساني تجربو محصول دي او د هرې سیمې د وګړو په ذهني او مادي شتمنیو او د هغوی په امکاناتو پورې تړلي دي.

د دې لیدلوري پر اساس، څرنګه چې اسلام د ټاپووزمې په خاصو شرایطو کې د تطبیق وړ و او په ځینو برخو کې یې باید د خلکو وضعیت او د ژوند سبک په پام کې نیولي وای، هماغسې په هرو شرایطو او ټولنیزو ډګرونو کې هم کولای شو تطبیق یې کړو او ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرې سيمې د خلکو د ژوند سبک او امکانات هم په پام کې ونيسو او په هماغه تناسب اجتهادونه وکړو چې د دين مقصدونه پوره شي، بې له دې چې خلکو ته گران پرېوځي.

د نورو فرهنگي حوزو هغو مسلمانو عالمانو چې دې نازک توپير ته يې پام شوی و او د دين تل پاتې والی يې له ځانگړو فرهنگي شرايطو سره نه غوټه کول، ورو ورو يې د نورو اجتهادي ميتودونو په تاسيس لاس پورې کړ چې د شريعت او واقعيت تر منځ د ټکر مخه ونيسي.

د دې بهير تاريخي مزل او د نړۍ په گوټ گوټ کې له مختلفو فرهنگونو سره د ديني فکر د تعامل بنې ته کتنه رابښيي چې د ديني ژوند مختلف سبکونه او په ټولنو کې د دين د تطبيق د څرنگوالي په اړه مختلف تعبيرونه رامنځته شول او دا لړۍ تر ننه روانه ده.

په بله وينا، هغه څه چې موږ يې نن ديني فکر بولو، سربېره پر زماني عامل، د مکاني عامل او د مختلفو سيمو د بومي فرهنگونو د عامل زېږنده هم ده.

د قديمې نړۍ په پراخو خاورو کې د اسلام خپرېدل، يعنې د اسلام قلمرو ته د مختلفو فرهنگونو ورننوتل. يوه فرهنگ ته د دې ټولو فرهنگونو راکمول ناممکن وو. دا چې څرنگه فرهنگونه د مختلفو عواملو پر وړاندې او له دې جملې څخه د دين پر وړاندې مقاومت کوي او يو مخ ورته نه تسليمېږي، پخپله د ټولنپوهنې يو مهم بحث دی.

د فرهنگ ټينگوالی او استقامت تر هر څه زيات د انسانانو د ژوند په شرايطو پورې تړلی وي ځکه چې د تاريخي او قومي ميراثونو تر څنگ، د ټولنيز فرهنگ په پيدايښت کې جغرافيايي شرايط او د ژوند چاپېريال عمده عامل دی. د فرهنگ د پيدايښت فلسفه د هوسا او ښه ژوند کولو لپاره د خلکو د اړتياوو پوره کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ په یوه لوی تاریخي بهیر کې رامنځته کېږي او د وګړو او ټولنې په روح او روان کې خپله بوده تنسته ځغلوي او دومره واکمني خپلوي چې هېڅ رقیب یې پر وړاندې نه شي درېدای.

کله چې دین میدان ته راوځي او غواړي خپل ځانګړي ارزښتونه په ټولنیز ژوند کې وغوړوي، دا کار په خلا کې نه، بلکې د یوه فرهنګي جوړښت په دننه کې کوي او دا هغه لوی جوړښت دی چې ریښې یې د انسان په ژورو پوړونو کې ننوتلې دي.

دین د دې وضعیت پر یو مخ بدلېدا حکم نه کوي ځکه چې دا کار نه ممکن دی، نه مطلوب. فرهنګي جوړښت په حقیقت کې د ټولنیز ژوند له نظم او انتظام سره حیاتي مرسته کوي او دین د هغه ځایناستی نه دی. څه چې دین یې غواړي او عملي کولای یې شي هغه اصلاحات دي چې فرهنګ د دین له ارزښتونو سره غاړه غړی کړي، بې له دې چې هر اړخیز بدلون ته یې اړتیا پیدا شي.

څه چې په دې بهیر کې پېښېږي، دوه اړخیزه عملیه ده، مانا دا چې هم دین بریالی کېږي چې په فرهنګ او ټولنیزو شرایطو کې اصلاحات راولي چې مطلوب ارزښتونه یې تحقق ومومي او هم فرهنګ بریالی کېږي چې د دین ځینې اجرایي تجربې او تعلیمات د خپلو واقعیتونو او ظرفیتونو په خم کې ورنګوي او ځینې شکلونه او طرزونه پر دین ومني.

په بله وینا، د دین تل پاتې پیغام په ځانګړي فرهنګي قالب کې ځای پر ځای کېږي چې د هماغه ځای او هماغه وخت له واقعیتونو سره سمون ولري. دلته د هستې او قشر رابطه رامنځته کېږي؛ دیني هسته په فرهنګي قشر کې ایښودل کېږي او د عیني تحقق زمینه ورته برابرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې هماغه پیغام او رسالت بل ټاټوبي او بل فرهنګي قلمرو ته ځي، بله چاره نه لري غیر له دې چې خپله هسته په داسې بل قشر کې راونغاړي چې د عملي تحقق امکان ورته پیدا شي.

د دیني فکر نقش دا دی چې دا بهیر اسانه کړي او پرې نه ږدي چې د هستې ځای په ځای کېدل، له سختو خنډونو سره مخ شي. د فرهنګي شرایطو مطالعه او تحلیل او وروسته په دغه فرهنګي شرایطو کې د دین د لارښوونو د تطبیق د لارې لټول پخپله اجتهادي کار دی او یوه دوامداره او ناپایه اړتیا ده. وجه یې دا ده چې فرهنګ سره له دې چې لوی او ټینګ دی، خو خوځنده، بدلېدونکی او تغییر منونکی هم دی. البته چې دا بهیر دومره چټک او ښکاره نه دی چې په اسانۍ سره ولیدل شي.

د وګړو په جمعي ژوند کې بدلون او تحول د فرهنګ یا د هغه د ځینو برخو د بدلون او تحول سبب کېږي او دغه تحولات مسلمان متفکران او مجتهدان نویو اجتهادونو ته وربولي چې په نویو شرایطو کې د دین د تطبیق زمینه برابره کړي.

دا هماغه لاره ده چې تر اوسه پورې دیني فکر په اسلامي هېوادونو کې طی کړې ده او په ګانده کې به هم پرې لاړ شي، سره له دې چې پر دې بهیر به ځینې نیوکې کېږي.

## اسلامي فکر په اوسني عصر کې

د هر مهم فکري بهیر په څېر، اسلامي فکر هم په تاریخ کې له لوړو ځوړو تېر شوی دی. د صاحب نظرانو په باور، د اسلام د تاریخ په لومړنیو پېړیو کې اسلامي فکر ښه غوړېدلی و او پوره وده یې کړې وه او ځلانده تنوع او تکثر یې رامنځته کړي وو. دې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې په مختلفو ډګرونو کې وتلي او مبتکر متفکران څرګند شوي وو او خپل فکري تولیدات یې د ټولو د استفادې لپاره وړاندې کړي وو.

یو له هغو عواملو چې د اسلامي تمدن له بډاینې او پرمختګ سره یې لویه مرسته وکړه، د ګڼو فکري مکتبونو او علمي مرکزونو موجودیت و. د همدې مرکزونو په برکت هاغه مهال اسلامي نړۍ د ټولې نړۍ د علم او پوهې مرکز و.

خو په راوروسته پېړیو کې د مختلفو عواملو په اثر دا وضعیت بدل شو او د فکر د پرمختګ ځای د فکر ولاړ حالت ونیو، تفکر مړاوی او کمرنګه شو او تقلید او تکرار د ابداع او نوښت ځای ونیو. د دې عاملونو پېژندل او ارزونه مهم خو جلا بحث دی چې باید په بل ځای کې وڅېړل شي.

له اتمې هجري پېړۍ راپه دې خوا په اسلامي نړۍ کې د علمي او فکري ځوړ پیل شوی او د نولسمې میلادي پېړۍ تر وروستیو پورې غځېدلی دی. د لویو تاریخي تحولاتو په ښودولو کې د هجري او میلادي تقویمونو تداخل، پخپله داسې مفهوم لري چې باید فکر پرې وشي. هجري تقویم چې د یوه امت د تاریخ مانا لري، ورو ورو رنګ بایلي او میلادي تقویم یې ځای نیسي. دا په دې مانا چې د یوه ملت نقش ختمېږي او نور ملتونه په مرکز کې واقع کېږي. وروسته تر هغې نه شو کولای خپل تاریخ د هجري سنواتو په یادولو ولیکو او توضیح یې کړو، ځکه چې د بشر په جمعي شعور کې بل تاریخ له بل تقویم سره ځای نیولی او موږ څنډې ته شوي یو.

مسلمان متفکران باید په لا جدي توګه او په لا پرمختللو علمي میتودونو سره دغه تاریخي پړاو وڅېړي او راوښیي چې کوم عاملونه د دې تمدني راپرځېدو سبب شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره توګه، د مسلمانانو په تاريخ کې وروستنی پېړۍ د علم او فکر د توليد په لحاظ شنډې پېړۍ وې او د مسلمانانو جمعي شعور څکه انفعالي نقش غوره کړی و چې د خپلو ټولنو د ستونزو له پېژندلو عاجز وو. کله چې شعور کمزوری شي، د لاشعور نقش غالبېږي او د مسلمانانو د تاريخ په وروستنيو پېړيو کې همدا جمعي لاشعور و چې د دوی لوری به يې ټاکه.

څرنګه چې د سمې لارې د موندلو لپاره د وګړو په فردي ژوند کې بايد د لاشعور اغېزې کمې او د شعور زياتې شي، هماغسې د ملتونو په جمعي ژوند کې هم همدا خبره سمه راخېژي. يعنې دا تمه نه شو کولای چې يو ملت دې د لاشعور تر شديدې اغېزې لاندې وي خو بيا وشي کولای سمې پرېکړې وکړي.

پر جمعي شعور د جمعي لاشعور غلبه د ټولنپوهنې مهمه پديده ده چې تر اوسه پورې نه ده سپړل شوې او نقش يې د وروستيو پېړيو په پرځېدلو او لوړېدلو کې نه دی څېړل شوی. دا مشخصه ده چې په دې پېر کې اسلامي فکر پر دې سربېره چې له توليد او غوړېدا پاتې و، د ځان او د نورو له پېژندلو هم عاجز و. نتيجه يې دا شوه چې نه يې خپل کمزوري اړخونه وپېژندل چې لرې يې کړي، او نه يې نور وپېژندل چې خپله رابطه ورسره برقراره کړي او دا پرېکړه وکړي چې له هغوی سره څرنګه تعامل وکړي.

له نوې نړۍ او داسې ځواکمن رقيب سره مخامخ کېدل چې هم په بهتره فيزيکي وسله سمبال و او هم په لويو فکري امکاناتو، اسلامي فکر ته ټکان ورکړ او د څو پېړيو له درانه خوبه يې راويښ کړ او د هلې ځلې اړتيا يې ورته پيدا کړه.

دا ځل د اسلامي فکر راويښېدل سره له دې چې په خپل ذات کې مهمه او مبارکه پديده وه خو پخپله نه، بلکې د بهرني فشار په اثر راويښ شوی و نو د فعال عمل پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د عکس العمل بڼه لرله. دا ځل هغه اندېښنې او لومړيتوبونه چې اسلامي فکر ځان ته غوره کړي وو، غالباً د بهرني عامل په وسيله پرې تپل شوي وو. هغه وسيلې او اوزارونه چې د څېړنې او بياکتنې لپاره يې په واک کې لرل، يا خو د تېرو وختونو وو او په زماني لحاظ يې اوسنيو شرايطو سره تناسب نه درلود يا له بهرنيو توليداتو څخه راخيستل شوي وو چې د دې ځای له جوړښت او فرهنګي سياق سره نه جوړېدل.

همدارنګه هغه موضوعات او مسايل چې د اسلامي فکر تر څېړنې او بحث لاندې راتلل، تېرېدونکي او ورځني موضوعات وو او دا چې اوسني عصر پر مسلمانو ټولنو چټک تحولات ورتپلي دي نو دا موضوعات هم ژر ژر بدلېدل رابدلېدل.

خو بيا هم له ټولو نيوکو او ستونزو سره سره، په اوسني عصر کې اسلامي فکر مهمې برياوې ترلاسه کړې دي او توانېدلی چې د تېرو پېړيو په نسبت ښې برياوې ولري او د مسلمانو ټولنو ځينې اړتياوې ورپوره کړي.

اسلامي فکر په اوسني عصر کې نوې دوره پيل کړې ده چې د اسلامي تمدن له نورو پېرونو څخه له ځينو اړخونو توپير لري، سره له دې چې له ځينو اړخونو ورسره ورته دی. دا بهير توانېدلی دی چې په اوسني پېر کې د نوي اسلامي تمدن د زېږېدو پيلامه برابره کړي، البته د ځينو نيمګړتياوو په وجه نه دی بريالی شوی چې په مناسب وخت کې او د اوسنۍ نړۍ له سرعت سره سمه خپله لاره ووهي.

په حقيقت کې اسلامي فکر لا د تمرين او ازمون په پړاو کې دی او خپل جدي تاريخي نقش يې لا نه دی ترسره کړی ځکه چې لا ورته د داسې بلوغ زمينه او شرايط نه دي برابر شوي او لا يې د دې نقش د ترسره کولو توان نه دی موندلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسني عصر کې د اسلامي فکر کړونو ته کتنه او د قوت او کمزوریو پېژندنه یې راسره مرسته کولای شي چې لا جامع تصویر یې وړاندې کړو، لا یې ښه کړو او د مسلمانانو د ستونزو په هوارولو کې یې لا پیاوړی کړو.

ورسره هم مهاله له دې لارې کولای شو د اسلامي فکر په اړه تاریخي لید ته ورسېږو چې په دې برخه کې له تصلب او جزمیت څخه خلاص شو او د اسلامي فکر پر وړاندې منصفانه دریځ غوره کړو.

په دې برخه کې لازمه ده چې په اوسني عصر کې هم د اسلامي فکر ځانګړنې وپېژنو او هم هغه عمده ډلې چې په دې بهیر کې یې اغېزناکه او مهمه ونډه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مأخذ:**


1- صحيح البخاري، كتاب الحج، حديث 1624.

2- سنن الترمذي، كتاب العلم، حديث 3348.

3- صحيح البخاري، كتاب الشهادات، حديث 2457.

4- صحيح البخاري، كتاب المرضى، حديث 539.

5- د لا معلوماتو لپاره دا وګورئ: ابن قيم الجوزية، إعلام الموقعين عن رب العالمين.

6- د لا شانايي لپاره دې کتاب ته مراجعه وکړئ: آن ماری شیمل، تبیین آیات خداوند: نگاهی پدیدارشناسانه به اسلام، دفتر نشر فرهنگ اسلامی، تهران، 1376.

7- دا کتاب وګورئ: محمد عابد الجابري، تکوین العقل العربي، مرکز دراسات الوحدة العربية، بيروت.

8- صحيح مسلم، حديث 1345.

9- دې کتاب ته مراجعه وکړئ: محمد عابد جابری، عقل سیاسی در اسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# -5-

# له روایته تر درایته پورې

## له دیني منظره د دوو لیدلوریو ترمنځ شخړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له روايته تر درايته پورې

## له ديني منظره د دوو ليدلوريو ترمنځ شخړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نر او ښځې په اړه، د اصل او فرع دعوا

د افغانستان د عالمانو سرتاسري شورا په یوه بیان کې،(1) د نر او ښځې تر منځ نسبت د اصل او فرع تر منځ نسبت وګاڼه. دغه لیدلوری په رسنیو کې په پراخه توګه انعکاس وموند او ډېر کسان یې غبرګون ته اړ کړل.

اساسي ستونزه هلته وه چې ویل شوي دي: «دا چې د سورة النسأ (1) او (34) ایتونه صراحت لري او وایي چې د بشر په خلقت کې نر اصل او ښځه فرع ده او قوامیت د نرانو دی نو د داسې الفاظو او اصطلاحاتو له کارونې دې جداً ډډه وشي چې د دغو مبارکو ایتونو له مفهوم سره په ټکر کې وي.» د دې خبر خبرېدل د پراخې ذهني ګډوډۍ سبب شول ځکه چې ښځه فرع ګڼل، خطرناکې ارزښتي پایلې لري په دې چې د هغې انساني مقام راټیټوي او دا به هېڅ سلیم عقل په اسانه ونه مني. خو له بلې خوا د شریعت له صریح حکم سره مخالفت هم د هغو کسانو لپاره اسانه نه دی چې ورباندې باور لري. سره له دې چې د عالمانو شورا په دې بیان کې د ښځو د حقونو په اړه او له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه ځینې ګټور او د ستاینې وړ ټکي هم وو خو ستونزه دا ده چې که ښځه د دویمې درجې موجود معرفي شي او د نر فرع وګڼل شي، د هغې د حقونو د تأمین لپاره هېڅ تضمین نه پاتې کېږي او خشونت به هم دوام کوي ځکه چې خشونت د تبعیض زېږنده ده او تبعیض د ښځو په اړه د همداسې لیدلوري محصول دی.

لیکوال د دې ابهام د لرې کولو په خاطر نیت وکړ چې دا لیدلوری تر ارزونې لاندې ونیسي چې دا معلومه شي چې د عالمانو شورا د بیان برخلاف، د نسأ د سورة لومړی ایت په دې اړه هېڅ صراحت نه لري او دغه ادعا یوه میتودیکه تېروتنه ده، تمه نه کېدله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېواد تر ټولو لوړ مذهبي بنسټ دې داسې تېروتنه وکړي. په دې مقاله کې به یوازې د شورا د وینا لومړۍ برخه چې نر اصل او ښځه فرع ګڼي، وارزوو ځکه چې اساسي موضوع همدا ده او درانه تبعات ورپورې غوټه کېږي.

زه دلته د مډرن هرمنوتیک مبحث له دریځې دې بحث ته نه ورننوځم او غوره ګڼم چې په هغه میتود بسنه وکړم چې زموږ د ټولنې عالمانو ته اشنا دی او د قران مجید د تفسیر د سنتي منابعو په استناد وښییم چې دغه حکم په قران کې هېڅ صراحت نه لري،، بلکې برعکس د انساني مقام او ارزښت په حوزه کې د نر او ښځې برابري یې محوري پیغام دی. نو هر تفسیر او تأویل چې له دې محوري لید سره په ټکر کې وي، شک نشته چې کمزوری به وي.

مخکې تر دې چې اصلي موضوع ته شو، لازمه ده چې یوې مقدماتي خو مهمې قاعدې ته اشاره وکړو. دیني نصوص (ایتونه او حدیثونه) مطلوبې معنا ته د دلالت په لحاظ په دوو عمده برخو ویشل کېږي: قطعي الدلاله نصوص او ظني الدلاله نصوص. د اهل علم هغه ډله چې له دې مهمې قاعدې خبره ده، پوهېږي چې اکثره دیني نصوص د ظني الدلاله نصوصو په شمار کې راځي. د ظني الدلاله نصوصو ځانګړنه دا ده چې مختلف تعبیرونه او تفسیرونه ځنې کېدای شي، خو یو تفسیر هم قطعي او وروستنی نه شي ګڼل کېدای. د دې برخلاف قطعي الدلاله نصوص دومره واضح او څرګند وي چې د متفاوتو او متعددو تفسیرونو ځای په کې نه وي پاتې. لږ تر لږه په هغه سطح کې چې تفسیر او تأویل سره توپیر کړو، د دې ډول نصوصو په تفسیر کې به اختلاف پاتې نه شي، سره له دې چې د هر ډول تأویل پرمخ د لارې بندول خورا سخت کار دی.

په هر دیني حکم او بحث کې، هله د قران د صریح حکم خبره کولای شو چې قطعي الدلاله نصوص ورته ولرو او د مختلفو تفسیرونو لپاره ځای پاتې نه شي. هر نص چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مختلفو انګېرنو امکان په کې وي، د قطعي الدلاله نصوصو له ډلې راوځي او هر مفهوم چې ځنې واخیستل شي، هغه به ظني او احتمالي مفهوم وي او هېڅوک نه شي کولای خپله انګېرنه د قران صریح او قطعي حکم وګڼي. اوس به وګورو چې د هغه ادعا مطابق چې د عالمانو شورا په بیان کې راغلې ده، د ښځې د فرع والي په اړه د قران په ایت کې صراحت شته که دا یو ظني الدلاله عبارت دی.

د مسألې د لا روښانتیا په خاطر، غوره ده چې د دې ایت ترجمه راوړم: «اې خلکو! د هغه رب پروا وساتئ چې تاسې یې له یوه واحد تنه خلق کړئ او ښځه یې له هغه څخه خلق کړه او له هغو دواړو څخه یې ډېر نران او ښځې وشیندلې، او د هغه خدای چې په نامه یې له یو بله درخواست کوئ، او د خپلوئ د رابطې له شلولو پروا وساتئ، بې شکه چې خدای ستاسو ساتونکی دی.» (ترجمۀ مسعود انصاری)(2)

د شورا بیان ظاهراً د ایت دې جملې ته اشاره کوي: "و خلق منها زوجها" یعنې «او ښځه یې له هغه څخه خلق کړه» دوی له دې جملې داسې انګېرلې دي چې د خلقت اصلي هدف نر و او دا چې ښځه د هغه له وجوده خلق شوې ده نو ښځه د هغه فرع ده.

څنګه چې لیدل کېږي، په دې عبارت کې د ښځې د فرع والي په اړه هېڅ صراحت نشته او له پخوا زمانو څخه تر ننه پورې د دې عبارت د اصلي مقصود پر سر د قران مجید د مفسرانو تر منځ اختلاف پاتې شوی دی.

د دې مبارک ایت پر ظني الدلاله توب د پوهېدو لپاره، ښه به و چې دغو محترمو عالمانو یو ځل د قران مجید پخواني او اوسني مهم تفسیرونه کتلي وای. هلته به ورته ښکاره شوي وو چې د دې ایت څومره متفاوتې انګېرنې شته او د شورا د بیان انګېرنه تر حکومه حده ملاتړې درلودلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چې دې ايت ته له تأويلي منظره کتلي دي، داسې انګېرنه يې ځنې اخيستې ده چې له دې انګېرنې سره هېڅ تړاو نه لري. شيخ اکبر محي الدين ابن عربي د اهل تأويل سرلاري دی، د دې ايت په تفسير کې وايي:"الذی خلقکم من نفس واحدة، منظور يې کُلي ناطقه نفس دی چې د نړۍ زړه دی او حقيقي آدم هماغه دی، او ښځه يې هم له هغه څخه پيدا کړې ده، يعنې حيواني نفس يې له هغه څخه منشأ اخلي، او دا چې ويل شوي دي چې د هغه له چپې ډډې جوړه شوې ده، مانا يې دا ده چې له هغه بُعده جوړه شوې ده چې د کايناتو نړۍ ته نژدې دی، ځکه چې د حق بُعد ته يې د نزديکت نسبت ضعيفتر دی، او که يې جوړه نه وای، هغه به دنيا ته نه راکښته کېده، څنګه چې ويل شوي دي چې ابليس لومړی هغه وپسوللـه او د هغې په وسيله يې آدم وغولاوه، او شک نشته چې له دې بُعده پرته بدني تعلق ممکن او د کارونې وړ نه کېږي، و بث منهما رجالا کثيرا، يعنې د زړونو هغه خاوندان چې د خپل پلار خوا ته کشش لري، و نسأ، يعنې د هغو نفسونو خاوندان چې د مور خوا ته تمايل لري." (3).

کېدای شي څوک ووايي چې د ابن عربي او نورو تأويلونه اعتبار نه لري. سره له دې چې ټول پوهېږي چې ابن عربي زموږ د عصر تر ډېرو عالمانو زيات عالم و، زه نه غواړم په دې مبحث کې له دغو تأويلونو دفاع وکړم،، بلکې غواړم دا وښييم چې د ديني نصوصو او له هغه جملې څخه د دې نص د تاويلونو لمنه څومره پراخېدای شي.

اوس نو که له تأويله تېر شو او د متعارفو تفسيرونو محدودې ته ورستانه شو، بيا به هم ووينو چې ان له هغسې تأويله پرته، مفسران پر دې ايت د خپل فهم او انګېرنې په لحاظ سره يوه خوله نه دي او ان په قطعي ډول يې دا مطلب ورنه نه دی اخيستی چې ښځه دې په فيزيکي لحاظ د نر له وجوده خلق شوې وي. امام فخرالدين رازي د دې ايت په تفسير کې دو نظره رانقل کړي او ويلي يې دي: «په دې کې چې حوا له آدمه خلق شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه نظره دي: اول دا چې ډېرو داسې نظر ورکړی چې کله خدای آدم خلق کړ، پر هغه يې خوب راوست، وروسته يې حوا د هغه له چپې ډډې پيدا کړه، او کله چې هغه راويښ شو او دا يې وليده تمايل او الفت يې ورته پيدا کړ، ځکه چې هغه د ده له خپلو اجزاوو خلق شوې وه، او دې ډلې د پيغمبر (ص) پر دې خبرې استناد کړی دی چې: «بې شکه چې ښځه له کږې پښتۍ خلق شوې ده چې که وغواړې سيده يې کړې، ماته به يې کړې خو که يې هماغسې پرېږدې له کوږوالي سره سره، به گټه ځنې واخلې.» دويم نظر چې ابومسلم اصفهاني غوره کړی، دا دی چې د لومړۍ جملې «او له هغه يې د هغه ښځه خلق کړه» دا ده چې هغه (حوا) يې له هماغه جنسه او له هماغه مادې خلق کړه چې آدم ورنه خلق شوی و. لکه د خدای دا وينا چې د نحل په سوره کې يې ويلي دي:"والله جعل لکم من أنفسکم أزواجا" يعنې: او خدای تاسو ته ښځې مقررې کړې ستاسو له خپل ډوله (نحل: 72) او ويلي يې دي:"إذ بعث فيهم رسولا منهم" يعنې کله چې يو پيغمبر د دوی له خپله (ذاته) مبعوث کړ. (آل عمران: 164) او همدارنگه يې ويلي دي:"لقد جاءکم رسول من أنفسکم" يعنې: او تاسو ته يو پيغمبر ستاسو له خپله راغی. وروسته امام فخر رازي نقل کوي چې قاضي عياض لومړی نظر قويتر بللی په دې چې که حوا جلا خلق شوې وي نو انسانان له يوه تنه نه دي خلق شوي، بلکې له دوو تنو خلق شوي دي. بيا امام فخر رازي پخپله ځواب ورکوي چې"د مِن کلمه د غايت د پيل لپاره ده او دا چې د خلقت پيل په ادم شوی دی، سمه ده چې ويل شوي وي تاسې يې له يوه تنه خلق کړئ، او همدارنگه کله چې ثابته وي چې خدای له خاورې د ادم خلقت کولای شي نو حوا هم له خاورې خلق کولی شي، او که داسې وي نو د دې گټه به څه وي چې هغه د ادم له چپې پښتۍ خلق کړي؟" (4).

څرنگه چې ليدل کېږي، امام فخر رازي چې د قران مجيد يو له غوره پخوانيو مفسرانو دی، دويم نظر چې ښځه په مستقله توگه خلق شوې ده او احتمالاً له هماغه مادې چې نر ورنه خلق شوی دی، قويتر گڼي. يوازې امام فخر رازي نه، بلکې نورو مفسرانو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ايت څخه ورته انګېرنه لرله. د مارغی از قفال (متوفا 365 هـ ق) تفسير نقل کوي چې: «د دې ايت منظور دا دی چې خدای ستاسې هر يو له يوه تنه خلق کړی دی او د هغه له خپل جنسه يې ورته ښځه مقرره کړې ده چې په انسانيت کې ورسره برابره ده. يا کېدای شي د دې ايت مخاطب د پيغمبر (ص) په زمانه کې د قريش قوم وي چې دوی ټول د يوه شخص اولاده وه چې هغه قصي نومېده، او دلته له يوه تنه مطلب به هماغه قصي وي.» وروسته بيا مراغي د امام محمد عبده خبره نقلوي چې که څېړونکي دې نتيجې ته ورسېږي چې د خلکو هرې برخې جلا پلار درلودلی دی او ټول له يوه تنه نه دي پيدا، داسې انګېرنه د قران مجيد له ايتونو سره په ټکر کې نه راځي او حتمي نه ده چې په دې ايت کې راغلی يو تن، حضرت آدم وګڼو ځکه چې د «رجالا کثيرا و نسأ» کلمې په نکره بڼه راغلې دي نه په أل معرف چې ټول نران او ښځې راونغاړي. يعنې په قران کې داسې څه نشته چې دا باور يو مخ رد يا په داسې قطعي ډول اثبات کړي چې د تأويل لپاره يې هېڅ ځای پاتې نه شي. او که څوک په دې نظر وي چې حوا د ادم له پښتۍ خلق شوې ده، نه شي کولای چې په دې ايت يې ثابت کړي، ځکه چې د ورته ايتونو له سياقه به يې وباسي. " (5).

په دې ايت کې د زوج کلمه هم د ځينو مفسرانو پام ځان ته اړولی دی. مفسراونو ويلي چې دا کلمه د ښځې مانا نه لري، بلکې د جوړې مانا لري چې هم نر ته ويل کېږي او هم ښځې ته او نر او ښځه داوړه د يو بل جوړه ګڼل کېږي. د تفسير التحرير و التنوير څښتن ابن عاشور وايي: «د زوج د کلمې اصل د دې لپاره دی چې د دوو کسانو مجموعې ته وويل شي، خو دا چې يوه، نر يا ښځې ته اطلاق کېږي، د مسامحې له مخې دی چې په عرفي حقيقت بدل شوی خو د نر او ښځې لپاره يو شان استعمالېږي.» وروسته يې ويلي دي: «همدارنګه نرانو باندې منت شوی دی چې ښځې يې د هغوی جوړې کړې دي، پر ښځو هم منت شوی دی چې نران يې د هغوی جوړې مقرر کړي، او پر دواړو منت شوی دی چې د اولاد څښتنان شي.»(6).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو مفسرانو د مِن پر کلمې تمرکز کړی او ټینګار یې کړی دی چې دا کلمه د تبعیض لپاره نه، بلکې د تبیین لپاره ده، لکه چې د کاشف تفسیر موءلف محمد جواد مغنیه ویلي دي: «هېڅ دلیل نشته چې مِن دې دلته د تبعیض لپاره وي، بلکې مِن کولای شي بیاني اوسي لکه د متعال څښتن دا وینا: و من آیاته أن خلق لکم من أنفسکم أزواجاً، یعنې: او د هغه له نښانو څخه یوه دا ده چې تاسو ته یې ستاسو له خپل جنسه جوړې خلق کړې (سوره روم: 20) او په دې صورت کې د هغه ایت معنا دا ده چې هم لومړنی انسان او هم یې جوړه له یوه اصله خلق شوي دي او دا هماغه خاورې دي، ځکه چې په یوه ځای کې ویل شوي دي: و من آیاته أن خلقکم من تراب ثم إذا أنتم بشر تنتشرون، یعنې: د هغه له نښانو څخه یوه دا ده چې تاسې یې له خاورو خلق کړئ او وروسته تاسې بشر او تیت و پرک شوئ.» (7).

د «پرتوی از قران» تفسیر تر دې هم مخته تللی او ویلي یې دي چې: « په دې ایت کې د نفس ظاهر، د حیات منشأ ده. ځکه چې که مطلب شخص وي – ادم ابوالبشر یا هر معهود او منظور انسان – نو باید «من النفس» وویل شي او واحد مونث صفت او د منها زوجها ضمیرونه، متناسب نه دي. ځکه هلته چې منظور شخص وي، مذکر صفت او ضمیر ورسره راوړل کېږي لکه جأ نی النفس الواحد، عندی خمسة عشر نفسا؛ همدارنګه دا چې الناس، عام دی او ټول رانغاړي – سره له دې چې خطاب یې موجودو خلکو ته وي – ادم، هم په کې شاملېږي او هغه هم له واحد نفسه خلق شوی دی. په دې ایت کې نفس واحده، لکه «و نفس و ما سواها فألهمها فجورها و تقواها» دی چې منظور یې هماغه ژوندی موجود دی، مخکې له دې چې کامل انساني صورت ورکړل شي او په فجور او تقوا ملهم شي، هماغسې چې د نفس کلمه هر ژوندي ساري ته ویل کېږي. او ښایي چې «و خلق منها زوجها» حالیه اوسي (په دې معنا چې:) «د خپل رب پروا وساتئ، هماغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې يې له يوه نفسه خلق کړئ او حال دا چې د هغه جوړه يې هم له هماغه خلق کړه». (8).

هغو ټکو ته په پام سره چې په ايت کې دي، د قران مجيد مفسرانو د اصالت او رعيت موضوع يې نه ده استنباط کړې، بلکې د مادې او منشأ وحدت يې ځنې استنباط کړی دی. د هدی القران د تفسير څښتن وايي: «پوښتنه دا ده چې خدای څرنګه د انسان جوړه د هغه له خپل جنسه خلق کړه؟ ايا مانا يې دا ده چې لومړني انسان دوه ګوني طبيعت درلود او د وخت په تېرېدو سره په نورو نسلونو کې نارينه طبيعت له ښځينه طبيعته جلا شوی دی؟ که دا چې خدای ادم خلق کړ او له څنګه يې حوا خلق کړه؟ د دې پوښتنې ځواب په دقت او قطعيت سره نه شو ورکولای. خو يو مهم علمي فکر چې ورنه په قطعي ډول استنباطولی شو دا دی چې د قران د ايتونو په تلاوت کې نر او ښځه له يوه جنسه تلقي شوي دي او ښځه تر نر په شأن کې کمه نه ده، نه په خپل طبيعت کې او نه په الهي شريعت کې. د قران ايتونو دا باور په تکرار راوړی دی، مثلاً متعال څښتن ويلي دي: خلق لکم من أنفسکم أزواجا، يعني: ستاسو له خپل جنسه يې درته جوړې خلقې کړې. قران د جنسيتي تبعيض تفکر چې پر ښځې د نر د مطلق تسلط سبب شي او نر له برتره جنسه معرفي کړي، له ريښې غوڅ کړی او ويلي يې دي چې د انسانانو تر منځ واټنونه او توپيرونه جوړه شوې خبره ده چې حقيقت يې تر شا نه دی ولاړ». (9).

سيد قطب په فی ظلال القران تفسير کې د همدې ايت په تفسير کې همدغه مفهوم اخيستی او ويلي يې دي: «د دې ايت په ترڅ کې بل حقيقت نغښتی او دې ته اشاره کوي چې د هغه واحد نفس جوړه هم له هغه څخه خلق شوې ده، او که بشر په دې خبره پوه شوي وای، همدا به بس و چې له دردوونکو تېروتنو لرې پاتې شي. هغه تېروتنې چې د ښځې په اړه پر سستو تصوراتو بنا وې او ښځه يې د پليدۍ منبع او د شر او بلا سبب بلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال دا چې ښځه په خپل فطرت او طبیعت کې له هماغه لومړني نفس څخه ده او خدای هغه خلق کړې ده چې د نر جوړه اوسي او چې له هغوی څخه ډېر نران او ډېرې ښځې راپیدا شي. نو په اصل او فطرت کې توپیر نشته، بلکې توپیر په ورټیاوو او دندو کې دی». (10)

څرنگه چې لیدل کېږي، د قران مجید مفسرانو له پخوا زمانو څخه تر ننه پورې اول خو په دې اړه د نظر اختلاف درلودلی چې نر او ښځه څنگه خلق شول او دا چې له یو بله مشتق شوي که دواړه له یوې مادې جوړ شوي دي. د نظر دغه اختلاف پر دې دلالت کوي چې یاد ایت د ظن او احتمال افاده کوي، نه د قطع او یقین افاده. دویمه خبره دا چې د نظر له اختلافونو سره سره، هېڅ یوه مفسر دا ایت د دې دلیل نه گڼلی چې ښځه دې د نر فرع اوسي او د تبعیض لپاره لاره هواره شي ځکه چې دوی پوهېدل چې داسې انگېرنه د قران له ډېرو ایتونو سره چې پر عدالت او د تبعیض پر ختمولو صریح ټینگار لري، په ټکر کې راځي. دوی د قران په وسیله د قران د تفسیر په میتود هڅه کړې ده چې د ایت په اصلي مفاد باندې پوه شي او په دې برخه کې یې له هغو ایتونو مرسته اخیستې ده چې صریحاً وایي نر او ښځه له یوه جنسه دي، لکه د نحل، روم او د نورو سورتونو ایتونه. مثلاً دغه ایت چې وایي: و من آیاته أن خلق لکم من أنفسکم أزواجا لتسکنوا إلیها و جعل بینکم مودة و رحمة" ترجمه: او د خدای له نښانو څخه دا ده چې له تاسو څخه یې تاسو ته جوړې پیدا کړې چې ورسره انس پیدا کړئ او ستاسو تر منځ مینه او دوستي پیدا شي. دلته یې نه دي ویلي چې ښځې یې خلق کړې،، بلکې ویلي یې دي چې ازواجا چې نر او ښځې ته یو شان ویل کېږي. ټول پوهېږي چې څوک نه شي کولای له دې ایته دا مانا واخلي چې ستاسو ښځې یې ستاسو له چپو پښتیو جوړې کړې دي. واضحاً پوهېدل کېږي چې دلته د دې ایت منظور دا دی چې د نر او ښځې فطرت یو دی چې دا پخپله د برابرۍ او یوشانوالي پیغام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نوروز جشن او د مخالفت دلیلونه

په افغانستان کې نوروز جشن هر وخت او په تېره بیا په دې وروستیو کلونو کې له مناقشاتو سره مل پاتې شوی دی. ځینې وګړي یې تود هرکلی کوي او ځینې مذهبي کړې ورسره سخت مخالفت کوي. ځینې خو له دې بریده هم پښه اړوي او چا ته د نوروز مبارکي ویل او هر بل عمل چې د نوروز د لمانځلو نښانه وي، د کفر موجب ګڼي.

د نوروز د جشن مخالفان چې ځینې دودیزې او سلفي وزمه ډلې دي، د دین له دریځه د نوروز او په هغه پورې تړلي د هر ډول مراسمو د تحریم حکم کوي. دوی د دې کار لپاره ځینې دلیلونه راوړي لکه دغه:

1- د داسې پخوانیو دودونو لمانځل د هغو ادیانو او فرهنګونو له دوام سره مرسته کوي چې تر اسلام د مخه وو او اوس منسوخ او مردود شوي دي.

2- د داسې مناسبتونو لمانځنه له نامسلمانانو سره ورته والی دی او د اسلام په پیغمبر پورې د یوه منسوب روایت پر اساس، د نورو ادیانو له پیروانو سره تشبُه ناروا ده. (11).

3- د پیغمبر له یوه صحابي انس بن مالک څخه روایت شوی چې وایي: «کله چې د خدای پیغمبر مدینې ته راغی، د دې ښار خلکو دوې داسې ورځې درلودې چې لوبې او ساعت تیرې به یې په کې کولې. پوښتنه یې وکړه چې دا دوه ورځې څه دي؟ ویې ویل د جاهلیت په زمانه کې به مو په دې دوو ورځو کې لوبې او تفریح کولې. د خدای پیغمبر وویل خدای د دې په بدل کې دوې بهترې ورځې درته مقررې کړې دي، یوه د اضحی او بله د فطر ورځ». (12).

(c) ketabton.com: The Digital Library

4- له داسې جشنونو او مناسبتونو سره د مخالفت په اړه ځينې روايتونه.
5- د ابن تيميه، ملا علي قاري او ځينو نورو پخوانيو عالمانو فتوا.
6- د نوروز د مراسمو په ترڅ کې ځينې خرافي او شرکي عملونه، لکه زيارتونو ته تګ او له مړو څخه د خپلو حاجتونو د پوره کولو غوښتنه چې د اسلام له نظره ناروا دي.

دا هغه تر ټولو زيات مهم دليلونه دی چې له نوروز سره د مخالفت او د نوروز د هر ډول لمانځلو د تحريم لپاره وړاندې کېږي.

د دوی په مقابل کې د نوروز د جشن موافقان بيا داسې استدلال کوي چې:

1- د لرغونو زمانو ټول راپاتې دودونه، ديني بڼه نه لري او د دې دودونو ژوندي ساتل، د هغو اديانو د تداوم او بياژوندي کولو مانا نه لري. د عرفونو او رواجونو زياته برخه فرهنګي اړخ لري او فرهنګې چارې د انسانانو د اجتماعي تکامل نښه ده. حقيقت دا دی چې د غار مېشتې دورې تر تېرېدو وروسته چې وګړو ښارونو ته مخه کړه، زراعت او تجارت يې رامنځته کړ نو فرهنګ هم راوزېږېد چې د خلکو په ټولنيز ژوند کې مختلف مناسبات سمبال کړي. دا بهير له هماغه وخته تر ننه پورې روان دی او څومره چې د تمدن له سفره وخت تېرېږي، هماغومره بشري فرهنګ هم تنوع مومي او رنګارنګ مېوې کوي. سره له دې چې په ځينو دورو کې ځينو قومونو نوروز ته مذهبي صبغه هم ورکړې وي خو نوروز تر دې زيات چې مذهبي ريښه ولري، اساس يې فصلي بدلونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې د لرغوني زمانې خلکو ته مهم وو ځکه چې د دوی ژوند په کرهنې او د کال په اقلیم پورې تړلی و.

2- د نورو ادیانو او فرهنګونو له پیروانو سره د تشبُه نهي کول یوازې په هغو چارو کې وي چې عبادي او مذهبي بڼه ولري او د ادیانو د پیروانو تر منځ د هویت د خلط او ګډېډلو سبب شي. عادي چارې د دغې فقهي قاعدې پر اساس چې وايي:"الأصل فی الأشیاء الإباحة" ، پر ذاتي جواز ولاړې دي. پر دې سربېره، په عادي چارو کې له تشبُه ډډه نه شي کېدای او که خبره دا وي چې په عادي چارو کې له هر ډول تشبُه څخه ډډه وشي بیا نو د مسلمانانو لپاره ژوند ناشونی کېږي ځکه چې د نورو ادیانو پیروان ډوډۍ خوري، څملي، کار کوي، کالي اغوندې او داسې ډېر نور کارونه کوي چې مسلمانان هم مجبور دي چې ویې کړي. له مشابهته مطلق نهي کول دغه ټول شیان رانغاړي.

3- هغه حدیث چې د جاهلیت د پېر د دوو ورځو په اړه راوړل کېږي او د مخالفانو تر ټولو مهم دلیل دی، لومړی) د نوروز په اړه صراحت نه لري. دویم) د روایت له لحنه ښکاري چې پخپله پیغمبر مدینې ته تر هجرت له مخه، چې د اکثرو روایتونو مطابق درې پنځوس کلن و، له دې مراسمو سره هېڅ اشنا نه و او د مدینې له خلکو یې په دې اړه پوښتنه وکړه، دا راښیي چې دا مراسم د عربو په منځ کې مشهور او مهم نه و. درېیم) که د اسلام پیغمبر ته جوته شوي وای چې دا مراسم معقول اصل لري، ده به یې هم دوام ته متې رانغاړلې، هماغسې چې د عاشورا د ورځې د روژې په برخه کې وشول. له ابن عباس څخه د یوه روایت پر اساس: «کله چې د خدای پیغمبر مدینې ته راغی، یهودیان یې ولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د عاشورا په ورځ روژه نیسي، له هغوی یې پوښتنه وکړه چې دا څه رقم ورځ ده چې تاسې په کې روژه نیسئ؟ هغوی وویل دا یوه لویه ورځ ده چې خدای په کې موسی او قوم یې وژغورل او فرعون او قوم یې سره غرق کړل او موسی د شکرانې په خاطر په دې ورځ کې روژه ونیوله او موږ هم په دې ورځ روژه نیسو. د خدای پیغمبر وویل چې تر تاسو موږ موسی ته نژدې یو، نو هغه پخپله په هغه ورځ روژه ونیوله او مسلمانانو ته یې هم د روژې په نیولو امر وکړ.» (13). له دې روایته په ښکاره معلومېږي چې د اسلام پیغمبر مدینې ته تر تګ له مخه، د عاشورا له ورځې سره اشنا نه و، خو کله چې خبر شو چې اصل یې سم دی، د مسلمانانو په منځ کې یې له دوامه سره مرسته وکړه. د هغو دوو ورځو په اړه هم د اسلام پیغمبر پخپله په څه نه پوهېده او خلکو ورته د جاهلیت د زمانې لهو او لعب معرفي کړې، نتیجه دا شوه چې هغه حکم وکړ چې د دې دوو ورځو پر ځای دې اضحی او فطر ولمانځي.

4- دغه روایت د محدثینو د اصطلاحاتو مطابق، په احادو حدیثونو کې شمار دی. د فقهې د اصطلاحاتو پر اساس، دا ډول روایتونه «د ظن افاده» کوي، مانا دا چې صحت یې د احتمال په حد کې دی نه د یقین په حد کې. داسې راویتونه په دې چې قطع نه افاده کوي، یوازې نسبي اعتبار لري ځکه چې داسې اطمینان نشته چې دا خبره دې حتماً د پیغمبر وي. دا اضافي قراین دي چې د داسې روایتونو د اعتبار درجه زیاتوي یا کموي. اضافي قراین د هغې وینا د صدور احتمال یا تقویه کوي یا یې کمزوری کوي. په دې لحاظ، د نوروز د تحریم په برخه کې د دې روایت دلالت ته منفي قراین شته ځکه چې د پیغمبر د زرګونو صحابیانو له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې يوه کس چې هاغه مهال لس کلن و، دا روايت کړی دی. حال دا چې جشنونه او اجتماعي مراسم شخصي او انفرادي چارې نه دي چې يوازې يو کس دې د هغوی شاهد وي. که چېرې د اسلام پيغمبر داسې مراسم په قطعي ډول منع کړي وي چې د هغې ټولنې د فرهنګ يوه برخه وه، نو بايد اقلاً د هغوی ځينو نورو يارانو هم پرې خبر وای او د دې خبر په نقل کولو کې يې برخه اخيستې وای خو داسې نه دي شوي.

5- د مسلمانانو تاريخي تجربه يې راښيي چې دا مراسم د صحابه وو تر زمانې وروسته د اسلامي هېوادونو په ډېرو برخو کې لمانځل کېدل او د امويانو او عباسيانو ځو پر له پسې نسلونه يې شاهدان وو، خو اکثرو فقيهانو او اهل علم ورسره مخالفت نه دی کړی، ان ويل کېږي چې حضرت علي د خپل خلافت په دوران کې د نوروز په جشن کې برخه اخيستې وه او سوغات يې منلی و. (14)

6- د اضحی او فطر دوه عيدونه فرهنګي او ملي جشنونه نه دي،، بلکې د مسلمانانو د عبادي چارو او ديني سېبمولونو برخه ده او ورته مشخص احکام وضع شوي دي لکه د ځانګړي لمانځه ادا کول، د روژې تحريم، د غسل توصيه، د نويو جامو اغوستل او ... که کوم مسلمان نور مراسم د مذهبي مراسمو او جشن په حيث د دې عيدونو پر ځای غوره کړي او يا له دغو عيدونو سره يې يو شان وګڼي، د اصولي قواعدو او شته روايتونو مطابق، بدعت او نامشروع عمل ګڼل کېږي. په دې اړه د اهل علم تر منځ اختلاف نشته. خو که څوک داسې مراسم ولمانځي چې يوازې عادتي بڼه لري او هېڅ تعبدي صبغه په کې نه وي زياته شوې، بدعت نه ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. ځکه چې بدعت په شرعي مانا یوازې پر دیني مناسکو او چارو اضافه کولو ته وایي، نه پر عادي او دنیوي چارو د څه ورزیاتولو ته.

7- «عادتونه» او «عبادتونه» د خپلې منشأ پر اساس سره توپیرېږي. عبادتونه د شارع له خوا تعیینېږي او د هغوی په بڼه او محتوا کې چا ته د مداخلې حق نه ورکول کېږي. خو عادتونه د خلکو د توافق پر اساس رامنځته کېږي چې نن سبا قرارداد بلل کېږي او پخوانو ورته «جعل» او «مواضعه» ویل. قرار دادي چارې ثابتې او دایمي معناوې نه لري چې په هره زمانه کې دې هماغه معنا افاده کړي. کېدای شي د یوه ټاټوبي خلک سره سلا وکړي چې یوه مشخصه ورځ د کارګر ورځ یا د معلم ورځ ونوموي او په دې توګه وغواړي د دې قشرونو حقونه یاد کړي. د فقهي قواعدو له مخې د دوی دا کار مباح دی او په دې چې تر شا یې څه هدف لري، کېدای شي اخلاقي ارزښت پیدا کړي. هر کله چې خلک سره توافق وکړي چې هغه ورځ بدله کړي، شرعي مانع ورته نشته ځکه چې د دې کار د ایجاد منشأ دوی پخپله وو نو د بدلولو حق یې هم پخپله لري. خو عبادي او شرعي چارې بیا داسې نه دي او په دې چې خلک یې په ایجاد کې نقش نه لري نو د بدلولو حق یې هم نه لري. په همدې وجه د ځینو عربو قبایلو (نسيئ) له خوا د حرامو میاشتو بدلول د قران مجید له سخت مخالفت سره مخ شول. (15).

8- نن سبا نوروز نه د یوه مذهبي جشن په حیث، بلکې یوازې د یوه بومي عادت په حیث لمانځل کېږي. دا نظر په دې تقویه کېږي چې دا مراسم یوازې په افغانستان یا ایران پورې مختص نه دي، بلکې د ملګرو ملتونو د ګزارش پر اساس: "نوروز د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د 300 میلیونه وګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د نوي کال پیل دی او تر درې زره کاله زیاته موده کېږي چې په بالکان، تور سمندرګي، قفقاز، مرکزي اسیا، منځني ختیځ او ځینو نورو سیمو کې لمانځل کېږي". دا ورځ د ملګرو ملتونو د روزنیز، علمي او فرهنګي سازمان (یونسکو) له خوا د بشر د معنوي فرهنګي میراث په لیست کې شامله شوې ده. حال دا چې که په مسلمانانو کې څوک دا ورځ د دیني مناسبت په توګه ولمانځي او داسې وګڼي چې په دې لاره به اخروي اجر او ثواب وګټي، او یا دې کار ته په یوه ډول سره میتافیزیکي جنبه ورکړي نو دا کار یې خطا او د شرعې خلاف دی.

9- دا چې ځینې خلک د نوروز په ترڅ کې شرکي او خرافي کارونه کوي، نه شو کولای چې هر ډول مراسم یې تحریم کړو ځکه چې دا کارونه په نورو ورځو کې هم کېږي او که د ممانعت او تحریم خبره وي، د هماغه کارونو په ذات پورې اړه لري نه د ترسره کولو په وخت پورې یې او دا مهمه نه ده چې څوک یې په کوم ځای کې کوي.

10- د ټولنپوهنې له نظره په هغو هېوادونو کې چې له سختو کړکېچونو او ترخو تجربو راتېر شوي دي، د ستومانۍ او خپګان دوره خوره وي او د خلکو اروايي ستونزې په کې زیاتېږي. یو له هغو لارو چې ټولنیزه روحیه بدلولی او فشارونه کمولی شي، جشنونه او د خوښۍ او خوشحالۍ مناسبتونه دي. نوروز همداسې جشن دی.

11- ځینې نور اسلامي هېوادونه هم نوروز ته ورته نور مناسبتونه لري چې له لرغونو زمانو ورته په میراث پاتې دي لکه په مصر کې د «شم النسیم» عید چې د فرعونانو له زمانې ورپاتې دی او وروسته له مسیحي دودونو سره غوټه شوی دی. دا ورځ د مصر په رسمي تقویم کې رخصتي وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک ساحلي سيمو او تفريح ځايونو ته مخه کوي. د مصر دارالافتا دا جشن عادي چاره او مباح ګڼلی او يوازې يې دومره ويلي دي چې اسلامي اداب دې په کې مراعات شي. دغه فتوا د ازهر د پوهنتون ډېرو عالمانو او د مصر د اسلامي څېړنو د ټولنې غړو هم تاييده کړې ده. (16).

**انتخابات که د حل او عقد شورا؟**

**د انتخاباتو په اړه د اسلام حکم څه دی؟ هغه تر ټولو رسا ځواب يې دا دی چې اسلام د انتخاباتو په اړه – په هغه معنا چې موږ نن ورباندې پوهېږو او کاروو يې – هېڅ حکم نه لري. په بله وينا، دا ډول انتخابات چې نن سبا رواج دي، تازه او په مډرنې زمانې پورې تړلې پديده ده او پخوانۍ ټولنې، اسلامي او غيراسلامي، ورسره اشنا نه وې. په همدې وجه د اسلام په لومړۍ درجې منابعو – قران او سنت – کې په دې اړه هېڅ صريح حکم نه شو موندلی.**

د فقيهانو په اصطلاح کې دا ډول موضوعات، «مسکوت عنها» مسايل بلل کېږي او که په غير تعبدي چارو پورې اړه ولري، تر يوه کُلي حکم لاندې راځي چې په کې راغلي دي: "الأصل فی الأشياء الإباحة"؛ يعنې په دې مسکوت عنها چارو کې اصل اباحت او جواز دی او د تجويز لپاره يې بل دليل ته اړتيا نشته، او برعکس، که څوک باور ولري چې دا چارې حرامې دي نو د دين د لومړۍ درجې منابعو قطعي دليل ته اړتيا لري.

خو د هغه څه برخلاف چې ښکاري، دا قضيه دومره ساده نه ده ځکه چې د مسلمانو ټولنو د مختلفو مذهبي طيفونو تر منځ د انتخاباتو د مشروعيت او عدم مشروعيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر سر اختلاف، نسبتاً حاد اختلاف دی. د طیف په یوه سر کې هغه کسان دي چې دا ډول انتخابات حرام او باطل ګڼي او په بل سر کې یې هغه کسان چې انتخابات له شرعي مقاصدو او موازینو سره کاملاً مطابق بولي، د طیف په منځ کې بیا داسې کسان دي چې د انتخاباتو جواز او بطلان په خاصو ضوابطو او شرطونو پورې تړي.

د انتخاباتو مخالفان، القاعده او جهادي سلفیان، ځینې سنتي سلفي ډلې، او ځینې غیرسلفي سنیان لکه د دیوبند پیروان دي چې داسې استدلال کوي:

1- دا لاره په کتاب او سنت کې نه ده راغلې او شرعي اصل نه لري. پر دې سربېره انتخابات په صدر اسلام کې د صالح سلف له لوري نه دي ترسره شوي او مسلمانان یوازې هغه مهال ورسره اشنا شوي دي چې د غربي تمدن نرم او سخت محصولات د دوی هېوادونو ته بهېدلي دي. په دې لحاظ، انتخابات غربي پدیده ده او د غربي پانګوالو – لیبرالو ټولنو له حال سره متناسب دي چې له اسلامي ارزښتونو سره نه لګېږي او په بهترین حالت کې یې کولای شي هماغه ټولنو ته ګټور واوسي، نه متفاوتو ټولنو ته، په تېره بیا اسلامي ټولنو ته چې ځانګړي اخلاقي ارزښتونه او نور اعتقادي اساسات لري.

2- اسلام د حاکم/ اولو الامر د غوره کولو بهتره لاره لري او هغه د «اهل حل و عقد» پرېکړه ده. اهل حل و عقد (پرانیستل او تړل) د دې طیف په باور هغه کسان دي چې د علم او تقوا په لحاظ، تر عامو خلکو په لوړه مرتبه کې دي او دا چې دوی تر نورو عالمان دي نو د خلکو په ګټه او تاوان ښه پوهېږي او د خپلې تقوا په وجه، لا ښې پرېکړې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3- د دې طيف له نظره، په غربي طرز انتخاباتو کې، د دروغجنو تبليغاتو او د عوامو له باوررونو سره د لوبې کولو فرصت زيات دی او هغه کسان چې په مالي لحاظ يا د تبليغاتي مهارتونو په لحاظ تکړه دي يا د واکمنانو ملاتړ له ځانه سره لري، د کاميابېدو زيات چانس لري.

4- د دې ليدلوري په نظر، د عامو خلکو عقل کمزوری او عواطف يې پياوړي دي نو د دې پر ځای چې اوږدمهالو ګټو او متعالي غوښتنو ته فکر وکړي، غريزي اړتياوې او برسېرن مادي تمايلات غوره ګڼي. دا چې دوی په اسانۍ سره د تبليغاتو تر اغېزې لاندې راځي، هغه څوک انتخابوي چې نه علمي وړتيا لري او نه غوره اخلاق،، بلکې ښه تبليغات او زيات مادي امکانات لري. په دې طريقه، خلک ظاهراً د خپل برخليک په ټاکلو کې ونډه اخلي خو په حقيقت کې د هغو کسانو ګوډاګي وي چې زيات مال او مقام لري. يعنې نه يخپله خلک په هغه سطحه کې دي چې د اخلاقي ارزښتونو، عقيدتي معيارونو او ملي ګټو پر اساس پرېکړه وکړای شي او نه هغه کسان به چې د دوی له خوا غوره کېږي، داسې التزام ولري. نو په همدې دليل، بايد اهل حل و عقد چې عالم او صالح وګړي دي، سره غونډ شي او د لويو سياسي، ټولنيزو، مديريتي او ... موضوعاتو په اړه پرېکړه وکړي.

په مقابل لوري کې بيا د انتخاباتو موافقت په دې کېږي چې وايي دا د لويو ملي قضيو او تر دې د ټيټو قضيو په حل و فصل کې ګټوره او عملي لاره ده. د انتخاباتو موافقان ډېر دي چې ليبرالې، مدرنې مذهبې، او اصلاحپالې سنتي مذهبي ډلې رانغاړي.

د دې طيف له نظره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- حکومتولي او سیاسي قضیې ذاتاً دیني چارې نه دي او د مدیریت، صنعت، تجارت، زراعت او ... په شان د ژوند متعارفه اړتیا ده او سره له دې چې باید دیني/ اخلاقي ضوابطو ته تابع وي خو دین لزوماً د دې مسوولیت نه لري چې په دې اړه تګلاره وښیي او دا ډګر یې د انسانانو عقل او تجربې ته پرېښی دی چې په فقهي اصطلاح اجتهاد بلل کېږي.

2- د حکومتولۍ او په دې جمله کې د حل و عقد د شورا د جوړولو په برخه کې د سلف/ پخوانو کړنه پخپله اجتهادي عمل و چې ضرورتاً له دیني نصوصو څخه یې الهام نه دی اخیستی،، بلکې تر ډېره بریده د هاغه مهال د ټولنیزو واقعیتونو پر اساس رامنځته شوې وه، البته چې د شریعت له کُلي قواعدو سره په ټکر کې هم نه وه.

3- د حاکم د انتخاب په اړه د شرعې د لومړۍ درجې د منابعو سکوت، پخپله دا مانا لري چې په دې برخه کې پرېکړه د خلکو خپل واک دی او لازمه نه ده چې شارع دې په دې برخه کې تګلاره وټاکي. د خلکو لاس ازاد دی چې د خپلو ګټو پر اساس په هر شرایطو او هره سیمه کې داسې لاره غوره کړي چې په درد یې ولګېږي.

4- دا چې د اهل حل و عقد په اړه په کتاب او سنت کې صریحه وینا نشته نو د هغه مشروعیت له شرعي نصوصو نه، بلکې د هغو کسانو له موافقت او رضایته ولاړېږي چې دا صلاحیت یې ورته ورکړی دی او دا پخپله خلک دي. مانا دا چې اهل حل و عقد خپل مشروعیت له خلکو ترلاسه کوي او که د هغوی رضایت نه وي، هېڅ مشروعیت نه لري.

5- کله چې خلک دا حق ولري چې اهل حل و عقد انتخاب یا انتصاب کړي او دا یې اساسي حق وګڼل شي، بیا نو څوک حق نه لري چې هغوی په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتهاد سره له دې حقه محروم کړي او مثلاً ووايي چې خلک ناقص العقل دي. که خلک د چا د انتخاب يا انتصاب صلاحيت ولري، د هغه د عزل صلاحيت هم لري که نه نو ښکاره تناقض به رامنځته شي.

6- که د اهل حل و عقد مقام د وکالت له ډوله وګڼو، لکه په پارلمان کې استازيتوب، نو خلک به د دوی موکل وي او د وکيل او موکل تر منځ د نسبت په لحاظ، موکل اصل او وکيل فرع ګڼل کيږي او کله چې د اصل او فرع تر منځ تعارض راشي، فرع خپل اعتبار بايلي. په بله وينا، که خلک په هر دليل سره دې ته راضي نه وي چې اهل حل و عقد ته خپل صلاحيت تفويض کړي او پريکړه وکړي چې هماغه صلاحيت مستقيماً پخپله اِعمال کړي، منطقاً دا حق لري او څوک يې مانع کېدای نه شي. ځکه چې که داسې نه شي، فرع تر اصل مهم کيږي او په حقيقت کې د اصل او فرع ځايونه سره بدليږي.

7- د اهل حل و عقد د دندو او حقونو په اړه هم په ديني نصوصو کې هيڅ څرګند لارښود نشته او دا کاملاً اجتهادي قضيه ده. اهل حل و عقد يا پخپله ځان ته دندې او حقونه ورکوي يا خلک. که دوی پخپله ځان ته لوايح او مقررې وضع کړي، دا يو ډول مصادره په مطلوب کيږي او د دغو دندو او حقونو مشروعيت سستيږي. که خلک په هر ممکنه ميکانيزم سره، د هغوی د دندو او حقونو د کمولو او زياتولو حق ولري نو دا حق به هم ولري چې ووايي موږ اهل حل و عقد ته اړتيا نه لرو، خصوصاً که د ګوندونو، مدني ټولنو، صنفي اتحاديو، رسنيو او ... له لارې يې په سياسي او ټولنيزو چارو کې د تصرف حق ترلاسه کړی وي.

8- د لومړنيو مسلمانانو تاريخي تجربې ته کتنه راښيي چې د حل و عقد بنسټ خورا ابتدايي بڼه درلوده او هيڅ څرګند او منظم ميکانيزم نه و چې د هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبیلې د استازو شمېر معلوم کړي او دا چې مختلفې سیمې یو شان ونډه درلودله که نه، او دا چې ځینې کسان په مشخصه توګه د خلکو په منځ کې د حل و عقد د غړو په حیث معروف و که نه، دا کسان په څومره وخت کې یو ځل سره راټولېدل، د دوی د غوره کولو معیار عمر و که په اسلام کې سابقه، که تخصص، د قبیلې ټولنیز مقام، اقتصادي امکانات که ...؟

9- د اهل حل و عقد د تاریخي وضعیت په اړه د داسې پوښتنو او ابهامونو موجودیت، د موافقانو نظر کمزوری کوي، په تېره بیا که له دې نظره ورته وګورو چې په اوسنیو شرایطو کې به اهل حل و عقد عملاً مناسب وي که نه ځکه چې نن سبا د سیاسي پرېکړو او د حاکمانو د غوراوي لپاره پرمتخللې امکانات برابر شوي دي، خصوصاً که دا خبره هم ورسره اضافه کړو چې اغلب اوسنۍ ټولنې یا له خپل دودیز حالته راوتلې دي یا په راوتو کې دي او هغه مناسبات چې په پخوانۍ نړۍ کې د ټولنیز پیوستون سبب کېدل او د لویو ټولنیزو پرېکړو په درد لګېدل، په چټکۍ سره خپل ځای نویو مناسباتو ته ورکوي. په دې مناسباتو کې که څوک یوازې په دودیزو معیارونو لکه علم او تقوا، د رأی او پرېکړې وړ وبلل شي، کار به ونه شي مګر دا چې د سیاست، حقوقو، اقتصاد، ټولنپوهنې، مدیریت او لسګونو نورو څانګو صاحب نظر شخصیتونه هم د اهل حل و عقد غړي شي.

10- که خلک په دې دلیل چې لازمه تقوا او دیني تعهد نه لري، د دې وړ نه وي چې په لویو ټولنیزو چارو کې مستقیماً تصرف ولري، او په همدې دلیل باید متقي او کافي دینداره خلک دې مقام ته انتخاب یا انتصاب شي نو دغه نیوکې هم رامنځته کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف) د دغو اشخاصو د تقوا اندازه نه شي تشخيصېدای ځکه چې تقوا اساساً باطني شی دی او د وګړو ظاهري اعمال د هغوی د باطني تقوا لپاره قطعي ملاک نه شي کېدای. په دې لحاظ د واقعي تقوا او ريايي تظاهر تر منځ توپير نه شو کولای. تجربې ښودلې دي چې هر وخت ځينې کسان توانېدلي دي چې د تظاهر له لارې د ډېرو اعتماد خپل کړي خو باطن به يې داسې نه وي.

ب) که يو څوک واقعي تقوا هم ولري، حتمي نه ده چې په هغو چارو کې دې ورتيا او کفايت ولري چې د ده د تخصص له ساحې بهر دي. داسې ډېر خلک به وي چې مطلوبه ديني تقوا به لري خو په نورو تخصصي چارو کې به هېڅ مهارت نه لري.

ج) کېدای شي داسې ډېر متخصصان پيدا شي چې د پلان جوړولو، صنعت، تجارت، سياست، تعليم او ... لويو چارو کې کافي مهارت او ورتيا ولري خو په خپل خصوصي ژوند کې د ديندارۍ د رسمي معيارونو پر اساس اهل تقوا ونه ګڼل شي او په دې روش به د هېواد په مهمو چارو کې د هغوی له تخصص او پوهې د ګټه اخيستنې لاره وتړل شي.

د دوارو لوريو دليلونو ته په پام سره او که د شريعت کُلي مقصدونه – چې د ټولنيز يووالي، او د عمومي نظم او امن لپاره د مناسبو شرايطو برابرول دي - په پام کې ونيسو، کله چې د يوه هېواد وګړي پرېکړه وکړي چې د خپلو سياسي او ټولنيزو چارو د سمبالولو په خاطر، انتخابات غوره کړي او دا يې تشخيص کړی وي چې په دې لاره خپلو مطلوبو غوښتنو ته رسېدلی شي، نو له انتخاباتو سره د مخالفت لپاره قطعي دليل نشته او هره نيوکه چې د مخالفانو له لوري کېږي، ظني/ اجتهادي بڼه لري. دا چې په اجتهادي ډګرونو کې د تحريم حکم نه شو صادرولی نو لږ تر لږه د جواز حکم يې حاصلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خلک دې باور ته ورسېږي چې مثلاً د انتخاباتو له لارې د قدرت د سوله ییز لېږد زمینه برابرېږي – د قدرت لېږد معمولاً د لویو شخړو عمده عامل پاتې شوی دی – او په دې لاره د ګډوډیو او جګړو مخه نیول کېږي او د سیاسي واک د انتقال لپاره شخړې او جګړې ته اړتیا نه پیدا کېږي، نو د انتخاباتو د ترسره کولو حکم د جواز له حده، د وجوب حد ارتقا مومي ځکه چې مشهوره فقهي قاعده وايي: "ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب" یعنې هغه چاره چې د یوه واجب ادا کول ورپورې تړلي وي او بې له هغې دا واجب نه شي ادا کېدای، نو هغه چاره پخپله واجبېږي. له خشونته پرته د حاکمانو د بدلولو د لارې موندل او د کورنیو جګړو له ویجاړوونکو عواقبو د ټولنې ساتنه، شرعي واجب دی او که انتخابات دې موخې ته د رسېدو مناسب روش وي نو د انتخاباتو ترسره کول، شرعي واجب دی. (17).

**د فساد په اړه او د اسلام له نظره له فساد سره د مقابلې لارې چارې**

- **د فساد تعریف:**
  - فساد د صلاح ضد دی چې په حقیقت کې يې مانا له سمې لارې کږېدل دي. (18)
- **قرآن له خپلو پیروانو غوښتي دي چې له هر ډول فساده دې ډډه وکړي:**
  - و لا تبغ الفساد فی الارض إن الله لا يحب المفسدين (19) ترجمه: او په ځمکه کې د فساد په لټه مه اوسه، ځکه چې الله مفسدان نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په تېره بیا که د چارو د اصلاح او تنظیم په برخه کې هڅې شوې وي، د فساد لپاره هڅه لا بده ده او قران په دې اړه تصریح کړې ده چې: و لاتفسدوا فی الأرض بعد إصلاحها" (20) ترجمه: او په ځمکه کې وروسته له هغې چې اصلاح رامنځته شوې ده، په فساد لاس مه پورې کوئ.
- **مفسدان د اصلاح ادعا کوي**: "و إذا قیل لهم لاتفسدوا فی الأرض قالوا إنما نحن مصلحون" (21).
- خو اهل فساد نه سمبالېږي:
  - د هغه لومړني تصور برخلاف چې ځینې فکر کوي د فساد له لارې به یو ځای ته ورسېږي، قران وایي چې د خدای تکویني قانون دا دی چې د داسې کسانو کار به په اوږد مهال کې نه برابرېږي. "إن الله لا یصلح عمل المفسدین". (22)
- **اهل فساد د خدای د لعنت مستحق کېږي**: "و الذین ینقضون عهده الله من بعد میثاقه و یقطعون ما أمر الله به أن یوصل و یفسدون فی الأرض أولئک لهم اللعنة و لهم سوء الدار" (23) ترجمه: او هغه کسان چې له خدای سره تړون تر تړلو وروسته بېرته ماتوي او څه چې ده فرمان ورکړی چې وصل شي، پرې کوي یې او په ځمکه کې فساد کوي، د خدای لعنت د هغوی دی او په بد عاقبت به اخته شي.
- څوک چې فساد ته مخه کوي د خدای له محبته محرومېږي:"و إذا تولی سعی فی الأرض لیفسد فیها و یهلک الحرث و النسل و الله لا یحب الفساد" (24) ترجمه: هر کله چې واک ته ورسېږي په ځمکه کې د فساد هڅه کوي او د طبیعت او ژوندي سارو د تباهۍ سبب کېږي، او خدای تباهکاري او فساد نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فساد د ځمکې پر مخ د لویو تباهیو سبب کیږي او د خدای عذاب راولي: "ظهر الفساد فی البر و البحر بما کسبت أیدی الناس لیذیقهم بعض الذی عملوا لعلهم یرجعون" (25) ترجمه: فساد په وچه او سمندر کې راڅرګند شوی او غالب شوی دی د هغه څه په خاطر چې خلکو کړي دي، چې له دې لارې د خپلو ځینو اعمالو جزا وڅکي. ښایي له دې لارې راستانه شي.
- مفسدان تاوان کوي او اهل خسران دي:"الذین ینقضون عهد الله من بعد میثاقه و یقطعون ما أمر الله به أن یوصل و یفسدون فی الأرض أولئک هم الخاسرون" (26) ترجمه: هغوی چې له خدای سره خپل تړون تر ټرلو وروسته بېرته ماتوي او څه چې خدای فرمان ورکړی چې وصل شي، پرې کوي یې او په ځمکه کې فساد کوي، دوی تاوان کوونکي دي.
- **فساد د انسانانو د خلقت له فلسفې او حکمت سره په ټکر کې دی**: "قالوا أتجعل فیها من یفسد فیها و یسفک الدماء" (27) ترجمه: فرشتو خدای ته وویل ایا په ځمکه کې هغه څوک خلقوې چې فساد په کې وکړي او وینه وبهوي.
- مفسدان دې دا تمه نه کوي چې برخلیک به یې د صالحانو په شان وي: "أم نجعل الذین آمنوا و عملوا الصالحات کالمفسدین" (28) ترجمه: ایا هغه کسان به چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي دي، د مفسدانو غوندي کړو؟
- د ابدي خلاصون شرط له فساده ډډه کول دي:"تلک الدار الآخرة نجعلها للذین لایریدون علوا فی الأرض و لا فسادا" (29) او د اخرت دنیا هغو کسانو ته ورکوو چې په ځمکه کې په دې لټه نه وو چې پر نورو غلبه وکړي او د فساد قصد یې نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځایه د فساد په اړه د قران مجید لیدلوری و چې په ټوله کې یې خپلو پیروانو ته داسې چوکاټ جوړ کړی چې په اخلاقي لحاظ باید ورته ژمن وي او له فساده ځان وساتي.

د اسلام د پیغمبر سنت هم د قران پر همدې تګلارې ټینګار کوي خو په لا تفصیل او د فساد لا مشخصو جزییاتو ته په اشارې سره.

لومړی د اسلام د پیغمبر ټینګار پر دې دی چې مسلمان انسان باید په هره برخه کې ښو کارونو ته مخه کړي او دا یې الهي فریضه ګڼلې ده: "إن الله کتب الإحسان علی کل شيئ.." ترجمه: خدای د هر کار سم ترسره کول فرض کړي دي. (30) همدارنګه ویلي یې دي: "إن الله يحب إذا عمل أحدكم عملا أن يتقنه" ترجمه: خدای دا خوښوي چې کله ستاسو یو څوک یو کار کوي هغه دې په بهترینه وجه سر ته ورسوي. ( 31)

دغو لارښوونو ته په پام سره، هر کار چې په صداقت ترسره نه شي، ناوړه او فاسد کار ګڼل کېږي.

د فساد نښې او **مظاهر:**

د نبوي احادیثو مطابق، فساد مختلفې نښې لري او له غیرقانوني لارو څخه د پیسو ګټل د فساد د مظاهرو یوه برخه ده. د اسلام پیغمبر توصیه کړې ده چې مسلمان انسان باید له حرام سره په تعامل کې حساس اوسي او دا برید دې په پام کې ونیسي:"إن الحلال بين و إن الحرام بين و بينهما أمور مشتبهات لايعلمهن كثير من الناس، فمن اتقی الشبهات فقد استبرأ لدينه و عرضه" یعني: هم حلال واضح دی او هم حرام، خو ځینې مسایل دي چې د دواړو په پوله کې واقع دي او شبهات نومېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک له شبهاتو ځان لرې وساتي، هم به يې دين پاک ساتلی وي هم خپله ابرو. (32)

همدې مفهوم ته نږدې بله خبره يې په بل مناسبت کې کړې ده او پيروانو ته يې توصيه کړې ده چې له ناروا لارو د مال له پيدا کولو دې ډډه وکړي:"اجعلوا بينکم و بين الحرام سترا من الحلال، من فعل ذلک استبرأ لعرضه و دينه و من ارتع بينه کان المرتع الی جنب الحمی يوشک اين يقع فيه و إن لکل ملک حمی و إن حمی الله فی الأرض محارمه" يعنې: د حلالو او قانوني لارو په وسيله د ځان او حرام تر منځ خنډ رامنځته کړئ، هر چا چې دغه کار يې وکړ، هم يې ابرو پاک پاتېږي او هم يې ديانت، خو که څوک له دې بريده واوښت او د ځان پر وړاندې يې داسې خنډ نه درلود، هغه به داسې کس غوندې وي چې په ممنوع پټيو کې (خپل څاروي) وپيايي چې ژر يا په ځنډ به په کې راګير شي. پوه شئ چې هر پاچا ممنوع سيمه لري او په ځمکه کې د خدای له خوا ممنوعه شوې سيمه، د هغه د محرماتو پوله ده. (33)

همدارنګه ويلي يې دي: "الحلال بين و الحرام بين فدع ما يريبک إلی ما لا يريبک" يعنې: حلال او حرام واضح او د پېژندلو وړ دي، نو هغه څه چې مشکوک دي، پرې يې ږده او هغه څه ته مخه کړه چې شک او شبهه په کې نشته. (34) او اخطار ورکوي چې: "من نبت لحمه من السحت فالنار أولی به" يعنې: هغه څوک چې د بدن غوښې يې په حرامو لارو تغذيه شوې وي، د دوزخ لايق دي. (35)

په بل مناسبت کې يې د يوه غيراخلاقي تحول او د هغو ارزښتونو د راپرځېدلو خبر ورکړی چې د ښه او بد تر منځ پوله مشخصوي: "يأتی علی الناس زمان لايبالی المرء ما أخذ منه أ من الحلال أم من الحرام" يعنې: داسې وخت به راشي چې وګړی دې ته اهميت نه ورکوي چې ګټلې يې له حلاله لاره وه که له حرامه. (36)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځایه خبره د ټولو حرام خوریو وه چې فساد، اختلاس او له غیرقانوني لارو د پیسو ګټل رانغاړي. خو تر دې ورهاخوا، په نبوي حدیثونو کې د هغو موردونو خبره شوې ده چې د فساد لپاره لاره هواروي، یو مورد یې د امانت په ساتلو کې کمزوري ده. امانت په دیني روایتونو کې پراخ مفهوم لري په دې جمله کې، هغه مسوولیتونه هم دي چې په عمومي ډګر کې چا ته سپارل کېږي.

په یوه مورد کې ویل شوي دي چې د امانت ضایع کېدل داسې ګډوډي رامنځته کوي لکه په یوه ټولنه کې چې قیامت راشي. بیا یې اشاره کړې ده چې دلته د امانت منظور، په هغو مقامونو کې د اشخاصو ټاکل دي چې اهلیت یې نه لري:"فاذا ضعیت الأمانة فانتظر الساعة، قال کیف إضاعتها؟ قال إذا وسد الأمر إلی غیر أهله فانتظر الساعة" یعنې: هرکله چې امانت ضایع شو، د قیامت راتلو ته منتظر اوسه. چا پوښتنه وکړه چې دا به څرنګه وي؟ هغه ځواب ورکړ: هرکله چې ودې لیدل چې کارونه داسې کسانو ته سپارل شوي دي چې ورتیا یې نه لري، نو قیامت ته منتظر اوسه. (37)

کېدای شي چوکۍ د خپلوۍ او شخصي اړیکو له مخې چا ته وسپارل شي. دا کار د اسلام له نظره د فساد او د امانت د ضایع کولو یوه نمونه ګڼل کېږي. د اسلام پیغمبر ویلي دي:"من ولی من أمر المسلمین شیئا فأمر علیهم أحدا محاباة فعلیه لعنة الله، لایقبل الله منه صرفا و لا عدلا حتی یدخله جهنم"، یعنې: هر چا چې د مسلمانانو په منځ کې یو مسوولیت ترلاسه کړ او هغه د خپلوۍ له مخې څوک ورته مأمور کړي، هغه د خدای د لعنت مستحقېږي او وروسته بیا د هغه هېڅ فدیه او د تاوان ورکړه، نه قبولېږي تر هغې چې دوزخ ته لاړ شي. (38)

کله چې دا روحیه په ټولنه کې خوره شي، د امانت ساتل به له منځه ځي او خیانت به عامېږي او خلک به له داسې تنګسې سره مخ شي چې په سختۍ سره به

(c) ketabton.com: The Digital Library

امانتکاره انسان پیدا کړای شي. په ټولنپوهنه کې دغه حالت د بې قانونۍ قانوني کېدل بلل کېږي. د اسلام پیغمبر ویلي دي: "و یصبح الناس یتبایعون فلایکاد أحد یؤدی الأمانة فیقال إن فی بنی فلان رجلا أمینا، و یقال للرجل ما أعقله و ما أظرفه و ما أجلده، و ما فی قلبه مثقال حبة خردل من إیمان"، یعنې: داسې وضعیت به راځي چې کله خلک له یو بل سره راکړه ورکړه کوي، هېڅوک امانت نه مراعاتوي. تر دې چې د ځینو اشخاصو په اړه ویل کېږي چې فلان کس څومره پوه او ځیرک او چابک دی، حال دا چې په زړه کې به یې یوه ذره ایمان نه وي. (39)

په همدې وجه ایمان او امانتداري سره تړلي ګڼل شوي دي. د اسلام پیغمبر ویلي دي:"لا إیمان لمن لا أمانة له"، یعنې: څوک چې امانت نه ساتي، ایمان هم نه لري. (40) خیانت چې د امانتدارۍ ضد دی، د منافقت نښه بلل شوې ده:"و إذا اؤتمن خان"، یعنې: او هرکله چې منافق ته یو امانت وسپارل شي، هغه به په کې خیانت وکړي. (41)

په خیانت کې ورګډېدل، بد عواقب لري او له دین سره د شخص اړیکي پرې کوي. پیغمبر ویلي دي:"إن الله إذا أراد أن یهلک عبدا نزع منه الحیاء، فإذا نزع منه الحیاء لم تلقه إلا مقیتا ممقتا، فإذا لم تلقه إلا مقیتا ممقتا، نزعت منه الأمانة، فإذا نزعت منه الأمانة لم تلقه إلا خائنا مخونا، فإذا لم تلقه إلا خائنا مخونا نزعت منه الرحمة فإذا نزعت منه الرحمة لم تلقه إلا رجیما ملعنا، فإذا لم تلقه إلا رجیما ملعنا نزعت منه ربقة الإسلام"، یعنې: که څوک د خدای له لوري له هلاکت او بربادۍ سره مخ کېږي، پیل به یې له هغه څخه د حیا او شرم په ختمولو وي. کله یې چې حیا له لاسه ورکړه، هم به منفور شي هم متنفر. کله چې منفور او متنفر شو، امانتداري ورنه اخیستل کېږي او خیانت ته مخه کوي چې سروکار به یې له نورو خاینانو سره شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ده سره هم خيانت کوي. بيا مهرباني او عاطفه ورنه اخيستل کېږي او څوک چې خپله انساني عاطفه له لاسه ورکړي، د خدای له درگاه څخه شړل کېږي او لعنت ورباندې کېږي. هغه څوک چې د خدای لعنت ورباندې شوی دی، له اسلام سره هېڅ پيوند نه لري. (42)

**عمومي شتمنی د امانت ډولونه دي، لکه دولتي ماليات يا عمومي غنايم او نور. د شريعت په اصطلاح کې له داسې شتمنيو سره خيانت «غلول» بلل کېږي. قران ويلي دي:**"و من يغلل يأت بما غل يوم القيامة ثم توفى کل نفس ما کسبت و هم لايظلمون" (43) ترجمه: او هر چا چې غلول وکړل په قيامت کې به له هغه مال سره احضار شي چې د خيانت له لارې يې گټلی دی او وروسته هر څوک د هغه څه جزا ويني چې کړي يې دي، بې له دې چې پر چا ظلم وشي.

د اسلام پيغمبر هم په عمومي شتمنيو کې له خيانته پر ډېره کولو ټينگار کړی او ويلي يې دي:"لا ألفين أحدکم يوم القيامة على رقبته شاة لها ثغاء، و على رقبته فرس له حمحة يقول يا رسوله الله أغثنى، فأقول لا أملک لک من الله شيئا، قد أبلغتک، و على رقبته بعير له رغاء، يقول يا رسول الله أغثنى فأقول لا أملک لک شيئا، قد أبلغتک، و على رقبتة صامت، فيقول يا رسول الله أغثنى، فأقول لا أملک لک من الله شيئا، قد أبلغتک، أو على رقبته رقاع تخفق، فيقول يا رسول الله أغثنى، فأقول لا أملک لک شيئا، قد أبلغتک"، يعنې: هسې نه چې د قيامت په ورځ ستاسو يو څوک ووينم چې پسه يا اس پر اوږه وړي او ما ته ووايي مرسته راسره وکړه، او زه ووايم د خدای د امر په مقابل کې څه درسره نه شم کولای، ځکه چې مخکې مې خبر کړی وې، او بل کس به اوښ پر اوږه ولري او ووايي چې له ما سره مرسته وکړه او ووايم زه څه نه شم کولای ځکه چې ما درته ويلي وو، او بل به د اوښانو گله پر اوږه وړي او ما ته به وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته راسره وکړه، او زه ووایم چې څه نه شم کولای ځکه چې مخکې مې درته ابلاغ کړی و، او یو بل به د پوستکو یو بار پر غاړه ولري چې تر لاندې به یې کړوپ شوی وي او ما ته ووايي مرسته راسره وکړه، او زه به هماغسې ووایم چې زما له لاسه څه نه کېږي ځکه چې مخکې مې درته ويلي وو. (44)

څرګنده خبره ده چې د دې مثالونو هدف هغه شمتنې دي چې ځينې وګړي يې له عمومي شتمنۍ جېب ته وهي او دا چې اخروي عواقب يې درانه دي او کولای شو له غيرقانوني لارو څخه ترلاسه شوي هر ډول نقدي او غيرنقدي شته همداسې قياس کړو.

خو په دې منځ کې څه چې اسلام ورباندې ټينګار کوي، د امانتدارۍ پراخ مفهوم ته پام اړول دي. امانت يوازې په يادو موردونو نه خلاصه کېږي. هم په عمومي حوزه کې او هم په خصوصي حوزه کې د هر ډول مسووليت په غاړه اخيستل، په همدې اخلاقي قاعده کې شاملېږي او له هغې څخه سرغړونه په لويو ګناهونو کې حسابېږي. د اسلام پيغمبر ويلي دي:"کلکم راع و کلکم مسئول عن رعيته، الإمام راع و مسئول عن رعيته، و الرجل راع فی أهله و هو مسئول عن رعيته، و المرأة راعية فی بيت زوجها و مسئولة عن رعيتها، و الخادم راع فی مال سيده و مسئول عن رعيته"، يعنې: تاسې هر يو سرپرستی لرئ او د هغوی پر وړاندې مسووليتونه. پاچا او حاکم سرپرستان دي او د هغو کسانو پر وړاندې مسووليت لري چې د دوی تر سرپرستی لاندې دي. مېړه د خپلې ښځې پر وړاندې سرپرست دی او مسووليت يې لري. ښځه هم د مېړه د کور سرپرسته او مسووله ده. نوکر هم د خپل مالک د مال سرپرست دی او مسووليت يې لري. (45) دا روايتونه که يو څه ساده ښکاري او له داسې تعبيرونو يې کار اخيستی چې د خلکو له پخواني قبيلوي ژوند سره سمون لري خو په خپلو ژورو کې څرنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل شول، هم په عمومي حوزه کې هم په خصوصي حوزه کې د امانتدارۍ او مسووليت پېژندني پيغام لري.

له فساد سره د مقابلې لارې

اوس نو راځو دې ته چې څرنګه د ناروا او غيرقانوني ګټو مخه نيولای شو، دا که مالي او اقتصادي ناوړه ګټې وي، که اداري فساد او که نورې.

په دې اړه د اسلام لارښوونه دا ده چې شفافيت ته مخه کړئ او د هغو شيانو له پټولو ډډه وکړئ چې د ناوړې ګټې لپاره لاره هواروي.

کله چې د اسلام پيغمبر د خيبر له نامسلمانانو سره تړون وتاړه، شرط يې ورته دا کېښود چې مصالحه به يې تر هغې پورې دوام وکړي چې له کتمان او د واقعيتونو له پټولو ډډه وکړي. "فصالحوه... على أن لايكتموا و لا يغيبوا فإن فعلوا فلا ذمة لهم و لاعهد"، يعنې: هغوی د اسلام له پيغمبر سره پر همدې اساس مصالحه وکړه چې هېڅ شی به نه پټوي. پيغمبر وويل که مو دا کار ونه کړ زموږ تر منځ به هېڅ ژمنه او تړون نه وي. (46)

پيغمبر له مسلمانانو هم غوښتي دي چې هغه مال دې نه پټوي چې د دوی شخصي مال نه وي."من وجد لقطة فليشهد ذا عدل أو ذوى عدل ثم لا يغيره و لا يكتم، فإن جاء ربها فهو أحق بها و إلا فهو مال الله يؤتيه من يشاء"، يعنې: هر چا چې يو مال يا ورک شوی شی وموند، بايد دوه عادل کسان شاهد ونيسي او په هغه څه کې چې ده موندلي دي، هېڅ تغيير رانه ولي او له پټولو يې ډډه وکړي. که يې څښتن پيدا کړ، بېرته دې يې ورکړي ځکه چې هغه يې لا حقداره دی او که يې څښتن پيدا نه شو، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال په حیث دې یې نورو ته ورکړي چې په خدای پورې اړه لري خو پخپله دې ورنه استفاده نه کوي. (47)

خو شفافیت یوازې په مالي چارو پورې نه محدودېږي، بلکې هره موضوع چې له عمومي حوزې سره اړیکي لري، د شفافیت تر پوښښ لاندې راځي او د اسلام پیغمبر له مسلمانانو غوښتي دي چې د یوه عمل د سموالي او اخلاقیتوب ملاک دې د هغه په ښکاره کولو او علني کولو کې وګڼي."الإثم ما حاک فی الصدر و کرهت أن یطلع الناس"، یعنې: ګناه هغه څه دي چې په زړه کې وسوسه رامنځته کړي او نه دې خوښېږي چې خلک ځنې خبر شي. (48)

د همدغو توصیو اثر و چې مسلمانانو په راوروسته دورو کې، په تېره بیا هله چې د قلمرو لمنه یې پراخه شوه او له عمومي حوزې سره د پراخو اړیکو زمینه برابره شوه، د شفافیت پر اړتیا ټینګار کاوه او په واقعیت کې تر هغه وخته پورې چې مسلمانانو دغه اصل مراعاتاوه، لا زیاتو بریاوو او پرمختګونو ته رسېدل او د اسلامي ټولنو دروني ستونزې څو ځله کمې وې. د مسلمانانو دویم خلیفه، عمر فاروق، سعد بن ابي وقاص ته چې هاغه مهال د عراق والي و، په یوه لیک کې داسې لیکلي وو:"عد مرضی المسلمین و اشهد جنائزهم و افتح بابک و باشر أمرهم بنفسک فإنما أنت رجل منهم، غیر أن الله جعلک أثقلهم حملا، و قد بلغنی أنه فشی لک و لأهل بیتک هیئة فی لباسک و مطعمک و مرکبک لیس للمسلمین مثلها، فإیاک یا عبدالله أن تکون بمنزلة البهیمة التی مرت بواد خصیب فلم یکن لها الا السمن و إن حتفها فی السمن، و اعلم أن للعامل مردا إلی الله، فإذا زاغ زاغت رعیته، و إن أشقی الناس من شقیت به رعیته"، یعنې: د مسلمانو ناروغانو عیادت وکړه او په جنازو کې یې ګډون وکړه او د کور ور دې د خلکو پر مخ خلاص پرېږده او د هغوی کارونه مستقیماً ته پخپله مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوڅه، څکه چې ته یو له هغوی څخه یې په دې توپیر سره چې خدای ستا مسوولیت ډېر کړی دی او ما ته خبر رارسېدلی چې تا او کورنی دې په جامو خوړو او د سپرلی په وسایلو کې تغییرات راوستي دي او داسې شیان لرئ چې د عامو خلکو لپاره نه دي. له خدایه پروا وساته اې د خدای بنده، هسې نه چې لکه هغه څاروي اوسې چې د ابادې ځمکې په لیدو ځري چې چاغ شي، څکه چې چاغي به یې د هلاکت سبب شي. پوه شه چې هر مسوول به اخر د خدای لوري ته ستنېږي او که په کړو لارو لاړ شي، تر لاس لاندې وګړي به یې هم منحرفېږي او تر ټولو بد کس هغه دی چې خلک یې له لاسه په بدمرغۍ کې ولوېږي. (كتاب المساءلة)

مشهور مسلمان عالم، ابن خلدون هم همدې اصل ته په پام سره ویلي دي:"أساس الفساد هو الولع بالحياة المترفة بين أفراد الجماعة الحاكمة"، یعنې: د فساد بنسټ تجملاتي او د زیات لګښت ژوندانه ته د واکمنې ډلې شدید حرص او میل دی. (49)

له فساد سره د مقابلې بله لاره حساب ورکول او ځواب ورکول دي.

یوه له هغو موضوعاتو چې په قران کې پیروانو ته په تکرار سره راغلې، دا ده چې هغوی د خپلو اعمالو او کړنو په خاطر له حساب کتاب سره مخ کیږي. "لا يسأل عما يفعل و هم يسألون" (50) ترجمه: او هغه یعنې خدای، د هغه څه په خاطر چې کوي یې تر پوښتنې لاندې نه راځي خو انسانان تر پوښتنې لاندې راځي.

د اسلام پیغمبر د دې خبرې په توضیح کې چې کومې اساسي پوښتنې له انسانانو څخه کیږي، ویلي دي:"لا تزول قدما عبد يوم القيامة حتى يسأل عن عمره فيم أفناه و عن عمله فيم فعل و عن ماله من أين اكتسبه و فيم أنفقه و عن جسمه فيم أبلاه"، یعنې: د قیامت په ورځ مخکې له دې چې بنده له خپل ځایه ګام پورته کړي، باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورو شیانو ځواب ورکړي: له خپل عمره چې په کومه لاره یې سر ته رسولی دی، له خپل عمله چې څه و، له خپل ماله چې له کوم ځایه یې ترلاسه کړی و او په کومه لاره یې لګولی و، له خپل بدنه چې په کوم کار یې زوړ کړی دی. (51)

د انسانانو د اعمالو ارزونه او ځوابونه یې هم په دنیا کې کېږي، هم په اخرت کې، په قران کې راغلي دي:"و قل اعملوا فسيرى الله عملكم و رسوله و المؤمنون و ستردون إلى عالم الغيب و الشهادة فينبئكم بما كنتم تعملون" (52) ترجمه: "او ووایه چې تاسې خپل کار وکړئ، هم خدای، هم یې پیغمبر او هم مومنان ستاسو عمل ګوري او وروسته د هغه ذات خوا ته ورستنول کېږئ چې په پټو او ښکارو پوه دی چې څه چې مو کړي دي، بېرته به یې درته ووایي". البته د دې منظور چې مومنان یېویني دا دی چې د هغوی له قضاوت سره مخ کېږئ او که مو کوم ناروا عمل کړی وي، نوم او حیثیت به یې بربادېږي.

په مالي چارو کې حساب ورکول خاص اهمیت لري. د پیغمبر په زمانه کې د"أزد" د قبیلې یو کس د یوې سیمې د مالیاتو د راټولولو مسوول شو. کله چې هغه مدینې ته راستون شو، د مالونو یوه برخه یې وسپارله او ویې ویل چې بله برخه یې خلکو ما ته په تحفه کې راکړې ده. پیغمبر د ده له دې کاره ناخوښه شو او ویې ویل:"ما بال الرجل نستعمله على العمل مما ولانا الله فيقول هذا لكم و هذا أهدى إلى، فهلا جلس فى بيت أبيه أو بيت أمه، فننظر أ يهدى إليه أم لا؟"، یعنې: ولې هغه څوک چې مونږ یې په یوې دندې ګمارو، وایي چې دا ستاسو دي او دا هغه سوغات دي چې ما ته راکړل شوي دي، ولې هغه د خپلې مور یا د خپل پلار په کور کې نه کېناسته چې وګورو بیا هم څوک ورته سوغات ورکوي که نه؟ (53) څنګه چې لیدل کېږي، هغه مهال چې یو څوک یو مسوولیت په غاړه لري، په تېره بیا مالي مسوولیت، د اسلام له نظره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوغاتونو منل ورته ناروا دي ځکه چې دا سوغاتونه د رشوتخورۍ او له دندې او مقام څخه د ناوړې ګټه اخيستنې زمينه برابروي.

مسلمان حاکم د دې لپاره چې د ځواب ويلو لپاره لاره خلاصه کړي، بايد خلکو ته دا جرأت ورکړي چې هرکله له ده څخه لاره کږېږي، خلک دې ورباندې نيوکه وکړي. په حکومتولۍ کې د پيغمبر د يارانو عملي تجربه همداسې وه. کله چې ابوبکر صديق د مسلمانانو لومړنی خليفه وټاکل شو، هغه په خپله لومړۍ عمومي وينا کې خلکو ته وويل:"إنی وليت عليکم و ليست بخيرکم، إن أحسنت فأعينونی و إن أسأت فقومونی"، يعنې: زه پر تاسو د حکومت کولو لپاره غوره شوی يم حال دا چې ستاسو بهترين نه يم. که مې ښه کار وکړ، راسره مرسته وکړئ او که مې بد کار وکړ، لارې ته مې سم کړئ.

دويم خليفه، عمر فاروق هم د خپل خلافت په دوران کې خلکو ته داسې اعلان وکړ:"أيها الناس من رأی منکم فی اعوجاجا فليقومه"، يعنې: اې خلکو! په تاسو کې هر څوک چې په ما کې يې انحراف وليد، ما دې سمې لارې ته راولي. د خلکو له منځه يو څوک پاڅېد او ورته ويې ويل: په خدای قسم چې که ته کوږ شوې، تا به په تورې سره سم کړو. خليفه يې په ځواب کې وويل: "الحمد لله الذی جعل فی هذه الأمة من يقوم عمر بسيفه"، يعنې: د هغه خدای ستاينه کوم چې په دې امت کې يې داسې کسان راوستي دي چې عمر به په خپلې تورې سره سم کړي. څرنګه چې ليدل کېږي، خليفه د خلکو له دې ډول غبرګونه نه يوازې دا چې غوسه نه شو، بلکې خوشحالي يې هم وښوده. د تاريخ په هغه پېر کې او په هغه محيط کې چې تر دې مخکې يې هېڅ قانون او تمدني نظم نه درلود، داسې تجربه يو لوی اخلاقي تحول و. د دې تحول وجه دا وه چې اسلام په دې برخه کې ټينګار کړی و او مسلمانان له ديني ارشاداتو پوهېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو چې باید دا موازین مراعات کړي. حتا روایت دی چې حضرت عمر به ویل:"أحب الناس إلی من رفع إلی عیوبی"، یعنې: ما ته هغه څوک تر ټولو عزیز دی چې زما عیبونه او نیمګړتیاوې راوښيي. دویم خلیفه په یو بل مناسبت کې وینا ته پاڅېد او خلکو ته یې وویل: اې خلکو واورئ! د ډلې له منځه سلمان فارس پاڅېد او ویې ویل: موږ ستا خبرو ته غوږ نه نیسو. ده پوښتنه وکړه چې ولې؟ سلمان وویل له هغو جامو څخه چې بیت المال ته رسېدلي وو هر چا ته دې یوه یوه برخه ورکړه خو پخپله دې دوې برخې واخیستې چې اوس دې اغوستې دي. عمر وویل: زه شاهد لرم چې تر یوې برخې زیاته راته نه ده رسېدلې خو دا چې د جامو د جوړلو لپاره بس نه وه، زوی مې عبدالله خپله برخه ما ته وبخښله او هغه اوس دلته حاضر دی. سلمان وویل اوس نو چې هرڅه وایې، ویې وایه چې وایې ورو.

وینو چې په مالي چارو کې ځواب ورکول څرنګه د لومړنیو مسلمانانو په منځ کې په یوه عمده ټولنیز ارزښت بدل شوی و چې د حکومت د لوړترین مقام په وړاندې یې هم څنې نه تېرېدل او حاکمان هم نه یوازې دا چې دا کار یې بد نه ایساوه، بلکې هرکلی به یې هم ورته ویل. په دې اړه نور روایتونه هم شته چې د بحث د اوږدېدو د مخنیوي په خاطر څنې تېرېږو.

یوه لیکوال په دې اړه چې د مسلمانانو دویم خلیفه د شفافیت او ځواب ورکولو لپاره څه ډول میکانیزم رامنځته کړی و چې مالي او اداري فساد ته لاره پاتې نه شي، دغه مطالب یاد کړي دي: "د نورو حکومتونو لکه د ساساني امپراتورۍ له اداري تجربو څخه په استفادې سره د دېوانسالار نظام ایجادول، د والیانو لپاره د مالي سیاست مشخصول او ورته کافي تنخواه ورکول چې له دولتي مالونو د استفادې اړتیا پاتې نه شي، وظیفې ته تر ګومارلو مخکې د والیانو د شمتنې تخمینول، په تجارت او مالي راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه کې د مسوولینو د بوختیدا مخنیوی، پر دې ټینګار چې قوانین او فیصلې دې پر خپلو قریبانو او اولادونو بې کمی تطبیق کړي، د مسوولینو د کارونو د څیړلو په خاطر د پلټونکو استول، په عمومي مراسمو لکه حج کې د خلکو د نظرونو پوښتل، مسوولینو ته دا فرمان ورکول چې هرکله له یوې وظیفې راستنیږي باید د ورځې له مخې ښار ته راننوځي نه د شپې له مخې چې ولیدل شي چې غیر له خپل قانوني ملکیت څخه نور منقول مالونه له ځانه سره رانه وړي". (الطوخی، ص 256).

د مسلمانانو په تاریخ کې پر دې عملي تجربو سربېره، د اسلام له اخلاقي لارښوونو او حقوقي ارشادتو په الهام سره داسې هڅې شوې دي چې د حاکمانو کړنې قانون ته تابع اوسي او د اختلاس او فساد مخه ونیول شي. دا سمه ده چې دغه هڅې به د اوسنیو هغو غوندې تدوین شوې نه وې او غالباً يې فردي بڼه درلوده او په دې دلیل چې بنسټیز شوې نه وې، هر وخت نه مراعاتیدې او په تاریخ کې ورنه سرغړونې هم شوي دي خو د دې هڅو ذات په پخوانۍ زمانه کې د یوې تمدني تجربې په حیث، ځانګړې ارزښت لري او کولای شي د یوه پخواني سنت په توګه د پام وړ وګرځي او له اوسنیو شرایطو سره سم د لا مهمو ګامونو د پورته کولو لپاره د الهام منبع شي.

په دې برخه کې د کتابونو درې ډلې یادولی شو چې له فساد سره د مقابلې او د حاکمانو د کړنو د ښه کولو لپاره تیوریکي هڅې راښیي. یوه ډله يې د نصیحة الملوک په عنوان پېژندل کیږي چې امام غزالي او نورو لیکلي دي او تر ډیره بریده د هغو لیکونو بڼه لري چې د وخت حاکمانو ته يې لیږلي دي او هغوی ته يې په حکومتولی کې د قانون او اخلاقو د مراعاتولو سپارښتنه کړې ده. د دې کتابونو یوه برخه لاهم شته. د فارسي ادبیاتو یو له تر ټولو مهمو متنونو څخه چې د سعدي ګلستان دی، حاکمانو ته دا ډول نصیحت وزمه لیکنې راخیستې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه ډله کتابونه د ځینو فقیهانو په لاس لیکل شوي دي چې د "الاحکام السلطانیة" په نامه پېژندل کېږي. په دې اړه تر ګردو مشهور کتاب د شافعي فقیه، ابوالحسن ماوردي دی چې د څلورمې او پنځمې پېړۍ په منځ کې قاضي القضات و. بل کتاب د حنبلي فقیه ابو یعلی فرأ دی چې دی هم په هماغه وخت کې اوسېده او کتاب يې هم هماغه نوم لري.

په درېمه ډله کې هغه کتابونه دي چې د مسلمانانو په تاریخ کې ځینو سیاستوالو لیکلي دي او د حکومت د قانونمندۍ او تدوین لپاره یو ډول هڅه بلل کېږي. په دې برخه کې تر ټولو مشهور کتاب د خواجه نظام الملک طوسي دی چې په پنځمه هجري پېړۍ کې اوسېده او په 1092 میلادي کې وفات شوی دی. هغه د سلجوقیانو په عصر کې تر دېرشو زیات کلونه د خورا تجربه کاره صدراعظم په حیث دنده ترسره کړې وه او هغه مدرسې چې ده تاسیس کړې دي د نظامیه په نامه یادېږي او په پخوانۍ زمانه کې په خورا مهمو روزنیزو مرکزونو کې شمار وې. ده د سیاستنامه په نوم یو ارزښتمن کتاب کښلی دی. قابوس نامه د دې ډلې بل کتاب دی چې په 475 هجري کې لیکل شوی دی. لیکوال يې عنصرالمعالي کیکاوس بن وشمګیر دی چې د اوسني ایران په ځینو سیمو (آل زیار) کې حاکم و. البته یاد اثار پر خپلو اصلي موضوعاتو سربېره، د پخواني ادبي نثر په ډګر کې هم د لوړ اعتبار خاوندان دي.

له دې مبحثه دا نتیجه اخیستلی شو چې مالي او ادراي فساد هغه افتونه دي چې له اسلامي ارزښتونو سره نه جوړېږي او په دې برخه کې اسلامي لارښوونې ایجابوي چې باید ورسره د مقابلې لپاره جدي تدبیرونه ونیسو. په دې برخه کې کولای شو هم له قران او نبوي حدیثونو استفاده وکړو، هم د لومړنیو مسلمانانو له عملي تجربې او هم په راوروسته پېړیو کې د اسلامي پوهانو له اثار او تالیفاتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته کېدای شي د پخواني عصر تجربې ونه شي کولای په اوسنیو شرایطو او نننې پېچلې ژوند کې پوره په درد ولګېږي خو د اسلامي تعلیماتو له نظره کومه مانع ورته نشته چې د نورو ملتونو له تجربو او هغو بریاوو استفاده وکړو چې د رڼو او شفافو میکانیزمونو په جوړولو کې یې دوی کامیاب کړي دي. د اسلام پیغمبر ویلي دي:"الكلمة الحكمة ضالة المؤمن حيثما وجدها فهو أحق بها"، یعنې: د حکمت خبره د مومن انسان ورکه ده چې هر چېرته یې ومومي، تر نورو یې دی زیات حقداره دی. (54)

**مل لیکونه:**


1- دا وینا د 1390 د کب په 20 مه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وېبپاڼه کې خپره شوې وه. د ښځې فرع والی د دې وینا د پنځمې مادې په دال بند کې یاد شوی و.

2- سوره نساء، آیه 1.

3- ابن عربي، تفسیر، ج 1، ص 137.

4- فخر رازي، تفسیر کبیر، ج 9، ص 478.

5- احمد مصطفی المراغي، تفسیر المراغي، ج 4، ص 177.

6- محمد طاهر بن عاشور، التحریر و التنویر، ج 4، ص 10.

7- محمد جواد مغنیه، تفسیر کاشف، ج 2، ص 244.

8- سید محمود طالقاني، پرتوی از قرآن، ج 6، ص 16.

(c) ketabton.com: The Digital Library

9- محمد تقي المدرسي، من هدى القرآن، ج 2، ص 13.

10- سيد قطب، فی ظلال القرآن، ج 1، ص 547.

11- سنن ابي داود، كتاب اللباس، حديث 3494.

12- سنن ابي داود، كتاب الصلاة، حديث 959.

13- صحيح مسلم، كتاب الصيام، حديث 1902.

14- ابن تيميه، اقتضاء الصراط المستقيم، ص 50.

15- سوره توبه، آيه 37. "إنما النسيئ زيادة فی الكفر.."

16- الاهرام الرقمی، 15 اپریل، 2012.

17- له دې موضوع سره د لا اشنايي په خاطر دغو اثارو ته مراجعه وکړئ: فهد بن صالح العجلان، الانتخابات و أحكامها فی الفقه الإسلامی، جامعة الملك سعود-رياض، محمد يسری ابراهيم، المشاركات السياسية المعاصرة فی ضوء الشريعة الإسلامية، دار الكتب المصرية، عمر سليمان الأشقر، حكم المشاركة فی الوزارة و المجالس النيابية، دار النفائس، عمان، الاردن.

18- تفسير قرطبي، ذيل آيه 11 سوره بقره.

19- سوره قصص، آيه 77.

20- سوره اعراف، آيه 56.

21- سوره بقره، آيه 11.

22- سوره يونس، آيه 11.

23- سوره رعد، آيه 25.

(c) ketabton.com: The Digital Library

24- سوره بقره، ایه 205.

25- سوره روم، آیه 41.

26- سوره بقره، آیه 27.

27- سوره بقره، آیه 28.

28- سوره ص، آیه 28.

29- سوره قصص، ایه 83.

30- صحیح مسلم، حدیث 3594.

31- صحیح الجامع الصغیر، حدیث 1880.

32- متفق علیه.

33- صحیح الجامع الصغیر، حدیث 152.

34- هماغه، حدیث 3194.

35- مستدرک حاکم، حدیث 3227.

36- صحیح البخاري، کتاب البیوع.

37- هماغه، حدیث 57.

38- مستدر حاکم، حدیث 7075.

39- صحیح البخاري، حدیث 6681.

40- صحیح الجامع الصغیر، حدیث 7179.

(c) ketabton.com: The Digital Library

41- صحیح البخاري، حدیث 33.

42- سنن ابن ماجه، حدیث 4034.

43- سوره آل عمران، آیه 161.

44- صحیح البخاري، حدیث 2843.

45- هماغه، حدیث 843.

46- سنن ابي داود، حدیث 2610.

47- صحیح الجامع الصغیر، حدیث 2880.

48- ابن خلدون، المقدمة.

49- سوره انبیا، آیه 23.

50- صحیح الجامع الصغیر، حدیث 7300.

51- سوره توبه، آیه 105.

52- صحیح البخاري، حدیث 6586.

53- سنن ترمذي، حدیث 3464.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library